

# پښتانه

دوهم

ټوک

کال

۱۳۵۰

دوری ( سنبلی)

نهمه


نیټه

مهتمم میاخان اپریدی

AFGHANISTAN CENTRE AT KABUL UNIVERSITY
3 ACKU 00004841 2




معظم همایو نـی اعلیحضرت دافغانستان گران اودیموکرات ټولواك




جلالتمآب دوکتور عبدالظاهر دافغانستان پیاوړی صدراعظم




د پښتونستان ستر مشرخان عبدالغفار خان



ښاغلی‌خان عبدالصمدخان اڅکزی



ښاغلی خان محمد ایوب خان اڅکزی.



خان عبدالولی دنشنل عوامی ډلی مشر ۰



لیکونکی ښاغلی میاخان اپریدی

# تیراه

## الف ـ اپریدی :

اپریدی د کر لا نی قبا ئلو څخه د ی .

اپریدی د پښتو نستا ن یو لوی‌او مهم قوم دی چه زیا ته بر خه‌ئی په تیرا کښې ا و سی .

د غه قبیله تقریبا د ری زره کاله‌پخوا د ریگو یدا په سرو د نوکښې داپا ریتی په نوم ذکر شویده او داستو گنی ځای ئی د گند ها را ختیځ خوا ښودل شوی وه.

اپریدی د پښتنو خـو را ز ړه‌قبیله ده. داپریدی شجـره دلاند ی گراف نه څر گند یږی :

## داپریدو قومونه :

څرنګه چه ټول اپریدی‌اته قومو نه دی او په دوه لو یو ګو ندو نو تقسیم شوی دی ګاړی او سا مل‌چه په ګاړی ګو ندکی کو کی خیل کمبر خیل اوادم خیل شامل دی ا ونور پنځه قومونه ئی سامل ګوندی.
په لاندی تو ګه هر یو د مو قعیت‌او ګراف سره ګرا نو لو ستونکو ته وړا ندی کو و :
ملك دین خیل ، کمبر خیل‌زخه خیل ، کو کی خیل ، سه‌پای، اکا خیل ، کمرخیل ، آدم خیل چه‌د غه اته قبیلی په تیرا . خیبردره او کو هاټ کښی او سیږی چه‌هریو به جدا جدا بیان شی .

۱ ـ ملك د ین خیل :


دباړی په نیکی ،میدان، شولوبر،تند ، چو ره ، کجو ر ی اود خیبر دری کښه و یشته او میدان کښی‌او سیږی .

۲ـ کمبر خیل: د میدان په غربی‌بر خه کا هودره کښی ، شو لبر ناوه او لر شلو بر کښی د نیکی دملك د ین خیلو د قوم څخه ښکته تر تر خو کځ چه د سه پای بریدی او په کجوری کښی میشته دی.


۳ـ کوکی خیل: ددوه تو ی‌نه تر تور څپر ، را جګل او مخ رنی نه تر دوه توی پو ری ، لا له‌چینه او د جمرود نه تر علی‌مسجد پوری پرا ته دی ، څرنګه چه د وی‌د سپین غره او مر غه غره‌په‌سمسور ور شو ګا نو کښی پـرا تـه د ی‌نو ا قتصادی و ضعیت ئی هم یوه اندا زه ښه د ی.

٤ـ زخه خیل: د خیبر دری‌دواړه‌برخو ، د خیبری کښو څخه‌ترشلوبر پوری ، بازار، ا لچه ، کر منه ،برګ په‌باړه کښی له‌دری څخه تر ...ستك پوری او هم په بنګو شنه‌کمر کښی د ز خه خیلو دزاودین قبیله او سیږی .


۵ ـ سپائی : د غه هم یوکوچنی‌قوم دی چه په ا پریدو کښی په سنڼه پل ، په با ړ ه کښی د تر خوکځ څخه تردری لګډی پوری او په کجوری کښی د ما ما نی څخه ترعلم ګودر پوری تقر یبا ۱۸ میله اوږده او تخمینا لس میله هموا ره‌ځمکه پرا ته دی د ز یارت سر ا و مزتل کنډو هم پر دوی پوری‌تعلق‌لری ، د سپائی د قبیلی یو څو کورنی د کرمی په ایجنسی دورګزو‌په ځمکه په زیږه کښی میشته د ی او شیعه مذهب ګر ځیدلی د ی .



کرلان
ککی
خوګیانی
برهان
سلیمان
شیتک
عثمان (داپریدی)
ماپی
خلنی
ددې سړي اولاده او په بنګښو کښې اوسیږي
ماپی درې ښځې درلودلې نومونه ئې دادي
ترینه
فاطمه
زرینه
آدم خیل
بیتاخیل
اکاخیل
میری خیل
اولاخیل
اولاخیل دوه ښځې درلودلې
میمونه
زخه
زخه خیل
فیروز خیل
سپای
میراحمد خیل
کوکی خیل
کمرخیل
ایل خیل
ملک دین خیل
قمبر خیل


ACKU



ملک دین خیل
دولت خیل
عمر خیل
کلاکرنه
اردولت
وند
بردولت
علم خیل
عمر خیل
جعفر خیل
توخیل
متاخیل
نصرت خیل
قاضیان
ابراهیم خیل
نظر خیل
مند خیل
ببی خیل
عیشر خیل
جند خیل
مرسل خیل
شداد خیل
دین بی خیل
باریکی خیل
باروالله داد
خوبی شیرخان
بادر خیل
شمشیر خیل
شاهی خیل
جگی ستار
ولدانکی خیل
بارو خیل
رنا خیل
سنداگی
خبی خیل
گدیخیل
کلا
کرناخیل
برکلا
لرکلا
بنگی خیل
برات خیل
بهرامی
میری خیل
الانی خیل
ورداکی خیل
خوشحال خیل
ظریف خیل
قاقو خیل
سردار خیل
بیر خیل
جلال خیل
ملی خیل
شهباز خیل
شیخان
خوشحال خیل
سکر خیل
بوسی خیل
ایدن خیل
بورا خیل
بازم خیل
لایق خیل
سرباد خیل
رضا خیل
شامد خیل
مدو خیل
کوخو خیل
مدو خیل
آزاد خیل
راضی خیل
اسد خیل
بنور خیل


ACKU


قمبر خیل
شیخ مل خیل
وند
ورمی پلاری
ولی خیل
خوجل خیل
قایم خیل
سلیمان خیل
یارن خیل
مرام خیل
دربی خیل
عمر خیل
استعیل خیل
نور خیل
عمر خیل
ترکی خیل
آدم خیل
نظری خیل
خواجه خیل
توتا خیل
نظرکی
باشی خیل



کوکی خیل
عبدال خیل
موتا خان
سکندر خیل
علی خیل
عمر خیل
شیری خیل
خدرک خیل او مادر خیل
زکو خیل
ابراهیم خیل
بدا خیل
کتا خیل
فرید خیل
مینا خیل
غلو پلاری
مندر خیل
مستل خیل
دروزی خیل
ملی خیل
تور خیل
مدو خیل
ولی خیل
قارون خیل
ACKU



زخه خیل
بودی
شانخیل
نصرالدین
آنی
زاودین
مغول خیل
خسروگی
پایندی
جیب
وزخیل
واصل خیل
کمی خیل
باقی خیل
جانی خیل
نظرخیل
دری خیل
لاین خیل
ابراهیم خیل
دادی خیل
کنی خیل
میرکلام
ظریف خیل
جمال خیل
عثمان خیل
توربی خیل
مربی خیل
اباخیل
خرمی
دری
شوال خیل
حکیم خیل
تپی خیل
شانی خیل
قاضیان
توته خیل
علی خیل
مربی خیل
کنرپوال
گبری
ولی خیل
شیرخیل
نانی خیل
شیبانی خیل
عمرخیل
باشی خیل
دولت خیل
دری پلاری
دولت خیل
مزی خیل
سکندرخیل
پاینده خیل
مشاخیل
موجب خیل
صاحب خیل


سپای
ورمز خیل
لندی خیل
بابکری
دري وندي
عبد النخیل
بغداد خیل
دنی خیل
شیخان
بابر خیل
علی محمد خیل
شیری خیل
غازی خیل
امی خیل
غوریا خیل
لعل خیل
ولی خیل
بزرگ خیل
بهادر خیل
سلطان خیل
تور خیل
سورانخیل او شیخان
غیبی خیل
کره خیل
خال خیل
سرخا خیل
پیرو خیل
تاجی خیل
ولده کر خیل
شاهی خیل
جانی خیل



کمرخیل
مغول خیل
دری پلاری
خویداد خیل
اپل خیل
خان خیل
اجر خیل
ښدار خیل
بری خیل
تورشیخان
سره شیخان
گلو خیل
رسول خیل
پاینده خیل
انت خیل
خواجو خیل
کلامخیل
علیمداد خیل
یوسف خیل
میاداد خیل
خواجه داد خیل
شنخل خیل
یامل خیل
تور خیل
زیرمان
تاخس
دهشین
رضا خیل
بنهاخیل
برمی خیل
سپای
ایوب خیل
موسی خیل
گبهور خیل
شمشیر خیل
سرور خیل
رسول خیل
شادل خیل


آکاخیل
سلطان خیل
مده خیل
کمال خیل
میری خیل
آزاد خیل
سرتو کی
بلول خیل
میرخان خیل
زولی خیل
دری خیل
عیسیٰ خیل
مرکاکت خیل
معروف خیل
شیر خیل
سنزل خیل
خانی خیل
حسن خیل


آدم خیل
آدم دوه ښځې درلودلې
(۱)
(۲)
ژواکی
آشو خیل
گلی
حسن خیل
داوری خیلونه په عائشه خیلو یادیږی
کلاخیل
محمد خیل
علی خیل
بستی خیل
شیره کی
زرغون خیل
سنی خیل
گدیا خیل

٦ – کمر خیـل : داهـم یـــو کو چنی قوم دی په‌اپریدوکښی‌دباړی دری په جنوبی بر خه کښی په‌گړی ځوښ ، تخته کـی ، غلام عـلی ، بغری‌اووچړل ،چهل گزی کی‌دور کزو په‌ځمکه اوکجوری په‌میره باز گړه کی او سیږی .

۷ ـ ا کا خیل : د غه قوم هم په باړه د مستك څخه تر گلی خیلو پوری د میدان په وړان او د کجوری دما ما نی د جنو بی بر خی څخـه ترا خوردری او د شیخا نو کلی‌ترحدپوری ر سیږی .

۸ – آدم خیل : ددی قبیلی‌زیاتره‌خلك په ا خور د ره کښی‌چه‌دوسلی جوړولو مـهم مرکز او هـم ځینی‌کار خانی لری او سیږی یوا ځی‌دوه خیلو نه کلا خیل او ژوا کی خیل‌ئی‌په تیرا کی میشته دی .

اپریدی قوم د ا سلام د مقد س‌دین تر ظهود د مخه او هم داسلام په دو ره کښی چه ددریم خلیفه په‌وخت افغا نستان او ا فغا نستا ن شر قی بر خو ته را غلی چه د خیبر په مشهو ره دره د مسلما نانو ا و اپریدو او د خیبر د ری د نو ر واو سید و نکو تر منځ سختی‌نښتی شوی دی .

پدی پسی د غز نو یـا نـو اوخصوصا د سلطان محمود غز نوی له‌خوا په هندو ستان با ندی دهمدی‌مهمی دری له لاری د ا پریدو پـه گهون پرله پسی حملی شوی چـه‌دغز نو یا ن ددوری تا ریخ نه ئی پوره پته معلو میږی .

په غز نویانو پسی د مغلو د و رشروع کیږی چه د ا پریدو دلو ړو د نگو غرو د څو کو او درو څخه‌پیر رو ښان او دده او لادی دمغلو سره سختی ډغر ی وهلی دی چـه‌د هغوی مجا دلی په لاندی تو گـه بیان کیږی :

## دپیر روښان نهضت اوجنگونه:

روښان چه پخپل نهضت شروع‌کوله د پښتو نخوا پر شر قی‌غروتر ابا سینده پوری د رو حا نیت ا وتصوف یوه دا سی جذبه خپره و ه چه ټول پښتا نه د پیرا نواوملایانو تر ا قتدار لاندی وو .

دلته نو رو ښا ن مجبور و چـه‌پښتا نه پر هغه ډول په یو روحانی کا نون سره را ټول کړی او خپل‌مسلکی ا و سیاسی مبا دی د یوه رو حا نی مسلك په ژو گـ د و ی‌ته و ړا ندی کړی او هغسی تبلیغ دوی ته‌وکړی چه‌ژر ئی قبو لولا ی‌شی .

په د غه ډول نو ده د پښتونخوا په غرو کښی یو روحا نی‌اوسیاسی



ACKU

مسلك تلقين کړ او ډیر ښتانه پرده او دده پر ملګرو د مریدانو او روحانی مخلصینو په تو ګه را غونډ شول ده د خپل مسلك د تبلیغ لپاره کتابونه په پارسی ، پښتو ، عربی او هندی و لیکل .
مو عظی ئی و کړی له مخا لفینو سره د علمی منا ظرو میدان ته حاضر شو او په آ خر کښی ئی توره و کښله اود جنګو پر ډګر یی وینی هم توی کړی .

## دعوت او د خلقو رجوع:

په دی ډول با یزید پخپل دعوت شروع و کړ ه خلق ئی د خدا ی طا عت او عبادت ته را و بلل . دی وا ئی چه د تو بی را حتو نه سړی ته میسر شی نو د اسلام او قر بت د وصلت او وحدت انوار دی روښا نه وی د با یز ید د غه د عو ت او تبلیغ پر پښتنو باندی اثرو کړ او دده دارادت په حلقه کښی دا خل شول او پس له لږ و خته دده نفو ذ له کانی ګرام څخه د توچی دری په دوړ و کښی خپور شو او بیانو دده مریدان ښنګښوته ولاړل اود کز ی او اپریدی قبایل یی د بایزید مریدان کړل خوو روسته دده روحانی نفوذ په په خلیلو او داود زو او مهمند وا و خوګیانو او یوسفزو کی هم خپور شو او تر صافو او سوات پوری ورسید په دی ډول روښان داعیان د کندهار کاسی او هم شنوارو او بړیڅو ته واستو ل او هلته یی هم خپلی ریښی ټینګی کړی بیانو دده مخلص داعیا نو سند ته هم ولا ړل او د حیدر آباد سر ه نژدی یی په سید پور کښی خپل د تبلیغ مرکز پرانیست او د پرسندیا نو یی هم پخپلو مریدانو کښی دا خل کړه او پخپله روښان په اشنغر کښی واستا ځی یی د شاوخوا حکمرا نانو دربار وا و د علماو مدر سو ته واستو ل یو استا ځی یی د هند اکبرشاه او بل یی د بدخشا ن میر زا سلیمان تـه واستاوه. دغسی یی د بلخ او بخا را او هندوستان نورو شاها نو ته هم قاصدان ولیږل. په دی ډول رو ښا ن ډیر مقتد راو پوه پیروان ومو نـدل چه په دغو کښی دری خویشکی وروڼه ارزانی .ملاعمر ملاعلی محمد مخلص ادبا اوشا عران او عالمان وو مـلا پاینده او ملادولت اکوزی او مـلادولت مهمند زی هم دده په پیروا نو کښی شهرت لری او دغسی هـم دولت لون. میرزا انصاری دده لـه ملګرو او احفا دو څخه مشهـوردی.

روښان چه د کانی ګرا م پـه غرو کښی تبلیغ شروع کړ اولو مړی پلایی له خپلی کورنی سره ټکروخوړ بیانو د کابل له لاری ننګرهار تـه ولاړ او د ملك سلطان مومند کره پـه میلمستیا پاتی شو او دلته یـی



ACKU

پښتنو ته دخپل مسلك تبليغ كـاوه‌بيانوله دئ‌ځايه پيښبور ته لاړ هلتـه دخليلو په‌غوريا خيلو كښې ديره‌شواو ډيرخلق پرده‌راتـول شو او پـه خورا جديت‌يې‌خلك خپل مسلك تـه‌رابلل اودپيرى آوازه يې په ټـو لو پښتنو كښې خپره شوه.

داشنغر له مهمند زو څخه پـه‌دغه‌وخت كښ ي‌ملادولت مهمند زى ډيرمشهور سړى وو رو ښان يې اشنغرته‌بوت او( په‌كله ډيږ) كښـې يې‌ځاى وركړ. دلته دروښان داقتداردايره دومره زياته شوى وه چه تـر ګابله هم دده‌تبليغات راور سيـدل‌اوهرى‌خوا ته‌يې كاغذونه وا ستو ل اوخلك‌يې خپل مسلك ته‌رابلل .

## دتيرا کشمکش :

د(۹۹۰ هـ. حـد و دوه چـه‌وه‌چه‌روښان‌په‌تيرا كښې خپل‌سياسى اوحربي مركزونيو او افريـدى اوورکزى يې‌پخپلو مريدانو كښې‌داخل كړل دلته داتما نخيلو ځينى خلك‌هم‌دده‌په‌تابعانو كښې شا مل شـــو اودده‌نفوذدومره پرپښتنو خپور شـوچه له تيرا يې ډير خلق نفى بلـد كړل.

دتيراپه (چوره) كښې دمغو لـــولښكر په ده پسى راغله دغو خلـقو وسله‌نه درلوده دچورى درمى ډير ى‌كلكى وى‌روښان مريدا نوته وو يـل چه‌دادر مي‌پر يكوى اوسرونه يـــى‌تيره كړى داستـاسى و سلـه د ه روښانيانو په دغه جنګ كښې‌ددرمو‌په‌ذريعه مغول مات كړل اودنيزو كار يې‌ځنى واخيست .

په‌تيرا كښې ځينى خلق وو چه‌په‌باطن كښې دمغولو سره ملګرى وو اودوى دپښتنو دلستونې ماران وو.روښان دوى ته‌وويل ستاسى زړونه دمغولو سره دى نوزماله طر يقـــى‌څخه مردو دياست. بايد پخپله خپل لاسونه وتړى اورا ځى ستاسى توبه‌هم‌دغه ده.نوله اعتقاده ياله بيـر ى يولس سوه تنه لاس تړلى را غلل‌روښان ددوى ګناه كاران ووژل ا و ځينى‌يې له تيرا څخه وشړل پـه دى‌ډول افريدى او وركزى ټول دده ـ فرمانبر دار شول .در ويزه ليكلـى‌چه دچورى په جنګ كښې رو ښا ن دمغولو لښكر تار مارتار كړنومغو ل‌وتښتيدل اوپښتنو اتفاق وكړ چـه ځينى‌تيرايى خلق دمغولو سره مل‌دى‌اوددوى په واسطه مغول تيرا تـــه راځى‌له دى‌جهته بايد دوى دملـــى‌خاينانوپه ډول له دى‌آزادو غـــر و څخه وركـ‌كړه شي ځكه چه دآز اد ى‌لپاره دغه داخلي خاينان هر و خت مضر دى‌په دى ډول (۲۲۰) تنـــه‌دمغولو طرفداران ده ووژل اونور چه

پاته‌وو ننگرهار ته وتښتېدل او تېرادمغولوله طرفداری څخه خالي شو ه اوس‌نو روښان ډېر ملگری موند لې‌وواود داخلي خاینانو څخه هم لږڅه فارغ شوی‌ؤ اودغه وخت‌مساعدوچه‌دمغولو له سلطې څخه نور اسیر پښتانه هم خلاص کړی اوپه پښتون‌خواکښې‌داستقلال‌بیرغ بیاجگ کړی.

## دتور راغه جنگ اودروښان مرگ:

با یزید پښتانه په تیرا کښې‌سره‌را غونډ کړل‌اودوی ته‌یې و ویل تاسې یوقوم واست چه‌تر ډهلــــې‌پورې‌مو سلطنت درلود اوس دمغولو مړیی‌یان شو است او ددوی ظلمونه‌کالي ولاړشي او دادغلامي کړی لــــه غاړووباسي دروښان دی ږغ‌پښتنا نه‌خپل‌تللي عظمت او اوسني دلت ا و اسارت‌ته ملتفت کړل اوپه زروسپاره‌اوپیاده دده‌په‌رکاب کــــښې دآزادی جنگ ته‌حاضر شول اوننگر هــا رخواته‌یې حرکت وکړ او دلته پــــه (مړو) کښې دیره شول محسن خا ن‌دمغولوحکمدار هم جنگ ته حا ضرو اودجلال‌آباد په ځای کښې یــــې- دپښتنو دغرو څار کاوه له خپلوخون خوارو لښکرو سره‌راووت‌اودشنواروپه‌علاقه کښې هلته چه(تور راغـــه) نومیږی پښتانه او مغــــول ســر ه‌مخامخ شول .داجنگ ډېر خو نیـن ؤدروښان ملگرو ماتې وکړه اوپخپله‌دی‌هم‌مړ شو زمونږ سره اوس دد ه دمرگ‌په خصوص کښې دوه روایته‌دی.اول داچه‌د جنگ په میدا ن‌کښې مړشو اوپه اشنغر کښې یې ښــــخ کــړ.

دوهم داچه :پخپله په خوراتــــودوخه کښې پلې په‌غروا ورغو کښې ژوندی پاتې شواوپه لار کښې جل‌و واهه‌م اشـــغرقـه ورسیده پـه کلیانی کښې په ۱۵۸۰ ع کال وفات‌شو اوهمدلته په اشنغر کښې ښــخ کړشو مگر وروسته یې زامنوهډونه‌راوایستل په صندوق کښې دځا نه سره‌گرزول .وایی چه دیو سفزو په‌جنگ کښې بیاهغه تابوت اېا سیند ته‌لا هوشو یاداچه په وزیر ستـــا ن‌کښې ښخ کړشو ځکه چه‌هلته دد ه په‌نامه یوقبر شته.

بل‌داروایت دی:چه روښان پـــه‌جنگ کښې زخمي شونو اشنغر تـــه ولاړ او په مامن زی کښې چه داکبرپورې دگلوزی سره متصل ځـــا ی دی‌مړ شونویی هلته ښخ کړ او یوه‌لوړه گنبده یی‌هم پرې جوړه کړه چه تر او سه شته مگر زا منـــو یـــی‌وروسته دده‌تابوت له‌هغه ځای یووړ اواټک ته‌یې لاهو کړ.

---

آریانا دایرة المعارف

ACKU

دریاخان ایمل خان او خوشحال‌خان جنگونه دمغلو سره:

## دریاخان اپریدی :

دریاخان دتیرا اپریدو له‌مشهو روجنگی اشخا صو څخه تیر شوی چه دخوشحال ختټك او ایمل خان هـم‌عصروو ده‌د مغلو سره او خصو صا داورنگزیب مغلی پاچا سره سخـت‌جنگونه کړی دی‌چه دهغی جملی څخه یی‌دغه‌لا ندی جنگونه چه‌دمحینوملګروپه‌مرسته یی کړیدی پخپله دریا خان پکښی زخمی اوورور یی تا تر خـان‌اومحینی نور داپریدو دغرو زړه و ر زلمیان شهیدا ن شوی دی .

## دخیبر اوتاتری جنګ:

یوه ورځ دیر پښتانه سر دا را ن‌په جمبرو کی‌د محـمـدامیـن خا ن مغولی صوبه دار ملاقات ته را غلـل‌محمد امین‌خا ن په شرا بو څښلـو لګیاو پدغه وخت کښی دکنړدعلا قی‌فوجدار حسین بیګ خان هم ده‌تـه راغلی اوده په مجلس کښی ناست‌وحسین بیګ خان ددی دپا ره چه دغه‌په شرابو مست صوبه دارپښتنوسرداراتو ته ملتفت کړی داخبره‌یی ورته وکره(چه دنواب سپی بیاد څه‌شکولو دپاره راغلی دی) پښتنانـه سرداران دفو جدار پدغه‌و ینا او صـوبه دار پدغه وضیعت ډ یـر خپه اوخوابدی شول اوبنایی چه‌خداوندی‌قهر هم دغه وخت په‌جوش راغلی‌وی

همدغه راز دپښتنو دخیګان اوتاتریوبل غټ سبب دا شو چه‌د سا پـو دقبیلی محینی خلك دتجارت دپـا ره‌دعسکری چونی په‌خواکښی د یر ه شوی‌وو نویوه ورځ دحسین بیګـسپاهیانو ددغو صافو یو ی ښځـی ته‌لاس واچاوه اودهغی بی‌حر متـی‌یی‌وکره.ننګیا لو پښتنو دپاچا د غه سیاهیان ووژل اوله دغه ځای نـه‌وتښتیدل هرکله چه حسین بیګـ لدی پیښی څخه خبر شونو په ځای‌ددی‌چه دغه‌پیښه دعقل اوتدبیر پـه ذریعه لنډه فیصله کړی دغه وضعیت‌یی‌نورهم خراب کړ.او دصافومشرانو ته‌یی داحکم وکړ چه‌تول قاتلان ونیسی‌اوماته‌یی په‌لاس راکړی هرکـلـه د صافو مشرانو دحسین بیګ خبـر ونه‌منله نو حسین بیګ ډیر پـــه قارشو اودپښتنو نورو قبایلو تـه‌یی‌امروکرچه دصافیانو په خلاف مـا سره مرسته وکړی که څه هم نو روقبایلو دغه فوجدار ته‌په‌ظاهر کښـی سری ورکړل‌مګر په‌پټه دهغو زړونه‌دخپلو مظلموورونو سره ملګری وو حسین بیګ‌په‌صافو حمله وکړه اوپه‌دغه منطقه کښی‌یی دتالان قتلـو نو

اورازراز ظلمونو او دکورونوسیځلو بازارتود کړ. ددی ظلمونو په اثر دنورو قبایلو مشرانو صا فو تـــه جوابونه ورو لیږل چه تاسی ا صل دنارینه وکار کړی او میړونه با یـدغه شان دغیرت کارونه وکړی مونږ له تاسی سره جنګ نه کووتش دنندارچیانو په حیث ددوی سره راغلی یو تاسی دخپل حرکت اومدا فعی څخه لاس مه اخلی. ددی خبرو او پـــلان په نتیجه کښی حسین بیګ ما تـــی وکړه اودصافو دعلاقی نه په تیښتـــه ووت حسین بیګ دخپلی ناکا می لـــه قاره دنورو قبایلو دمشرانو پـــه نیولو پیل وکړ ننګیا لو پښتنو خپل مشران نیولو ته ورنکړل اوکلك پر ی ودریدل ددی میړانی او اتفاق په اثرحسین بیګ په خپله دغه ناپاکه ار اده کښی دډیری ناکامی اوخجالت سره مخامخ شو.

## دخیبر خونړی حادثه :

محمد امین خان د(۱۶۷۱ـ ۲ ۷ ع)(۱۰۸۲ه) کال ژمی په پیښور کښـــی تیرکړ کله چه دی خبر شو دپښتنو دلاسه حسین بیګ ماتی خوړلی د ه نوډیرخپه اوپه قار شو داوخت دده دکابل دتګ وختؤ. نودی دخپلـــو لښکرو اونورو خلکو سره چه په هغوکښی ځینی اپریدی او(ورکزی)اونور پښتانه سرداران او مشران لکـــه خوشحال خان ختك اوارباب مستجاب خان مومند اونور شامل وو دکا بل په لور روان شو دده سره خپله کـــه هم ملګری وه او ډیری خزانی یی هم له ځان سره بار کړی وی هرکله چه دی جمرود ته راورسید نوپد غه ځای کښی یی ددی پیښی په شا اوخوا کښی دپښتنو مشرانو اوسر دارانو سر ه جرګه وکړه. خوشخال خان ور تـــه وویل چه باید دپښتنو سره جنګـــ اوسختی ونکړی شی ځکه چه پښتانه غریب خلك دی او دحکومت ســـره مقابله نشی کو لی هرکله چـــه محمد امین دپښتنو په خصوص کښی دخوشحال خان همدردی ولید له نو په ډیر تریو تندی یی ورته دا مثـا ل راووړ دیو سړی په مخکښی خلکو د مارپه وژلو ګوتی پوری کړی هر کلـه چه دغه سړی د ماردغه بدخال ولید نو زړیی دخلکو څخه دغه مارخلاص کړاوپه یوه خلطه کښی یی واچاوه مګـــر هرکله چه دغه مارته موقع په لاســـ ورغله دغه خپل خلاصوونکی یی وچیچه لدی خبر ی څخه دمحمدامین مطلـــب دهغو احسانونو یادول وو چه لـــه خوشحال خان سره یی دقید وبند په وخت کښی کړی وو.

خوشحال خان ددی پیغور پـــه اوریدو ډیرخپه او متاثر شو اوپـــه ځواب کښی یی ورته وویل چه کـــه نواب پدی عقیده وی نوزه به د ټولو څخه لومړی ولاړشم. محمد امیـــن دغرورپه خره سپور شو اوپه پښتنو

ACKU

باندې یې خپلو لښکروته دحملې حکم ورکړ. پښتانه پخوادصوبه دار له بدې ارادې څخه خبرو ونو دخپل طاقت او قدرت سره سم یې دده دمقابلې دپاره ځان تیار کړی وا وپه خیبر کښې دمقابلې دپاره غونډ شوي وو.

که څه هم مینوکي مورخ دد غه مغلي لښکر شمیر (٤٠) زره سپاره او دوه لکه پیاده ښودلي دي لیکن خوشحال خان دغه مغلي لښکر (٤٠) زره ښودلي دي پدې لړ کښې محمد امین اربا ب مستجاب خان دنورو پښتنو مشرانو سره هغو پښتنو ته چه دده سره مخالف وو دجرگې اووفد په ډول ولیږه چه دوی دې فی الحال خپاره شي او زما د لښکر د تیریدلو دپاره دې لار صافه او خوشي کړي مگر دغه جرگه ناکامه بیرته راغله او دا ځکه چه پښتانه دمحمد امین دبدې ارادې او ناوړه پروگرام څخه ښه خبر وو ددې کار په اثر محمد امین ډیر په قار او خپه شو اراده یې وکړه چه د توري په زور دغه لار له پښتنو څخه پاکه او آزاده کړي. هر کله چه دغو مغلي لښکرو حمله وکړه او تر لنډې خانې پورې (چه په هغه وخت کښې په غریب خانه) مشهوره وه ورسیدل نو پدغه ځای کښې دپښتنو دلښکرو سره چه دمومندو او شنوارو او اپریدو څخه دایمل خان او دریاخان تر مشرۍ لاندې جوړ او راټول شوي وو مخامخ شول مغلي لښکر فی الحال دحملې دپاره ترتیبات ونیول یوه قوي دسته یې چه ښه وسله او قوي ځلمیان پکښې وو دپښتنو دلښکر ښې اوکینې خواته یکارواچوله او ددوی سره سم یې دمحمود خان خویشگي دقوماندانۍ لاندې دپیلانو رساله دحملې د پاره وړاندې کړه. دمحمود خان پیلانو له ښې لورې څخه دمظلومو پښتنو پرکینه خوا یرغل شروع کړ او له کینې خوا څخه مبارز خان دتوپ ځانـــې قوماندان دخپلو درنو توپونو په ذریعه دغریبو پښتنو په ښې خوا پـه حمله او ډزو پیل وکړ سر تیرو ننگیالو پښتنو دخپل فطري جنگي استعداد څخه کار واخیست او مغلو ته یې دخپل فطري جنگي قوت او مهارت او میړانې امتحان ورکړ دکلک جنگ نه وروسته دمغلو دفوځ وضعیت گډوډ شو او داسې وارخطا شول چه پیلان او اسونه او انسانان دیو بل سره گډوډ یو دبل دپښو لاندې غوبل شول محمود خان خویشگي د خپلو ډیرو پیلانو او اسونو او ډیرو ملگرو سره مړ شو ددې وضعیت په لید لو دمبارز خان په وجود کښې هم د مبارزې طاقت پاته نشو او ماتې یې وکړه پدغه وخت کښې سر تیرو ننگیالي پښتنو خپلې توري راوویستلې او دخپلو متو په زوریې ډیر مغلي لښکر له تیغه تیر او پو پنا کړه.

دټولې ورځې دجنگ نه وروسته دمغلو لښکرو ماتې وکړه پدې ځای کښې مستعد خان او خان ځا نـــان وا یې چه پدغه وخت کښې محمد امین

دډیر شرم اوخجالت لهکبله غونبتلچهدی همپدغه ځای کښی ځان مـړ کړیمګو دده نوکرانو پهډیره خواریدیلهدغی بلاڅخه ژوندی خلاص کړه پاتی مغلی لښکردځپل ځان دخلاصیدپاره دلنډی کوتل شمالی لار غوره وګڼله اوداهغه لارده چه د شنوار ډشلمانیانو اوملا ګورو پهغرنی علاقه کښیتیره شوی علی مسجد ته تلللیدلیکن محمدامین تهځینو خلکو دا مشوره ورکړه چهنه پدی لارولاړنشینودی دهغوی دمڅ وری سره سـم پهلویه لارروان شو اوپهډیرو خواروبی په بدحال اوبده ورځ ځان پیښور تهورساوه دغهمات لښکر چه دعلـیمسجد پهبرابری دملا ګورو په علاقه کښی د(تاتری) دغره خواته ورسیـدنوپښتنو ورباندی حمله وکړهاوړنـا ورځیپور باندی توره شپه کـــړهډیر پیبندیان کړل دمغلی طاقت ټول مال اواسباب پښتنو تهپهلا سورغیهغهپښتنانه چه مخکښی بی اسبا به اوبیوسلی وودښو وسلو او ډیـر ومالونو خاوندان شول پهیـوه ور ځـ کښی خوار پښتون محمد امین شواولهمحمد امین نهخوار پښتون جوړ شو.

پدی شخړه کښی دمحمد امیـنیوهوړهلور اویوه خوراومور اونور ی ډیر ی ښځی پښتنو تهپلا س ورغلیوی چههغه بیاد پیسو پهبدله بیر ته ورکړی شوی. پدی جنګ کښـیدمحمدامین ښـځه او دده زوی او دده وانښی میرزا سلطان کربلایی هـــمووژلشول. مینو کی دمحمد ۱ میـن دښځی اودزوی دمر ګ واقعه پد یډول بیان کړ یده چههر کله میـــر زا عبدالله ولیدل چهدده دپلار ښځـــهپښتنو نیولی دهنو دهدهغی سرغوځ کړدعبدالله پدی کار پښتنانه ډیـــرپهقار شول اومیر زاعبدا لله یـــی مړ کړه .

پهخیبر کښی دپښتنو اومغلـــیلښکرو دجنګ نتیجه لکه چه پورته ذکرشوه مستعد خان په خپله عقید هپهصحیحډول اوکټمټ داکبـر پـه اوایلو کښی دهغی شخړی سره چهپه(۹۹٤هـ) کال او(۱٥٨٦ع)کال دـ فرودی په میاشت کښی دزین خـانوحکیم ابوالفتح او راجه بیربل د هغهجنګ سره مشابهه دهچه دسواتپهغرونو کښی لهیو سف زو سـره شوی وه.

## پیښور ته دفدایی خان رارسیدل :

هرکله چه مغلی پاچا دلنډی خا نـیاوتاتری په جنګونو کښی دخپلـــو عسکرودتبا هیاوبرباد ینه خبر شونولدی ویری چههسی نهچه پښتا نه وراندی راشی نو د۱٦٧٢ع کــا لدفرودی په ورو ستیو ور ځو کښـــی یېفدایی خان دلاهور نهدډیروخزا نوسره پیښور ته راولیږه. هغه وخت

فدایي خان داټک‌نه راپورې شواوخیرآباد ته‌راوړ سید اشرف خا ن دده مخې ته‌ورغی فدایي خان لـــه‌ده‌څخه دمحمد امین خان دماتـــې او د شاهي فوځ دتباهۍ پوښتنې وکړې. بیایې دنورو خلکو نه هم دمغلـــي لښکرو دتباهۍ دحالاتو تپو سو نــه‌وکړل اوټولو ورته یوشان معلومات ورکړل هرکله چه فدایي خان پیښورته‌راورسیدنو مستجاب خان‌مومندیې شهید کړاودی لانورو ضروري چارودتکمیل نه‌وروسته بیرته هندوستان ته‌ولاړ هرکله چه فدایي خان‌مستجاب‌خان ووژه‌نود ده تره بازدید خــا ن اودمومند ونور مشران خوشحــا ل‌خان ته‌راغلل اودده سره‌یې جرګه او خبرې اترې اوفیصله وکړه‌خوشحا ل‌خان‌ددغې فیصلې نه‌وروسته دسرا ی له اکوړې نه څېلې ګډې (خوړ) نومې‌محفوظ ځای‌ته‌بوتلې ولې‌چه ده خیال درلود چه‌اټک ونـــیسي او پـــد ی‌ذریعه پیښور ته دمغلو دتګ‌اوراتګ لاربنده کړي مګر دغه پروګرام‌دځینومشکلاتو له‌کبله عملي نشو .

پدې لړ کښې مـحمد امین هـــم‌هندوستان ته ولاړ او دمغلي‌حکومت له خوا مهابت خان چه پخوایي هم‌درې واره پر پښتنو حکومت کړ ی‌ؤ پر څلورم واردکابل په صوبه داري‌وټاکه محمد امین هندوستان تـــه رسیدلو سره سم‌دبادشاه‌نه وغوښتل‌چه باید ماته بیا دو باره دپښتنـــو سره دجنګ کولو موقع راکړي شي‌چه پدې ذریعه زه دخپل تیر شرم او تاوان تلافي وکړي شم مګر پا چاده‌ته دمیرخان دمشورې له کبله اجازه ورنکړه او دی یې دګجرات‌په صوبه‌داري وټاکه میرخان پاچا ته دخبرو پر لړ کښې وویل چه محمد امیـــن‌غواړي چه لګه دزخمي شوي میلوپه خیر بیا په‌پښتنوحمله وکړي‌خو عاقبت به‌یې‌دپخوانه‌دیر بداوتباناکوی

## پیښور ته دمهابت خان رارسیدل:

هرکله چه مهابت خان پیښور ته‌راورسید نو په ځای ددې چه دمغلي پاچا دهدایت سره سم پښتانه دتیغ‌نه تیرکړي پر سیاسي چا لو نو یې ګوتې پورې کړې او ټولو پښتنـــومشرانو سره یې ددوستۍ لارونیوله څوک چه پدغه لومه کښې ګیر شو هغه ګیرشول او دپاتې مشرانودپاره یې دخپل ټاکلي پروګرام سره ســـم‌داتجویز غوره کړچه ټول یې دیوبل سره په جنګونو اخته کړل او دیو بل‌غوښوته یې کښینول پدې لړ کښې یې خوشحال ته دغـه راز مشـــکلات‌پیښ کړل لیکن سره ددې ټولــــو مشکلاتو هغه دمغلو دفریب په لومه‌کښې ګیر نشو خوشحال په ښکاره دمغلو مخالفت ته ملا وتړله او ځای پځای‌یې‌ورسره‌جنګ جګړې‌ونښلولې مغلو ورته خپل زوی بهرام را پورته‌کړ او د۱۰۸٤ کال ترنیمایي پو رې دغه الي ګولي جارې وې .

## يوه مهمه جرگه :

پدغه وخت کښې دکوهاټ نه‌شاه بیگ خوشحال خان ته مسلسل خطونه را لیږل چه ته په کوهاټ حمله راوړه او ماسره پدې کار کښې مرسته وکړه لکه چه ددې خط په اساس‌خوشحال‌خان دریا خان‌اپریدی ته پدی خصوص کښې یو خط ولیږه‌او هغه ددغه خط په ځواب کښې‌خپل ورور تاتار خان دادم‌خیلو اواکاخیلو دملکانو سره خوشحال خان ته‌ولیږل خوشحال خان په راجگړ نومی ځای‌کښې ټولو اپریدوته رسمی‌میلمستیا ورکړه او دمیلمستیا نه وروسته په‌دغه جرگه کښې دا فیصله وشوه چه باید په کوهاټ حمله وکړیشی ددی‌فیصلی په اثر خوشحال خان دحملی دپاره خپل لښکر او دآدم خیلو اپریدو دعلاقی په جنو بی خوا کښې یی په (گنډیالی) نومی ځای کښې په‌کوهاټ دحملی تر تیبات ونیول .

پدی وخت‌کښې دکوهاټ ملک‌لعل بیگ اوملك سعید خان اوملك‌خواص خان دجرگی په ډول خوشحال خا ن‌ته راغلل او ویی ویل چه مونږ په پښتنی ننگ په ځای کړو او کوم‌مغل چه کوهاټ ته راغلی دی هغوی به مونږ دخپلی خاوری نه وباسو .ددی خبرو په اثر خوشحال خا ن د گنډیالی نه شاه بیگ‌ته سپاره‌ولیږل‌او ورته یی وویل چه ستا مخالفین راغلی دی ته هم راشه او چه ستاخنگه خوښه وی هغه شان به وکړم خوشحال خان دوه شپی انتظاروویست مگر دی رانغی نور سپاره‌یی ورپسی ولیږل مگر بیا هم رانغی اودسپرو په ذریعه یی خوشحال خا ن ته پدی مضمون یو خط راو لیږه چه‌لعل بیگ او دده ملگری ووژنه او په کوهاټ حمله وکړه زه ستا ملگری‌یم‌خوشحال خان پدغه خط ډیر خپه‌شو او فی الحال یی داپریدو جرگه راوغوښتله او دشاه‌بیگ خط یی‌ورته وا وراوه جرگه هم پدی کار ډیر ه‌خوابدی شوه او ددغو خلکو وژل‌یی دخپل پښتنی ننگ څخه ډیر مخالف کار وگڼه‌جرگی ټول اختیارخوشحال خان ته ورکړ خوشحال خان دشاه‌بیگ خط دوی ته ورکړ او کوهاټ‌ته یی رخصت کړل .

خوشحال دجرگی او بنگښو سردارانو درخصتو لو نه وروسته (غوریزی‌ټول) نومی ځای ته راغلی‌اولدغه ځای څخه یی دلمر خا ته خوا په لور تر اټکه پو ری دیوسړك‌دجوړولو اراده وکړه او دختکو (مروزی شینی ) نومی قبیلی ته یی‌ددغه سړك دجوړولو کار وسپاره او آصف خان نومی یو سړی یی ددغه‌سړك نگران مقرر کړ او پخپله خوشحال خان خپل پخوانی ځا ی‌راجگړ‌ته ولاړ.

## په‌نوښار حمله:

په کوم وخت کښې چه دبنګښو سرداران او داپریدو جرګه دکنډیالی نه رخصتیدله نو پدغه جرګه کښې په نو ښار دحملې فیصله شو ی وه ددغې فیصلې په اساس ددریا خان اپریدی ورور تاتار خان داپریـــدو لښکر او خوشحال خان دخټکولښکر سره راټول او دواړو په حمله پیـل وکړ او پدغه ورځ دغه دواړه لښکری په ډاګ اسمعیل خیل نومی ځـا ی کښې چه دچراټ دچوڼی په شما ل‌مغربی خواکښې دنوښار په جنوبـ غربی اړخ کښې پروت دی سره یوځای شوی داپریدو او خټکو دوا ړو لښکرو شمیر تقریباً(۸) زره‌ووپدغه‌ځای کښې مشوری نه وروستـــه لښکرو دنو ښار خواته حر کت وکړاو ټکنده‌غرمه دنو ښار کلاته‌ورسیدل اول خوشحال خان په لښکرو دا رواو ګولی وویشلی او دټاکـلی پـلان سره‌سم په کلا باندی اپریدو دسویل‌لمر خاته اوخټکو دقطب لمرپریواته نـــ، حملـه وکړ ه پد غـه کلاکښې‌تقریباً دری زره لښکـر وو.

اول خټك او و رو سته ا پریدی‌دکلا په‌حدودو کښې دا خل شو ل او سخت جنګ شروع شو خټکود کلا دروازی په تبرو نو ما تی کړ ی اوپه‌کلا کښې و ر ننو تل او پـه‌دښمنا نو ئی هسی لو بی و کړ ی ډیر مالونه لاس ته و ر غلل په کلاکښې‌ځینی ښتا نه ووهغه‌ئی‌دپښتو له برکته و نه وژل ددغه جنګ نه‌وروسته خوشحال خان را جګړ ته و لاړ چه د غلته د خوشحال خـان کډی او بال بچ او سیدل.

### په‌کوهاټ باندی دد‌ریاخان حمله‌اوماتی:

پدغو ورځو کښې خو شحال‌خان‌او در یا خان په کو هاټ با ندی د حملې کو لو په شا او خوا کښې‌دیو بل سره خط او کتا بت کا و ه او خوشحال خان د همدی مرا م دپاره احمد خان داپریدو د لښکر د تیارولو دپاره لیږلی ؤ ددغـه خـط‌او کتا بت په لړ کښې ددر یا خا ن او خوشحال خا ن پـه منځ کښې‌دا فیصله و شوه چه د لو ی ا ختر په و رځ به د کو هاټ په کلا حمله‌کوو د ځینو مؤرخینو دویناسره‌سم په‌کړپه کښې دایمل خان میړا نـی‌او د مغلی لښکرو تباه کو لو او په نو ښار کښې د خوشحال خـا ن‌میړانی او کا میا بی ددر یا خا ن په ز ړه کښې دار خه پیدا کړه چه‌باید زه هم د کو هات مغلی کـلا یوا ځی فتح کړم او زه هم د خپلوملګرو په‌څیر دیولوی افتخار خاوند شم لکه چه ددی مفکوری په ا ساس‌دریا خان د ټا کلی و خت نه څـو ورځی و ړا ندی په کو ها ټ یواځی‌حمله و کړه شیر محمدخان د غو



ACKU

په و طن مینو خلمو سر ه سخته‌مقا بله و کړه چه په نتیجه کښی دریا خان ماتی ته اړ شو پـد غه‌جنګ ګښی دسلو نه زیات پښتانه شهیدان شول‌پدی مړوکښی‌دریاخان‌ور رتاتا خان هم شاهـل و پدغـه وخت کښی خوشحال خان په‌چوتره ګښی د لښکرو په غو نډ و لو بوخت وچه نا څا په ورته دریا خان‌دماتی‌خبر و رسید او ددی خبر نه‌وروسته پخپله ددریا خان خط هم و ر ته‌راغی چه دد غی پیښی تفصیل‌پکښی لیکلی‌واي دا ئی هم لیکلی وو چـه‌ته خپل لښکر را و له که څه هم دا د د ر یا خان بی مو قع تقا ضاوه لیکن سره ددی هم خوشحال‌خان د خپل ملګری د غو ښتنی په ا ثر لښکر ټـول کړ او ددښمن سر ه دمقا بلی کو لو د پاره ئی څو تنه‌سپاره و لیږل چه هغوی د کو هاټ دکلا په شا او خـو ا کښی ځینی ګلی وښیځـل خـو شحـال خـا ن داکوشش کاوه چه د ا پریدو ا وختکو لښکر سره راټول په‌ګوها ټ حمله و کړی مګر د ځینو سببو نوله کبله دی پد غه مرام کښی‌نا کامه شو پس له هغه خوشحال خان په‌خپله ددر یا خان ځای ته د کو هاټ دجنګ د شهیدا نو ددعااوفا تحی‌دپاره لاړ دفا تحی په سبا جر ګه وشوه او جر ګی فیصله و کړه چه‌با ید خوشحال خان تیرا ته راشی ددی فیصلی نه‌وروسته‌خوشحال‌خان(خوړ) نومی ځای ته ولاړ چه دغلته دده با ل بچ هم ؤ .

ایمل خان د مو مند و د فو ځ‌مشر اؤ دریا خان د اپریدو دلښکر مشر په هر میدان کښی په ا تفاق له‌مغلو سره و جنګیدل‌خوشحال‌خان هم ددوی قوی ملګری و لکه‌چه وائی‌دایمل فتور آ غاز شو د مومند و هم‌عنـان شـو د دی دریـو ا ړ وسر دا را نو په منځ کښی ټینګ ارتباط او خط او ګتابت مو جودووخو شحا ل خان په ۱۰۸۵ کـا ل ګښی خلور میا شتی په تیرا کښی‌تیری ګړی د غلته و ر ته دیوسف‌زو خطو نه را و رسیدل نو ا یمل خان‌او دریا خان ئی په د غو خطو باندی خبر کړل اؤ له تیرا څخه دیوسف‌زوپه نیت روان شو د تیرا په (بازار) کښی ا یمل خان په مخه و رغی چه‌دجر ګی د پاره تیرا ته روان و .

ایمل خان له خو شحال خان سر ه‌بیرتـه ډګی تـه را ستـو ن شو خوشحال خـا ن پـه کشتی کښی‌کینا ست او د ملا ګورو مو مند و علاقی ته ورغی مـومنـدو یـی ښه‌استقبال ؤ کړ او بیا یو سف ز و ته لاړ پد غه کال کښی اورنګز یب‌د ۱۰۸۵ په بزر ګه میا شت کښی اغر خان د ډیر فو ځ سره خیبراوجمرو د ته و لیږه‌او فدا ئی‌خان ئی د کابل په صوبه داری و ټاکه دی‌نهه میاشتی دخیبر پـه خوله کښی

داړيدو د حملو په و جه له ځا ی نه خوځیدی نشو بیا ورته باد شاه امر را و لیږه چه یا ځان مړ که اویا په خیبر و ر ننو زه دی چه په خیبر را ننـو ت ا یمل خـان ا ودریا خان ئی مخی ته ورته تـیا ر ولاړ وو زوروره جګړه وشوه اغرخان پکښی ز خمی شو مګر د مغـلـو لښکر اخیر په خیبر باندی دتیریدو لا رونـه مو ند لـه دبازار اوځوبی په لاریی په ډیر مشکل ځان جلال آباد ته ورساوه .

## په پښتنو کښی بی اتفاقی پیداکول :

امیر خان دکابل صوبه دار چه په جنګی میدا ن کښی کا میاب نشو نو بیا ئی په سیا سی چا لول په پښـتـنو کښـی درزوا چـاوه او پښتنا نه ئی په توره وو هل .

ایمل خان پدی و خت کښی دپښتنو باد شاه منل شوی ؤ او ډیره علاقه ئی دقبضی لاندی وه مګر دامیر خـا ن او مغلو پـه سیا سی چالو نو پښتا نه ملګان له ایمل خان څخه مخا لف شول او د ځمکو په تقسیم او ږیش د یو بل نه خوا بدی او جلا شول او پدی صورت ددو ی منظم جمعیت چه کلو نه ئی او رنګ زیب پریشان کړی وګډوډ شو . بیا مغلو په تیرا حمله وکړه دریا خان ئی مقا بلی ته و درید په جګړه کښی ز خمی شو ا و خپلو ملګرو خو ست ته یو وړ مینو کی

مؤرخ لیکی چه قا سم خان د مغلو یو افسر ۵۲ تنه پښتانه په ټګی دزوی د سنت په بها نه را وغوښتل او بیائی ووژل لنډه دا چه دامیر خان په حیلو او د سیسو ډیر پښتا نه سرداران مړه شول او ا یمل خان هم د مغلو له خوا مسموم کړی شوا و پدی صورت د منظم مخا لفت سلسله ودانه شوه .

دخوشحال خان له اشعارو څخه معلو میږی چه د پښتو نـو لـی د آسمان ځلاند ستوری دخوشحال خان ګران ملګری او قوی مټونه ایمل خان مومند او دریا خان اپریدی له ده نه مخکښی مړه شویدی لکه چه وائی:

ایمل خان دریا خـان دواړه ښه رنګ تیر شو

اوس ددواړو پـه فراق کښی زما تل آه و ماتم دی

ایمل خان دریا خان دواړه خورد بین لا ړل

اوس خو پاتی ومغول تـه یـو خو شحا ل د ی

د خیبر ددغی لو ئی حـا د ثی ( ۱۰۸۳ ه ) په باره کښی خوشحال وا ئی :

څه شنواری څه مو مندی څـه اپریدی وو
چه ئی مات کړ د صو بی وا ړه لښکر


دا طو فان چه په مغلو بـا ند ی ساز شو
په کشتن په و لجو هیڅ مـکړ ه نـظـر

که اسو نه که پیلان که اسبـا بـو نـه
په ا نـبا رانبار سپین زرو و یـا سره ز ر


پښتونیار طبع کا بل کال۱۳۳۱ صفحه ۱۸ دسیفی تر جمه .
دکـتاب مؤ لف صد یـق ا لله ( رښتین )



دقبایلو پخوانی رئیس سیدمسعود پوهنیار د کامی روغتون د پرانستلو
دمرا سمو په وخت کی لیدل کیږی



دچترال دتیرچ دسیمی یوه منظره



دچترال دکافرستان دوادی یوه ډیر
ښکلی په زړه پوری عکس ·

# په‌تیراکی ملی‌حکومتونه:

په ۱۲۷۷ هـ ش کال په تیرا دملك دین خیلو سید میر بشیر خان دمیدان په شنګیږ کی‌ئی ملی‌حکومت‌جوړ دخرمنی نو ټونه ئـی جـار ی اوعسکری تعلیم ئی په‌خلکو شروع کړ . تنخوا ګا نی ئی مقر ری کړی مګر د تیرا هند وانـو او نـو ر ودو ګا ندارانو د خر من په سکه‌کښی تاوان و کړ ځکه چه د غه سکه‌دتیرا څخه د باندی نه چلیده او وروسته له شپږو کا لو ختم شو او مـیر بشیر خان ا فغا نستان ته راغی او ملی حکو مت ئی پای ته و رسید .

په ۱۲۹۴ هـ ش کال چه دو هم‌جهانی جنګ هم دوام در لو د ا و ټولو مسلما نا نو د ترکی طرفداری‌کوله نو دافغا نستان له لاری‌نه څو تنه اپریدی چه سر مست ئی مشرؤ تیراته راغلل اوانګریـز سره ئـی دجهاد ا علان و کړ او دملی حکو مت‌جو ړیدو ته ئی ز مینه جوړه کړه .

په ۱۳۰۱ هـ ش په تیرا کښی بیاو لسی حکو مت منځ ته را غی او پدی و ختو کښی د افغا نستان لخوا هم‌نهه علم‌شریف یعنی توربیرغونه دتیرا ا پریدو ته و ر کړه شو ا ودسید پاچا د ملك د ین خیلو دقوم دمیدان په جبه نو می ځای کښی دافغا نستان په مرسته ملی حکو مت قا یم شو او هغه کسان چه په‌افغا نستان کښی تر بیه شوی وو ور غلل او ۱۳۰۱ ش کال نـه تر۱۳۰۶ پوری جاری پا تی شو مـګر ا خیر کمزوری اوپای ته و ر سیداسا سو نه ئی پاتی چه په (۱۳۴۵ کښی بیا عبد الغفار خان د شنګیږ دمیرله خواملی حکومت‌منځ‌ته راغی او دوو کلو څخه وروسته کمزو ری‌اواساس ئی اوس ،هـم‌مو جـو د دی .

# دکوهاټ اوخیبرغزاګانی:

داپریدو قوم دکوهاټ او خیبر په‌عـلاقه کښی پـروت دی په نـورو لفظونو کښی د دریای کابل ـــ تر منځه دتیرا په ځمکه پروتـدی . تـیرا یـولوی ملك دی ددی‌ملك په‌نیمه حـصه کښی جنوب طـرف ته ور کـزی او په نیمه شمالـی حصه کښی اپریدی پراته دی.داپریدو څه حصه خلق د کوهاټ نه لـمرخـاته‌طرف ته ترلری حده پوری دکوهاټ اوپیښور ضلعو ترمنځه غـربا ندی‌دختك قـوم په‌علاقه کښی دچـراټ تر علاقی پوری پراته دی .انګریزانوچه‌دتیرا په‌نیمه‌حصه(ورکزا یوعلاقه) کومی حملی کړی وی دهـغی ذکـرمونږ دکرم ایجنسی دغـزاګانـو په

سلسله کښې به وکړو دلته دهغه‌غزا ګانو اوجنګونو تذکر کوو چه هغه د اپریدو په علاقو باندې‌دخیبر اوکو هاټ بازار اوجانا کوړ ترمنځ علا قو کښې د۱۸۳۹نه ترسنه ۱۹۳۳ پورې په تیرو شوو ۹٤ کال کښې شوې دی .

دانګریزانو په‌خلاف داپریدودغزاګانویاد اپریدو . ورکړو په خلاف په فوجې حملو کوم فهر ست درج‌کړیدی په‌هغې کښې فقط دیوویښت انګریزی پوځی حملو نو مونه ایکل‌شوی دی مونږ وروسته دبعضې داسې حملو بیان به هم په اختصارسره وکړو چه زمونږ په د غه فهر یست کښې دهغې نوم نه‌دی‌واغلی . هرکله چه داپریدو علاقه دنورو ټولو پښتنو قبائلو په نسبت‌پیښور ښارته زیات نږدې اباد دی او بله داچه د انګریزانو مقا بله ټولو نه اول په سنه ۱۸۳۹کښې (چه لا سکهان په دی ملك کښې‌موجود وو)ددی قوم سره راغلی وه په دی وجه داپریدی قوم او د دوی‌دعلاقې پیژندګلوی کول منا سب معلومیږی . داپریدو قوم‌اته ښاخونه‌دی چه نومونه‌ئې دادی . کوکی خیل . ملك دین خیل . قمبر خیل .زخه خیل. قمرخیل .سپای.اکاخیل .ادم خیل .په دوی کښې‌ادم‌خیل په په‌کوهاټ‌اودهغې نه‌په لمرختیځ‌ه‌حصه کښې اوسیږی‌اوپه سیاسی طورسره‌دپیښور ضلع ددپټی کمشنر سر ه تعلق لری باقې پاتی نورې قبیلې په‌خیبر ایجنسی کښې ابادی دی‌او سیاسی تعلق ئې دخیبر ایجنسی‌دپولیټیکل ایجنټ سره دی . په‌خیبر ایجنسی کښې ور سره درې قومونه‌هم اباد دی چه نومونه ئې دادی . ملاګوری شلمانی- شنواری. ددی‌قوم‌مشهوری علاقې دادی -هر کله چه وروستو غزاګانو په بحث کښې‌ددی علاقو نومونه راځی په‌دی وجه پیژندل ئې ضروری دی.

۱- خیبر . دا دغرونو یوه سلسله‌ده چه دجمرود نه تر تورخم پورې غز یدلی ده .

۲- وادی میدان . چه دتیرا د وه‌توئی نه‌دخمکنی دعلاقې پورې اوږده میدانې علاقه ده شمالی طرف ته ئې‌دراجګل دره‌ده. مغرب طرف ته ئې خمکنی پراته دی . جنوب طرف‌ته‌ئې‌تور غر‌دی . مشرق طرف ته‌ئې دباړې علاقه ده . زیاتې غزاګانې په‌تور غره شو یدی .

۳- وادی بازار .ددی وادی‌نه‌دچار‌چاپیره علاقونومونه دادی.
سور غر. منګل باغ کنډو. خاخو بی‌کنډو . الچی کنډو .
وا دی باړه : دا یوه لویه وادی‌ده‌چاړو باندی ترماهانی پورې غزیدلی ده.

ACKU

وادی راجگل : دایوه لویه اوښکلی‌وادی ده‌چه ددوه توی‌نالی په‌دوا ړه طرفه دمتوغره پوری غزیدلی‌ده .دمتوغر (۱۱٤۲۱) فټه لوړ دی او د سپین غره دټولونه زیات او چټ‌سردی .

دکابل دریا پ: دکابل سیندښی‌لاس ته‌هغه علاقه چه‌ددی سیند نه دحید ری ګنډه و تور خپراو سپینه خوګه پوری رسیدلی ده .
هغه مونږ دکابل دریاب وادی په نامه‌یادولی شو چه دلته ملا ګو ری شلمانی او شنواری قبیلو خلك پراته‌دی . په دی ټولو علاقو کښی میدان زیا ته مهمه علاقه ده.پنځه‌ویشت‌میله‌اوږده اته میله پلنه اود سطح بحرنه (٦۰۰۰) شپږ زره فټه اوچته ده .میدا ن په باغ نو می ځای‌کی هغه مشهور جامع مسجد دی چه دټول‌قام د جرګی ځای دی او د اکثرو غزاګانو دپاره قومی جرګی دلته شوی‌دی . داپریدو دغه اته واړه قبیلی چه په کومو کومو علا قو پرتی دی‌دلته دهغی بیان هم په اختصار سره مناسب معلومیږی . دپاره ددی چه‌انګریزانو په کومو کومو علاقو او قبیلو باندی حملی کړی دی چه‌دهغی په‌پوهه کښی آسانتیا حاصله شی او دا هم معلومه شی چه‌انګریزانو په کو مو کومو لارو په اپریدو حملی کړی دی .

کوکی خیل : د ۱۹٥۱ کال دنفو س‌شماری د اندازی له مخه ددی قوم تعداد ۳٤۰٤۲ تنه ښودلی شویدی.دا بیان د تاریخ ازاد پښتان صفحه ۱۳۹ دی لیکن په کومه زمانه چه‌د انګریزانو او ددی قوم ترمنځه جنګونه کیدل په هغه زمانه دتاریخ‌صولت افغانی صفحه ٦۰٤ طبع سنه ۱۸۷۲ کال دبیان مطابق د کو کی‌خیل قبیلی تعداد فقط شپږ زره وو. ددی قام خلك په راجګل ښایست‌لاله چینه او جمرود نه‌تر علی مسجد پوری اباد دی دذی قبیلی خلك‌دافغا نستان په سرحد باندی دسپین غره سلسله او مورغه غره باندی‌دافغا نستان په سرحد باندی پراته دی او انګریزانو چه په افغا نستان‌با ندی کومی مشهوری دری حملی کړی وی دهغی اثر پدی قام هم‌پریوتلی وو او دوی هم پکښی حصه اخیستی وه .

## ملك دین‌خیل:

ددی‌قوم‌خلك‌پمیدان. چوره. کجوری‌کښی پراته دی ـزیاته ابادی ئی په میدان کښی ده . د تار یخ ازادپښتان ص ۱۳۹ دبیان مطابق په سنه ۱۹٥۱ کښی ددوی دنفوسو شمیراندازه ۳۷۰۲۱ تنه‌وه . په‌خصوصیت سره دکجوری او چوری غزاګانی‌ددوی ــ په علاقه کښی شوی دی.

کمبر خیل :

دمیـ..ا ن پــه ګا هو د رهشلوبرکی ابادی دژمی پهموسم کښی کجوری او پیښود ته راکــوزیږی پنځه لوی شاخونه ئی دی . متیخیل پــیی خیــل . شیــخ مــلی خیــل‌دزبی خیل. مت خانخیل په ۱۸۶۱ کال کښی په کجوری دانــګریزانــواو ددوی تــرمنځه جنګ شوی وو . دتاریخ آزاد پټان دبیان مطا بق پهســنه ۱۹۵۱ کــښی ددوی تــعــداد ۵۲۸۸۷تنه وو.

زخه خیل:

داقبیله دخپل‌جغرافیائی او سیاسی‌حیثیت له مخه خــاص اهمیت لــری دپیښور نه کابل ته چه کومه لارتللی‌ده دهــغی یــوه بــرخــه ددی قبیلی د اقتدار لاندی ده. دا قوم په واسی‌ځمکه پروت دی چه کابل او پیښور ته یوشان په اسانه رسیدلی شی .پهاپریدو قبائلو کښی زیاته جنګجو قبیله داګڼلی شی او دانګریزا نــوپه خلاف زیاتی غزاګانی هــم ددوی په ځمکه شویدی . دژمی په ورځــوښکته بازار ته راکوزیږی دمنګل باغ نــه چه ګوم اپــریدی قبا یل ښکته‌راکو زیږی دهغوی لار په دوی ده. دسنه ۱۹۵۱ کــال د نفوس شماری‌له مخه ددوی دتعداداندازه ۲۳۸۸۸ تنه ښودل شوی ده.

قمر خیل یاقمری :

دایوه وړکوټی‌شان‌قبیله‌ده دباړی‌جنوب مغرب طرف ته پرته ده . ددی قــوم خلك په ژمــی کښی دکجوری‌میری باز ګړی ته کوز یږی دسنــه ۱۹۵۱ کال‌د نفوس شما ر ی له مخه‌ددوی تــعداد (۸۱۸۷۳) اته زره اته سوه دری اویا تنه تخمین شوی وو.

سپای : داهم یوه وړه شان قبیله ده‌په‌باړه سنګ پل کښی اباده ده په‌ژمی کی کجوری ته را کوزیږی پــه علم‌ګودرهم پرا ته دی. په علم ګــو در کښی د وسلی جوړولو کار خانه هم‌لری اودسلیمی‌کنډو سنسوبیوکنډو په برید دافغانستان سره ئی پولــه‌لګیــږی . دسنه ۱۹۵۱ کال نفــوس شماری له مخه ددوی تعداد ۱۰۱۹۰تنه اندازه شــوی دی .

اکــا خــیل : داپــریــدی قبیلی چه‌د انګریزانــو سره ئی زیاتی مقا بلی راغلی وی دهغی نــوم اکــاخیل دی. دا خلك په باړه میدان تیرا او کجوری کښی ابادی . دتــا ریــخ ازاد پټان‌دبــیان مطا بــق په سنه ۱۹۵۱ کال

کښی ددی قــــوم د تــعداد انــدازه۲۱۱۵۲ نفروه‌او دتاریخ صو لـــت افغانی مــؤلف په سنه ۱۸۷۲ کښی‌ددوی تعداد شپږ زره ښودلی شوی دی اوددوی دملاتړ (جنګجو افــرادو تعداد) پنځلس ســوه ښودلی دی

ص ٦٠٣ صولت افغانی لیکی چه ددی قوم خلك په ژمی کښی دباړ ی اومیدان نه کجوری خوا ته راکوزیږی. په سنه ١٨٥٦ کښی چه د دوی او انگریزانو ترمنځه کومه غزا شوی وه دهغی بحث به وروسته راشی. په مجموعی حیثیت سره د اکاخیلو بر خلاف انگریزانو ډیر پوځی او سیاسی اقدامات کړی دی.

ادم خیل : ددی قبیلی زیات تعداد په دره کوهاټ کښی ابادی. صرف ددی قوم دوه قبیلی کالاخیل اوجواکی دخیبر دری سره سیا سی تعلق لری. دانگریزانو او کالاخیل اوجواکی ترمنځه چه کوم جنگونه شوی دی دهغی ذکر به وروسته راشی. په سنه ١٩٥١ کښی صرف دتیرا د ادم خیلو دتعداد اندازه ٦٣٩٥ تنه وو او په سنه ١٨٧٢ کښی صرف د یوی قبیلی جواکی ٤٤٠٠ تنه وو. په دی وجه ددی قبیلی نفوس شماری صحیح تعداد نه دی معلوم.

داپریدو قوم غازیانو چه دانگریزانو برخلاف کومی غزاگانی کړی دی د دهغه حملو په سلسله کښی وی چه انگریزانو په دی لاندی کلونو کی د اپریدو په ملك کړیدی دانگریزی حملو دکالونو او تاریخونو فهرست دادی: سنه ١٨٣٩ـ ١٨٥٠ـ ١٨٥٢ـ١٨٥٣ ١٨٥٤ ـ ١٨٥٥ ـ بیا ١٨٥٥ بیا ١٨٥٥ ـ ١٨٥٦ ـ ١٨٥٧ ـ ١٨٦٨ ـ بیا ١٨٦٨ ـ ١٨٦٩ ـ ١٨٧٧ ـ ١٨٧٨ ـ ١٨٧٩ ـ بیا ١٨٧٩ ـ١٨٨٨ ـ ١٨٩١ ـ بیا ١٨٩١ ـ بیا ١٨٩١ ـ ١٨٩٧ ـ بیا ١٨٩٧ ـ بیا ١٨٩٧ ـ بیا ١٨٩٧ ـ ١٩٠٨ ـ ١٩٠٩ ـ ١٩١٩ ـ ١٩٢٣ ـ ١٩٣٠ ـ١٩٣٣. ټولی یو دیرش حملی او پوځی اقدامات شول چه انگریزانو کړی وواو یو دیرش لوئی غزاگانی شولی چه اپریدو او ورکزو کړی وی په دی کی دبعضی غزاگانو حالات او واقعا ت مونږ د کرم ایجنسی دتذکر په ضمن کښی به وکړو اودبعضی نورو بیان به دلته وکړو او دبعضی غزاگانو بیان به داختصار په وجه پریږدو ځکه چه ټول واقعا ت که په تفصیل سره بیانول شروع کړو نو دهغی دپاره ځان له جدا کتاب په کار دی.

## دلاله‌چینی غزا:

دجولائی په ٢٢ سنه ١٨٣٩ کښی دشاه شجاع زوی تیمور اویوانگریز افسر کرنل ویډ دولس زره پوځ سره دخیبر په لاره کابل ته روان شو او په خیبر ورننه وتلو ترد غه وخت پوری اپریدو دجنگ کولو یا نه کولو څه فیصله نه وه کړی په دی وجه په غیر دسل دوه سوه کسانو نه عام اپریدوئی څه مخالفت ونکړ بیاهم په ډیر مشکل سره داپوځ په دوه

ورځې کښې دجمرودنه ګاګرنې تهورسیده بیائې دلته رو غه او نیغه لاره پرېښودہ دلاله چینه په طرف روان شو او دکوکی خیل اپریدو، علاقه کښې دعلی مسجد په مقام چه دپښتنو کومه پوځې څوکی وه په هغې ئې حمله وکړله کوکی خیل اپریدی یې مقابلې ته راووتل .

نور اپریدی قبائل میدان ته نه ووراوتلی بیاهم دوه ورځې جنګ وشو او چه دارو مردکې ورسره خلاص شول نو غازیانو دعلی مسجد څوکی خالی کړله په دغی باندی دانګریزا نو دلښکر نشه او چته شول، مخ په وړاندی روان شول چه په دغه منځکښی ګوکی خیلو اپریدو دلاله چینه په انګریزی کیمپ حمله وکړل، او دپرنګی دپوځ نه یې پوره څلور سوه پوځیان قتل کړل ددغی نه وروسته دپرنګی پوځ په ډیر بد حال په ډیره خوارۍ دخیبر درې نه ووتلو او کابل ته یې مخه وکړه چه شاه شجاع ته کابل واخلی .

په تاریخی اعتبار سره دا اولنی غزاوه چه دخیبر په څمکه دانګریزانو خلاف شوی وه او دجهاد ونو دد ی سلسلی ابتداء داپریدی قوم دکوکی خیلو بهادرانو شاه څلمو کړی وه .

## دعلی مسجد غزا:

دانګریزانو پوځ افغانستان تهددی دپاره تلی وو چه کابل باندی دامیر دوست محمد خان په ځای شاه شجاع بادشاه کړی چه دغه مقصد یی حاصل کړ نو بیادانګریزانو سفیر میکناټن اودهغه پولیټیکل افسر مسټر برنس خپله بادشا هی شروع کړله او شاه شجاع هسی دنوم بادشاه وو بیاانګریزی پوځو نو په کابل کښې ظلمونه شروع کړل نتیجه ئی دا شوه چه دوه کاله پس ورته، قام راپورته شو انګریزی سفیر میکناټن ئی مړ کړ مسټر برنس ئی ووژلو . شاه شجاع هم ووژلی شو. په ۲۲ نومبر سنه ۱۸٤۱ دانګریزانو څلور زره سواره او دولس زره پیاده پوځ وسله کیښوده سلامی شو او هندوستان ته دواپس کیدلو دپاره راروان شو دغه شپاړس زره انګریزی پوځ کښې پنځلس زره پوځ په لاره باندی دکابل او جلال آ بادتر منځه دغازیانو دلاسه قتل شو فقط یوزر پوځیان ژوندی جلال آباد ته رارسیدلی و و دهغوی نه هم غازیان راچاپیره شول راګیرئی کړل قلابند شول ددغه قلابند پوځ د خلاصولو دپاره دپیښور دپوځی کیمپ نه نور پوځ په سنه ۱۸٤۲ کی دلیږلو فیصله وشوه داپوځ په جنوری سنه ۱۸٤۲ کښې ددوه جرنیلانو ماتحت لیږلی شوی وو چه دیو نوم وو جنرال موسلی او ددو یم نوم ووکرنل ویړ.

دکرنل ویلډ په گمان کښې چه کوم پوځ ووپه هغې کښې سکهانهم وو. دکرنل ویلډ پوځ چه جمرود ته ورسیده نود دغه ځای نه نور مخ په وړاندې تللو نه، هم انکار وکړ خپل توپونه یې کرنل ویلډ ته حواله کړل او واپس شول. سوال چه دسکهانو پوځ دجمرود نه ولې بیرته را واپس شو ددې وجه دسکهانو هغه گورنرچه په پیښور ښار باندې حکمران وو ابوطبیله (اوی تبی بائل) نوم ئې ووهغه داسې بیان کړی دی چه :

سکهان په اصل کښې داپریدیانو نه ډیر ویریدل ددره خیبر نوم چه به یې واوریده لړزان به پرې راتللو او داسې ویرې به واخستل چه هسې به یې خیبر طرف ته مخ شو نو هم دبادگولی (درد قو لنج) به پرې راتللو .

یوخواته دکرنل ویلډ دپوځ داحال وو اوبل خواته د جنوری ۱۵ سنه ۱۸٤۲باندې کرنل موسلی نوم پرنگی داسې داقتدار په نشه مست ؤچه دکرنل ویلډدپوځ انتظار یې هم ونکړ. دخیبرپه دره ورننوتلواوعلی مسجد ته ورسیده چه څه وخت ددغې نه اپریدی خبر شول نو مقابلې ته راووتل او جنگ شروع شو.

دبل خوانه ورپسې دکرنل ویلډپه گمان کښې انگریزی پوځو نود جمرودنه اقدام شروع کړ .اپریدی غازیان هغه ته هم را وړاندې شول مخه یې ورله ونیوله، یو خوایې دکرنل موسلی دپوځ سره جنگ کولو او بل خوا یې کرنل ویلډ مخکښې تللو ته نه پریښوده په دې شان سره دانگریزانو دواړه پوځونه دیو بل سره نه شول یوځای کیدلی چه دیو بل امدادوکړی او دکرنل موسلی سره چه کوم انگریزی پوځ ووهغه په گیره کښې را غی نتیجه یې داشوه چه دکرنل ویلډ په گمان کښې چه کوم انگریزی پوځ ووهغه ته ډیر لوی نقصان ورسیده مات گوډ واپس جمرود ته راغی اوبل خوا دکرنل مو سلی په گمان کې چه کوم انگریزی پوځ وو هغه په علی مسجد کښې قلابند شو. ددغې نه پس ددواړه طرفو نه په یو بل دحملو سلسله جاری وه اپریدو غازیانو پرې خپل ایمان تازه کړ اخرداچه دکرنل موسلی وار خطا

شودمخکښې تللو طاقت یې نه لرلو دځان دخلاصولو په فکرشو دجنوری ۲٤ سنه ۱۹٤۲ دعلی مسجد نه یې پوځ را وښکلو دیته یې نه کتل چه پوځ مری که پاتې کیږی په منډه راروان شو جمرود ته یې مخه ونیوله پوځ یې چه څه په لاره دغازیانو دگولو. تورو او پیش قبضو خوراك شو او چه څه ژوندی پاتې ووهغه ژوبل . په بد حال یو پوځ جمرود




PROPERTY OF ACKU 48412

ته راورسیدل .دانگریزانو کوم‌پوځ‌چه په جلال‌آباد کښی گیر شوی اوقلا بند شوی پوځ دخلاصی لپا ره‌روان وو هرکله چه په خیبر کښی داعمنا که حادثه و د پیښه شوله‌نوحالات ورته نور هم خراب معلوم شول او فکر یی وکړ چه که په دی‌غلی پاتی شی قصه نوره هم خرابیږی . چنانچه تیاری یی شروع کړ دوه میاشتی یی دنوی سرنه په پوځی تیاری کښی تیر ی کړلی‌ځکه‌چه انگریزانو ته لویه کشاله‌داپیښه شوی وه چه څه وخت‌دسکهانو پوځ‌انکاری شوی وو او دجمرود نه را واپس شوی وو څه په هغی اوځه‌دعلی مسجد په مقام دکرنل موسلی دشکست خوړلو په وجه سپاهیانو دخیبر په لاره دکابل تللو ته غاړه‌نه کیښودله .دخیبر او اپریدو دنوم‌نه‌ئی ویره کیدله اخر داچه پوره دوه میاشتی په ډیر کوښښ سره یولوی‌مضبوط پوځ ئی برابر کړ او داپریل په ٦ سنه ١٨٤٢ باندی دانوی پوځ یوځل بیا دخیبر په لور روان‌شو.


په تاریخی اعتبارسره داپه‌همدغه‌یوکال سنه١٨٤٢ کښی په خیبر باندی دانگریزانو دو یمه حمله وه‌اولنی په جنوری سنه ١٨٤٢ کښی او دویمه په اپریل سنه ١٨٤٢کښی‌داپریل په ٦ سنه ١٨٤٢ باندی یو ډیر لوی پوځ ډیر لوی او دروند جنگی سامان سره دجنرل‌پولك په کمان کښی دمخکښی تگ کابل‌درسیدلو او دا پر یدو نه د مخکښی جگړی دبدل اخستلو دپاره دپیښور‌دپوځی کیمپ نه روان شو بل‌خواته اپریدی هم ددی نوی حملی دمقابلی‌دپاره تیار وو .اگر چه جنگی‌سامان ئی نه لرلو دهغوی‌وسله فقط‌چقماقی ټوپکی نه او پیش قبضی وی لیکن دجهاد جذبه او دوطن دحفاظت‌ولوله‌دادوه داسی څیزی و ی چه‌هغوپری دسر او مال قربانولو نه دریغ. نه کو لو په یویو قدم او یوه یوه انچ ځمکه یی دپرنگی لښکری پر ی‌کړی او ځپلی وینی یی پری تو ی کړی دانگریزانو لښکر په‌زورکښی‌وومخ په وړاندی تللو او دغه دری دیرش میله دخیبر دره ئی په لس‌ورځی کښی لنډه کړه د اپریل په ١٥په ډیرو خوارو دلنډی کوتل نه‌واوړیدل اوپه‌جلال‌آباد کښی دقلابند انگریزی پوځ امدادله ئی ځان‌رسولو‌تکل وکړ.

## دخیبر دریمه غزا :


په اپریل سنه ١٨٤٢ کښی چه‌دانگریزانو کوم پوځ کابل ته تللی وو هلته داسی حالات پیدا شول او انگریزی پوځونو ته داسی مشکلات پیښ شول چه هغه یو جدا بحث‌غواړی لنډه داچه د١٨٤٣ کال په آخر کښی انگریزان یوځل‌بیا مجبورشول چه دافغانستان نه خپل‌پوځونه




مرحوم ملك سيد احمد خان زخه خيل اپريدى .



حاجي نادر خان زخه خيل اپريدى د پښتو نستان زلمى او حساس پښتون .



قاضي لعل‌محمد خان زخه‌خيل‌اپريدى



حاجي عزيز خان زخه خيل اپريدى

وباسي. دغه پوځونه چه په واپسي کښې بیا په خیبر رانوتل نو اپریدو غازیانو پرې باندې بیا لاس پورې کړ. انګریزانو دالښکر په درې حصو کښې تقسیم کړ. یوه یوه حصه به یې په خیبر راواستوله غرض یې داوه چه دپوځ کومه حصه وړاندې روانه وی چه دشا طرف نه بله حصه ئې امداد کوی او چه اپریدی غازیان یې په ګیره کښې واچوی چه هغه ګیره ماته کړی. په دې ډول دانګریزانو دپوځ یوه حصه د نومبر په ۳ سنه ۱۸٤۳ باندې دلنډې خانې ځینې را روان شوی ووهغه په ډېر تکلیفونو او مصیبتونو ځان علی‌مسجد ته‌را رسولی وو. اپریدو غازیانو ورسره قدم په قدم مقابله وکړله‌او خپله خوائې پرې سره کړله. چنانچه په دې جوړتباهۍاو تالاکیدلو مړکیدلو ژوبل کیدلو سره چه دانګریزانو داپوځ دخیبر نه را ووتلو نو هیله یې داطمینان‌ساه واخستله یو انګریز افسر چه پخپله په‌دې لښکر کښې موجود وو او د خپلې خوش قسمتۍ نه دمرګ نه‌بچ شوی وو هغه خپل دسترګو لیدلی حال داسې بیان کړی دی. لیکلی یې دی:

خیبر درې ته چه انګریزی پوځ داخل شونو قبائلو پرې ګولۍ‌وروولې دپرنګی دپوځ په سامان به یې په‌زړه ورتیا حملې کولې او په ډېره تیزۍ سره به یې دپوځ‌مال، اسباب‌او ښمان تښتول ....... دغازیانو «اپریدو» ډلې به‌دغرونو په زوړو نوکښې ډېر په بهادرۍ راکوزیدلې او دانګریزی پوځ په شاطرف ته په پوځیانو به یې حملې کولې. په هر یوغانښې اوکنډو کښې دسختو نه‌سختې مقابلې وی. په انګریزی پوځ ددې زړور پوځ دکامیابو حملو دد ی نه پته لګیدله، چه پخپله زمونږ په پوځې دستو او کومې پوځې دستې‌چه زمونږ په قدم کښې وړاندې وی دهغوی نه پوځی سامان بیا د و ی‌اخستې وو ځای په ځای به ټوپکو او کالتو سونو بکسونه خالی پراته‌وو او سامان به ترینه اپریدو وړ ی وو ځای په ځای اوښان به پراته ووځه مړه او څه مرګ ته نژدې او زمونږ دملګرو دانګریزی پوځ دپوځیانو د مړو نه دخیبر ټوله‌لار ډکه پرته وه.

هم دا پوځې افسر علی مسجدته دراړسېد لونه وروسته لیکی:

علی مسجد ته چه راورسیدلو نودلته دجرنیل مك کاس کل دشکست نه خبر شولو چه زمونږ دراړسیدلو نه یوه ورځ مخکښې یې وهل خوړلی وو دهغه نه دوه توپې اخستې شوی‌وی. دوه پرنګی افسران او نور ګڼ پوځیان ئې وژلی شوی وو اودمیدان‌جنګ نه په تښته باندې ئې پښې کښلې وی.

## یادگیرنه:

دخیبر او اپریدو په علاقه کښې چه دانګریزانو دپوځونو په خلاف د غزاګانو کوم واقعات مخکښې بیا نشول . په تاریخي اعتبار سره دغه، دانګریزانو په خلاف دغزاګانو اولنۍ دوره ګڼل کیږی ځکه چه په دغه زمانه، ۱۸۳۹ نه تر سنه۱۸۴۳ پورې موده کښې لا دخیبر نه لمر خاته، طرف پیښور وغیره علاقو بانــدې لاد سکهانو بادشاهي وه اوانګریزانو اقتدار په دې ملک بانــدې لانــه وو راغلی لکه چه مخکښې دسکهانو په خلاف دغزاګانو په باب کښې ورته اشاره شوې ده . پدې علاقه باندې دانګریزانو اقتدار دسنه ۱۸۴۹ نــه وروسته راغلی وو پداسې ورځــو کښې چه لاندې ملك دسکها نــو بادشاهي وه په خیبر باندې چــه انګریزي پوځونه کابل ته تلل دهغــې چه کوم تاریخي پس منظردې دهغې بعضې اهم تاریخي معلومات دلتــه درج کول پکــار دي ددغــې نه به دا معلومه، شي چه :

الف .ــ په پیښور دانګریزانــودقبضې تاریخي پس منظر څه وو ؟

ب.ــ په خیبر دانګریزانو دحملواولنۍ دورنه وروسته دویم دور کله، شروع شو .

واقعات دادي چه، داحمدشاه ابدالي زوی دافغانستان بادشاه تیمور شاه دوفات نه وروسته دهغه زوی زمان شاه بادشاه شوی وو وروسته شاه محمود بادشاه شوی وو . په سنــه۱۸۰۳ کښې دتیمور شــاه دریــم زوی شجاع الملك چه په، شاه شجاع نامه مشهور دی حمله وکړه کابــل ئې دشاه محمود نه ونیولو .په سنه۱۸۰۸ کښې انریبل مونټ سیودرټ الفنسټن کابل ته لاړ او دایــران او فرانس په خلاف ئې دشاه شجاع سره یوه معاهده لاسلیك کړه ددغه معاهدې په، وجه دانګریزانو او شاه شجــاع ترمنځ تعلق پیدا شو چه، دغه ناپاکه تعلق بیا وروسته په پیښور او کابل دواړو تباهي راوستله، . پــه ســنه۱۸۱۶ کښې دسردار فتح خان بارکزی

ACKU

په امداد شاه محمود بیا دو باره دکابل بادشاه شو او شاه شجاع پنجاب ته راغی په لدهیانه کښې دانګریزانو په سوري کښې کیناست

په سنه ۱۸۱۸ کښې دشاه محمود دلاس نه وزیر فتح خان بارکزی قتل شو. دوزیر فتح خان نولس ورونړه نود وو ټول راپورته شول امیردوست محمدخان پکښې توریالی ځوان و وهغه راوړاندی شو ټول افغانستان یې دشاه محمود نه ونیولو دافغانستان بادشاه شو شاه محمود هرات ته لاړ په ۱۸۲۲ کې شاه شجاع مهاراجه رنجیت سنګه سره معاهده وکړه دامعاهده په تاریخ کښې دیره ذلیله معاهده بللې شي . ددې معاهدې مطابق شاه شجاع دخپل ځان او خپلو وارثانو دطرف نه درنجیت سنګ په حق کښې دکشمیر دقطب، قبلې وسویل دسرحدونو سره په شمول دقلعه اټك. پیچ. هزاره . ګیا ګبل، امب او ددې سره هغه ټولې متعلقه علاقې چه داباسیند په ښۍ غاړه او چپه غاړه واقع دی سره دیوسفزو خټك. اشنغر . پیښور . میچنی. کوهاټ .هنګو او هغه ټولې علاقې چې پیښور ماتحت ګڼلې شي . ان تردره خیبر. بنووزیرستان .دوړ. ټانګ . ګرك، کالا باغ . خوشحال ګړ.کوټ اود هغې لاندې علاقې سنګور، هرنه .ډیرل پور . حاجي پور او دکچهه دری ټولې علاقې سره دسنګیر او ملحقه علاقو دملتان صوبه ددریای سند په ګڅه غاړه داټولې علاقې به درنجیت سنګه ملکیت او ماتحت ګڼلی شي .

داهغه شرمناکه معاهده وه چه ددې په وجه رنجیت سنګه ددیره جات . هزاره او پیښور په علاقو پرله پسې خپله قبضه مضبوطه کړله شاه شجاع داذلیله معاهده پدې خیال کړی وه چه دانګریزانو او سکهانو په امداد به دوباره دکابل بادشاهي حاصله کړي . ددې معاهدې نه پس دسنده په لاره باندې قندهار ته لاړ لیکن امیردوست محمد خان پرې راغي دافغانستان نه یې راوزغلولو دکشمیر ، پنجاب ، سند ، پیښور .. علاقو واك هم ترینه لاړ کابل هم په لاس ورنه راغی بیا په لدهیانه کښې انګریزانو ته کیناست پخپله هم تباه شو پښتانه اود پښتنو ملك یې هم تباه کړ .

که فکر وکړی شي سکهانو هسې هم دسنه ۱۸۱۸ نه وروسته په پیښور او هزاره او ورپسې نورو خواوشا علاقو باندې قیامت جوړ کړی وو لیکن په رسمي طور سره چه دشاه شجاع ددې معاهدې نه وروسته سکهانو پدې ملك کوم ظلمونه کړی دی دهغې ټوله ذمه

واری د شاه شجاع په خود غرضی باندی عائد کیږی او پــه تــاریخی اعتبار سره دشاه شجاع دامعاهده دانگریزانو او گلاب سنگه دکشمیر دمعاهدی نه هم زیاته شرمناکه د ەزیاته ذلیله ده .

په سنه ۱۸۳۸ کښی روسیانـــو دایران په‌شمال کښی په‌آذربایجا ن قبضه وکړله دایران پــه سیا ســت باندی یی قبضه وکړه او عهد نامه لاسلیك شوله او ورسره یی دایران‌حکومت ته مشوره ورکړله چه پــه هرات قبضه وکړی .

په سنه ۱۸۳۸ کښی چه دایرا ن پوځ‌راوخوزیده‌هرات‌ته‌نژدی‌راورسیده نو دانگریزانو سره سودا پیداشوله‌دلاره‌اگلینه اوکپتان برنس په‌مشری کښی ئی یوهیئت کابل ته ولیږه چه‌امیردوست محمد خان رضا کـړ ی او د امیردوست‌محمدخان اومهاراجه‌رنجیت‌سنگه ترمنځ صلـح وکړ ی امیر دوست محمد خان د سکهانــوسره دصلح دپاره داشرط پیش کـړ چه پیښور دی‌ماته پریږدی‌انگریزانودانه شو کولی چه دافغانستان‌پادشاه دپاره سکهان ناراضه کړی چنانچه‌دلارډا کلینه تجو یز ناکام شو ا و امیر دوست‌محمدخان دروسیانوسره‌خبری اتری شروع‌کړلی دانگریزانو سره ویره پیدا شوله چه په ایران کښی دروسیانو داثــر او اقتدارپیدا کیدلو نه وروسته که په افغانستان کښی یی هم اثر او اقتدار پیداشی نود هندو ستا ن حفاظت بــه گرا ن‌شی ددی خطری په پیدا کیدلو پــه سنه ۱۸۳۸ کښــی دانگریزانــو .سکهانو او شاه شجاع ترمنځ دری اړخیزه معاهده وشوله . انگریزانو فیصله وکړله چه پــه کابل کښی‌د امیردوست محمد خان بادشاهی ختم کړی . شاه شجاع بادشاه کړی چه دانگریزانو اوسکهانو دواړواعتباری‌او دلاس لاندی سړی و ی چنانچــه ددغی دری طاقتی معا هدی نه پس‌چه په جون سنه ۱۸۳۸ کښی شوی وه په ۲۸می سنه ۱۸۳۸کښی شاه‌شجاع په قندهار کښی پــه تــخت کینولی شو . دانگریزانو پوځ کابل‌ته ورسیده جنگونه وشول امــیرـ دوست محمد خان گرفتار کړلی‌شو.هندوستان ته ولیږلی شو دهغـــی نه وروسته دامیردوست محــمدخان‌زوی سردار محمد اکبرخان راپورته شــو دا نگــر یــز ا نــو پــو ځ یی پــه ســنــه ۱۸٤۱ کــښــی تباه کړ څه لږ ډیر چه ژوندی پاتی‌ووهغه په جلال آبادکښی قلابند وو او ددغه قلابند پوځ دراخلاصولــوپاره دجنرال پولــك پــه کمان کښی دانگریزانو پوځ په خیبر حمله کړی‌وه چه مخکښی یی بیان وشولو .

په کومو ورځو کښی چه دجنرا ل‌پــلك پــه کمان کښی د پرنگیانــو

ACKU

پوځونو دخیبر په لاره حمله کړې وه کابل ته تللي وو نو هم په دغه ورځو کښې دجنرال لوټ په کمان یو بل انګریزي پوځ دقندهار په لاره کابل ته ننو تلي وو او دغه دواړه پوځونه چه په سنه ۱۸۴۳ کښې دخیبر په لاره راواپس کیدل نو هغه تباهي پرې داپرید و دلاسه راغلي وه چه مخکښې بیان شوله . امیردوست محمدخان په فروري سنه ۱۸۴۳ کښې دانګریزانو دقیده خلاص شو .

د۱۸۴۳ کال نه تر ۱۸۴۹ کال پورې شپږ کاله انګریزان او سکهان پخپل منځ کښې په جنګونو اخته وو قبائلي علاقو ته یې وارنه وو برابر شوی البته په سنه ۴۵ ـ ۱۸۴۶ کښې دخدوخیلو په در ه یې یوه حمله کړې وه . دمارچ په ۹سنه ۱۸۴۹ نه وروسته چه دانګریزانود لاسه دسکهانو اقتدار ختم شو اودسکهانو دټول مقبوضه ملك دمهاراجه دلیپ سنګه دمعزول کیدلو نه پس واك اختیار دانګریزانو لاس له راغی نو په مقبوضه علاقو کښې یې دټول رعیت نه وسله ټوله کړله چه بیا څوك شورش ونکړي (په حواله د تاریخ مخزن پنجاب څلورم جلد صفحه ۴۹۶) اودپیښور .بنوکوهاټ وغیره علاقو په پوله چه کومې علاقې دي ددې قبائلو برخلاف یې دحملو یوه لویه سلسله شروع کړله اوپه دغې کښې دټولو نه اولنۍ حمله یې کوهاټ باندې کړې وه .

لکه چه مخکښې ورته اشاره وشوه دسنه ۱۸۴۹ چه وروسته انګریزا نو په قبائلي علاقو کومې حملې کړې دي او غازیانو یې مقابله کړې ده دغه غزاګانې په تاریخي اعتبار سره ددویم دور غزاګانې دي او په دې کې اولنۍ غزا دکوهاټ داپریدوغزاوه.

## دکوهاټ داپریدوغزا :

په کوهاټ باندې داپریدو په علاقه چه په سنه ۱۸۵۰ کښې انګریزانو کومه حمله کړې وه ددغې هم یوه خاص وجه وه . دا واقعه داسې پیښه شوې وه چه هرکله په سنه ۱۸۴۶ کښې دسکانو او انګریزانو ترمنځ دپنځه لویو جنګونو نه وروسته سکهانو شکست وخوړ او په دسمبر سنه ۱۸۴۶ کښې په مقام دلاهور پنجاب دافیصله وشوله چه مهاراجه به دلیپ سنګه وي لیکن اختیارات به دانګریز ریزیډنټ په لاس و ی او په ټولو علاقو کښې به دلاهور ریزیډنټ ماتحت اسیسټنټ ریزیډنټان دسکهانو دپوځې او ملکي حکومت دنګرانۍ دپاره مقرر کیږي او دد ې فیصلې په خلاف په لاهور کښې پخپله دمهاراجه دلیپ سنګه مور رانۍ چندا پورته شوله جنګ ئې وکړنو دغه شان دسکهانو دحکو مت مختلفو علاقو کښې چه هر ـ څومره سکهان پور ته شوله جنګ ئې وکړنو دغه

افسران وو هغوی هم ددی فیصلی منلو نه انکار وکړ او چې څه وخت انگریزان افسران په حیثیت اسسټنټ ریزیډنټانو خپلو خپلو مقرره علاقو ته داختیار اخستلو دپاره راغلل نو مقامی سکهانو افسرانو ورله قبضه نه ورکوله او دانگریزانو او سکها نو ترمنځ ځای په ځای جنگونه شروع شول چنانچې په دغه زمانه په پرگنه هزاره سردار چتر سنگه اټاری والا سکه گورنر وو هغه دانگریز اسسټنټ ریزیډنټ په خلاف پورته شو او انگریز اسسټنټ ریز یډنټ یی وشاړه.

په پیښور باندی په دغه ورځو کښی سکهانو دطرف نه سردار گلاب سنګه گورنر وو او د سردار چتر سنگه اټاری والا زوی چه سردار شیر سنگه اټاری والا نوم یی وو دهغه پوځی جرنیل وو هر کله چې سردار چتر سنگ حاکم هزاره په هزاره کښی دانگریزانو په خلاف جنگیده انگریز ریزیډنټ یی وزغلاوه نو ورپسی راروان شو پیښور ته راغی دلته دده ځوی شیر سنگه پوځی جرنیل وو هغه یی راپورته کړه د پیښور گورنر سردار گلاب سنگه او نور بی شمیره سکهان یی دځان سره ملگری کړل او پیښور ته چه جارج لارنس نومی اسسټنټ ریزیډنټ راغلی وو په هغه یی حمله وکړله او هغه یی په پیښور بنار کی گرفتار کړ. دلته یوی تاریخی غلط بیانی ته اشاره کول مناسب معلومیږی او هغه داچې مستر کیرو په خپل کتاب (دی پټهانز) کښی یوه لویه قصه دځان نه جوړ کړ ده لیکلی یی د ی چه په دغه ورځو کښی په کوهاټ باندی سکهانو دطرف نه سردار سلطان محمدخان بارکزی حکمران وو څه وخت چه په جارج لارنس باند ی په پیښور کښی سکهانو حمله وکړله نو مستر جارج لارنس سره د خپلی ښځی کوهاټ ته لاړ په دی خیال چه دسردار سلطان محمد خان سره به پناه حاصله کړی ځکه چه څه موده وړاندی دجارج لارنس ورور هنری لارنس په یوه موقع دسلطان محمدخان سره ښه کړی وو او دسکهانو دقیدنه یی آزاد کړی وو لیکن دغه نیکی ته سردار سلطان محمد خان ونکتلو چې څه وخت جارج لارنس کوهاټ ته ورسید . نو هغه ئی سره دبال بچ سکهانو ته حواله کړ اصل خبره داده چې موږ دسردار سلطان محمد خان طرفداری نه کوو لیکن وا قعات داسی چې دا الزام غلط دی په دی سلسله کښی دمفتی غلام سرور لاهوری دکتاب مخزن پنجاب بیا نونیات مستند دی . دغه کتاب په سنه ۱۸۷۲ کښی چاپ شوی دی او مصنف ئی په خپله چشم دیده گواه دی . دتاریخ مخزن پنجاب.

هرکله چه ددی بیان‌له‌مخه جارج‌لارنس په جنگ باندی دپیښور په مقام په خپله د سردار چیترسنگه‌په لاس گرفتار شوی وو نو بیا د سردار سلطان محمد خان دبد نامه‌ولو نه مطلب څه دی اودادومره تاریخی غلط بیان ئی ولی کړی‌دی‌داخو په منځ کښی هسی خبره راغله اصلی خبره داوه چه په سنه ۱۸۵۰ کښی انګریزانو دکوهاټ په اپریدو حمله ولی کړی‌وه پدغی ځا ن پوه‌کول وو چنا نچه زه هم دغه خبری له راځم . تاریخ مخزن پنجاب جلد صفحه ٤٩٥ کښی مخکښی لیکی:
هرکله چه سکهانو دانګریزانو غداری‌ولید له نوپه امیردوست محمد خان پسی ئی‌خبر وکړ هغه سره د خپل پوځ‌زانی‌سکهان‌امیردوست‌محمدخان «او سردار سلطان محمد خان» ټول‌دانګریزانو په خلاف یو شول دسنه ۱۸٤۷ نه دجنګونو سلسله شروع‌شوه پرله پسی څلور کاله لوی جنګونه وشول چنانچه په دغه‌څلورولویو جنګونو کښی یو جنګ د سنه ۱۸۵۰ وو چه دکوهاټ داپریدوبرخلاف شوی وو څکه چه دامیر دوست محمد خان په دی موجوده‌حملوکښی‌اودسردار سلطان‌محمدخان په راپورته کید لو کښی دکوهاټ‌اپریدو خصوصاء د ادم خیل قبیلی دوانړه ښاخونو جواکه او کالاډیرحصه اخستی وه چنانچه په سنه ۱۸۵۰ کښی پیښور دپوځی کیمپ‌نه چه کوم پوځونه دکوهاټ په‌طرف دادم خیل دری په‌لوری دحملی کولوډپاره‌لیږلی ووهغه یوه نه‌ده بلکه‌دوه حملی وئ .
اولی حمله. دانګریزی پوځونواولی‌حمله د کرنل سر سی کچبل یعنی لارډ کلایډ په کمان کښی وه داحمله‌د ادم خیل اپریدو په ذیلی ښاخ کالا خیل «ګلا» باندی شوی وه . بهادر روغازیانو ئی ښه په نره مقابله کړی وه ددوانړه طرفه جانی‌او مالی نقصانونه پیش شوی وو او په اول ځل په کوهاټ باندی‌دانګریزانو قبضه راغلی وه او په کوهاټ باندی د سردارسلطان‌محمدخان بارکزی زوی خواجه محمد خان له ئی شکست ورکړی وو اوپه دی‌ډول په کوهاټ دسکهانو اوبارکزو مشترکه حکمرانی د دوران خاتمه‌ئی‌کړی وه

## په کوهاټ داپریدو دوهمه غزا:

کوهاټ ددی اولنی جنګ نه‌وروسته‌هم په دغه سنه ۱۸۵۰ کښی دکوهاټ په اپریدو باندی دویمه حمله وکړله‌ددی حملی حال چه زرداد خان ناغر



ACKU

پخپل کتاب تاریخ صولت افغانی صفحه ۶۰۲ کښی څرنګ درج کړی دی دلته یو درج کوو لیکی :
دکوهاټ په دره ء ادم خیل کښی داپریدو ادم خیلو دذیلی ښاخ «ګلا» یعنی ګلا خیل خلق اوسیږی دا قوم دولس سوه جنګی ځوانان میدان ته را وښکلی شی (یعنی تقریباً په شمار پنځه شپږ زره خلق دی) دایمل خان مهمند دچیو توی نه د درهٔ ادم خیل سرحد شروع کیږی . د کوهاټ د غاښی پوری تقریباً دولس میله فاصله ده دغاښی پوری په دره کښی دګلاادم خیل قبیلی خلق او سیږی غاښی(کوهاټ کنډو) ته نژدی بنګښ او سیږی د غاښی نه دکوهاټ ښارپوری تقریباً اوه میله لارده مګر ټوله خرابه ده هر کله چه په کو هاټ باندی انګریزانو اولنی حمله وکړه اوکوهاټ ئی ونیولو نوددری او کوهاټ ترمنځ غاښی ئی ونیولو بندیی کړ ، داپریدو تګ راتګ یی بند کړ اود دغی نه علاوه دکوهاټ او پیښور دواړو غاړو نه ئی په درهٔ کوهاټ کی دسړك په جوړولو لاس پوری کړ په دی باندی اپریدی راپورته شول او د جهاد میدان ته یی راودنګل .
په ۲ فروری سنه ۱۸۵۰ کال میدکوهاټ په اپریدو حمله وکړه دکوهاټ نه دری میله لری دکوهاټ او پیښور په سړك قوه کار لګیا وو کاریی کاوه اپریدی پری باندی ورپریوتل او دزرد اد خان ناغر په الفاظو کښی (کل سپا هیون کومقتول یا مجروح کیا) یعنی دقوه کار دپلټنی ټول سپاهان یی مړه اوژوبل کړل .


په دغه ورځو کښی دپیښور دانګریزی پوځونو بریګیډیر اوکماندار انچیف سرجانسن پیری نو مـی انګریز وو هغه پوځ ته حکم وکړ (که دره کوهاټ مین ګهسن جاناهی) یعنی چه په دره کوهاټ دی فوراً حمله وشی . زرداد خان ناغر لیکی ددی نه انګریزانو دوه غرضونه و و یو داچه په کوهاټ کښی پوځ واچولی شی او دویم داچه اپریدو له سزا ورکړلی شی چنانچه په ۱۰ فرور ی سنه ۱۸۵۰ ـ انګریزی پوځونو په په ادم خیلو اپریدو حمله وکړله. د ۱۳ فروری پوری خونړی جنګونه وشول غازیانو قدم په قدم مقابله وکړه ددښمن او خپلی وینی یی تویی کړی انګریزی پوځونه کوهاټ ته ورسیدل دکوهاټ ښار په لارو کوڅو کښی هم انګریزی پوځونو مقابله وشوه بنګښ غازیان او اپریدی غازیان په منځ میدان کښی ښه په بهادری وجنګیدل پرنګی په کو هاټ ښار چه حمله وروړله دښار کورونه او بازا رونه یی وران کړل په اوریی وسیزل انګریزانو په ښار قبضه وکړله داد ۱۳ فروری سنه ۱۸۵۰ تاریخ وو د



مرحوم محمد ایاز خان کمرخیل
اپریدی



مرحوم ملک جلال خان زخه خیل
اپریدی



حاجی ښایسته گل خان‌زخه خیل
اپریدی



میر حسین خان کمرخیل اپریدی

ACKU

چارشنبی ورځ وه او د ربیع الاول ۳۰ تاریخ وه او سنه ۱۲۶۶ کال وو انگریزانو په کوهاټ کښې دوه رجمنټه پوځ واچولو یو دسپوروو بل دپیاده وو .

په اپریل سنه ۱۸۵۰ کښې اپریدو یوځل بیا دکوهاټ په انگریزی پوځ حمله وکړله او دپیاده پوځ یوه کمپنی یی قتل کړله انگریزانو جوابی اقدام وکړ په غانښی یی قبضه وکړله او په کوهاټ باندی یی داپریدو تگ راتگ بند کړ بل خواته ددره اد م خیل داپریدو او انگریزانو ترمنځ چه کومه معاهده شوی وه هغه دکالا خیل ادم خیلو مشرانو په اپریل سنه ۱۸۴۹ کښې کړی وه انگریزان ولگیدل په دی خیال چه ورونه سره وجنگوی دکلاادم خیلو سره یی دهغه معاهدی ماتولو اعلان کړ او په اپریل سنه ۱۸۵۰ کښې یی دادم خیلو اپریدو ددویم شاخ جواکه مشران راوغوښتل اودهغوی سره یی معاهده وکړله چه جواکه قوم انگریزانو ته ددره ادم خیل په لار باندی دپیښور او کوهاټ ترمنځ دتگ راتگ اجازت ورکوی لیکن دادپرنگی هسی خام خیال وو جوا که ادم خیل دگلاادم خیلو درضا په خلاف دانگریزانو دفریب په دام کی گیرنه شول. اود پرنگی بر خلاف دوړولو یو حملو سلسله جاری پاتی شوله .

## دکوهاټ دغانښی غزا :

هر کله چه انگریزان د اپریدی قام د ادم خیل قبیلی ددوه ښاخونو گلا . جوا که پخپل منځ کښې کامیاب نه شول نو بیا یی یوه بله فتنه رابرسیره کړه چه بنگښ او اپریدی پخپل کورکښې وجنگوی ددی دپاره یی داسی قدم پورته کړ چه ددره او کوهاټ ترمنځ چه کوم کنډو دی دکنډو نه دکوهاټ طرف ته او میله یی بنگښو ته دورکولو اعلان وکړ اود کنډو دسرپوری ددری طرف ته یی اپریدو حقداری ومنله . مطلب یی داوو چه کوهاټ ته که اپریدی راځی نولاربه یی په بنگښوی او پخپل منځ کښې به اخته شی په دی باندی کالاخیل ادم خیل اپریدی راپورته شول په غانښی چه دپرنگی کومه څوکی وه هغه یی ووهله انگریزانو چه په چل ول دبنگښ قوم کومی کلهی دغره اړخ ته راخیژولی وی هغه یی وژغلولی چه انگریزانو دبنگښونه تپوس وکړ چه تاسو ولی تښته وکړه نو هغوی جواب ورکړ چه داپریدو مقابله کول گران کار دی بل داچه دادم خیلو اپریدو طاقت زمونږ نه زیات د ی مونږ یی مقابله نه شو کولی بله داچه دغه کنډو زمونږ موروثی ملکیت هم ندی چه دانگریزانو زور راسره نه

ACKU

وی مونږ یی چیرته تینګولی شو .

دا واقعات چه پیښیدل دا سنه۱۸۵۳ وه په دغه ورځو کښی په پیښور باندی سرجان لارنس چیپ کمشنرؤ اوکپتان کوك دکوهاټ دپټی کمشنرؤ دغه‌دواړه چالاکه انګریزانوددره ادم خیل داپریډو دپاره‌مشکلات پیدا کړی‌وو .

الف : ـیو داچه په نومبر سنـه ۱۸۵۳کی‌داپریدی‌قوم‌دآدم‌خیل‌قبیلی په زیلی شاخ جواکه باندی حملـه کړی وه او دهغوی مضبوط پو ځـی مقام بوری یی سیزلی وو او دجواکه‌قوم دوه مضبوطی قبیلی حسن‌خیل اواشوخیل‌یی په‌جنګ وهلی‌وو .

ب:ـ دویم داچه دپخوا زمانی‌نه‌دا پریډو دیـوی قبیلی سپـاه شعـه مذهب چه‌دورکزو په‌ملك‌کی اوسیږی‌دپښتو په ګوندی کښی دبنګښـو ملګری وو ځکه چه سپاه خلق‌پخپله‌لږ خلق دی دبنګـښو ګونـد سره شریك شی وو چه دسپاه اوبنګښو‌دواړو ساعت پری تیر شی . هرکله چه انګریزان دسنه ۱۸۵۰ نـه ترسنه ۱۸۵۳ پوری داپریډو ادم خیلو دګلا قوم خلکو پـه وهلـو کښـی‌کامیاب نه شول او بنګښ یی منـځ ته‌ر اواچول او هغه هم ناکام شو ل‌نوبیا دسپاه قوم اپریدی یی دبنګښو مددله پورته کـړل اود ګلاادم خیلومقابلی ته یی سپاه اپریدی اوبنګښ دواړه ودرول .

ج:ـ بل خواته دانګریزانو هغـه‌مضبوط پوځ چـه پـه نومـبر سنه ۱۸۵۳ کښی یی دجواکه قوم خلك‌وهلی وو او هغه کوهاټ‌ددری پـه خواؤ شاکښی پراته وو دغه پـوځ‌صـلاح وکړه چه ددواړه غاړو یعنی دپیښور او کوهاټ دطرفونو نه پـه‌دره باندی حمله پکار ده . حملـه‌یی وکړه خونړی‌جنګ وشو اودانګریزی‌پوځ تباهی پکښی وشوله .

په داسی حالاتو کښی په نومبـر سنه ۱۸۵۳ کښی‌انګریزانودکوهاټ په غاښ حمله وکړ لـه او دګـلاادم‌خیلو امدادله خپل وروڼه جواکه په پوره طاقت راونه رسیدل ځکه چـه‌هغوی وړاندی وهلی شوی‌وو او پـه دغه‌ورځوکی‌له‌هغه‌شان‌دهغوی‌په‌ځمکه‌هم‌جنګ‌وو اوبل‌خوا بنګښ او سپاه دپرنګی دطر نه جنګیدل اوبل خـوا دبنګښو په امداد کښی دورکزو د علاقی نـه دفیروز خیل او بیزوټـی‌قوم خلك هم راغلی وو بدقسـمتی دوه چـه دغه جنګ چـه خالص دانګریزانو اواپریډووجنګ وو بنګښو سپاه . بیزوټی اوفیروز خیلوورله‌دبنګښ او اپریدی تر منځ دپولی او جائیداد دجنګ شکل ورکړ اوفائده‌یی پرنګی ته ووتله .

هرکله چه اپریدی په دی پوه‌شول چه انگریزپه ځای پاتی شو او جنگ دخپلو بنگښبو او سپاه . فیروز خیل بیزوټی قامی خلکو سره شروع شو نو هوښیا رتیایی وکړه‌او دکوهاټ دکنډونه جنوب غاړ ی ته اوه میله غر دملکیت ددغوی نه‌دست بردراه شو په هغی یی د بنگښبو دغوی و منله بنگښبو د ځان‌مسرکوك دپټی کمشنر کوهاټ‌سره سره‌سپاه اپریدی شامل کړل دوی‌گلاادم خیلو دکوهاټ غاښی په مقام په دسمبر سنه ۱۸۵۳ کښی یوه‌معاهده‌وکړله ورپسی شپږ ورځی پس د اپریدی قوم دسپاه قبیلی ملکانو دمستړکوك دپټی کمشنر کوهاټ‌سره معاهده وکړله او په دی شان سره‌دبنگښبو .فیروز خیلو .بیزوټو په امداد دغاښی نه ترکوهاټه پوری دسړك جوړولو کار شروع شو .د غاښی نه دپیښور په طرف ددر ی‌په منځ کښی دسړك جوړولو کار د هغی کشاله موجوده وه ځکه چه که‌گلا ادم خیل راضی شول اکاخیل اپریدی پری نه وو راضی شوی اوداکشاله نوره‌هم اوږده اولانورجنگونه هم پری وشول .

## دبوری غزا :

مخکښی دا ذکر شویدی چه‌انگریزانو دکوهاټ په غاښی دقبضی کولو او دگلا ادم خیلو دکمزوری‌کولو دپاره دادم خیلو په جواکه نومی شاخ باندی هم په سنه‌۱۸۵۳ کښی حمله کړی وه .

ددی واقعی وضاحت داسی د ی‌چه دکوهاټ علاقی ته دپیښور نه دتللودپار ه‌دوه دری دی‌یو کوهاټ دره ده او دویمه جواکه درده.په جواکه دره کښی داپریدو دادم‌خیلو قبیلی دجواکه نومی ښاخ خلق‌اباد دی دجواکه دره په لاره کښی دپیښور دطرف نه چه کوم کنډوراځی دهغی نوم جانا کوړ دی دغره په‌لمن‌کښی دحسن خیل قبیلی خلق پراته دی او پورته دغره په‌نورو ډډو کښی‌داشو خیل وغیره ادم خیل قام د مختلفو خیلونو خلق اباددی دجاناکوړ یا جواکه‌دری په علاقه‌کښی دبوری یو مقام دی چه سکهانو په‌زمانه کښی دغازیانو لوی مرکز و و اوددغه ځای نه به داتك او پیښورتر منځ دسکهانو په پوځونو دغزا گانو کولو دپاره‌پوځی طاقتونه‌لیږلی‌شول. چونکه دامقام ددری په خوله کښی واقع دی او په پوځی اوجنگی‌لحاظ سره زیات محفوظ مقام‌دی‌په دغه وجه هرکله چه انگریزانو دسکهانو نه پیښور ونیولو اوبیا ئی دکوهاټ علاقه هم‌رالاندی کوله نوځرنگه چه ددره کوهاټ لاره اوکنډو قبضه کول ضروری وو دغه شان‌ددره جواکه قبضه یی هم ضرور ی

گټله . په جواګه دره باندې قبضه‌په دوه وجې ضروري وه يوه ددچه ددره کوهاټ دقبضې کولو دپاره چه کوم جنګ کولي شي په هغې کښې به په انګريزي پوځونو اسانتيا شي بله داچه دره جواګه قبضه شي نو د کوهاټ منځ علاقې ته دختکو منځ علاقې ته رسيدل به اسان شي .

چنانچه ددې پلان لمخه په نومبر سنه ۱۸۵۳ کښې دسرجان لارنس چيف کمشنر پيښنو په‌کمان کښې دانګريزانو يو مضبوط پوځ دډير لوي‌پوځي سامان سره په دره جواګه‌باندې دحملې دپاره روان شو. ددره جواګه او دره کوهاټ ترمنځ دشيرکيره اوکوهدامن په ۹۶قه کښې يې کيمپ ولګولو دحسن خيل قبيلې‌نهه سوه ځلمواو دشوخيل قبيلې اته سوه ځلمو غازيانو ورسره دکنډو په مقام جنګ وکړ توري يې وهلي ليکن چيرته ديونيم زرغازيانو يو موټی تش لاس لښکر او-چيرته دانګريزانو بې حسابه وسله بند لښکر نتيجه يې دشوه چه په ۱۵ نومبر سنه ۱۸۵۳ حسن خيل او اشوخيل ووهلي شول اودانګريزانو پوځونه په دبورې باندې دحملې‌دپاره په‌دره جواګه ورووختل‌اوخونړۍ جنګ شروع شو .

زرداد خان ناغر چه ددې جنګ بيان په کومو الفاظو کړی دی‌هغه دادی .

يهان لکی لړايی بهت مشکل تهی اورباعث خا صه زمين کی انګريزی فوجو کا بهت نقصان‌بګرګانو او راس کی تمام بر جو د کومسمار کرد ياګيا اورظويل مقابله‌کی بعد جهان جهان جواکی مقيم تهی ان کونکال دياګيا اور مرکزی‌مقام دبوری کومسمار کرنی سی جومراد تهی وه حاصل هويی يه‌لړايی دو دومهين جاری رهی.

يعني ددره جواګه جنګ ډيرسخت وو ددې درې محل وقو ع‌او جنګي جوړښت داسې دی چه په قدم انګريزي پوځونه په‌تباهي کې ګيريدل .دپرنګي ډير پوځونه تبا هشول مګر دجواګه قبيلي اباد کلي قلاګاني او برجونه وران کړلي شول دډيري اوږدې مقابلې نه وروسته چه چيرته جواکي اباد وو دهغه‌کلونه وايستل شول او دجواګه علاقې د مرکزي مقام دبوري دورانولو نه‌چه‌کوم غرض وو هغه پوره شو داجنګ چه په ۱۵ نومبر سنه ۱۸۵۳ شروع‌شوی وو دوه مياشتي تر ۱٤ جنوري سنه ۱۸۵٤ پورې جاري‌وه .

مخکښې مونږ داذکر کړی دی چه‌په دره جواګه باندې حمله ددې‌غرض دپاره شوی وه چه دادم خيلو اپريدو دجواګه قوم پخپل ځان شي نودادم خيلو اپريدو دکالا خيلو وهل او د کالاخيلو په علاقه دره کوهاټ کښې سړک جوړول به اسان‌شي اوانګريزان په دغه‌مقصد کښې کامياب

شول په ۱۵ نومبر سنه ۱۸۵۳ یې په دره جواکه حمله وکړه تر ۱٤ جنوری سنه ۱۸۵٤ پوری په دره جواکه جنګ وو او چه په دسمبر سنه ۱۸۵۳ کبنی ئی په دره کوهاټ په کالا خیلو اپریدو حمله وکړه او په مکرا و فریب ئی بنګښ .سپاه.بیزونې. فیروز خیل هم د ګلاادم خیلو اپریدو مقابلی ته راو ستل نو ګلا اپریدی مجبور شول چه د انګریزانو شرطونه ومنی او چه په دسمبر کبنی ګلاادم خیل ووهلی شول نو په ۱٤ جنوری سنه ۱۸۵۲ جواکه اپریدی هم پریوتل دپیښور او کوهاټ ترمنځ دری دره کوهاټ دره جواکه په سنه ۱۸۵۳ کبنی انګریزانو رالاندی اوداحق یې حاصل چه په دی لاروبه انګریزی پوځو نه به تنګ دا تنګ کولی شی .

## دا کاخیلو غزا

مخکبنی دا ذکر شوی دی چه انګریزانو په دسمبر سنه ۱۸۵۳ کبنی ادم خیل اپریدی مجبوره کړل چه په دره کوهاټ کبنی انګریزانو له د سړك جوړولو اجازت ورکړی لیکن داپریدی قوم نورو قبیلو خصوصاً اکاخیلو دا معاهده نه وه منلی او دغی باندی ناراضه وه چنانچه هم ددی په وجه اګر چه په سنه ۱۸۵۳ کبنی دادم خیلو سره معاهده شوی وه بیا هم دسنه ۱۸۵٤ پوری دغاښی اوددری دکوز سر تر منځ سړك لانه وو جوړ شوی په نومبر سنه ۱۸۵٤ کبنی لفټننټ هملټن

انجنیر دقواوی کارپلټنی دسپاهانو سره دباه بیری سره دیره وو ددغه ځای نه به یی دکوهاټ او پیښور ترمنځ دجوړیدونکی سړك نګرانی کو له د اکاخیلو اپریدو دری سوه غازیان پری ود پریو تل حمله یی پری وکړه د شپې وخت ؤ رڼایی وکړه د قوایکار پلټنی چه هر څومره سپا هیان وو هغه یی ټول ووژل لفټننټ کرنیل هملټن سخت ژوبل شولیکن د مرګ نه بچ شو دانګریزی پوځ کیمپ یی تالاکړ بیایی اوسیزه.

ددی واقعی نه وروسته دانګریزانو یو پوځ دکرنیل کرنګی په کمان کی دا کاخیلو په علاقه حمله وکړه چه دکرنل هملټن بدله واخلی دانګریزانو دپوځ حملی ته اکاخیل را ووتل جنګ شروع شو د دواړه طرفه جانی او مالی نقصانونه وشول او دسنه ۱۸۵۵ پوری دجنګونو دا سلسله جاری وه اخر داچه په ۱۱ـ جنوری سنه ۱۸۵٦ دا کاخیلو سره صلح وشوه او انګریزانو دد ره کوهاټ کارته لاس واچولو .

## دکوکی خیلو واقعه

په جنوری سنه ۱۸۵۷ کښې امیر دوست محمد خان دوایسری هند سر جان لارنس دملاقات نه په واپسی کښې دجمردو په مقام دیره وو چه دانګریزانو دکیمپ یو څوافسران دخپل کیمپ نه باهر ووتل او په قبائلی علاقه دلری ځای پوری لاړل داخبره پښتنو چرته زغملی شوه حمله یی پری وکړه او لفټننټ هند نومی یوانګریز افسریی ترینه قتل کړ نور انګریزی افسران په تښته واپس خپل کیمپ ته راغلل په دغه خبره انګریزانو له قهرورغی دکوکی خیلو قوم څخه یی په پیښور ښار اونورو ځایوکی خلك بندیان کړل او بیائی مطالبه وکړه چه قاتل راکړی دغه خبره اپریدو ونه منله په دغه منځ کښې هم په دغه سنه ۱۸۵۷ کی په هندوستان کښې انګریزانو برخلاف دازادی جنګ شروع شو او دمجبور تیا نه په ۱۴ اګست سنه ۱۸۵۷ دکوکی خیلو اپریدو سره یوه معاهده یی وکړله په دغه منځ کښې دزخه خیلو اپریدو سره هم کشمکش راغلی وو هغه هم په ۲۴ اګست سنه ۱۸۵۷ باندی ختم کړی شوی وو .

## دتورغره جهاد

مخکښې دا ذکر شویدی چه داپریدی قوم ګڼې قبیلی دژمی په موسم کښې دوچتو غرونو ښکته میدانی علاقی کجوری ته راکوزیږی او د کجوری په میدان کښې کښېږی اوړوی دکجوری میدان دکوهاټ او د جمرود دسړك ترمنځ یوه لو یه ارته میدانی علاقه ده هرکله چه په پیښور کښې دانګریزانو پښې مضبو طې شو لی نو په کجوری ئی د قبضې لګولو ته حیلی بهانی جوړول شروع کړه اتفاق دا وو چه په دغه ورځو کښې دانګریزدنو په مقبوضه علاقه باندی داکه پریوتله او ډیر نقصان یی وکړ دداکه ماروتلاش شروع شو په قبائلو باندی یی شك وکړ او اخر داچه داپریدی قام په زخه خیلو یی ګوته کیښودله دقبائلی علاقی دستور اوقانون دادی چه ددی نمونی خبر ه چه په اولسی جرګه کښې راوړاندی شی او دا معلوموول وغواړی چه داکه کومی قبیلی کړی ده نوچه کومی قبیلی داکه غورزولی وی هغه بیا انکار نه کوی فورا دامنی چه داکارمونږ کړی دی په داسی موقع قبائلیان دروغ نه وایی او بی ګناه په بلی قبیلی باندی تور هم نه پوری کوی په داسی حال کښې هر کله چه دزخه خیل قبیلی دجرم منلو نه انکار کړی وو چه دا داکه زخه خیلو نده نو یکا روه چه انګریزانو هغوی خبره منلی وی

لیکن انگریزانو ـضد را واخیست قبائل په دغه باندی گرم شول انگریزانو دجنگ تیاری شروع کړاو دنورو قبائلو نه یی مطالبه وکړه چه زخه خیل کجوری ته مه پریږدی که نه کجوری درنه اخلو. خبره ورانه شوه اوپرگیانو دجنرل چیمبرلین په کمان کښی په اپریدو حمله و کړ جنگ دمیدان (تیرا) لمنو ته ورسیده په تور غره باندی خونړی جنگ وشو دا حمله په سنه ۱۸۵۸ کښی شوی وه ددی کمان اول دجنرل وایه په لاس کښی وو لیکن هغه کو هاټ نه لاړ اودهغه یوځو نو کمان ئی په لاس کښی واخیست چه دهنگو شمال طرف ته دسمانه په محاذئی حمله کړی وه اوددی جنگ کما نسر نیول چیمبرلین پخپله پخپل لاس کښی واخیست .

داجنگ دسنه ۱۸۵۸ ـ ۱۸۵۹ نه ورپسی ورتیر شو سنه ۱۸٦۰ ته ورسیده او په ۲٤ـ اپریل سنه ۱۸٦۰ کښی داپریدو دنورو قبیلو سپاه. قمری .ملك دین خیل اوقمبر خیل سره دیوی معاهدی کولو نه پس ددی پوځی اقداماتو سلسله ختم شوه .

## دعلی مسجد غزا

په سنه ۱۸٦۳ کښی دافغانستان پاچاامیر دوست محمدخان وفات شو نو دهغه په ځای امیر شیرعلیخا ن بادشاه شو انگریزانو دډیر پخوانه دافغانستان په سیاست کښی دخل ورکول شروع کړی وو اوهم په دغه وجه دافغانستان اولنی جنگ شوی وو چه امیر شیر علیخان بادشا ه شو انگریزانو خپل مهم له نور همزور ورکړ په سنه ۱۸٦۹ کښی ئی امیر شیر علیخان ته دهندوستا ندوری کولو بلنه ورکړ له په اپریل سنه ۱۸٦۹ کښی امیر شیرعلیخان دخپل ولیعهد سردار عبدالله خا ن او نورو امیرانو سره ددره خیبر په لاره راغی انبالی ته لاړ هلته یی ډیر قدر وشو دهندوستان وایسرای لارډمیوو ورسره ملاقات وکړ دهغی نه وروسته امیر شیر علیخان دخیبر په لاره کا بل ته واپس شو انگریزانو داتوله لوبه په کابل باندی دخپل اقتدار قا ئم کولود پاره جوړه کړی وه .

په جنوری سنه ۱۸۷۷ کښی انگریزانو امیرشیرعلیخان ته جواب ولیږه چه .


په کابل کښې دا نګريزانو يومستقل نماينده له داوسيدو اجازت ورکړه دافغانستان دسرحدونو دملاحظې ومعاينې دپاره دانګريزانو فوجي افسر له اجازت ورکړه او دمشترکه معاملا تو په حقله به دانګريزانو نه اول تپوس کوي .


دافغانستان پاچادادرې واړه‌شرطونه‌نه شول منلې ددې په حقله دخبرو اترو دپاره يې سيد نور محمدراوليږه هغه پيښور ته راغې دلته دپرنګيانو دنماينده سرليؤس پلې‌سره يې په مقام دپيښورخبرې اترې و شولې . سيد نور محمد ورتـه‌جواب ورکړ چه دافغا نستان پـاچا انګريزانو سفير په کابل کښې نـه‌شي ساتلې ځکه چه انګريزي سفير ځوکې کول ګران کار دې دافغانستان‌پاچا دا خبره په ځاې وه ځکه چـه دسنه ۱۸۴۱ تر ۱۸۴۳ پورې پـه‌اولنې جنګ کښې چه په افغانستان کښې انګريزانو څه کـړي وو يا دافغانستا ن ـــ

مسلمانانو ورسره څه کړې وه دهغې نه پس په افغانستان کښې د نومې انګريز ښکاره کيدل ناممکن‌ووبيا هم امير شير عليخان څه‌ورځې پس خپل يو دويـم نمايـنـده مرزاحبيب‌الله خان پيښور ته راوليږه . لکين هغه چه په خيبر راتير شـواو پيښور ته ورسيده نو پرنګيانـو دهغه سره دملاقات نه انکار وکـړاو دجنګ تيارې يې شروع کړ.

انګريزانو باوجود ددې خبرې‌چه‌دکابل دنماينده سره يې ملاقات نه وو کړې هسې جنګ ته داوبوخړولو په غرض يې دجـرنـيل سرنـيول چيمبرلين په کمان کښې يـوهيئت‌وليږه داهيئت په ۲۱ ستمبر سنه ۱۸۷۸ جمرود ته ورسيده او دمخکې تللو انتظامات يـې شـروع کـړل کيوګنر ې (ګيوکنارې ) المعروف‌کامناري نومې انګريز افسريي ددې دپاره مقرر کړ چه ددره خيبر علـې‌مسجد نومې مقام ته لاړ شي‌اودغلته چه د افغانستان پاچا دطرف نه کوم‌افغان کمانډر او سيږې دهغه سره دانګريزانو دپوځې هيئت کابل تـه‌دتللو پـه باره کښې خبـرې اترې وکړې يوخواته يې دافغان کمانډرسره دخبرو اترو په شکل کښې د فريب دام وغوړوه اوبل خواته‌پرده‌په پرده يې په علي مسجد دحملـې کولو تابيا وکړه .

دلته دايادول پـه کـار دي‌چه‌تر ۱۸۷۸ کال پورې په دره‌خيبر باندې دافغانستان پاچا اقتدار وو او دهغه‌دطرف نه‌بـه دخيبر اپريـدو ملکانو له ماجبونه ورکولې شول دپرنګي استاذې کامناري علي مسجد تـه ورغې دلاله چينه او علي مسجد ترمنځ په يوه جرنده کښې داکامناري





حاجی شهزاده خان ادم خیل سید کشمیر شاه سپای اپریدی
اپریدی چه حاجی نادر خان ئی تر
خنگ لیدل کیږی .



د تیرا د ځنگلو یوه ډیره ښکلی منظره .

ACKU

او افغان کمانډر سردار فیض محمدخان ملاقات وشو افغان کمانډر په صفا الفاظو کښي هیئت ته دکابل د تللو اجازت ورکولو نه انکار وکړ په داسي حال کښي چه پرنګیانو د افغانستان پاچا نماینده مرزاحبیب الله خان سره ملاقات قدرته هم نه ووکړی دهغه سره دخبرو اترو نه یي انکار کړی وو افغان کمانډر سردار فیض محمد خان د پرنګي پوځي هیئت ته دکابل دتللو اجازت ځرنګه ورکولي شو په دغي باندي کامناري ورته وویل چه مونږ دافغانانو سره همدرد یو لرو نو سردار فیض محمدخان جواب ورکړ چه ستاسو همدردي داده چه اپریدي قبائل پخپلو کښي وجنګوی اپریدي په اپریدو ووهي او په ملک کښي بدامني او خونریزي پیدا کړي او ددي نه پس هم ځان ته دافغانانو دوستان وائي . دتاریخ ص ۲۱۱ تر ۲۱٤ په حواله دا تلس کاله په خیبر نومي تالیف د واربرټن .

ددي نه پس انګریزانو دافغانستان پاچا ته جواب ولیږه چه هرکله په افغانستان کښي دروسیانو سفیر موجود دی لازمانه به په کابل کښي دانګریزانو پوځي هیئت هم پریږدي او که د ۳۰ نومبر سنه ۱۸۷۸ پوري دانګریزانو شرطونه ونه مني نو جنګ ته تیار شو افغانستان ددغه شرطونو منلو نه انکار وکړ جنګ یي قبول کړ او ددي طرف نه په ۲۱ نومبر سنه ۱۸۷۸ دانګریزانو پوځونه دره خیبر باندي ورغلل او د افغانستان ددویم جنګ اغاز یي وکړ او په علی مسجد یي یوه لویه حمله وکړه پدي تاریخي مقام باندي دا بله تاریخي غزاوه چه دافغانستان ددویم جنګ په ابتدا کښي شوی وه ددي اقدام نه وړاندي انګریزانو په قبائلو کښي روپۍ خوري کړي وي پخپل فکر یي ځان ته لار هواره کړي وه مګر بیا هم دزخه خیلو قبیلي غازیان او دملاګوري .شنواري شلماني غازیان د ملاخیل په مشري کښي دی میدان ته رارسیدلي وو او ښه مقابله یي کړي وه .

سرجارج ینګ هزبنډ پخپل کتاب دکائید ز سر ګذشت دصفحه (۱۲۷ ال ص ۱٤۸ ) کښي دعلي مسجد دغزا چه کوم حال لیکلی دی هغه دلوستو دی لیکي .

دلفټیننټ جرنل سرسیم براؤن کې سی ، بی وی .کی په کمان کښي چه کوم پوځ د افغانستان ددویم جنګ دپاره روان شو هغوی دعلي مسجد په مضبوطه پوځي قلا باندي دقبضي دپاره حمله شروع کړله. په علي مسجد دقبضي تجویز داسي وو چه یو برګید پوځ دی دجمرود دطرف نه مخامخ حمله وکړی بل بریګیډ دی دبل طرف نه او دریم بریګیډ پوځ

دې په غرونو کې تاؤشي. تجويز يې کړاو دا هم فيصله وشوه چه اوږد چکردي ووهي او که ددښمن (مسلمانونو) پوځ په شاباندې ځي دهغوی مخه دې ونيسي ا و دعلی مسجد په قلعه ددښادطرف نه حمله هم وکړي کوم پوځ چه دښا دطرف نه دحملې دپاره مقررشوی وواودهغه سره دګائيدپلټن سپايان هم ووهغه دجرنل ټټلر په کمان کښې وواوکوم پوځ چه دبلې غاړې نه دحملې دپاره مقرر شوی وو دهغه سره څه دګائيد پلټنې سپاهيان ووا و نور داول لمبرسکانو پلټن وه هغه دکرنل جنکنز په کمان کښې حمله کړې وه او دمخامخ طرف نه دجنرل سرسيم براون په کمان کښې پوځونو حمله کړې وه.

غازيانو دجنرل سرسيم براو ن په حمله او پوځونو سخته دروستلې وه ليکن چه جنکنز امدادی پوځ دبراون دپوځ سره ملګری شو نو غازيانو ته مقابله سخته شوه په دغه منځ کښې دسردار فيض محمد خان په پوځ کښې دغازيانو په منځ کښې بهاوالدين نومې يوقز لباش پوځې افسروو هغه دعلی مسجددقزلباش رسالې په سپاهيانو کښې ماته ګډه کړه غداری يې وکړله چه دقزلباشو رساله دعلی مسجد نه په ماتې لاړه نو دسردار فيض محمد خان سره چه کوم غازيان پاتې وو د هغوی مټ کمزوری شوه دقلانه ووتل او په جنګ جنګ په شاروان شول په دغه موقع باندې ملك ولی محمد زخه خيل ډيره بهادری کړې وه د غازيانو لښکر يې د بازار په لار دخيبر درې نه روغ و ښکلی وو.

سر جارج ينګ هزبنډ ليکي.

دقزلباشو رساله او سوا ره پوځيان و تښتيدل ليکن دغازيانو پياده پوځ چه دخيبر درې په منځ کښې په شاتللو نو دجنرال جنکنز دانګريزی فوځ سره يې مقابله راغله ډير مړه او زخميان پکښې وشول دجنګ په ميدان کښې داسې دوړې پورته شولې چه زمکه اسمان نه ښکاره کيدل او په هغې کښې غازيان دبازار په طرف ووتل چه جنګ قلار شو هغه غدار قزلباش بهاءالدين جرنيل جنکنز له راغی په ګائيد پلټن کښې نوکر شو او په هغه ساعت نان کمشنډ افسر شو .

دغې نه پس دانګريزانو پوځ کابل ته ننوتلو او هلته چه څه يې قسمت وو هغه ورپيښه شوله او ښان قچر سوار پوځ هرڅه يې تباه شول په دې جنګ يې ټول خرڅ تقريباً (۰۰۰ر۱٦٥ر ۳۲٤ ) روپۍ وشو او تباهي يې هم وشوله .

## دبازار دوادی غزا :

انگریزانو چه په‌افغانستان ددویم جنګ ابتداء کوله نو هغې دپاره یې پوره تیاری کړی وو هرکله چه دعلی مسجد دغزا په موقع زخه خېل اپریدو غازیانو دپرنګی مقابله وکړه او بیا دغازیانو لښکر یې وادی بازار ته واړه ولو نو په دغی باندی داورلمبه شول فیصله یې وکړله چه زخه خیلو له سزا ورکول پکار دی چه دجنرال ماډ په کمان کښی په ۱۹ د ستمبر سنه ۱۸۷۸ دانګریزی پوځ دزیړ اوخاخوبی په لاره دبازار په طرف روان شو او دپوځ نوره حصه دجنرال کینز په کمان دچوری اوولیء په لاره دبازار په طرف اقدام شروع کړ په دی لښکر کی پیاده پوځ . سواره پوځیان توپخانه او مشینونه هرقسم وسله موجوده وه .

انگریزانو چه حمله وکړه ابادی او کلی کورونه چه په مخه ور تلل هغه یې ورانه ول او مخ په وړاندی روان وو پدی ډول خومره چه بازار ته ورسیدل او ددغه ځای پوری په مخه ځه ورتلل هغه یې تباه کړل نو دواپسی بګل یې وغږا وه چه انګریزانو پوځونونه واپس روان شول تردغه وخته پوری بیا زخه خیلو ورته پوره تابیا کړی وه تیار شوی وو دپرنګی په پوځونو راپریوتل دهریو کانی دپاسه او دهر بوټی دپاسه ئی دانګریزانو کړی پری کړی . اووینی یې توی کړی او په دی ترتیب دخپلو ورانو شوو کلو او کورونو قیمت یې پوره کړاو بدل یې واخیست .

## دبازار وادی دوهم جهاد:

دپرنګی په پوځونو چه زخه خیلو اپریدو کومی لوبی وکړی ددغی نه وروسته دخیبر دره ډیره خطر ناکه معلومه شوه . دخیبر لاره محفوظه پاتی نه شوله نو انګریزانو بیا داپریدو خلاف دجنګ اعلان وکړ په وادی بازار باندی بیا دحملی کولو تجویز یې پاس کړه چه دا دویمه حمله دی جمرود . علی مسجد لنډی کوتل او ډکی دطرف نه وکړلی شی .

۱ـ کوم پوځ چه په ډکه پروت وو هغه دخاخوبی په لاره کښی روان شو .

۲ ـ دلنډی کوتل انګریزی پوځ دچوری له طرفه اقدام وکړ .

۳ـ او په علی مسجد چه کوم یو بریګیډ پوځ پروت هغه دالچی کنډو په لاره حمله وکړله .

دری واړه حمله کونکی پوځونه په چپاؤ روان وو او دا پیره هم لکه داول ځل په شان په ټوله لاره کښی دزخه خیلو یو سړی هم مخی له رانغی جنګ ئی ونه کړ انګریزی پوځ بازار ته په حمله روان وو

او په لاره چه هرخومره کلی اوکورونه په مخه ورتلل هغه یی ورانول داپیره داد سنه ۱۸۷۹ حمله هم دسنه ۱۸۷۸ دحملی دانگریزانو جرنیلا نو جنرل ماداو جنرل گنز په کمان کښی شوی وی هر کله چه دالښکر په وادی بازار کښی چینه نومی مقام ته ورسیده نو هلته خبر شول چه زخه خیلو اونورو اپریدوقبائلو تیاری کړی دی اوپه انگریزی پوځونو یوه لویه‌حمله کوی په دی باندی په پرنگیانو لړزان گډ شو وجه یی داوه چه انگریزانو یوه‌پالیسی وه دهغی مطابق دقبائلو سره به‌یی جنگونه کول پالیسی داوه چه په یووخت کښی به‌یی فقط د یوی قبیلی سره جنگ کولو دگڼوقبیلو سره به یی جنگ‌نه کولو او چه کله‌به‌گڼ قبائل ور ته را پو رته‌شول نوبیا یی میدان پریښودلو چنانچه ددی پالیسی ماتحت هرکله‌چه‌جرنل ماډاوجنرنل گینز پوه‌شول چه قصه خرابه شوه داخوبه اوس ټول قبائل پری راټول شی او تباهی به پری راولی نو دواپسی بگل ئی وغږاوه او په ٤فروری سنه ۱۸۷۹ دالښکر دوادی بازار نه رامات‌شووپه تېښته واپسی راغی .

دغی نه وروسته هم زخه خیل‌دانگریزانو نه قلأرنه وو اود سنه ۱۸۸۹ په دوران کښی یی هم‌په انگریزانو بدساعت جوړ کړی و و او بیا چه دکوکی خیل قبیلی نه یی‌هم‌ویره پیداشوه نو ۱۳ سوه روپی ماهوار ماجب یی ورله نور زیات کړچه دجمردو نه تر بگیاړی پو ری دسړك حفاظف به‌ددوی ذمه‌وی .

## دتیرا غزا:

په سنه ۱۸۷۸ـ۱۸۷۹ کښی چه‌انگریزانو او اپریدو ترمنځ‌گوم‌جنگ شوی وو دهغی نه ورو سته گڼ‌داسی واقعات پیښ شوی وو چه دهغی په نتجه کښی په سنه ۱۸۹۷ کښی‌دتیرا دغزا واقعه پیښه شوی وه.په سنه ۱۸۷۸ـ ۱۸۷۹ کښی چه‌انگریزانو په کابل دویم جنگ کړی وو او په نتیجه کښی دامیر شیرعلیخان د لاسه حکومت تللی وو محمدیعقوب خان یی بادشاه کړی‌وواو بیایی ددغه کمزوری اوبی وسه باچا دگندمك په معاهده دستخط‌اخیستی‌وه‌شرطونوکی یوشرطداوه‌چه وزیرستان دواړه علاقه ټوله کرمه او ټوله خیبر دره به دانگریزانووی د معاهدی دویم شرط داوه چه په کابل‌کښی به انگریز سفیر اوسیږی په دی معاهدی باندی په جون سنه ۱۸۷۹ دستخطونه شوی وو په جولایی سنه ۱۸۷۹ کښی‌دانگریزانو سفارت‌سرلو یی‌کیوگنری(کاماری)

لفټننټ والټر ملتن . مسترای، ایچ کیلي (ډاکټر) او کرنل دبلیو جنکنز په مشرۍ کښې کابل ته ورسیده شهزاده طیموس هم ورسره دګائیډ پلټنې افسرو په اګست سنه ۱۸۷۹ کښې ددې سفارت ټول ارکان او ددوی دمحافظ فوج دسته ټول ووژلې شول انګریزانو بیا کابل باندې لام وکړ په ۳ ستمبر سنه ۱۸۷۹ چه کومه حمله یې کو له فوج یې په کرمه او بولان ـورو اچاوه دخیبر نه ئې ډډه وکړه .امیر محمد یعقوب خان ئې بندیوان کړ هندوستان ته ئې راوستلو هر کله چه دګنډمک د معاهدې له مخه دخیبر علاقه په سیاسي حیثیت سره دانګریزانو په تسلط او اقتدار کښې ورکړې شوې وه په دغه وجه انګریزانو داپرید و سره جرګې شروع کړلې په جرګه یې ووهل او دسنه ۱۸۸۰ په اخرکې دخیبر دمعاهدې په نوم یوه معاهره لاسلیك شوه او دقبائلو آزادي تسلیم شوه دافغانستان بادشاه چه به کوم ماجب اپریدو له ورکاوه هغه به اوس انګریزان ورکوي (۸۷۵٤۰) روپۍ داپریدو واو «۹٦٦۰» روپۍ ماجب د شنوار و مقرر شو او داوعده وشوه چه ددره خیبر دلارې حفاظت به دوی کوي . ورپسې خیبر ایجنسي جوړه شوه او چه وروسته په سنه (۱۸۸۱) کښې امیرعبدالرحمن دافغانستان بادشاه شو او په هغه باندې د معاهده ګنډمك تصدیق وکړې شو نو په سنه ۱۸۸۳ کښې دخیبر سړك جوړ شو ددغې نه وروسته چه په سنه ۱۸۹۳ کښې دامیر عبدالرحمن خان نه انګریزانو د ډیورنډ لائن په نوم معاهدې په بهانه انګریزانو په هغه ټولو علاقو باندې باقاعده قبضه لګول شروع کړل نو قبائل راپورته شول دو زیر ستان تر با جوړه په ټولو سرحدونو باندې دانګریزانو په خلاف دجهاد تحریك او چت شـوشروع دوزیر ستان نه وشوه په کرمه په خیبر په مومند په ملاکنډ یوشان دقبائلو یوه څپه وه ددې په مقابله کښې انګریزانو دباړې او جمرو د تر منځ پوځ جمع کړ اپریدې راپورته شول او چه په وزیرستان کښې په انګریزانو شروع شوه اپریدو هم ټوپك ته لاس کړ او ددغې په نتیجه کښې په سنه ۱۸۹۷ کښې دټیراغزا لام جوړ شو .

دجمرود او باړې ترمنځ انګریزانو پوځ اچولی وو لکه دپخوا په شان په وادي میدان یې حمله کول غوښتل لیکن اپریدې په دومره زور کښې راغلل چه پرنګیانو ورته مـور چه بدلول ضروري وګڼل دخیبر نه ئې پښې راوکښلې دخیبر رائفل کمانډر سرادر محمد اسلم خان ته یې حکم

ورکړ چه هر څومره انګریزان افسران چه په لنډی کوتل کښی موجود دی همت وکړه چه ژوندی یی پیښبور ته راورسوی سامان وسله هر څه یی په ځای پریښودل دوه لاسه دوه پښی راوتښتیدل اپریدی پری ورغلل په ۲۳ اګست سنه ۱۸۹۷ یی علی مسجد مونږه. کته ویشته او نوری پوځی څوکی ونیولی په ۲۴ اګست لنډی کوتل ته ورغلل په ۲۵ اګست یی دلنډی کوتل قلا ونیوله د انګریزانو چه څه مال اسباب وسله دغلته موجود وو هغه ئی تالا کړل په قلائی قبضه ولګوله .

انګریزانو چه داحال ولیده فیصله یی وکړه چه دی قبائلو ته داسی ګذار ورکول پکار دی چه بیا سر پورته نه کړلی شی لښکر یی جمع کړ دهند ټول پوځی طاقت په حرکت کښی راغی ۲۳ سپتمبر سنه ۱۸۹۷ د اپریدو خلاف دجار حانه اقداماتو کولو اعلان وشو او په تاریخ ۱۰ اکتوبر سنه ۱۸۹۷ په اپریدو باقاعده حمله وشوله چه دغه حمله په تاریخ کښی دتیرا جنګ محاربه تیرا . دتیرا غزا تیرالام په نومونو یادیږی انګریزان دخپل طاقت په نشه دومره مغروره وو چه دحملی نه مخکښی دا اعلان یی هم وکړ چه دجنګ په دوران کښی به دهیڅ قسم صلح خبری اتری نشی کیدلی او دصلح چه کوم شرطونه دی هغه چه داپریدو په مرکز (باغ تیرا) باندی انګریزی پوځونه قبضه وکړی بیابه کتلی شی .انګریزانو چه په څومره طاقت سره په تیرا حمله کړی وه دهغی اندازه ددی لاندی اعدادوشمار نه په اسانه لګیدلی شی.

انګریزان افسران ۱۰۱۰

انګریزان او ګوره سپاهیان ۱۰۸۸۲

هندوستانی سپاهیان ۲۲۶۱۴

نور متعلقه افراد ۱۹۹۳۲

ټول: ۵۳۴۲۸ تنه

او ښان . اسونه .قچر .غویان خره مجموعی: ۴۲۸۸۰

ددی په مقابله کښی داپریدوسره نه خوځه نوی قسم وسله وه او نه نور سامان .

نه خوراکه او دارومړدکی رسو لوانتظام هیڅ هم نه وو ددوی ټوپک . توره .چاړه خنجر پیش قبضه او دهغی دپاسه دجهاد جذبه او پخپل خوږ وطن دسرقربان کولو مینه اوولولـه وه اوبس لیکن ددی ټولو خبرو باوجود انګریزانو دکجوری دمیدان په لاره په اپریدو باندی دحملی کولو جرات ونه کړ په ۱۱ اکتوبر سنه ۱۸۹۷ یی دکوهاټ په علاقه کی دشنه وړی د طرفه په تیرا حمله وکړله دحملی په اوله ورځ په مشکلاتو

کښې ګیر شول دوړاندې تللو لارې نه موند له تر۱۸ اکتوبر پورې پــه ځای ډب پراته وو دښنه وړی نه یې درګی ته مخه وکړه قدم پقدم اړیدو مقابله کوله دپرنګی پوځ ډیر ووپــهدغه زور مخکښې روانووډغره سرته ورسیدل چاپې مقابله ونه کړه دغــهداسې ځای وو چه دپوځ شپه پکښې نه تیریدله دواپسې بګل یې وغږاوه چه واپسی کیدل حیران شول دهر یو کاڼي او بوټي شاته غازی ناست دپرنګی پــه پوځ یې ګولې ورولــی او په دغه شان دګولو په باران کــې پوځ سمې ته راکوزشو په۱۹اکتوبر یې دمخکښې تللو تابیا برابره نــهشوه په ۲۰ اکتوبر پوځ یې په درې خصو تقسیم کړ په بیله بیله لارکې مخکښې روان شو وادې خانکی طرف تهیې مخه وکړه ددره چګرو پــورې پرې ډوزونهشو خوچهچګروتهورسیدل غازیان پرې راپوته شول قیامتونهیې پرې راکوز کړ ددره چګرو پــو دې داسې خوړو کښې پراتــه وو چــهدپرنګی پوځونه لیدل او دهغوی پــه ګولو انګریزی پوځ لګیده مړ کید ه دغرئیزی علاقې ته وړاندې پنځوس ګز اوږده میدانی حصه وه بیامخکښې غروه چه دپرنګی پــوځ پکښې پناه موندلې شوه دپرنګی پوځ پورهزوراو ولګاوه چه ددغه پنځــوس ګــزه میدان نه وړاندې دویم غر تــه ځانورسوی دسرنه یې او دنګل ·زوریې ولګا وه په ډیر مشکــله فقـط دوی کمپنی پوځ مخکښې ووت نور ګیر شو ځکه چه اړیدې پداسې مورچهکښې په خو کښې ورته پراته ووچه دهغوی دټوپك دګولې نه هیڅ یــوسپاهی بچ کیدلی نه شو چه پهډاګه میدان ته پښه وړاندې کړی دغــره تنګه دپرنګی دپوځ دمړونه ډکهشوه.

(تاریخ آزاد پښتان صفحه ۲۳۳ بحواله دکمپین اف ،ایــن ،ډبلیــو فرانتیر دکپټن پګټ).

داجنګ دسحرصبایی نه ترماسپښین پورې وشو دپرنګی دپــوځ نــوی ، نوی کمپنی به دغه ډاګی ته راوتلــهاو ستړی کیدلی به دډیر نقصان نه وروسته پوځ ددویم غرپهناؤوربرابرشو غازیانو ورته مخه ووهله دپرنګی پوځ یې راګیر کړ نه مخکښې تللی شونه وروسته په پټو سترګو یــې بمباری ـشروع کړه ټوله شپه یــې دغه شان تیره کړه په دې ویره چــه غازیان پرې حمله ونکړی .

داکتوبر په ۲۱ صباله چه رڼائی ولګیده دپر نګی پوځ بیا په مخکښې روان شو ددواړه طرفه دګولو بارانوو اوریې وره ولو چه دا لښکر څړ په نومې ځای ته ورسیده جنګ نورهم سخت شو لښکر نور مخکښــې

دتللو تاب نه لرلو مجبوراً کیمپ‌یی ولګولو روغه یوه هفته په دغه ځای پروت وو شپه او ورځ وا ړه، واړه جنګو نه‌کیدل . انګریزانو ددره سم پغه واژدی مستوره ته دسړك په جوړولو کښی لګیا وو .
اپریدی غازیان هم لږ دمه شول انګریزی پوځ هم ساه واخیستله البته په دغه منځ کښی په ۱۳ اکتوبر او ۲۵ اکتوبر غازیانوداسی سختی حملی کړی وی چه دپرنګی پوځ ئی ډیر تباه کړی وو په دغه موقع دانګریزانو د پوځ تعداد څلور دیرش زره اوشپږسوه وو .


انګریزانو دیوی هفتی په دمه کښی دخپل پوځ تنظیم دنوی سرنه وکړ په ۲۸ اکتوبر یی اقدام شروع کړ ددره سم بغه لاریی ونیوله دغه لاره تقریباء څلور میله اوږده ده‌غازیانو پری ددواړه طرفه غرونو نه ګولی ورولی او دانګریزانو پوځ مخکښی روان په ۲۹ اکتوبر وادی مستوره ته ورسیده په ۳۰ اکتوبر یی دمخ‌په وړاندی تګ‌دپاره حمله وکړه په ۳۱ اکتوبر دارهنګی په لاره یی دتیرادمیدان لاره ونیوله اپریدو غازیانو په یوه یوه انچ زمکه دپرنګی دلښکر وینی تویی کړی‌لیکن‌انګریزی پوځ دسپاپانو دوسلی او ګولی‌مړدکی دزیاتوالی په وجه مخکښی تللو کښی بریالی شو او آخر چه‌دمیدان علاقی ته ورسیده ټوله علاقه یی زیرو زبر کړه او بیایی باغ‌ته‌مخه‌وکړله په باغ پریوت یوه هفته دلته دیره وو ددواړه طرفه دجنګ تیاری‌کیدله انګریزانو ددغه علاقی سروی شروع کړله مګر دزخه خیل قبیلی‌غازیانو دمه ورنکړه‌په ۸ نومبر د انګریزانو پوځ دباغ نه روان شولمرخاته طرف ته دزخه خیلو په علاقه یی حمله وکړله دهغوی خالی کړی‌شوی کلی اوکورونه یی وران کړل په ۱۹ نومبر یی په سران سر نومی‌غره حمله وکړه دا غر دتیرا مشرق ته اخری سرحدی غردی دمیدان نه‌تقریباً څو میله لری دی اپریدی غازیان یی مقابلی ته غونډ شوی وو دانګریزانو پوځ ته یی پوره نقصان ور ور ساوه وجه یی داوه‌لوړه ژو ره و ر ته معلو مه‌وه چه د ا پر ید و خپل ملك وونوچه کوم خوا ورتلل دګمر شا ته به غازیان پرا ته وو او دوی به‌ئی دخاورو لاندی کول ددی په‌حقله به‌کښتن پګټ لیکلی .
اکثربه‌داسی وشول چه‌اپریدی به‌په نظر نه‌راتلل لیکن دکاڼو بو ټو نه‌به یی اوازونه زمونږ پوځیانو اوریدل دسران‌سرنه دانګریزانو پوځ‌په




ACKU



مغل باز صوبدار کمبر خیل اپریدی



وکیل نوراصغر خان سپای اپریدی



ښاغلی سیال خان دخیبر دری
زخه خیل اپریدی



ښاغلی سید خان دخیبر دری
زخه خیل اپریدی

ډیر بدحال راواپس شواپریدو پرداسی ناتار جوړ کړچه پرنګیانو دخپلو مړو لاښوونه هم په میدان کې پریښودل پښې یې راسپکې کړې په دغې با ندې دانګریز کماندر دانتقام جذبه نوره هم هم زیاته شوه په ۱۱ نومبر یې بیا په سران سرحمله وکړه فقط ددې د دباره چه دخپلو پوځیانو دزړو نونه داپریدو ویره وباسي او خپل مړي دمیدان نه راوچت کړي لیکن په اپریدو یې هیڅ اثرونه کړ دانګریزي پوځ نور هم جاني او مالي تاوان وشو .

په ۱۳ نومبر انګریزي پوځونوددې سري په لار باندې وړاند ته مخه وکړه دلته اکا خیل اپریدو ښه په نره او بهادري مقابله وکړه انګریزانو دلته هم خپل خو ی ښکا ره کړه داکاخیلو کلی ا و کور و نه ئې وران کړل او په ۱۶ نومبر میدان ته را واپس شول دواپس په وخت کښې اپریدو غاز یانو ترینه ګیره چاپیره کړه ښه یې وډزول ټول پروګرام یې ورله تالا والا کړ دومره یې ووژل چه کندې پرې ډکې شولې په ۱۷ نومبر دمیدان نه نور امدادي پوځ ورغی او ګیر شوي پوځ ئې راخلاص کړ ددغه تازه دم پوځ سره هم سخته مقابله وشوه او په ۱۸ نومبر دانګریزانو پوځ زیانیدلی ا وشرمیدلی باغ ته راواپس شو .

په باغ کښې ددوه ورځې ارام کولو نه وروسته په ۲۲ نومبر دباغ نه شمال مشرق طرف ته د (دوه توی) خوا ته چه دغه مقا مدباړې درې په لاره کښې دی انګریزي پوځونو حمله وکړله اپریدي مقابلې ته پراته وو جنګ تود وو انګریزانو دمخ تګ په دوران کښې کلي او کورونه ورانول په ۲۶ نومبر دي پوځ کاهودرې ته مخ، وکړه اپرید وپرې یوځل بیا سخته حمله وکړله تباهي یې پرې راوستله بیاهم په سختي او خواري یې موسي درې نه ځان ور ساوه. د مو سي درې نه یې دقبیله ځکمنې په ځمکه دحملې کولو اراده و کړه ددسمبر په اول یې لښکر په دوه حصو کې تقسیم کړ نیت یې داوه چه دځمکنې قام مرکزي ځای ته بویې (تبې) برباد کړې یو حصه پوځ یې وړاندې لاړ باقي پاتې پوځ یې اپریدو راګیر کړویره پرې راغله واپس شول صباله یې بیا حمله وکړه دتبې کلي یې وسیزه لیکن نوردمخکې تللو تاب یې نه وو ویره پرې راغله ځکه چه ددوی دراتلو نه لږ ورځې وړاندې ځکمنو غازیانو دګیسلې. هل روس . کیپل پوځونه وهلي وو د پرنګي سره خطره پیدا شوه چه که دمخې نه ځمکني اودشانه پرې اپریدي راشي بالکل به ئې تباه کړي ماتې یې وکړه او په ۷ دسمبر زیانیدلی اوشرمیدلی دقبایلي علاقې نه راووتل دمیدا ن نه مخ په باړه را روان شول په تند کې

یی ډیر تلفات ورکړل ورسته له هغه‌دوه توی بیاګړی دیره‌شول دلته یی هم زیات نقصان برداشت کړ او په‌باړه کی ورته خلکو پټی ټول ډنډه کړی ووچه یوه زیاته اندازه بار کش حیوانات چه دلښکر دحمل ونقل وسایل یی بار کړی وودلاسه‌ورکړل بیا په اړینه دیره شول او دهغه ځای نه دلکړی بابا په لاری دسوی کوټ‌اوشنه‌کمر دنورولښکرو سره یوځای شول مګر دپنځوسو زړونه د زیات‌لښکر یو څه کم تعداد پاتی شو ی وو اونور ټول تباه شوی‌وو اوپس‌لدی واپس پیښور ته ستانه شول یو انګریز مصنف ددی په حقله‌لیکی دکریمیا او دهندوستان‌دبغاوت ددوه لویو او خطرناکو جنګونونه وروسته‌دد ریم لوی سخت جنګ وو چه مونږ کړی دی .

(تاریخ آزاد پټان صفحه ۲۳۸ په‌حواله دلائف اف لارډ رابرټس . ازفارسټ )

## دتیرا دوهمه غزا :

انګریزانو چه په سنه۱۸۹۷کښی داپریدو ومرکزی علاقه میدا ن او ورسره نوری خواو شاعلاقی خومره په ظالمانه اوو حشیانه طریقی سره تباه اوبرباد کړی وی په‌هغی‌ئی‌خوانه‌ږه یخه شوی ارا ده یی وکړه چه اپریدو نوری علاقی هم تباه کړی دمیدان دتباهی نه پس یی دوادی‌باړا او خیبر دتباه کولو تجویز جوړ کړدوه لښکرئی تیار کړ دواړو په ۲۳ دسبمر سنه ۱۸۹۷ حمله وکړه .

الف- یو پوځ په خیبر ورغی په‌وهلو وهلو یی ځان چینی ته‌ورسولو

ب- بل پوځ مخه وکړه الاچه .کرمنه .برګ یی برباد کړل .

بیا دواړه پوځونه را ووګر ځیدل په لنډی کوتل یو ځای شول بیا ناڅاپه دری بریګیډه نوی تازه دم پوځ ئی (جنوری په اول سنه۱۸۹۸ دجمرو دنه دلنډی کوتل پوری د ره‌کښی خود کړلوټ ماریی شروع کړ دغه دانګریزانو طوفانی حمله وه‌چه اپریدی غازیان ورلـه راسا زشول شروع ئی پری وکړه نوپرنګیانو باندی بده ورځ راغلـه جرګی ئی شروع کړی دصلح خبری اتری یی‌رابرسیره کړی اپریدی هم ستړ ی شوی وو جرګه یی ومنله صلح‌وشوه‌البته اکاخیلو صلح ونه منله په ۲٦ اکتوبر سنه ۱۸۹۷ پوره لس‌میاشتی‌جنګ نه وروسته چه کومه صلحه وشوه په‌هغی کښی دجمرود اولنډی‌کوتل ترمنځ دسړک‌په غاړه دحفاظتی څوکو جوړولو دسړک‌دجوړلو دګاډی‌سړک ایستل شامل وو .

اکاخیل پخپل مخالفت کلك پاتی‌شول پنځه کاله پرلـه پسی یی د

پرنگی سره وډزول آخر داچه په۱۸اکتوبر سنه ۱۹۰۳ داکاخیلو سره هم معاهده وشوله .

## دوادی بازار دریمه غزا :

دبازار ددوهمی غزا سنه ۱۸۹۸نه وروسته ترځو ورځو پوری قلاری ومنځ تر منځه به وړی نښتی کیدلی مگر خه داسی غټه جګړه نه وه پیښه شوی په سنه ۱۹۰۷ کښی پرنګیانو بیا زخه خیلو ته اوبه خړی کړی په کجوری یی بند کړل په دغی حالات خراب شول زخه خیلو ملاوتړ لـه پرنګی ته یی لاس واچاوه راوړاندی شول رساپه پیښور ښار ئی حملـی شروع کړی دزخه خیل قام یونومیالی توریالی جنګیالی غازی وو ملتان خان نوم یی و ویه پیښور ښار ئی حمله وکړه دمانښام دلمانځه نه وروسته داندې شیر بازار هند وان یی تالا کړل ډزی یی وکړلی ما ل یی په قچروبار کړ روغ جوړ لاړل دا واقعه په۲۸جنوری سنه ۱۹۰۸ پیښه شوی داپریدو د بادری درزخود شو وروسته پرنګیانو پیسی خوری کړی دملتان خان پـه خپلو ملګرو کښی یـوتـن مخبری وکړله ملتان خان دسوړیزو په میره کښی وو پوځ پری ورغی دملتان سره دولس ملګری وو سخته مقابله یـی وکړه .دانګریزی پوځ افسر دملتان خان په ګولی ولیګد ورپسی دسختی مقابلی نه وروسته ملتان خان هم شهید شو .

ددغی نه پس انګریزانو دزخـه خیلو په خلاف دجنګ اعلان وکړ پـه ۱۳ فروری سنه ۱۹۰۸ دبازار دد ریـم جنګ اغاز یی وکړ په دره خیبر کی یی پوځی خوکی مضبوطی کړلـی دزخه خیلو خیال ووچه انګریزی پوځ به دالاچی. کرمنه په لاره په وا دی بازار حمله کوی لیکن انګریزانو قبائلو له تیر وړکړ په بله لار ورغی په چوره ئی قبضه وکـړه دپوځ دویمه حصه دولی په لاره مخکښی لاړ اوـ دریمه حصه پوځ پـه وادی بازار وروخوت زخه خیل شاه ځلمی ورله راواوسیدل خپله میړانه یی ورته ښکاره کړلـه دکانی په سرئی دانګریزی پوځـی سر وسولا وه په ډیره سخته په ۲۱ فروری انګریـزان وادی بـازار تـه ورننوتل دکلو او کورونو په ورانولو یی لاس پوری کړ .

زخه خیلو ورته ښه مضبوطه ملاوتړله په مورچه کښی ورته پریوتل دپرنګی ډیر پـوځ وو لیـکن داسی معلومیدله چه زخه خیل په کلونـو کلونو جنګ ته تیار دی پرنګی ته په دغه ورانه ویجاړه علاقه کښی دومره لوی پوځ ډیره موده ساتل ګران ووجرګی یی شروع کړی چه روغه وشی ځان له یی پرتوګ جوړ کړ په ۲۸فروری پوځ یی راواپس کړ .

ACKU

## دلنډی کوتل غزا:

په مئ د سنه ۱۹۰۹ کښی د حضرت ملا نجم‌الدین صاحب المعروف سړی ملاصاحب یو مشهور ماذون او خلیفه صوفی عالم گل صاحب د افغانستان د بټی‌کوټ د طرف نه لښکر وکړ راروان شو په لنډی کوتل یې حمله وکړه خونړی جنګونه وشول انګریزی پوځونو ته یې پوره نقصان ورسولو لیکن داجنګ ورپسی اوږد نه شو او غازیان واپس لاړل.

### دچوری غزا

په سنه ۱۹۱۹ کښی دافغانستان ددوهم جنګ واقعه پیښه شوی وه ددغه جنګ په موقع ټول سرحدی قبائل لکه دسنه ۱۸۹۷ په شان په یوځل او یو وخت دانګریزانو په خلاف راپورته شوی وو او په دی کال کی دانګریزانو او قبائلو ترمنځ دومره خونړی جنګونه شوی وو چه هغه دتاریخ یو ځان له باب دی. دمثال په طور پدی یو کال سنه ۱۹۱۹ کښی انګریزانو صرف په وزیرستان باندی ۱۱ حملی کړی وی چنانچه پدی کال سنه (۱۹۱۹) کښی اپریدو غازیانو هم په پرنګی ناراسته نه‌وه کړی په ډګه. په تورخم په علی مسجد په زین تره په کته ویشته په جمرود یې د پرنګی د پوځونو مقابلی کړی وی ددغی نه علاوه دخیبر رایپلز اپریدی ځوانان سره دوسلو او سر کاری دریشی د خپل او لسی لښکر سره ملګری شوی وو او په پرنګی یې سخته تیره کړی وه په دی ټولو واقعاتو کښی دچوری یار محمد خان دانګریزانو په خلاف ډیر لوی کارا وغزا گانی کړی وی هر کله چه دافغانستان او پرنګی په منځ کښی عارضی صلح وشوه نود یار محمد خان دچوری د قبایلی سردارانه یې د بدل اخستلو دپاره په چوره حمله وکړه په وادی چوره باندی دانګریزانو لښکر دحملی دپاره د ۱۲ او ۱۳ سپتمبر په منځنی شپه کښی روان شو پوځ یې په دری برخو تقسیم کړی وو یوه برخه پوځ سحر وختی تقریباً څلور بجی دچوری کنډو ونیولو بلی برخی پوځ دالاچی کنډو ونیولو او دریمه حصه پوځ دچوری کنډو نه جنوب طرف ته په شوانه کښی مورچه شو. په دی لښکر کښی سواره ـ پیاده پوځ توپخانه وغیره هر قسم وسله موجوده وه چه اپریدی غازیان ترینه خبر شول نو فقط څلویښت شاه ځلمی ورته مخی ته پریوتل ډزی ئی شروع کړی او دمازیگر پنځه بجو پوری دادومره لوی پوځ دغه څلویښت کسه بهادرانو پښتنو حصار کړ مخکښی تګ ته یې پری نښود چه ددی ځای په شا شول نو بیا غازیان ورته په سره ګړی کی مورچه شول دوباره مقابله شروع

ACKU

شوه داځای به اندازه تادچوری نه یونیم میل وی ددغه ځای نه انګریزانو
توپی چلان کړی دخلورنیم انچواوشپږانچو خلی والاغتی توپی یې سر
کړی په چوره یې گوله باری شروع کړه دپاسه هوائی جهازونو گوله
باری کوله لکه چه دیوه دیرلوی حکومت سره مقابله وی په دغه منځ کښې اپریدو
یوهوائی جهازرا وغورزولو چه پرهغی بمباری بند شوله بیا هوائی جهازونو
هغه خوا ته مخه نه کوله داوه نیمو بجو پوری خونړی جنګ وشو په
دغه وخت کښې خاص په چوره باندی پولس گولی پریوتلی وی
اپریدو بیا سره گړی او چوره دواړه خالی کړی وی لیکن انګریزی پوځونو
او توپونو هغه شان گوله باری کوله دوه بجو نه وروسته دپرنګی پوځ
په چوره ورننوتلو کلی خالی وی پوځ ورلاندی وه تر پنځه بجو پوری دکلی
کورونه یې لوټی لوټی کړه بیا پوځ واپس شو مګر دظلم داستان یې پاتی
شو چه ترعمرونو به یادیږی .

ددغی نه وروسته داپریدو اوانګریزانو بیا پریو تله ماری او داړی
به کیدلی انګریزان سم کله داپریدو په یوقوم برید کړی کله په بل او
اپریدو هم پری ناراسته نه کوله آخر چه پرنګی تنګ شو جرګی یې
شروع کړلی . په مارچ سنه ۱۹۲۱ کښې داپریدو نورو قبیلو صلح
وکړله مګر زخه خیلو دپرنګی ظلم هیرولی نه شورو غه یې ونکړله د
زخه خیلو او پرنګی ورانه سم دغه شان جاری وه آخر داچه په فروری
سنه ۱۹۳۲ کښې زخه خیل یې هم رضا اوپه خلا کړی .

## دکجوری غزا:

داپریدو علاقه دپیښور ښار په پوله پرته ده سنه ۱۹۳۰ په صوبه
سرحد کښې دسیاسی تحریکونو دعروج زمانه وه دهغی اثر په اپریدو
هم پریوتلو . په ۲۳ اپریل سنه ۱۹۳۰ انګریزانو په قصه خوانی کی
گولی وچلولی سوونه مسلمانان یې شهیدان کړل په دغه شهید انو
کښې ګڼ قبائلیان هم وو قبایل پری راپورته شول اپریدو هم احتجاج
وکړ پرنګی پری بدومنل داپریدولښکر کجوری ته راغونډ شو په توره چینه
پریوتلو پرنګی نور هم بیخوده شو توپی یې ورته مخامخ کړلی اپریدو
ته هم ننګ او غیرت ودریده رامخکښې شول په ٥ جون سنه ۱۹۳۰
یې پیښور ښار قلابند کړ دمکړی ګودام سرکار کوټ یې لوټ کړ
په وزیر باغ پراته وو پرنګی په اپریدو باندی نور زیاتی شروع کړ
داپریدو شاه ځلمی بیا په ۱۳ اګست دپیښور ښار نه تاؤشول دښار خلکو

به هم امدا دورکولو یوه هفته ئـی دپیښور ښار محاصره کړی وو په ۲۰ اگست سنه ۱۹۳۰ واپس شول په دغه یوه هفته کښی دانگریزانو پوځ په بالاحصار کی گیروو په دغـه دوران کښی داپریدو شاه ځلمـو یوه دسته دپیښور ښار جنوب طرف نه په وزیر باغ پراتـه ؤ دهغـوی مقابلی ته یوه راجپوت رساله لیږلی شوی وه اپریدی غازیان چه په شماره باندی فقط دوه سوه وو هغـه پـر ی راپورته شول روغه رساله یی په مخهٔ کړه پوځیانو خپل مړی زخمیان په ځای پریښودل دښا رپه گنج دروازه راننوتل پـه منډه پـه بازار کښی زغلیدل په کابلی دروازه ووتل دښار خلکو یی تماشه کوله ورپوری خندل به ئی ددی واقعی نه وروسته انگریزانو فیصله وکړه چه دکجوری میدان قبضه کړی لښکر یی وکړ اپریـدی یـی مقابلی له راغلل دسنه ۱۹۳۰ ورستنی ورځـی اود سنه ۱۹۳۱ اپتدا یـی میاشتی په جنگونو کښی تیری شوی انگریزانو دکجوری په میدان کښی سړك جوړولو او اپریدو پری گولی وره ولی چه پرنگی تنگ شو جرگی یی شروع کړی دکجوری په میدا ن یی اپریدو دملکیت حق تسلیم کـړ په ۳ اکتوبر سنه ۱۹۳۱ په جمرودکښی یوه معاهده وشوه اوپدی شان سره داکشاله ختم شوه .

نامور غازیان

داپریدو او انگریزانو تر منځ چه کوم جنگونه شوی دی او کـو مـی غزاگانی شوی دی دسنه ۱۸٤٦ نه تر سنه ۱۹٤۷ پوری په یوسل یـو کال کښی بی شمیره داسی نامورغازیان میدان ته راغلی وو چه هغو ی په خپل بی مثاله شجاعت جوانمردی او بهادری ډیر لوی نوم گټلی د ی او دخیبـر ایجنـسی دملاگـوری . شلمانی او شنواری او اپریدی قومونو دافتخار تو په گټه یی اضافه کړ ی ده چه په دغی کښی دغازی کمال خان ملك ین خیل اپریدی .غازی ملتا ن خان زخه خیل اپریدی .عجب خا ن ادم خیل اپریدی .ملك سردین جواکی اپریدی گل خان گلا ادم خیل اپریدی وغیره نومونه دیادولو دی .

# مرحوم سید انورشاه اودهغه‌مبارزی دپښتونستان دآزادی په‌لارکښی



مرحوم سید انورشاه

اپریدی

مرحوم سید انور شاه‌اکبرشاه‌زوی تقریباً په ۱۲۶۸ شمسی کال دتیرا په یوه ستانه داره کورنی کښی زیږیدلی دی. کله‌چه انگریزانو کال (۱۸۹۷) کښی تیرا ونیو نود تیرا خلکو کورونه پریښودل .ځنگلونو ته وختل او خپله مبارزه یی د استعمار چیانو سره د شپی دیرغلونو په صورت شوع کړه دی په دغه وخت کښی لاوړوکی او د مور پلارنه دجنگ په دوران کی ورك شو. دغو ورکیدلو دده په افکاروکی دانگریزانو په مقابل کی دمبارزی یو نه محدوده کیدونکی عکس لعمل پیداکړی وو کله چه انگریزان دتیراداوسیدونکو له لاسه دتیرا پریښودلو ته مجبور شول تیرا یی پریښود او ځنگلو ته تللی اپریدی په خپلو کرونو کښی ځای په ځای شول نو دنورو اپریدو په شان دسید انور شاه په زړه کښی هم داستعمار چیانو ځنی دانتقام احستو حس پیدا شو. دژمی دتیرولو دپاره به دده کورنی کجوری ته تلله‌هلته به‌یی ځان دجوپی سره ملگری کړو دتیلفون انسو لیرونه به یی په‌لینده او تیرو ویشتل ·

ده دغه کارته دام ورکړو ترڅو چه‌ځوان شو او په مسلحو مبارزو یی شروع وکړه داستقلال په جنگ کی‌شامل او دسپه سالار غازی محمد نادرشاه دمصلحت اوهدایت سره‌یی اوله مترکه چه دهغی په اساس دموجوده افغانستان یوه حصه‌خاوره‌انگریزانو ته‌سپارل کیده ونه منله اود شمشاد دغره نه‌یی خپله مبارزه دشنوارو ،اپریدو او دربابا دشیخانو

په ملګرتیا دوباره شروع کړه .په کال ۱۳۰٤ کښې دعلم او جهل په جنګ کښې دځېل قومي لښکر سر ه شامل او دقدرورړ خدمتونه یې وکړل او دستوری دښمنان په اخستلوبریالي شو. خو دده دتوقع برخلاف مرحوم پاچا امان الله خان دده ترڅو سید پادشاه ته دتیرا دمشرۍ فرمان ورکړو نوپه دغه سبب دکابل ددربار نه تیرا ته په خفګان لاړ اوپه تیرا کښې په مبارزه لګیا شو .خود دغه خفګان سره سره کله یې چه دافغانستان په داخلي انقلاب کښې دانګریزانو تاثیر محسوس کړونو دمرحوم پاچا امان الله خا ن دربار ته راغی او دمفاهمې نه وروسته تیرا ته لاړ او داپریدو لښکر یې را غونډ کړ او جلال آباد ته راغی او دحضرت پادشاه ګل صاحب په ملګرتیا یې چه مهمند ولښکر ورسره وو دجلال آباد دښار ساتل په غاړه واخستل اوډیره موده یې دجلال آباد ښار دانقلابونو نه دپادشاه ګل صاحب په ملګرتیا وساتلو .خودی غرض خاوندانو دهغه وخت یومذهبي شخصیت سود وړاندې کړو او دهغه په واسطه یې داپریدو او مهمندو مجاهدین چه جلال آباد دښار امنیت یې ساتلې و وویستل او ددوی دوتلو سره سم دجلال آباد ښار تالا شو .

په کال ۱۹۳۰ کښې دهند دآزادی خواهانو په ډله کښې ځنې داسې خلك پیداشول چه دګاندهي دعدم تشدد سیاست په دوام د ر صورت طرفدارنه وو. دخلافت پارټۍ اول په محکوم پښتو نستان اوبیا په تیراکې نفوذ پیدا کړو .نوپادشاه صاحب ددغې پارټۍ دلیډرانو سره دیوه پلوه اود افغانستان دځنې سیاستمدارا نوسره دبله پلوه داستعمار چیانو په مقابل د یو مسلح قیام موافقه وکړه اوداپریدو دشازلمیانو په ملاتړ اودا پریدو د خوانینو. ملکانو او سپین ږیرو پــه ملګرتیا یې په پېښور حمله وکړه اویوه هفته پیښور داپریدو په محاصره کې وو اوپه دغه موده کښې دانګریزانو سره سختې جګړې روانې وې .په دغه غزا کښې دانګریزانو تنخواه خواران هم دمجاهدینو سره برخه اخستې وه اکمالات دپلان سره سم ونشول اپریدی رجعت ته مجبور شول او پرنګیانو کجوری ونیوله .

دآزادی غزاګانې په ټول پښتونستان کښې داستعمار په مقابل روانې وې چه ده ته دپښتنودیوالي فکر پیدا شو داپریدو نه یې یوه جرګه مهمندو ته روانه کړه دفضیلت ماب ترنګزو حاجي صاحب پادشاه ګل صاحب. غازي محصل خان .غازي ملك عمر خان او دمهمندو دنورو مشرانو سره داتفاق دتړون نه وروسته دباجوړ



خان عبد الغفار خـان او خـا نعبد الصمدخان دیوی ډلی پښتونستانو سره لیدل کیږی .

خواته لاړ او دمرحوم النگار فقیرصاحب په مرسته یی دباجوړ قومونه هم په دغه تړون کښی شامل کړل .
دغه اتفاق په نتیجه کښی داستعمار په خلاف په ټول آزاد پښتونستان کی ځای په ځای مسلح قیام اوغزاگانی پسی لاشدیدی شوی .

په کال ۱۹۳۰ داپریدو داسلامی گوند دمشرانو سره په داسی حال کښی چه دمهمندو جرگه هم دپادشاه گل صاحب ترقیادت لاندی کابل ته راغلی وه دصلحی دخبرو اترو دپاره کابل ته راغی او دواړو مشرانو غوښتل چه دافغانستان دحکومت پهواسطه او داعلیحضرت شهید دتدبیر په رڼا کښی دانگریزدنو سره صلح وکړی خودانگریزانو معاش خوارانو مخالفت وکړو او داسی لیکلی سندیی دانگریزانو نماینده ته وسپاره چه ددغه کانال دلاری صلح ونشوه .

ددواړو قومونو جرگی بیرته لاړی او بیایی غزاگانی شروع کړی .
په کال ۱۹۳۶ کښی انگریزانو غوښتل چه پیښور او پاړه چنار دیوه سړك په واسطه سره وصل اوتیراتر نفوذ لاندی راولی که څه هم ځنی نوابان .ملکان او تنخواه خواران پهدغه کار خوشحال نهوو خوددغهسړك موافقه یی دگوتی په لگولو دانگریزانوسره وکړه او انگریزانو دغه سړك د (چوره روډ) پهنوم شروع کړو اوپهچوره کښی یی یو مکتب هم داصلی مطلب دپټولو په مقصد آباد کړو .

مرحوم پادشاه صاحب یوکم تعدادغازیان چه شمیریی خلورمه حصه د استعمار دقواؤ هم نه وو داپریدو دشازلمیانو دا ټول کړو او چوره یی دیوه باصقین په واسطه داستعمار دقواؤ او دهغه دبقایاونه پا که کړه او پرنگیان یی بیرته پخوانی سرحد تهوتمبول .

په مقابل کښی پرنگیانو پهاپریدو باندی دهر قسم سود سود ابندولو اعلان وکړ خوراکه. پوشاك او دژوندنور ضروریات یی پری بند کړل. د خوراکی او پوشاکی موادو قیمتونهډیر لوړ شول .غریبان پهډیر بدحالت مبتلا او دپرنگیانو ایجنټانو چه دخپل بادار ددغو نعمتونو نه مستفید وو د تور بازار نه غیر مشروع استفادی کولی .بلاکیډ دوام او غیرتمنواپریدو همداستعمار په مقابله مقاومت ښکاره کاوهژوندی بربنډشول. هری یی بی کفنه ښخ‌شول اودعلی قحطی دمر گ‌درجی ته ورسیده نو پادشاه صاحب

مجبور شو او دافغانستان حکومت ته یی مراجعه وکړه ترڅو چه دپرنګیانو سره لهدغی لاری نه دصلحی خبری وکړی .

دصلحی ابتدایی خبری په کابل کښی وشوی . دصلحی دشرطونو دمعلومولونه وروسته تیراته ستونشو او داپریدو دسلامی ګوند مشران یی دجرګی په صورت جمرود ته بوتلل او دنوابانو او ملکانو دمخالفت سره سره یی دانګریزانو سره صلح وکړه مرحوم پادشاه صاحب په قومی اصلاحاتو او امربالمعروف مشغو لوو. په کال ۱۳۱٦ محمد افضل خان شنواری پورته شو دچین حکومت یی تالا اودکهی چهاونی یی محاصره کړه دده دکهی محاصره دشنوارو اوځنی اپریدو دوستانو په کومکماته او محمدافضل خان یی دتیراتګ ته مجبور کړو .

ددغو داخلی جریاناتو سربیره ددنیا دوهم جنګ روان وو او داستعمار اجنټانو په تیرا کښی دشنواری محمد افضل خان په ساتلو ټینګار کاوه ترڅو چه پادشاه صاحب په کابل کښی استوګنه قبوله کړی هرکله چه ده په کابل کښی استوګنه قبوله کړه نو محمد افضل خان افغانستان ته تسلیم کړی شو .

دی ترکال ۱۳۲٦ پوری په کابل او جلال آباد کښی وو او پس دهغه تاریخ نه (دجنګ ختم) اجازه ورکړه شوه تیرا ته لاړ شی .

انګریزانو جنګ ګټلی وو او مقابله ورسره سخته وه نو دده سره د قومی اصلاحاتو بله چاره نه وه او بیا په قومی اصلاحاتو مشغول شو. دهند دآزادی کاروان منزل ته نژدی په رسیدوؤ چه دلرو او برو پښتنو په مغزو کښی دپښتو نستان دآزادی فکر ټینګ شو. افغانستان ته راغی او دصالحه مقاماتو سره یی خبری اتری وکړی .

په کال ۱۳۲٦ دجدی په میاشت بازار نومی ځای ته لاړ او اپریدو دپاکستان داستعمار چیانو دلاسه هغه لښکر یی چه په جمرود یی ماتی کړی وه راغونډ کړو او دپاکستان هغو نمایند ګانو ته یی چه دلښکر دماتی سبب ګرځیدلی وو او دپاکستان داستعمار دپاره یی کار کاوه لازمه قومی جزا ورکړه او په ګاګرنه نومی ځای کښی یی دا و لځل دپاره دپښتونستان نوم او چت کړ . لږه موده وروسته دافغانستان په اداری تشکیلاتو کښی تغیر راغی او دغه تغیر دپښتونستان په روان تحریک هم اثر واچاوه او پادشاه صاحب هم کابل ته وبلل شو .

دافغانستان دغه نوی تغیر هم دپښتونستان دآزادی په تحقق کښی کوم با ارزښته رول ونه لوبلو نوبیاهم دیوه بل نوی سیاست غوره کیدل ضروری وو نو په دغه اساس په کال ۱۳۲۸ مرحوم پادشاه تیرا ته لاړ.

په کال ۱۳۲۹ کښی دوخت دایجاباتو سره سم لازم وګڼل شو چه دپښتونستان دآزادی تحریك دیوه قانونی تشکیل سره سم شی نو ددغه کار دسرته رسولو دپاره دیوی قانونی شورا انتخاب یو ضروری امروو.

یوی حقیقی شورا جوړول که څه هم په ظاهر کښی اسان ښکاری خو دنورو مشکلاتو سره سره لوی ایثار ایجابوی .خصوصاء په داسی حال کښی چه په یو ه محیط کښی دغه کار سابقه ونه لری او نوی اساس کیښودل کیږی .

دشورا دانتخاب نه وړاندی داسلامی ګوند او دپښتو نستان د تحریك واګی دپادشاه صاحب په لاس کښی وی او خلکو به ګمان کاوه چه دی به دغه کارته حاضر نه شی چه خپل اقتدار د قوم نمایندګانو ته وسپاری . خوبرخلاف هرکله چه په دغه رموز پوه شو نو د تیرا شورا په جوړولو کښی یی دایثار او فداکاری نه کار واخیست او دوکیلانو په انتخاب کښی یی لازمه کومك ښکاره کړو او خپل مسؤلیت یی په دغه جمله دقوم شورا ته وسپاره .

(دخدای پاك په کومك ماپه تش لاس. شلیدلی ګریوان په بیل ځان دغه خاوره ٤٥ کاله داستعمارچیانو نه وساتله اوس دغه امانت تاسی ته سپارم راتلونکی نسل به یی ستاسی نه ازاده غواړی او زمونږ او تاسی حساب به دقیامت په ورځ کیږی ).

دشور دانتخاب نه وروسته درئیس انتخاب هم یو ضروری کار وو نو ګمان کیده چه دی به ددغه کار دپاره ځان کاندید کړی خو بیا هم ځان کاندید نکړو او مرحوم الحاج مولانا نوردل په انتخابیدلو کښی یی لازمه مرستی وکړی .

قوم ، شورا او الحاج مولانا نوردل صاحب ده ته دصدارت پیشنهاد وکړو خو خپل معذرت یی وړاندی کړو .

په داسې حال کښې چه دی غايب وو مولانا نور دل دده صدارت دتيرا دشورا نه تير کړو خوکله چـه دی تيرا ته راورسيد ونو ددغ، کار نـه يې استعفا وکړه اود يوه ربښتيانـي ملګري په حيث يې دمولانا صاحب سره ټينګه ملګری کوله .

دداخلي امنيت ساتلو او ملـي ارزوګانو دسرته رسولو دپاره . وړ مناسب او منظم قوت دمولاناصاحب په اراده دده په تدبير او دافغانستان دځو تنو رسيدلو جنرالانو په کومك د«شلګون » په نامه تشکيل شو چه ملي اردو دزړی حيثيت يې درلود .

دپښتونستان دآزادی تحريك اونور کارونه په ډير ښه صورت روان وو او دافغانستان سره دوستانـه روابط تګ راتګ په لوړو سويـو جاري شو .

په کال ۱۳۳۰ کښې ملـك ولـي خان کوکيخيل او مرحوم سيداحمد زخه خيل افغانسـتان تـه دراتګ اراده وکړه او دځينو شرايطودقبولو نه وروسته، افغانستان ته راغلل .

پادشاه صاحب جـلال آباد تـه راوبلل شو مريضي ورپيښه شـوه. کابل ته راوليږل شو او په ۱۳۳۳ دمرکزي قواو په عسکری شفاخانـه کښې پس د٤٥ کاله مجاهدو دفاني نړی سره يـې وداع وکړه اودده د وصيت سره سم نظر وهغې مينې ته چه داقغانستان سره يې لرله دنازيانو په سروبی کښې خاوروته وسپارل شو.

ACKU

## داپریدو مجاهدی دپاکستان‌له‌جوړیدو نه‌وروسته :


دپښتون قام اووطن دآزادی دتیاری دپخوانو مجاهد و سر بیره چیرته چه‌دپاکستان دمنځ ته‌را تلو یعنی ۱۳٤۷ ع کال راپدیخوا چه دپښتونستان دآزادی دپاره داپریدوکومی مجا هدی کړی دی هغه هم معلومی اودتاریخ پاڼی پری شاهدی‌وایی .

د۱۳٤۷ ع کال څخه اپریدو دمرحوم میرسید انورخان دشنگیړمیر اومرحوم حاجی نور دلخان ترقیادت‌لاندی دپښتونستان مجا هدو ته‌چه مخ کی بیان شوی دوام ور کړی‌دی اوددغو مجاهدو او جرگو په دوران کښی په ۱۳۳۰ ه ش کا ل‌دلمړی ځل دپاره د خوشحال خان دلیسی ټول سپایی زده کوونکی‌دپریدو په‌ټول سره دموزیك دښا غلی میرحمزه‌خان سپای‌له‌خوا دترخوپه‌کښ‌چه‌کمبر خیل‌قوم اوسپایی ترمنځ‌پوله تعین کوی دپښتونستان ښکلی بیرغ‌پورته شو او په اتفاق سره دټولو اپریدو قو مولخوا دسلامی په تو گه‌دبمونو او ټوپکو بی شمیره ډزی وشوی .

وروسته لدی بیا اپریدو د ملك‌ولیخان کوکی‌خیل او ملك سیداحمد خان زخه خیل اومولوی غیرت گل‌اکاخیل دجمعیت العلما غړی لخوا یی قیادت کیده په ۱۳۳۱ ه ش‌کال چه ۱۹۵۲ کال سره مصاد ف دی یولویه جرگه ټول اپریدی کښی‌اوپه‌هغه پوله چه‌دمحکوم پښتونستان سره یی لری وگر ځیده مگرکله چه‌ماڼی ته دغه لویه جرگه ورسیده چه د پښتونستان متعلق پروگرامونه‌جوړیدل دپاکستان دحکومت له خوا پری سخته بی رحمانه بمباری وشوه‌او یوزیات شمیر اپریدی زلمیان یی دبمو نو اوماشینگړو خوراك کړ لیعنی ۱۸ کسان مړه اوزیات شمیر زخمیان شول ،لدی دری ور ځی‌وروسته دملك ولی‌خان کو کی خیل اودده دکورنی کلی بمباری اوپو خ‌کانگریتی اوآهن پوش کلی‌یی ورته په بمو نوکښی والوزولو چه اوس‌هم هغه‌شان وران ویجاړ پرو تدی سره لدی کړاونو او تکلیفو نواپریدو بیاهم خپلی مبارزی ته دملك نادرخان زخه خیل حاجی مراد خان‌کوکی حیل .حاجی ښایسته گل خان سیدکشمیر شاه قاضی لعل‌محمد، نوردادشاه اکاخیل نواب خان، میرحسین خان، مرحوم حاجی فضل‌کریم خان، کمبرخیل باغشاه خان، او ځینو نورو قومی‌مشرانو په رهنمایی دپښتونستان په لار کښی نه هیردو نکی خدمتونه‌کړی دی اوکو ی اوتر څوچه‌پاکستان دپښتنو حقه حقوقو او آزادی ته‌غاړه‌نه‌وی ایښو دلی خپلو مبارزو ته‌به دوام ورکوی .



ACKU



دتیراه بنایست په‌خوله کی دحا جی‌مراد خان کوکی‌خیل‌اپریدی دکورنی،
پاکستان لخوا په‌بمـونو دورا نشوی کلی یوه ځنډه .



حاجی مرادخان کوکی خیل اپـریدی

# دوهمه برخه

## دتیرا جغرافیایی حالت ·

تیرا هغه ښکلی او ښایسته ملکدی چه دطبیعی مناظر ودلر لو لــه کبلهساری نلری اوټول غرونه یی‌پهشنو ځنګلونو پټدی چــه دغه‌زمکه دآسیا پهلوی براعظم کښی دطو ل‌البلد د۷۱ درجو ۲۵ دقیقو او ۷۰ درجو اودعر ض‌البلد د۳۳ درجو ۴۰دقیقو او ۳۴ درجو پهمابین کښــی موقعیت لری .

## ثلور خواوی :

غرب‌ته‌یی دکرمی ایجنسی .ختیځ‌ته‌یی دپښتونستان دپیښور عـلا قه اوشمال ته‌یی دکابل دریاب اوسپین‌غراوجنوب ته‌یی ورکزی او دکوهاټ عـلاقی واقع‌دی .

دتیرااټول مساحت ۹۹۵ مــربــع‌میل چه‌په هر مربع میل باندی ۳۰۳ تنه رسیږی . دبحر سطی څخــه په‌عمومی توګه ۱۱۸۳۰ متره جګوا لی لری .

نفوس : ۳۵۱۰۳۱۹ چه په هــرمربع میل‌باندی ۳۰۳ تنه‌استو ګنــی ګنجایش لری .

## مشهور غرونه او ځنګلونه:

سپین غر : دتیرا دمشهور غــروڅخه یوسپین غردی چه ددی غــر ه شمالی ته‌شنواری او ځنی نــو رقومونه او جنوب ته‌یی دتیرا داپریدو توریالی قبیله واقــع ده چه دغه‌غــر په‌تیرا کښی دمورګی په‌نوم‌یادیږ ی

چه‌دغه مورګه دکوکی خیلو شما لــی‌غربی برخی څخه دزیارت تر ســره پوری چه دسپایی قبیلی برید د ی‌رسیږی اوځینی نوری برخی هم‌تری جدا شویدی چه‌یوه سلسلــه یــی دشنوارو او اپریدو ترمنځ حدفا صل تشکیل کو ی‌اوددی سلسلی غرونه‌په هرځای کښی ځانته بیل بیــل

نومونه لری اوبله سلسله یی چــه دننګل با غ کنډو څخه شرو ع‌کیږی اوترکجوری پوری رسیږی ·

ددی غره‌مهم کنډونه دادی‌چه‌دتیرا څخه افغانستان ته‌پری لاری ښکتــه



ACKU

شویدی لکه‌دنری ناوکنډو. ګردم کنډوسپنکی کنډو .دریخ محمد کنډو . سلیمی کنډوسپینکی تنګی کنډوزیارت سرکنډو .مزتل کنډو .ټانګی کنډو تابی کنډو ښځوبی کنډو دکاپر دری‌او ژیړ کنډو نه‌دی .

تور غر . دوهم لوی غر دتـو رغره په‌نوم سره مشهور دی چه‌دباړی دری جنوب تـه وا قـع دمیـدان ا وخیړی کنډوښخه شروع کیږی اوتر کجوری یعنی داکاخیلو میره پـوری‌رسیږی یوه سلسله یی‌تر اخـو ر دری پـوری اواخیـر دمحـکـو م‌ـپښتو نستان دچپراټ دغرو سلسلی سره وصل کیږی ددی غره سلسله‌داپریدو په‌هره قبیله کښی ځا نتـه مختلف نمونه لری .

هغه غرونه چه داپریدو په بیلـوبیلو نومونو کښی په مختلفو نومونو سره یادیږی دمور ګی اوتور غـر هسلسلی دی‌لکه . سمانه‌غرچه‌دکوهات او تیرا ترمنځ‌واقع دی‌چه پـــد یغره دانګریز سره سخت جنګو نـه شویدی .

۲ـډوګله غر : دتوتکی او تـیرا ترمنځ چه‌دلته هم دانګریزا نـوسره سخت جنګونه شوی دی او ښکلـی‌ځنګلونه لری.

۳ـ بڅی غر: په‌کجوری کښـــی‌پروت چه سلسله‌یی دسور غر هسره لګیدلی ده‌چه دانګریزانو په‌وخت‌پری‌عسکری ټانی‌جوړی شوی اوداپریدو او انګریزانو پد یغره ډیر جنګونه‌واقع‌شویدی .

٤ـ چـراټ غـر: لـه‌اخـور دری‌شروع اوداټك تـرپـله تیـر شوی دی.

٥ـ تنګ بصری غر : داخـــو ردری اوکـوهـاټ تـرمـنـځ واقـع دی.

٦ـ نری غر: دجم ښخه‌تر علـــی‌مسجدپوری پروت دی.

۷ـ جلودین غر :یو سرییی کر می‌ته لګیدلی اوبله حصه یی په‌اپرید و کښی واقـع ده .



ACKU

دتیرا دمورگی یوپه زړه پورې ښائسته منظره چه د پښتو نستان یوه لویه جرگه هم پدې عکس کښې لیدله کیږی .

۸ـخرونی کنهو : د خمکنــو اوا پریدو تر منځ واقع‌دی.
۹ـمراجی غر : دخمکنو اواپریدوترمنځ پروت‌دی .
۱۰ـ شالمار غر :داکاخیلو اوکمړخیلو ترمنځ‌واقع‌دی .
۱۱ـ دامیر خولی غرچه‌غرب ته‌یی کمړ خیل اوشرق ته‌یی زخه‌خیـــل واقع دی اونیم دسپاه‌اونیم دزخه‌خیل‌قوم‌دی.
۱۲ـ جنهو غر : چه‌په غـلا م‌علی کښی واقع‌دی .

۱۳ـ مونهه غر :دکمر خیلو ا وزخه خیلو ترمنځ واقــع دی‌اوهــم د تخنکی غردی چه دکمر خیلو په‌برخه کښی او شمال غربی بر خه یـــی دسپایو سنهه پل سره لگیـــدلی ده.
۱٤ـ روتهی‌غر دکمر خیل اوکوکی‌خیل ترمنځ واقع‌دی.
ـ۱۵ شاکوټ‌غر چه‌داکا خیـلواوزخه خیلو ترمنځ واقع‌دی اودا سی نور غرونه لکه‌تبی اوکټه کانی غـردلوتهی غروغیره .
۱٦ـ برچه غر دکمر خیل . ملک‌دین خیل اوکوکی خیل ترمنځ واقع دی.

## ځنگلو نه :

دتیرا ټول غرونه‌پښنوونو پټ‌دی‌اواکـثره ونــی یـی دکـال پــه‌هــر موسم کښی شنی اوپانهی‌نه‌تویوی‌اوونـــی‌یی .څیړی ښاونه .نښتـر. لمنځه .گور گو ره.شنی.ماماڼی.غوړاخی. شمشاد . لغونی.املوك .انگور غوزان .مندتی .سرپ . غوزباگـــان.ترجه‌گی .وړه‌ونی .پلوسه .غـو ړ وشتـــی اوداسی نور. دنښتر.لمنځی‌ښاونه . څیړی څخه‌په تعمیرا تـــی چارو سربیره دسوز ولو سکا ر وجـوړولو دپـاره هـــم استفـاد ه کیږی .

## مشهو ر سیندو نه :

۱ـدباړی توی: چه‌دمیدان دبـاغ‌دچینو اوشا وخوا غرونو څــخه سر چشمه اخلی او شلو بر څمکو ته‌له‌اوپه‌کولو وروسته ددوه توی په‌برخه چه دکوکی خیل قبیلی بریددی‌راجگل‌توی چه دمور گی (سپین غره )څـخه راوتلی ورسره یو ځای کیږی اومخ‌په‌ختیځ جریان پیداکوی داهم بایدزیاته شی چه دباړی مشهوره دره هـــم‌له‌دوه توی څخه شروع کیږی دغه توی داپریدی قبیلو تهلوشاوخوا څمکوته‌ترماماڼی پـو ری اوبــه ور کـوی اودباړی دره په‌همدی سیند باند ی‌آباده ده. دمـاماڼی په‌برخه کښـی‌د

خاونلی توی چه دورکزوله خاور ېخخه راوتلی یوځای کیږی وروسته تردی چه دعلم گودر ځمکو تــه اوبه ورکړی دمحکوم پښتونستان عــلاقو پیښوورته ننوزی چه ددی ځای دځمکو دخړو بولوڅخه وروسته دابــاسیند سره یو ځای کیږی .

دباړی دتوی معاونین لکه دتــورودری اوبه پکدال اوبه .دڅوښس اوبــه اوداسی نوردی .

۱ ــ دبادبن توی : دبادبن څخــه شروع شوی اوپه سده وتلی اوپــه اخیر کښی دځاځیو داو بوسر ه یوځای کیږی .

۲ــدکړمان توی .دغه‌هم له‌باد بن څــخه وتلی اودکړمان په عــلاقــه د ځاځیو په‌اړ بوگډیږی.

۳ــ ریږنده توی . دسپین غــر ه‌څخــه راوتلی اودکړمان په تـــو ی گډیږی .

٤ــدگنداوتوی . له‌گند او څــخــه‌راوتلی په‌مخړنی کښی دکړمان‌داوبو سره گډیږی .

٥ــ دگوندل توی . دا وی در ېخخه راوتلی دخرمانی داوبوسره یو ځای کیږی .

٦ــ دلوزکی توی. دلوزکی څخــه‌راوتلی او دهلی په ځای دخرمانی د اوبوسره یوځای‌کیږی .

۷ــ دچور ېتو ی .له‌چــوری اوبازار څخه شروع کیږی‌اوجمرود ته وتلی دی.

۸ــداکا خیلو توی . چه‌داکا خیلوڅخه‌دورکزو په‌بزودې وتلی.

۸ــ دعلی مسجدتوی چه‌دخیبر ددری څخه مخ په‌ختیځ جریا نلری او داسی نور .

آب‌اوهوا :

دتیرا اپریدو ځمکه څر نگه چه‌په‌ځنگلونو پټ جگ غرونه او دغــرو ترمنځ پراخی دری او وادیگــا نی لری نولدی کبلــه دتیرا آب وهوا هــم نسبت دهری برخی دموقعیت پـــه‌لحاظ فرق پیدا کوی یعنی هغه‌برخی چه‌دبحر سطی څخه دوه زره مــتره‌جگی واقع دی ژمی یی ډیر سوړ او په‌اوړی معتدله آب وهوالری‌لکه‌میدان‌وړان اودکوکی خیلو راجگل دره او نوری دری یی چه‌دسپین غره جنوب‌ته واقع دی اوهمدا ډول غلام علــی

تخنکی. سنله پل. بغری او ځینی نوری برخی .

مگر هغه برخی چه دغرو په مابین کښی تیتی واقع شوی او پر یی گرم اوژمی یی معتدله آب وهوا لری لکه دباړی دره چه ددوه توی ځخه شروع اومخ په ختیځ اوږده شوی او دمحکوم پښتونستان دپیښور تر سیمو پوری رسیږی . دبازار وا دی چه دباړی ددری شمال اودشنوارو. شلمانو . ملاگورو . جنوب ته وا قعده او خیبر دره او کجوری په اوړی توده آب وهوالری چه حتی دتودخی درجه پدی سیمو کښی دسانتی گراد تر ٤٨ درجوپوری په ځینو کلو کښی رسیږی او ژمی یی بیا معتدله آ ب وهوا لری او په ژمی کښی پدی گرموسیمو واوره نه اوریږی او کـه بیا کوم یوکال وشی ډیره کمه وی اوژر اوبه کیږی چه حتی تر یوی ورځی زیات دوام نه کو ی.

دتیرا آب وهوا په عمومی ډو ل معتدله او ځنگه چه دتیرا علاقه دهند بحرته نژد ی واقع نو دهند دبحرداوبو دبخار په وجه دتیرا په علاقه موسمی بارانو نه کیږی نو همد غه وجه ده چه تیـرا پـه هـر مو سم یعنی دجون دمیاشتی ځخه تراکتوبرپوری دځلورو انچو ځخه ترپنځه انچو پوری باران اوری اودجون او اپریل دمیاشتو پـه منځ کی ترځلورو انچو پوری باران اوری.

اوتیرا دکال اکثره وخت په وریځو پټ او په هرموسم کښی باران اوری.

مشهور ی میوی یی لکه انگور .(کور ) مندتی ، خاتور ی، غوزان ، توت، گورگوری ،ماماڼی ،شنی،مڼی الوچی ،مـالټه، سنتره ،نارنج،لیمو خاونلی ، اوپرگی دی .

## حیوانات:

حیوانات یی دوه ډوله دی.کور نی اوو حشی.

کورنی حیوانات : حیوانات یی عبارت له میښی . غوایی . گډی . وزی. کچر .خر اوښ چه په اوښانو.کچرو اوخرو دتیرا په علاقه کښی دحمل ونقل دپاره ورځخه کاراخلی چه دیوځای ځخه بل ځای ته پـری خپلی کډی بارکوی اود اپریدو قبیله ټـول صادرات اوواردات محکوم پښتونستان اوافغانستان ته د همدی حیواناتـو په ذریعه وړی اوراوړی مگر په ځینو ځایو کښی دموټر وپه واسطه دخپلووړلـوراو ړو چاری اجراکوی لکه دخـیبر دره . کـجـوری او اخـور د ر ی خلك.

ACKU

او دغوایانو او میښو څخه علاوه‌پردی چه دغوښو اوشیدو څخه یـې کار اخلی دحمل ونقل او د خپلــوځمکو دکرلو دپاره هم‌تری استفاد ه کوی .

ب: وحشی حیوانات : وحشـیحیوانات یی‌لکه پړانگ . یږه. کوږ دنگیر ،لیوه،کیدړه. غرڅه سورلنډی‌اونور ډول ډول خزندی او الوتونکی لری .

الوتو نکی : چه‌دغه حیوانات دوه‌ډوله دی‌چه یویی‌کوچ کوونکی اوبله ډله‌یی غیر کوچ کوونکی دی.

الف : کوچ‌کوونکی مرغان لکـه‌تور تکی. وراغان. کوتری. هیلی . زانی .توتی .ځاوخی اونور .

ب: دایمی مرغان لکه .کوتـره . زرکه. سیسی .باز.بانښه .شا هین ټپوس .مینوگره .چرچڼه کور نـی‌مرغان اونور .

# پیداوار.

## زراعت، نباتات اومیوی !

دترا ځمکی دوه ډوله دی یو یـی‌للمی اوبله برخه یی آبی چه للـمی ی نسبت وآبی ته‌ډیره زیاته ده‌دغـه‌ځمکی غوایو اوسنډه گانو په‌واسطه قلبه کوی او ځینی دماشین په‌واسطه‌هم کری .

آبی ځمکی دتیرا . شلوبر.راجگل‌باړی دره (دری نغری ) دبازاردچینی ځمکی دبرگ .الچی د علی مسجــدجمرود اوعلم گودر ځمکی او نو ری

ټولی للمی دی‌لکه میدان. وړان بازارخیبر .آدم خیلو داخور دری ځمکـی او کجوی مگر پدی وختو کښی‌دباړی‌درود څخه دوه نهرونه پورته کیږ ی چه‌یویی داکاخیلو په میره دمحکـو مپښتونستان تربرید پوری اوبله‌ویاله

یی دسپایو. ملك دین خیلو کمبـرخیلو اودکو کی خیلو دشاه کڅ ا و جمرود ځینی بر خوتـه دمحـکو مپښتونستان تربرید پور ی ځمکـی

پری خړوب کیږی او ددی دوه ویالوپهواسطه پورتنی ذکر شوی قومونه چه دهغو ی دځمکو ځخه تریږی کهدغه و یالی سر ته ورسیږی

ا قتصا دی و ضع به یی ښه شی په اپرید و کښی دللمی ځمکو ځخه یو حاصل اخستل کیږی مګردا بی ځمکو ځخه دوه حاصله لاس تهراوړی .

دابی ځمکو حا صلات یی . غنمجوار. اربشی . شولی . لوبیا .

سرهلوبیا،می،الوگان.شفتلی او نورډول ډو ل سبز یجات کر ل کیږی .

پهللمی ځمکو . غنم .وربشی .دلوبیا کورنی او الوگان کرل کیږی

چهپه محکوم پښتونستان پیښو رکښی دتیرا الو گان ډیر شهر ت لری .

د تیرا په علا قه ځینی طبیبوټی لکه سپ رکی. کا ږه و لینی، سپیغول .زیره او داسی نور پهطبیعی توګه شنه کیږی .

# دريمه برخه :

## اقتصادي وضع :

**صنعت :**

صنعت یې دوه ډوله دي يولاسي صنايع اوبل ماشيني صنايع.

**الف : لاسي صنايع:** څرنګه چه اپريدي ډير زحمت کښ اوخواري کښ خلك دي نو دوی زياتره شيا ن دلاسو په واسطه دخپلو اقتصادي مشکلاتو درفع کولودپاره جوړوي لکه مختلف ډولونه اسلحه چه په اخوردره . علم کودر .جم تيرا او داپريدو په هرقوم کښي ځاي په ځاي جوړيږي په اپريدو کي تو پو نه اوماشينګړي هم جوړيږي .

همدا ډول دمزرو شيان دلرګي څخه جوړ شوي شيان او داسي نو ر جوړوي چه مهم لاسي صنايع يې اسلحه جات تشکيلوي .

**ب : ماشيني صنايع** .په ځينوځايو کښي دماشين په واسطه لر ګي اره کوي اودتيرا په علم کودر . جم کښي دسنډي رخت ابدلو فابر يکې جوړې شويدي چه حداکثر سرما يه د پښتونځابيانو ده او هم دماشين په واسطه چه دخارج څخه يې وار دکړيدي په اخور دره کښي د اسلحو ځيني مهمې پرزې جوړوي چه دلاس په واسطه دهغوی جو ړول ز حمت او ډير وخت غواړي او هم داسلحو دارو مرد کي دماشين په وا سطه جوړيږي .

## کانونه :

مهم کانونه یې لکه دتيږي سکاره دمرمرو کان او ځيني نور کانونه لري مګر تراوسه پوري پدې برخه کښي پوره پلټنې ندي شوي او دغه طبيعي ذخيري پټې پاتې شويدي خو څرنګه چه تيرا ساحه اوزمکه زياتره غريزه اوزيات غرونه لري که چيري په ځني توګه سروی شي زيا تامکا ن لري چه ډيرمهم کانونه به را څرنګه شي .

## صادرات اوواردات

دتيرا مهم صادرات دسو ي او دنعميراتو لرګي چه زياتره یې محکوم پښتونستان پيښور او دسوزو لـولر ګي اوسکاره يوه اندازه افغانستان ته صادرکوي . په تيراکښي جو ړې شوي مختلف ډولونه اسلحه. کچالو دنداسه ، غوزان. الوګان. اپيو ن.ګرده . پوستکي اوداسي نور .

واردات یې . دخوراك . پوشا کاونور ضروري مواد دي .

ACKU





دتیراه په اپریدو کښې داسلحې جوړولو دفابریکې یوه څنډه په دې عکسو نو کښې لیدل کیږي .

## دنیرا مشهوری، وادیگانی، مشهور کلی، تجارتی مرکزونه . بازارونه او مهمی لاری :

۱- دخیبر دره : داهغه باعظمتـه‌اوتاریخی دره ده چه‌دخیبر دری هره ټره او کاڼی یی دڼبوت ګوا هـــی‌ورکوی . پدی دره زیات تنها جـــم ګوونکی تیر شوی‌دی چه هغه ټـول‌دتاریخ په‌پاڼو کښی په طلایی رنګ لیکل شوی دی .

دخیبر دره دجمرود څخه ترافغانی‌تورخم پوری راغزیدلی چه دجم څخه ترعلی مسجد پوری کوکی خیل قوم‌په‌کښ ویشته کی تقریبا دده میلـو څخه لږ څه‌کم ملك دین خیل ا وورپسی دزخه خیل توریالی قـو م تر چرو ازګی پوری پراته دی‌وروسته‌لدی دشنوارو . ملاګورو او شلمانو قبیلی تر افغانی تـور خـم پور ی‌پراتی دی.


دخیبر ددری اوږدوالی ۲۰ میله‌اوبه اوسط ډول اته میله پلنوا لـــی لری یعنی که‌په لنډه توګه وو یـل‌شی دخیبر په دره کښی اپرید ی . شنواری . شلمانی او ملاګور ی ا وسیږ ی. دخیبردری اهمیت‌ددی‌لاندی دوه بیتـه شعر څـخـه وا ضـــح‌کیږ ی:

دکوڅی ګوټ به‌دپری نږدم رقیب ته


اپریدی‌یمـــه مغـل ته خیـبر نیسـم

دخیـــبر دره خـولارد تلـو ر اتلو ده

پیښوراو پـه کابل کښی افغان یو د ی



دخیبر ښکلي دړی یوه څنډه



د خیبر دری یوبل په زړه پوری عکس

۲ـ دمیدان وادی : د و ه توی‌نه ترخمکنو پوری پلنه پراته شما ل ته‌یی دکو کی خیلو را جگل ختیـځ‌ته‌یی باړه تختکی اوسنله پل غرونه پراته‌دی . جنوب ته‌یی دتور غر هسلسلی اولوید یـځ ته‌یی د خمکنو سیمه ده یعنی دمیدان وادی ۲۵میله‌اوږده اواته میله سور اودبحر سطی څخه ۲۰۰۰ زره گزه لوړه وا قـع‌ده.باغ جومات په‌عصری ډول جو ړشوی آهن‌پوش دقومی غـونډ ومـرکـزاودتجارت اومیلی مهم‌مرکزدی.

۳ـ دبازار وادی : دسره غره دمنگل‌باغ کنډو. تابی‌کنډو خخوبـی کنډو. زیړاو دالچی دغرو نو پـــه‌سلسله اوسور غره په مـنځ کښی پراته ده.

٤ـ دباړی دره : ددوه توی څخـه‌ترماماڼی پـوری په‌تخمینی ډول ٤٧ میله اوږده اوپه اوسط ډول ۱۵ میله‌پلنه دتور اوسره غره په‌مابین کښی دلویدیځ نه دختیح خواته اوږده‌پراته‌ده.

٥ـ دراجگل دره : ددوه توی څخه‌شروع دمتوترغره اوخړولی کـنډو پوری رسیږی .

٦ـ بله دره دکابل سیند په‌نوم‌دزه چه‌دناگمان دسیندښی اړ خ تـه دحیدری کنډو . تور څپر اوسپینی‌خوکی تر غـره پوری اوږده شو ی ده .

۷ـ سوکانی دره: برسرتـه یـی‌غریبی دره وایی چه‌دکو کی خیلـو قوم پکښی اوسیږی اوپه اخیر ی‌برخه کښی‌یـی سو کـانی مسوزی او سیږی چه‌دورکزی قوم طا یفـی‌دی .

۸ـ بگومیلودره : پدی‌دره کښی‌د کـمبـر خـیلـو قـو م خلـك اوسیږی .

۹ـ لوزکی دره : چـه‌پدی در ه‌کښی هـم کمبـر خیـل استو گـنه لری .

۱۰ـ دتمبو اوخواجه علی دره :چه‌په پورتنی برخه کښی یی کمبـر خیل اوسی اونور ه ښکته برخه‌کښی‌یـــی نـو ر ی طایفـی ا ستو گنـه لری .

۱۱ـ کیمل بازه دره چـه یـو ه‌برخه یی‌په‌اپریدی‌طایفوپوری‌اړه‌لر ی اوپه بله برخه کښی یی پر ه خمکنی‌دی.

۱۲ـ خوجل خیل دره : پدی دره‌کښی کمبر خیل قوم ا ستو گنـه لری .



ACKU

۱۳ـ ځوخ دره : پدی دره کښــی کمرخیل قوم اوسی .

۱٤ـ دوربی خیلو دره : چه پدی‌دره کښی کمبر خیل اوسیږی .

۱٥ـ بوټن دره: دلته دکمبرخیلو قوم اوسیږی چه دبټن مشهور مولوی هم پدغی دره کښی اوسیده اوپه همدی ځای کښی دفن شوی دی .

۱٦ـ نرهاو دره: پدی دره کښی کمبر خیل اوسیږی .

۱۷ـ تــور دره : پــدی دره کښی کوکی خیل اوسیږی .

۱۸ـ پکدره :چه پدی دره کښی هم کوکی خیل میشته دی .

۱۹ـ نرگوس دره :چه پدی دره کی سپائی اوسیږی .

۲۰ـ ددری نغرو دره. چه پدی‌دره کښی سپایی استوگنه لری .

۲۱ـ دسکوندری دره .چه پدی‌دره کښی دسپائی قوم اوسیږی .

۲۲ـ دماتری در ه: چه‌پدی دره کی‌جنوبی برخی ته‌اکاخیل قــوم اوپــه شمالی برخه یی دزخه خیل قـــوم‌اوسیږی .

۲۳ـ اخور در ه: چه پدی‌دره کښی آدم خیل قوم میشته دی .

او ځینی نوری وړی وړی دری هم‌لری چه دذکر وړ نه‌د ی.

## مشهور کلی او دجرگو ځایونه (مرکزونه) :

بتهن .لعلی کڅ. باغ .دوربی‌خیل، خوجل خیل ، میرچه پور ، نرهاو.فتح زیارت . شمشی .شنگیړ، مندتوکڅ. جنـگی. کولاخیل کـر نـه خیل دختوچینه ، جندا چینه .لنډی کـڅ، شلوبر، تندقدم، کڅ، ډونگه. توی، درس، فرید خیل- رزی کور چینه-توتو زیارت، کورخن، سروخه،لنډور کوټی زیارت، دوه توی ، خائیست ،تور دره، مخړنی خوله،گړی منځخی، څوخ خوله، ترخو کڅ ، تختکی،غلام‌علی، سنډه‌پل، بغری، نرگوسی‌خوله سپین درند، سندانه ،کنـډو ، دری‌خوله، بوکاړ، توره ویاله، مستك ، اخونزادگان، ا... گلی خیل سدکچهل گزی،ایساکی، بارکی،غیبی‌نیکه



دتیراه داپریدو دجرگی یوه منظره چه‌مولوی دین‌احمد خان ئی‌هم پەمابین کښی لیدل کیږی.

ډنډوکی، خوی سری.ـ شیخ نیکه، لګړی زیارت ،شین کمر، سوی کوټ ماماڼی، ګنداو میره، سره ویالـه ،خپری، سره‌لګړه دری‌غابښی، ټـبـی، خوړ، کاګرنه، زیړ ،خړی‌میله ،برکاڅه، کرمنه‌چوره سوړتالاب، زین‌تړه علی مسجد، شاه‌ګی لاله‌چینه، ځمرودولی‌بابا بزرګه بیره، موخی‌ډنډه، یو سف‌تالاب، علم‌ګودر، زاو، نوی‌ګاری، ددری ادم خیل ،کولی وغیره .



دباړی ترخوپه کڅ‌کی داپریدو جرګه دغونډی په‌حال چه‌لویدیځی غاړی ته‌ئی دبری باړی ښائیسته منظـره‌لبدله کیږی

## تجارتي مرکزونه اولاری :

دتجارت مهم مرکزونه یې اخور دره کوچني بازارګي دي چه داسلحې دتجارت مهم مرکزدي اوبې فیلوبست هرشې پکښې په ازدانه توګه پلورل کیږي .

دوهم علم ګودر چه داهم داسلحې جوړولو مهم مرکز ځيني وړې وړې شخصي درخت اوبدلو فابريکې چه دپنجاب دخلکو په مالي مرسته جوړې شويدي داپريدو اوخصوصاً بیادسپائي قوم دپاره دکار کولو ښه موقع شته او دعلم ګودر په ساحه کښې دوه نوي کوچني بازارونه داپريدو له خواجوړ شويدي افغاني سامان چه دمحکوم پښتونستان او پاکستان په نورو ښارونو کښې نشي خرځيدلای دلته خرڅيږي اوهم دهر زيارت په ورځ پدې ځايو کښې لويه ميله جوړيږي چه دغه داپريدو ډير مشهور اوتجارتي مرکز ګرځيدلی ځکه چه داکثرو اپريدو او ورکزو قومونه په همدې ځای راجمع کيږي اوله همدې ځای څخه پيښور ته، ځي راځي اوهم دباړې په رودچه لرکي راځي دلته خرڅيږي اولدې ځای څخه بيا محکوم پښتونستان .پيښور او نورو ځايونو ته وړل کيږي .

دريم دجمرود بازار چه دلته هم داسلحو جوړولو او رخت جوړولوځو کوچني شخصي فابريکي موجود دي اودکوکي خيل قوم ملکيت دی خيبر دري سرك هم ددی بازار له منځه تير شوی او خيبر دروازه ورته ويله کيږي .

څلورم علي مسجد چه دلته هم يو کوچني ښائسته بازار چه داپريدو د لرګو خرڅولو منډئي او داپريدو دضرو ر ت وړ شيان مو جود اخستل کيږي او دعمومي سړك په غاړه چه خيبر څخه پيښور خواته ځي جنوبي اړخ ته واقع دي چه خورا پخواني تاريخي شهرت لري .

دخيبر په دره چه کوم اپريدي قومونه واقع دي دهغوی وضعيت ښه دي او دلارو او موټرو په واسطه مالونه افغانستان او افغانستان څخه محکوم پښتونستان پيښور او پاکستان نورو برخوته وړي راوړي او دلارو (چکړو) او بسونو تعداد ئي شپږ سوو(٦٠٠) څخه هم زيات دي .

پنځم. باغ چه داپريدودجرګومرکزاوهم يولوی عصری اهن پوش جامع مسجد جوړ شويدي پدې ځای کښې هر جمعه ميله کيږي اوهر قسم سامان چه سړي وغواړي پدې ځای کښې موندل کيږ ي چه دغه ځای دملك دين

خیل قوم ملکیت دی .

داپریدو مهمی لاری له همدیځای څخه شروع کیږی چه پړه څمکنو ته
هم تری په هرکنډو لاری تللی د ی او یوه بله لار په ورکزو سری میلـی

او بیزوټ ته تللی چـه کوهـاټ واخود دری‌تـه وتلی. بله لارپه وړان
تللی چه هم ورکزو ته ځی او هم بیا د باړی دتورغره لاری‌سره یوځای‌شوی
ده

او داپریدو ډیره مهمه او لویه لاردباړی لارده چه‌میدان باغ‌څخه‌شروع
او ددوه توی په حصه کښی دکوکی‌خیل قو مدراجگل لار هم ورسره یو
ځای کیږی دترخو دکڅ سره په دوه برخو ویشل کیږی چه یوه لاریې د

تور غره په لمنو کښی دخوخ په‌خوله ننوتلی او بیا په سرکو چه کمرخیل
او سپائی قوم شریکه پوله ده دسپائی په ځمکه‌کښی تللی اوپه کټه کا ڼـی
ورښکته شوی دزخه خیلو اکا خیلو ورکزو په لار ورغلی دماماڼی په برخه

کښی په دوو برخو ویشل کیږی داکاخیلو دکجوری په میره او بله د
ماماڼی دسپائی قوم په ځمکه کښـی په گنداو کجوری ته وتلی‌چه علم‌گودر
ته رسیږی او په اخیر کښی دمحکوم پښتونستان پولی ته رسیږی .

او بله لار دسپائی په علاقه کښی‌ځی چه ځینی لاری تر افغانستان تـه
راغلی دی‌لکه دنرگوسی‌لار وغیره‌بیا دسنډانی په‌برخه کښی په‌دوه برخو
ویشل‌کیږی چه‌یوه‌لار په‌منگل‌باغ‌بازارته تللی چه‌دتبی کنډو.څخوبی‌کنډو
لاری تری جدا شوی ډکی او دور باباچه افغانی خاوره ده وتلی دی .

بله لارتری‌په‌زیړتللی چه‌لنډیکوتل(لواړگی) ته رسیږی .

او همدا دبازار لار دبازار په وادی کښی ترگاگرنه پوری مخ په ختیځ
دزخه خیل قوم په ځمکه کښی تللـی‌بیادالچی. کرمنی اوبرگ لاری تـری
جدا چه خیبر او علی مسجد ته وتلـی‌دی .

او په اخیر کښی په چوره چه‌ملك‌دین خیل اوسیږی علـی مسـجد او
جمرو دته وتلی ده .

او دباړی دری بله مهمه لار چه ددسنډانی څخه په دری مستك اواړینه



ACKU

ورغلی داړینی په برخه کښې بیا په‌دوه برخو ویشل کیږی یوه په سم
توی دباړی په دره وتلی اوگلی‌خیلو او لوټی سره دتور غره دلاری سر ه
یو ځای کیږی .او بله دسره غره لارچه په غیبی نیکه .شیخ نیکه لکړی
شنه کمرته رسیدلی دلته بیا په دوه‌برخو ویشلی یوه‌په‌بړه ماماڼی‌ته‌وځی
اوبــله دشنه کمر دکــنډو خخه لــړخه راښکته بیا په دوه برخو ویشلی
چه‌یوه میری بازگړی چه‌دکمر خیلو تجوری ځمکه ده رسیدلی ده اوبلــه
یی په شنه کمر کنډو نویی ته وتلی‌چه دملک دین‌خیل خاوره اویوکوچنی
بازار گی دی وتلی .سره ډنډته وتلی‌دسپاہی په ځمکه علم گورد کښی د
ډوگری سره دگنداو دلاری سره یــوځای او پــه اخیــر کښی دمحکــو م
پښتونستان . پیښور بریدته رسیدلی‌ده .



دتیرا د اپریدو یـوه لویه قومـی‌جرگه دقومی تړون پهوخت کښی ٠



د تیرا د اپریدو دغرو نو دو ځنگلونو یو ښا ئیسته عکس ٠

## اجتماعي وضعیت :

### داپریدو نفوس ،ژبه ،دین،اومهم دودونه :

دتیرا خلك ډیر ښائسته اودلوړقدونو خاوندان یعنی تقریباً پنځـه
نوی فیصده دخلکو کړه وړه یې ډیرښه او مناسب دی .

دتیرا اپریدی ډیر میـړانـی اوجنګجو چه ددوی د مهموجګړوبحث
داپریدو په تاریخی برخه کښی ذکرراغلی دی او سر بیره پـردی پـه
میلمه پالنه کښی جهانی شهـر تـلری او داپریدو هری حجری یـــا
مسجد ته چه نابلد او مسافروړشی‌تر درو ورځو پوری خوك تری هیڅ
پوښتنه نه کوی چـه څـه کوی اووروسته له درو ورځو فقط دومـر ه
قدری پوښتنه کوی چه دکوم ځـای‌او دڅه کار دپاره راغلی یاست نـو
اپریدی چه هر څه طعام په کور کی‌لری دمیلمه څخه یی نه دریغ کو ی
او دمیلمه مخی ته یی وړاندی کو ی‌اوعلاوه لـدی څخه دهریو خارجـی
دولتو لوی شخصیتونه چه دخیبـردری څخه تـیریـږی یـو ګـډ وری
ورکوی چه دغه رواج دډیـر پخـواڅخه پدی مشهوره دره کښی رواج
موندلی‌دی. داپریدو ملی‌لباس‌دنارینه‌کمیس، پرتوګ، واسکټ څادر،لنګی
خولی او ربړی څپلی دی اود ژنا نه‌لوی کمیس. پرتوګ دمیښو دځرمنی
څپلی او لوی څادر دی اوزیورات‌هم‌استعمال کوی لکه چارګل ـ پیزوان
تښی وښی ـغاړه نتکی ـاو ګوتـی

اپریدی د اسلام د مقدس دین پیروحنفی مذهب او ارین نژاده دی ټول
خلك‌ئی دپښتو سپیڅلی ژبه‌وائی .

ACKU

اپریدی ټول اته قومو نه دی چه‌په عمومی ډول ئـــی دنفوسو شمیر ۳۱۰۳۱۹ تنو ته رسیږی چه لـــدی‌جملی څخه ئـــی (۶۳۵۸۰ نارینه او

۱۳۷۷۳۹ ئې دښځو طبقه تشکیل‌کوی اپریدو د ټولو نفوســو څخـه

۲۹۹۶۲۴ کلیوالی ژوند تیروی او۱۶۹۵ تنه ئی ښاری دی او دښاری ټولو شرایطو څخه برخور دار دی .

علاوه پر دی داپریدو قو مونه یوه‌اندازه تعلیم یافته او پوه ځلمیا ن لری او د تعلیم سره زیاته علاقه لری‌په‌هغو برخوکی چه‌محکوم پښتونستان

پیښور ته نژدی واقع دی لکه خیبردره ،جمرود، علم گودر ،کجوری‌او آخور دره کښی ابتدائیه، متوسطه‌ښوونځی اولیسی هم لری.

داپریدو دنارو غو ابتدائی تداو ی‌په خپله په اپریدو کښی د وطنـــی حکیمانو په واسطه کیږی‌ځینی برخی‌ئی وړی وړی شفا خانی هم لری لکه

خیبر دره ، جمرود ، کجوړی . علم‌گودر او اخور دره او که په دی ځایو کی‌یی‌علاج‌ونشی نومحکوم‌پښتونستان‌او خپل‌ورور هیواد افغانستان تـه

تداوی دپاره ناروغان بیایی‌او‌تر‌علاج‌لاندی یی نیسی .

داپریدو دخور اك شــیان. غنــم‌وریجی‌جوار‌سبزیجات اونور‌ډول ډول

حبوبات دی او څنگه چه داپریدوټول‌غرونه په شنو ځنگلونو پټ دی نو

کورنی حیوانات هم ساتی او دهغوی‌دشیدو غوړو. غوښو اونورو موادو

څخه‌استفاده کوی چه ذکر یی‌دحیوانا‌تو په‌برخه کښی راغلی دی.دتیرا

اپریدی اکثره معا مــلات داسلام دمقدس دین اصولو اوخپلو قو مــی

مشرانو اوجرگو پــواسطــه حل وفصل کوی.

اپریدی ځینی مهم دو دو نه او رسم‌رواج لری چه‌دپیرو پیرو څخه ورته په میراث پاتی شوی دی او‌په لاندی‌توگه هریو جلا جلا بیان کیږی .

# دتیرا مشهور دودونه (کلچر)

۱ ـ واده : ـ

په اړیدو کښې دجلی او هلک نامزدی چه اړیدوپهاصطلاح ورته کوژده وائی یاد دواړه کورونو دخصوصی موافقی په واسطه صورت نیسی او یا دقبیلی څو سپین ږیری په جرگه ورولی جرگی ته که منفی ځواب ورکړی نو جرگه تری راځیاو که مثبت ځواب یی ورکړ چه دغه ته (واکی) وا ئی یویادوه پسونه پری حلال کوی او د

جینی مهراو خواږه معلوم کوی چهدغه یی دنامزدی مرحله ده او پدی موده کی یوځه اندازه دمهر پیسی دجنیی دپلار ته ورکوی چه دغه ته (سکنی) وایی مگرجلیاوهلك یوه بلسره رابطه نشی ساتلای ترڅو جلی یی واده کړی نهوی .

او یاوروسته له هغه چه لنډ موده وروسته وایی دلته هم دری یا څلور پسونه حلال کوی چه هلك اوجلیټول خپلوان حاضروی دجلی مهر او خواږه یی معلوم کوی په تیرا اړیدو کی مهرد ۱۵۰۰۰زرهافغانیوڅخه نیولی تر ۳۰۰۰۰ زره افغانیو پوری رسیږی او خواږه یی دلسو سیرو (چارك چه یو چارك یی تقریباء دری پاوه کیږی .)څخه تر۲۰ سیروپوری غوړی دشلو دړو څخه تر ٤۰ دړ وپوری چه په افغانستان کښی ورته (سیر) وایی او یوه دړی یی کابلپه تیږه دری سیره «چارکه» کیږی دجلی پلارته ورکوی او هغه بیا دغهخواږه خپلو خپلوانو او کلی ته ورکوی او داهم باید زیاته شیکه جلی وړه وی نو په هر اخترمکمل کالی دوه درې دړی وریجیاوخوږهوروړی او دغه کار دجلی تر بلوغ او واده کیدو پوری دوام کوی چه دغهرسم رسم او دود ته بخره (برخه) وایی .

دیوی کورنی خلك چه بلی تهورځی دجلی کورنی ورته مهر کم کوی او نقدی پیسی ورکویچه دیته پښه آزادی وایی اوکه دجینی د کورنی څوك ورشی (لوپټی) او دخپل قدرت په اندازه نغدی پیسی هری یوی ښځی ته ورکویهر کلهچه هلك کورنی په واده باندیازاد کړی نودهلك له خوا ورته کالیاو دواده ضرورت وړ مواد تهیه کیږی او هم دجلی پلار له خوا ورتهکالی او دکور ضروری شیان تیهه

کیږی چه واده شروع شی نودهلك په کور کښی یوه یـادوه ور ځـی
سازنده یعنی ډمان‌تماشه‌کوی اوټول‌خپل‌خپلوان‌اودوستان واده‌ته‌راغواړی

او دواده ټولو رغلو کسانوته دهلك‌له خوا ډوډی او چای ورکول کیږی
اوراغلی کسان دواده د ښښتن سره‌دخپل قدرت په اندازه نغدی پیسی

دکومك په ډول اچوی چه دغه پیسوته‌ټوله‌یاتاندره وایی‌نوپس دیوی‌شپی
یادوه شپو دسیل او ساعت تیـــری‌ښخه وروسته دجلی کورته نارینـه

بیل سره دساز او ښځی‌جدا سره دتمبل ورځی چه دی ته وراځی وایی
او دماسپښین دچای دخوړلو ښخـه‌وروسته بیا رارخصت کیږی مګـر

ته‌هغه‌یی نه‌راپریږدی چه نښه‌یی نه‌وی ویشتلی هرکله‌چه دنښی‌ویشتلو
مراسم پای ته ورسیږی نو وارځـی‌بیرته را وګرځی او پـه ساز اوډزو

کولو د هلك کورته راځی او ناوی‌په کچر یا اسپه سپاره راوړی او د
ښځو وارځی ورپسی داروانه وی.نوبیا لـه‌دی ښخه وروسته وراځـی

چه دهلك دخپلوانو او دوستانـــوښخه وی رخصت کیږی شالونه اویا
نغدی روپی د ۱۳۰افغانیو ښخه نیولی‌تر ۴۰۰افغانیو پوری‌رسیږی‌ورکوی

پس له دی ښخه‌چه جلی دهلك‌کورته‌راوړه او نکاح یی وتـړی بیا سره
خپل ګډ ژوندون ته دوام ورکوی‌او دواده ـښخه پس په پنځمه یا او مه

ورځ دجینی مور .خویندی او نـورخپلوان‌په‌ناوی‌پسی‌راځی‌اودځان‌سره‌یی
بیایی او ځو شپی دخپل پلار پـه‌کور تیروی کله چه راځی نو یوحلال

کړی پسه دځان سره داوړی چه دی‌ته داومی پسه وایی او بیا دغـــه
غوښه ټوټه ټوټه په‌کلی تقسیم کوی.

ACKU



د تیرا د غرو نو پوه بله په زړه‌پوری منظره .

ځه وخت چې دماما کورته ورشي اوبیا راځي نوماماڅي یامیړه اویا غوا ورکوي دغه هم بایدذکرشي چه دناوي دمیړه څخه دجلي پلار دماما دپاره لنګۍ یا پټکي اخلي چه د ۴۰۰ افغانیوڅخه نیولي تر ۲۵۰۰ افغانیو پورې رسیږي اوپه نتیجه کښي پدې ترتیب دواده مراسم پای ته رسیږي.

## دکوچني زیږیدنه اوسنتي :

په اړیدوکي څه وخت په یوه کورني کښي نارینه هلك پیداشي ټول خپل خپلوان اودوستان ئي دمبارکي دپاره راځي اوورته وائي چه هلك مومبارك شه اوخدای پاك دنیك عمله درته لوی کړي ددې مبارکي په وخت کښي ددې کورني هغه ښځي چه دباندې واده شوې وي چه دمړیدو په اصطلاح خورلڼې ورته وائي څه نغدې پیسي اوخوازه (خاني) پری ویش کوي دغه هم بایدهیرنشي چه دغه خورلڼې راځي دځان سره دنوي پیداشوي هلك دپاره کالي اویوه اندازه خوازه راوړي اودهلك کورني ته ئي ورکوي په اوومه ورځ ئي محمدي اذان په غوږ کښي کوي اونوم هم پری ایښودل کیږي .

څـه وخت چه ماشوم راشي اودهلك سترګي تودوي دلته ډمي ته دسلو افغانیو څخه تردوه سوه افغانیو پوري نغدې پیسي . خوازه (خاني) اوجامي ورکوي اوبیا چه ډمان راشي کـه تماشه یعني ساز پری کوي اوکه څوك ئي پری نه کوي ډمانو ته هم دوډۍ اوددری سوه افغانیو څخه نیولي تر ۶۰۰ افغانیو پوري نغدې روپۍ ورکوي . وروسته لـه دې چه دغه مراسم پای ته ورسیږي دری څلور کاله وروسته هلك سنت کوي اوسنتي کونکي یو څه اندازه روپۍ اوخوازه خلکوته چه دمبارکۍ دپاره راځي ورکوي اوهم کورني ئي یویادوه پسونه خیراتي حلال کوي اوپدې ډول دزیږدني اوسنتي مراسم پای ته رسیږي .

## مړی :

هرکله چه داړیدو په قومو کښي نارینه یاښځه مړه شي نوپـدې وخت دهغه قبیلي خلك دمړي دپاره دکفن، قبر کندلو اودقبر دپاره دلرګو اویا تیږو بندوبس کوي دمړي قبر کـه نارینه وي دسړي تر سره پوری ژور کوي اوکه مړی ښځه وي نود نارینه څخه ئي قبر په اندازه ژوروي اوبرسیره پردې دمړي ټولو خپلوانو اودوستانو ته خبر ورکوي ترڅو چه ټول خپلوان نه وي پری حاضر شوي مړی یوه شپه نه دفـن کوي ترڅو چه هغوی نـه وي راغلي اوکه مړی خرابیږي نوبیا ئـي دفن کوي .

هرکله چه مړی ته غسل ورکړي دماسپښین دلمانځه څخه وروسته ئي هدیری ته وړي نوهرکله چه مړی هدیری تـه یـوړل شی پـه ښځو بانـدی د

خپل قدرت په اندازه څوك روپۍ څوك ګوړه یامالګه ورکوي اوکه اقتصادي وضعیت ئې کمزوری وي دغه خیرات کوي اوښځې رخصت کېږي .

پس له دې چه مړی هدیری ته ورسېږي دجنازې لمونځ ئې ادا کوي اودجنازې دلمانځه دادا کولو په وخت څومره ملان اوخواران چه دجنازې په لمانځه حاضروي دخپل مالي قدرت په اندازه دلسو افغانیو څخه نیو لې ترسلو افغانیو پورې ملایانوته اسقاط ورکوي اوبیا مړی خاور ته سپاري څه وخت چه مړی دفن شي ددعا کولوڅخه وروسته په قبر باندې څوك نغدې پیسې پسونه ګوړه اویامالګه دخیرات په توګه خلکوته ورکوي دغه همدمړي په اقتصادي وضعیت پورې اړه لري که اقتصادي قدرت ئې کمزوری وي هیڅ نه ورکوي نووروسته له دې خلك یوځای دمړي کورته ورځي او دعاورته کوي چه ټول خلك رخصت شي دمړي کورته هغه نږدې ټول خلك د ماښام ډوډې راوړي اودمړي دورثې لخوا په تشو لوښو کې حلوا ورکوله کېږي بیادماښام دډوډې سره سم پسه څخه نیولې ترغوائي پورې دمړي ورثه حلال کوي چه دې ته (ماښامي) وائي مګردغه هم باید ذکر شي چه دمړي دریمې ورځې تر ختم کېدوپورې دمړي ټولي کورنۍ ته اوهغه میلمنوته چه تر دریمه ورځ پورې دعاته راځي ټول کهنارینه وي اوکه ښځې ډوډۍ اوچای ورته هغه نږدې خلك راوړي اود مړي په کور کښې هیڅ اورقدري هم نه بلیږي اوسربېره پردې تردېرې مودې پورې څوك ډېر ښادي اوخوشحالي په هغه نږدې کلیوکښې نشي کولای .

دمړي په دریمه ورځ څوك یوغوائي یادوه غوائي حلال کوي اوخلکوته ئې تقسیم کوي چه دې ته دمړي (دریمه) وائي اوزیاتره خلك دمړي تر دریمه پورې دعاته راځي مګر که مسافر یاډېر بېرته وي هرکله چه راشي دمړي دعاکوي اوځینې دوستان اوخپلوان ئې ددعا په ضمن کښې دځان سره پسه راولي چه دې ته (شل) وائي علاوه پردې تریوه کاله پورې چه څوك غواړي هره دجمعې شپه ډوډۍ غریبانو خلکوته اوورواشومانوته ورکوي.

په اخیر کښې دمړي چه پنځه جمعې تېرې شي یو بل خیرات کوي یاغوا ئې حلال کړي اویا وریجې اوغوړي دمړي کورنۍ د خیرات په توګه هغه نژدې خلکوته ورکوي چه دې ته (څلوېښتی) وائي که مړي میراث شي یعني هیڅ ئې پاتې نشي اوهرڅه میراث چه له دې هراسمو څخه وروسته پاتې وي دورثه په مابین کښې تقسیم کېږي اوپدې ټول دمړي دودپای ته رسېږي .

# ننواتــې :

ننواتې د سر ایښودلو تسلیمېدو د عذر او ښودلو پــه معنی استعمال کیږي .
ننواتې په تیراکښې دیو ډېر لــوی او مهم کار او ګناه په مقابل کښې چه څوک ئې مرتکب شي اجراکوي نو پدې اساس ننواتې په دوه ډوله ده عمومي ننواتې اودوهم خصوصي ننواتې :

## الف: عمومي ننواتې:

کـه د دوه قــو مـو پـه ما بیـن کـښې منــا ز عـــه وا قـع شــي مثلاً په غره او په نورو معاملو نو د دې ننواتې د مشهورو زیارتو او اشخاصو کورته په ننواتې ورتګ چه وروسته له هغې د دې ننواتې په واسطه د قومو دښمنۍ ښنبله کیږي چه د غه ډول ننواتې ته عمومي ننواتې وائي .

## ب: خصوصي ننواتې:

د مــړي ننــوا تــې کوم یو سړی چهـ سهواً او یــا قصداً بــل سړی مړ کوي نــو د قبیلې څو تــنه مشهور سپین ږیري او مشران او څو تنې ښځې یو او یا څو پسونه د مړي دیت چه د تیرا په رواج ورته ساز وائي قرآن شریف په سر د مقتول کورته ورځي او قاتــل خپل ځان تسلیم کوي او ورته وائي چه که ما وژني هم سر مې درته ایښودلی دی او که ښښي مې هم یعنې د خپل مرګ او ژوند اختیار د مقتول د ورثې په اختیار کښې ورکوي نو په تیرا کښې ډېر کم واقع شوي دي چه ننواتې نه وي منل شوي نو هر کله چه ننواتې و منل شي نو هغه پسونه چه وروستلي ئــې وي حلال کوي او دیت یعنې (ساز) ئــې د مقتول ورثې ته ورکوي چه د مړي ساز په تیرا کښې د ۲۰ زره افغانیو څخه تــر پنځوس زره افغانــیــو پورې رسیږي .

او که ننواتې قبوله نشي نو قاتــل او ورسره ټولــه ننواتې بــه بیرتــه راګرځي او په ټول ولس کښې غږ شي چه د مړي ورثې ننواتې قبوله نکړه ډېر بدکارئي وکړ او ټول قــوم او خپلوان پرې بدوائي او حتی ملامت ئې هم ګڼي نو وروسته له دې د مړي کورنې د قاتل په مرګ پسې ګرځي هر وخت او پــه هر ځای ئې چه پرې لاس ور سیږي خپله بدله تري اخلي .
مګر د قــرض ننواتې ، د خپلوۍ ننواتې او یادبندي نیولو ننواتــې او نوري دومره درنې نه وي لکه د مړي ننواتې .

### ۲ـ کټ پښه نیول:

کټ پښه نیول هم عیناً د ننوا تې حیثیت لري او څه وخت که د کوم سړي څخه سهواً مړی او یا بل داسې ناجایز کارشوی وي چه د پښتني عنعناتو مخالف وي نو د هغې کورنۍ د مړي کټ پښه نیسي او تر هغه ئې نه پرېږدي ترڅو چه هغه ئې بښلی نه وي او د کټ پښه نیولو په واسطه په تیراکښې هرڅول جرم بښل کیږي .

### ۳ـ تیږه:

تیږه دوه معنې لري یو د تول او وزن کولو په معنی چه د غه لفظ په تیراکښې ډیرپخوانۍ او س مروجه معنی ئې د دوه دښمندارو ډلو ترمنځ یا د فیصلې تیږه چه د روغې جوړې تیږه ورته وائي او یا د متارکې یاد ږبندې تیږه اینبودله کیږي. نود تیرا تیږه دوه ډوله ده :

۱ـ دنیتې تیږه او دوهمه د خبر تیږه .

#### الف دنیتې تیږه :ـ

هغه تیږي یا کانې ته وائي چه وخت ئې معلوم وي یعنې یا دیوه کال او یا د څو کلو دپاره وي او هم یوه اندازه پیسې چه د ۲۰ زره افغانیو څخه نیولې تر پنځو لکو افغانیو او د هغه تاوان چه مجرم مرتکب شی یوې کورنۍ او یا دوه مختلفو کورنو ته د دې تیږي او جریمې لاس ورکوي. د غو دوه او یا یوې کورنۍ چه د دوه دښمنو ډلو په مابین کښې ئې ضمانت کړی وي (ضامنګړي) وائي او دنیتې تیږه نه ماتیږي ترڅو چه هغه وخت نه وي پوره هروخت چه نیته ئې پوره شي بیا تیږه نوې کوي یا هغه پخوانی ضامنګړي په منځ کښې اچوي او که په هغوی ئې اعتبار نشي نو نور انتخاب کوي او ضمانت کونکو ته یو پسه ورکوي چه د پسه روپې تر پنځه زره افغانیو پورې رسیږي .

#### ب: دخبر تیږه:

چه په دې تیږه کښې وخت معلوم نه وي څه وخت چه دواړه دښمنې ډلې ووائي چه تیږه ماته شوه په هغه ورځ او یا شپه تیږه ماتیږي او ضامنګړیو ته خبر ورکوي چه زمونږ تیږه ماته شوه تاسو زمونږ د منځ څخه وتلی یاستې. نو د دې خبر سره سم خود بخود منځیګړي یا ضمانت کونکي



ACKU

دمنځه وځي اوبيا سره خپلي دښمنۍ ته دوام ورکوي دخبر تيره کښي دمړه تيره دواده تيره داختروتيره اودجرګي تيري هم شامل دي او برعکس ضامنګړی هم دخبر له کانړي څخه وتلای شي .

## بدرګه :

بدرګه هم دتيرا د خو را مشهورو دودونو څخه ده بدرګه تنها په تيرا کښي په خپل قوم اويا قبيله کښي چليږي او باندي له هغي قبيلي څخه اهميت نلري مثلا تول اپريدي اته قبيلي دي که ددی اته قبيلو څخه يو تن پخپله داپريدو اويا بيګانه سړی بدرګه کړی وی په هغه قبيله کښي هيڅوک څه ورته نشي ويلای اوکه بيا فرصا چا څه ورته وويل دبدرګي ښتن ته کوم مالي نقصان رسيدلی وی خپل مال ورکوی اوبدرګه کونکی دخپلي قبيلي په سړی پسي ګرځي هروخت اوهر ځای ئي چه پری قدرت ورسيږی هغه شي تری اخلي او که ورسره مړئي کړی بدرګه کوونکی تر هغه قاتل تعقيب کوی ترڅو چه مړی ئي تری نه وی کړی اوبدرګه تنها دومره وخت دپاره چليږی چه هغه قبيلي دخاوری څخه مجرم نه وی تيرشوی او دبل وخت دپاره بيا هغه سابقه بدرګه اهميت نه لري دوباره که بيا ضرورت ورته پيښ شي بيا بدرګه اخلي اودبدرګي په مقابل کښي بدرګي کوونکی ته تنها که څوک وغواړی يوپسه اويا دلاري دتګ چه بيکاره شوی وی اجورت ورکوی مګردغه شي جبری ندی .

## لوبني :

لوبني هم په تيرا کښي ډير رواج لري چه پخپله دتيرا داتو قومو خلك که وغواړی يوبل ته لوبني ورکولی شي اوهم ئي بيګانه خلك ورکوی اولوبني عبارت ديوپسه څخه دی چه دغه پسه د ۸۰۰ افغانيو څخه نيولی تر ۴۰۰۰ زره افغانيو اوتردی زيات هم کيدای شي لوبني دبدرګي سره دوه ره فرق لری چه بدرګه موقتي وی اولوبني دائمي اوتقريباً يوه پيړی دوام کولی شي او وروسته لدی که لوبني ورکونکی وغواړی دوباره ئي نوی کولای شي اود لوبني ور کو و نکی حق هغه قبيله کښي چه لوبني ئي پکی ورکړی دی څوك نشي خوړی اوکه څوك ئي په حق تجاوز وکړی نولوبني اخستونکی بدی هم پری کوی اوتجاوز کونکی دتيرا دعرفي قانون په نزدورته مسئول دی .

## چیغه :

چیغه هم د تیرا یو مشهوردوددی چه هروخت کومه واقعه لکه: مړی دبندی د قرض اوپور دواقعی چیغی چه نراوبنځی دواقعی ځای ته ځان رسوی اوپدی ټولو چیغوکښی دلښکر چیغه مشهوره اومهمه ده څه وخت چه په تیراکښی کوم ناجایزقتل اویامیراته وشی ټولی قبیلی پری را غونډی شی اوناغه تری اخلی که ناغی ورکولو ته چه دتیراپه پهدودکښی ناغه خپل حدودلری چه وروسته به ئی بیان شی ورنکړی نو یوناځاپه دقبیلو مشران فیصله وکړی چه په کلی باندی چیغه سر اومال ئی تالافوری په کلی ورځی که مری هم نه پری حصارین ی ترخوچه کلی ئی سوی اووران کړی نه وی که پدی وخت دلښکرمخی ته ورشی مرکوی ئی اومال ئی تالاکوی چه هرچا هرڅه دځان سره وا خیست دهغه وی .

## بونګه :

دیو چا څخه یو څه پیسی بی حقه اخستل بونګه ویل کیږی.

## ناغه :

نا غه د تیرا دپخوا نی دودونو څخه یوپخوانی دوددی چه په حقوقی اوجزائی معاملاتو کښی تری کار اخستل کیږی. ناغه دوه ډوله ده یادا چه ناغه دپخوا څخه معلومه وی او دوهم وروسته له جرم تعین کیږی .

الف: دجرم دواقع کیدو څخه پخوادناغی تعین لکه دځنګل ناغه چه د مربوطه قبیلی لهخوا تعین کیږی فرضا دیواوښ دښنو لرګو دبار ناغه ۸۰۰ افغانی دکچر ۴۰۰ افغانی دخره ۲۰۰ افغانی چه څه موده دغه جرم واقع شی دمجرم څخه تعین شوی ناغه اخلی اوداسی نوری لکه دلمانځه ناغه دروژی ناغه وغیره .

غیر تعین شوی ناغه: فرضا یوځای په ناحقه قتل اویا میراته وشی قوم پری راټولیږی اوهرڅه چه ورته تعین کړی په هغه اندازه ناغه تری اخلی چه ددی جرم ناغه دلس زرو افغانیو دیوی کوڼی دسوزیدو څخه نیولی تر دوه لکه افغانیو اوخوکوټو سوزولو اود وطن څخه ترشړلو پوری رسیږی .

ددی ناغی اندازه دټولو قبیلو دمشرانو لهخوا تعین کیږی اوکه مجرم ورڅخه غاړه وغړوله نوپه سر اومال ئی تالان ګډکوی اوټول لښکر پری چیغه کوی چه په دی چیغه کښی دمجرم فصل اومیوه داری ونی هم د بیخه اوباسی .

### تړ :

د څو قبیلو او یا څو کورنو ترمنځ لفظی معاهدی ته تړویل کیږی مثلا وائی چه فصل وکرل شی څوك به حیوانات خوشی نه پریږدی اوکه چا پریښود په فصل کښی چه چا گوډکړ تاوان به ئی ورکوی او یا مثلا دلوکولو تړچه په یوه ورځ باید شروع شی نوکه لدی څخه چامخالفت وکړ مقرره ناغه تری اخلی

### بدنۍ :

بدنۍ هم د تړ سره شبا هت لری مگر فرق ئی دومره قدری دی چه د بدنۍ کلمه په تیرا کښی تنها د ځنگلونو د حفاظت د معاهدی دپاره استعمال کوی چه د اوښ بار. کچر بار. خره بار او زوکی (گیډی) دپاره چه شنه ئی د ځنگل څخه پری کړی تری اخلی هره قبیله او هره کورنی په خپله خوښه او طبیعت سره د بدنۍ ناغه تعین کوی چه د ۱۰۰ افغانیو څخه نیولی تر ۴۰۰ افغانیو پوری رسیږی مگر تړ عمومی دی چه نورو حقوقی او اولسی معاهدو دپاره استعمال کیږی مگر کوم تحریری شکل نلری .

### شوکه :

شوکه په لاره او یا په خپله خاوره کښی دیو چا څخه په زور مال اخستلو ته شوکه وائی .

### برمته :

برمته په خپل حق کښی داصل قرضداری په عوض د هغو کورنی او قوم د بل سړی څخه خپل حق آخستلو ته وائی .

### ملاتړ :

ملاتړ دری معنی گانی لری یو په دښمن پسی خارنی کول او هم هغه کلمی ته وائی چه په یوه کورنی کښی یو تعداد نارینه ولری چه هغه بالغ وی یعنی د ټوپك په استعمال وپوهیږی او دریم داچه دیو بل چاطرفداری گوندی او حمائی کولو په معنی استعمال کیږی

### بلندره :

بلندره ( اشر ) په اتفاق. اتحاد سره یو کار کولو ته وائی لکه دلو کولو بلندره، کوټی جوړولو بلندره، دیوی کولو بلندره، د جوارو سپینولو بلندره. په ډله سره میراتی کولو دپاره هم د بلندری کلمه استعمالیږی .

## جرگه :

د ټیرا ټول حقوقی اوجزائی معاملات یادجرګی اویاداسلام دمقدس‌دین داصولومطابق فیصله‌کیږی. جرګه‌دقبیلی قوم‌دسپین ږیرو ډلی ته وائی‌چه دقومی‌چارو پریکړی دپاره‌راجمع کیږی اوددوه متخاصمو ډلوپه مابین کښی چه دعوی‌ئی ناحقه وی‌دجزاپه ډول ګه‌فیصله وشی‌اوکه‌ونه‌شی لسوزرو‌افغانیوڅخه ترشلوزرو‌افغانیوپوری پسونه په لویه دعوی کښی او په کوچنی دعوا ګانو کښی‌د..١٦ څخه تر ..٤٠ افغانیو پوری پسونه حلال‌کوی اودغه ددی لپاره‌تری اخلی چه له‌یوبل سره په ناحقه دعواګانی ونه کړی .

## داړه :

د څو تنو مسلحو ډلی ته‌چه دشپی اوورځی له‌خوا په ناڅاپی توګه حمله‌کوی داړه ورته وائی .

## ساز :

ساز یعنی جوړ ښت‌اود ټیرا په دودکښی دمړی دیت ته وائی که‌دغه مړی قصدی شوی وی‌اویاسهوی په هر صورت دیت ورکولو ته‌ئی دټیرا په دود ساز ویل کیږی‌اوساز له‌شلو زرو افغانیو څخه تر ٥٠ زره افغانیو پوری رسیږی .

## مؤچلګه :

د یوی مو ضوع دفیصلی دپار جرګه د دواړه متخا صمو ډلو څخه ټوپك اویاڅه پیسی اخلی که‌ددوی واکئی ونه منلو نوبیا هغه موچلګه چه ددوی څخه‌ئی اخستی‌وی‌نه‌ورکوی اوپخپل مابین کښی ئی د جرګی اومرکی سړی سره ویش‌کوی‌چه په موچلګه کښی ټوپك تری اخلی .

## بلګه :

د یو چا دکور څخه چه‌څه‌په غلایووړل شی اوددی مال‌هرڅه چه دچاسره پیداشی دټیرا په‌دود دی‌ته‌بلګه وائی اودټیرا په عرفی قانون غلاشوی ټول‌مال‌ئی دهغه چا څخه‌رسیږی چه د چا سره پیدا شی یابه ئی په اصل مجرم باندی‌دغه‌بلګه سپاری اوبلګه دمعلومدار شیانو په واسطه څرګندیږی لکه ټوپك‌تما نچه او حیوا نات مګر غیر معلوم



ACKU



اپریدی زلمیان په خپل ملی لباس
او وسله سمبام لیدل کیږی .

دارشیان دتیرا دعرفی قانون لهمخی بلګه نشی ویلای کیدای لکه تکه باب وغیره .

### میراته :

د یـوی کـورنـی ټـولـو نـارینا وقتل ته میراته وائی

### ګوندی :

دوه مخالفو ډلو څخه طرفداری کولوته ګوندی وائی .

### امربالمعروف :

امربالمعروف داپریدو یوډیر پخوانی دوددیچه پهدوی کښی ئی رواج پیداکړی دی یعنی هغه څوك چه خلاف داسلام دمقدس دین داصولو په اپریدو کښی مرتکب شوی وی لکه روژه خوړل .لمونځ نهکول. غـلا. لاری وهل او داسی نور. نـوځـه وخت چـه امربالمعروف په یوم قوم کښی راپورته شی ملایان اوقاضیان ئی رهبری کوی اوهغه څوك چه لمونځ نهکوی اوروژه ئی خوړلی وی په خرهئی سپروی اومخ ئی تورکوی پهغاړه کښی هلوکی ورته اچوی اوبیاناغه هم تری اخلی چهدناغی حدودهرقوم دملانو.قاضیانو اونورو سپین ږیرو لهخوا تعین کیږی که غله . اوشوکه چاکړی وی نوناغه هم تری اخلی اودبیا دپاره ضمانت تری اخلی. اوکهفرضا څوك چهددی جرمو او نورو غټو جرمنو مرتکب شوی وی اوخپل قوم ته ناغه ورنه کړی ټول اته قومه اپریدی پـری راټولیږی اوناغهتری اخلی اوحتی کورئی هم سوزوی مګر دابایډ ذکرشی چهدغه ناغهترهغهزیاتـه وی چـه پخپله قبیله کیئـی ورته جایزه ګڼلی وی او ورکړی ئی نهوی علاوه پردی چهد امربالمعروف په وخت دجرمونومرتکبینوته جزاورکوی پهقومو کښی دښمنی لـهمنځه وړی روغه اویا تیره ئی کیږ دی .

ځینی نور قومی تړونونه کوی اوخپل قوم تهئی ابلاغ کوی چهدغه تړونونه غیر تحریری مګر بیاڅوك تری تخلف نشی کولای اوکهڅوك دتـړل شوو تړونو څخه سرکشی کوی اونهئـیمنی نودناغی څخه علاوه دټولی قبیلی دتړونو څخهئی اوباسی کهپه دهچازورزیاتی وکړ پوښتنه ئی نـهکوی او سربیره پردی ټول قوم ورسره خپلهرابطه پری کوی اما دغه شی ډیر کم واقع کیږی .



ACKU

# دتیرا مشهور زیارتونه

۱ـ شیخ ملی بابا : په قـوم کمبر خیل چه دده په نوم یوه لویه قبیله دکمبر خیلو په قوم کې شته قبریې دسپا یو دبغداد خیلو پــه خاوره کې دی پوخ آهن پوش اوپـه عصري ډول جوړ شوی دی داخترو په شپو ورځو کې یې خپله قبیله و رته غونډیان او پسونه راولي او دده پــه مزار باندې یې خیرات کوي او زیات تعداد خلك ورته دزیارت کولودپاره راځي او دسپایې قوم دجرگو مرکزهم دی .

۲ـ غیبي بابا : دشیخ ملي باباورار دی او قبریې په چوره کې دی.

۳ـ غیبي نیکه : دسپایو دغیبي خیلو قبیلې نیکه او مزار یې د خوی سري او سخا ډنډ وکی تر منــځ دی .

٤ـ لکړ بابا : دسپایو دشیخانو قبیلې نیکه او مزار یې دشنه کمر او ډنډوکی ترمنځ دی .

۵ـ نري بابا : چه دغه اصـلاً دده دخپلې خولې له قوله دیوه هند وراځه زوی مگر ځرنگه چه داسلام مقدس دیني اساسات ورتــه ښوره معلوم شول نو تمایل یــې داســلام لورته زیات شوچه پدې موقع یــې پلار پرې یوه شو په کوټه کې یې بندي کړ دمرچو او تمباکو لوږې یې ورته وکړ مگر پدې باندې هم دخپلې عقیــدې نــه ونــه گرځیــد محکـوم پښتونستان پیښور او بیا تیرا تــه راغی په تیراکې یې ډیــر شــهرت وموند دزخه خیلو او اکاخیلو ترمنځ چه یوه قومي دشمني وه نري بابا فیصله کړه او پدې واسطه یې داپریدو په قوم کې نور هم شهرت زیـــات شو واړه او لوی ټول ورته دعــز تپه سترگه قایل او دنري بابا په نوم یې ملقب کړی دی نو ځرنگه چـــه ډیر نــري او کمزوری وو ځکه ورته نري بابا ویل کیږي آخر په ۱۳۳۹ کې د ۱۵۰ کلو په عمر وفات او دسپایو ددری نغرو په کڅ کې خــا ورو تــه سپارل شوی او یوه عصري گمبزه پرې جوړه شوې او اوس یې ډیــر خلك مزارته راځي او دقومي جر گــو او فیصلو مرکز گرځیدلی دی .

٦ـ دلارو میا صاحب ــ دغه هم په قوم کمبر خیل دی او ده ته ځکه دلارو میا صاحب وایي چه دتیرا ټولي مشهوري لاري دده له خوا پراخې او جوړې شوي دي او مزار یې دبا ړي په کمبر خیلو کې دی .

۷ـ فقیر شیخ پایو نیکه ـ دسپایو دیوی قبیلي نیکه اودنرگوسي



ACKU

په خوله کې یې مزار دی دغه هم باید ذکر شي چې دغیبي نیکه‌شیخ نیکه ـ او دفقیر شیخ پایو نیکه هر کال دمنې په میاشتو کښې خپلې قبیلې ورپسې په خوراو وریجې پخوی او دخیرات په ډول یې خلکوته ورکوي .

۸ـ سم بابا ـ دده مزار په کجوری کښې دی او زیات‌شمیر خلک یې دزیارت دپاره مزار ته ورځي.

۹ـ کوندلي‌بابا ـ دکرمې او تیراتر منځ گوکي کښې یې مزار دی.

## دتیرا قاضیان:

په اپریدو کښې دقاضیانو سلسله دشاه شجاع له وخت څخه شرو ع شوې . او داپریدو په هر قوم‌کې یې یو یو نفرته دقاضي لقب ورکړی وو چه اوس دهغوی اولاده په هر قوم‌کې زیاته شوې او دقاضیانو په نوم مشهور شوي او قومي منازعي فیصله‌کوي دشجاع الملک په نامه څو ځایونه په تیرا کې موجود دي چه دشجاع الملک دتخت په نوم یې اوس هم خلک پیژني او یادوي لکه دزخه خیلو په پیرداخیلو کښې، سپای‌کښې په گړی کې او په دوه توی کې چه‌دگوکي خیل او ملک دین خیلو بریدونه دلته سره جلا کیږي شته‌دي .

## په‌اپریدو کې داخترو ـ لمنځ‌کولو او امر باالمعروف دپاره دخبرتیا وسیله

په اپریدو کې چه پخوا راډیونه وه نو هرکله به چه په هر ځای‌کې چا دروژې او اخترو میاشت ولیدله هغه محل ملا او مشرانو ته به یې شهادة ویلو وروسته د هغه کلي دمشرانو له خوا دټوپکو او بمونو خو ډزونه‌به وشول‌او ورپسې به دغه ډزې په ټولوقومونو کښې خپرې شوې او هم به یې دجگوجگو غرونو په سر ځنگلو ونې دیو پوړیزی کوټې د جگوالي اوپلنوالي په اندازه را جمع کول چه دغه‌ته (کټمیر) ویل کیږي اوروکوی‌چه له دې جملې څخه دغلام علي کټمیر ډیر مشهور دی ځکه چه په ډیر جگ غره واقع او ټولې باړی‌او حتی لیرو لیرو ځایو څخه به هم لیدل شونو هرکله چه دهغه او ر وويني دخلکو اعتبار وشي چه اختردی اوهغه‌ته‌چه څوپوره شاهدي‌نه‌وي تیره شوې څوک اورنه شي ورکولی‌او په ټوله تیراکښې دغه شي قبول شوې وه او ددې دپاره چه څوک‌غلط‌کارونه کړي او دروغ ونه وایي نو ددې کار دمخنیوي دپاره یې بری‌غټه‌ناغه یا جریمه یې پرې مقرره کړی

ده. مگر اوس چه‌راډیو گان په هـرکورکښې موجود دی نودراډیو څخه استفاده‌کوی مگر دلښکر دراجمـــع‌کولو دپاره چه یوه ډیره مهمه واقعه وشی یعنی یوه قبیله یې نه شــــی‌فیصله کولی نو دهغی قبیلی‌قاضیان مـلایـان اومشـران نـورو قـومـوقاضیانو ـملایانو او مشرانو پـــه عنوان خطونه لیږی او دموضوع‌څخه‌یې خبروی چه په دی وسیله سـره ټول اړپیدی په څـو ورځـو کښـی‌راجمع کیږی . مگر امـر باالمعروف تنها په یوه قبیله کښې وی چـــه‌دځینو ناوړو دودو نو او غیر شرعی کارونو دمخنیوی په غرض هر کال‌اویا دوه کاله پس په هره قبیله کـــی دهغی قبیلی او قوم خلك په اتفاق سره دغه کار ته دوام ورکوی او د خلکو دراجمع کیدو او کـه چیـری‌مجرم پټ شی نو څوڅو کسان‌وظیفه دار کوی چه (شلگون) ورته وایی او دوی موظف دی چه‌په هره طریقه وی مجرم را حاضر او یایی دورڅی څخه‌ټاکلی ناغه اخلی .

دتیراخلك دخدای په نامه ځینی‌خیراتونه هم کوی لکه ددولســم او یولسم خیرات چه دقدرت په انداز ه‌دچرگ څخه نیولی ترغوایی پـوری خیرات کوی اوهم ددواړه اخترو‌څخه‌دری‌دری ورځی‌پخوا دمړو (مردگانو) په نوم هم دخپل قدرت په انداز ه خیرات کوی او دعا ښورا پـه ورځ حلواپخوی او په قبرونو باندی اوبه‌اچوی .

ACKU

## تجارتی معاملات. مقیاسات، سپورټي او دساعت تیری لوبی او ناوړه دودونه :

په اپریدو کښي خرید اوفروش تر ۱۳۳۶ پوری په کابلی روپۍ کیده یعنی که معامله په کلداری روپۍ باندی و شوه بیا به په کابلی روپۍ تبدیل کیده مگر تردی کال وروسته څنګه چه کابلی رو پی ارزښت ډیر زیات شو او کم یافته شوه نو معامله ټوله په کلداره روپۍ مروجه شوه مگر افغانی روپۍ هم په تیرا کښي چلیږی او په تیراکښي معامله په نقدو پیسو قرض (معیاد) او تبادله سره کیږی او په تیراکښي چه پیسی نه لری نو په ځمکه باندی په ګڼه (ګروی) روپۍ اخلی او یا یی په اپیون چه دیو چارك په سرباندی اته سوه افغانی اخلی او هرکله چه اپیون یی وشی یو چارك اپیون ور کوی او که ونه شی خپلی رو پی تری اخلی .

دوزن مقیاس یی پخوا (نمو ګنی) پیمانه وه مگر اوس چیټاك (خورد) پاو. سیر. (چارك) من یعنی یو چیټاك د خورد ۳ پر ٤ برخه پاو یی دری خورده چارك یی دری پاوه او دړی (سیر) یی دری چارکه او من یی اوه نیم سیره دکابل په تیره کیږی .

دځمکی مقیاس یی جریب دی او په اپریدو کښي ځمکه په ګز مربع باندی خر څیږی یعنی یو ګز مربع قیمت تر ٤٠ - افغانیو پوری رسیږی او دتیرا ، اپریدو ګز ۳٦ - انچه دی چه ۹٦ سانتی متره سره برابردی .

داپریدو مهمی سپورتی لوبی .توده . تیره سواره خپلی. چیند رو. پټونکی. موټی سوټی غونډ وله (توپ بازی . تلیر . او په اخترو کښي اویی (هګی) جنګول. او نښه ویشتل. شامل دی .

په اپریدو کښي ښځه دنارینه سره اوږه په اوږه سر بیره دکورنۍ وظیفی او اولاد پالنی نوری چاری هم اجراء کوی لکه لو کول. او بڼه راوړل او حتی دجنګ په موقع په نارینه پسی ورځی. او اوبه ټوپك او کار تو س هم راوړی .

داپریدو قوم کښي دیوی کورنی کونډه له خپلی ورثی څخه بل څوك نه شی په نکاح کولی .

اپریدی قوم که څه هم پخوانی او ډیر ساده ژوند تیروی مگر له څه مودی را په دی خوا تعلیم تربیی تجارت . او نوری مزدوری ته ملاتړلی او دخپلی اولادی دپاره حقه حلاله نفقه دخپلو متو په زور پیداکوی .

په اپریدو کښې سوال د یـواپریدی دپاره ډیر بد او شرم گڼـی اما مسافرو ، غریبانو، ملانو،پیرانواو سیدانو ته په ډیره درنه سترگـه گوری او دهغوی قلنگ ورکـوی ،دمثال په طور لکه کاکا خیل‌میاگا ن چه ټول اپریدی قومونه یې راسا په‌منځ کښې تقسیم کړی او حتی‌غرونه بی دښکار کولو دپاره ویشلی اوپه‌منی چه ښکار زیات وی هیڅوک‌ددوی د خیرو له کبله په زوره خبری هم‌نه شی کولی .

اپریدی ځینی بد رواجونه هـم‌لری مگر اوس دپوهی او نورو نړی سره دتماس نیولو په وجه کم شوی‌او مخ په کمیدو دی او شاید ډیرژر له منځه لاړ شی .



دخیبر دری دپخوانی زړو اثـارو یوه نمونه

په اپریدو کښې دقدیمی‌آثاروځنه، ځینی سکی لکه (دقیقانوس ) دپادشاه دوختو سکه او ځنی داسی‌سکی چه بت په غوایی سپور وی‌په سکه باندی نقش شویدی پیداکیږی‌او دخیبر په دره او په ځینو نـورو ځایو کښې پخوانی آبادی ترخاورولاندی شوی دی‌مگرتر اوسه‌چاکیندلی نه دی او په پخوانی شکل پاتی دی‌امکان لری چه ډیر پخوانی آثار لاس ته راشی .

اپریدی اکثراً داحترام دپـاره‌داکی کلیمه استعمال کوی او خان‌هم زیات استعمال کوی لکه محمد امین‌اکی ، محمدگل خان او داسی‌نور .

# پخوانی اواوسنی نومیالی شخصیتونه :ـ

۱ـ الاهیار اپریدی :

الاهیار په قوم اپریدی او دپښتنو یو لایق او زبر دست شاعر تیر شوی دی او دپښتونستان‌دبوری‌په کلی کښی اوسیده ( الاهیار په ۱۱۰۱ه کال‌کښی زیږیدلی دی اوتر۱۱٤۱ه کاله پوری یی ژوند یقینی دی ) (۱) .

الاهیار دغزلیاتو په باره کښی‌ډیر ښه او بشپړ دیوان هم لری‌دلته یی دیوی غزلی مقطع دنمونی په توگ،رانقل کوو .

سنا په غم کښی بند یوان یم‌رابهر به نشم
دبیلتون‌او ښی تو یو مه بی پر هر به‌نشم

۲ـ داکا خیلو ملا صاحب :

دشمالی آزاد پښتونستان دتیرادعلاقی یو مشهور مجاهد ملا وه.دده اصل نوم سید اکبر او داکاخیلـــودطایفی په ملا صاحب یی شهرت درلود . ملا صاحب په قوم کښی‌ډیرنفوذ او قدرت در لود . دده رای، په هر وخت کښی قابل دقبول وه او چایی هیڅکله خبره نه ماتوله .دامیر عبدالرحمن سره یی ټینگ ارتباط ساته او دانگریـزانو سـره ډیـری سختی غزاگانی کړی دی . دمـــلاصاحب دغزاگانو یوه ډیره مهمه او مشهوره غزا هم د(کال ۱۸۹۷ع غزاده چه انگریزانو ته یی ډیر ستر او دراز، تاوانونه اوتلفات وراړولی) . (۲)

---

(۱) پښتونستان دکال ۱۳۳۰دکابل طبع مؤلف عبدالروف (بینوا) مخ ۳۸٦ .

(۲) پښتونستان دکال ۱۳۳۰دکابل طبع مؤلف عبدالروف (بینوا) مخ ۳۸۸ .

# علم خان اپریدی

دعلم خان اپریدی سپائی دپښتودیوان دا قلمی نسخه دډونـــــك (را جستان) دنواب په حضـــوری کتا بخانه کښیوه چه داقلمی نسخه دمولا نا آزاد مر حوم دکو ښښونوپه اثر دنوی ډیلی ملی کتا بخانـــی ته راوړل شوه اود شری ایندر ناهه‌شرما او مو لانا بخاری دمهر با نیو په اثر دا نسخه دمطا لعی دپاره زمالاس ته را غله دپښتو په دی قلمی دیوان دا عبارت لیکل شوی‌دی :

(چند قصیده وغزل از تصنیف‌ملاعلم‌خان بدستخط فقیر زیـن الدیـن پشا وری صورت تحریر یافت۱۱۷۷هجری ) .

داد یوان په پښتو ژبه او فار سی‌رسم الخط لیکلی شوی دی مگر ددی قلمی دیوان‌په‌پای‌کښی دټول‌دیوان دخط نه په یوبل خط یـو اردو غزل هم لیکلی شوی دی چه غزل په پای‌کښی خپله دملا محمد علم خان خپل دسخط دی .

له دی پورته مضمون څخه‌دااټکل‌کید لای شی چه دا دیوان علم خـان دپیښور په‌یو زین الدین نو مـــــی‌کاتب نقل کړی دی .

علم خان اپر یدی خپل دادیـوان‌په ۱۱۶۱ هجری کال کښی لیکلی‌دی لکه چه وائی .

ماعلم چه دا غزل مسو ده کړ سن هجری‌زرو سل شپیته‌یوکال دی

یعنی هر کله چه مادای د یوان‌مسوده بشپړ او تیاره کړه نو بد غه وخت کښی هجری ۱۱۶۱ کـال وُسر بیره پدی علم خان دشیخ سعدی (کریما) نو می کتاب هم په پښتـو‌ترجمه کړی دی چه دغه تر جمه هم دده په دی قلمی دیوان کښی شا مله‌ده ددی کتاب دتر جمی په پای کښی داسی لیکی :

دروېشت ورځی ماپـه زړه دفکرغم کـړ
چه تمام‌په پښتو ژ به ما علم ) کـــــړ



د ۱۳٤۸ کال د پښتو نستان جشن‌دمرا سمو په وخت میرمن قمر گل او دراډیو افغانستان نوری سندر غاړی
پدی عکس کښی لیدلی کیږی .

که می څوک په دعا یاد کړی کله کله
خدای په ما باندی آسان کا مشکله
په دا وخت کښی پادشاهی د احمد شاه وه
په لاهور او په ډیلی باندی غوغا وه
بادشاهی په افغانان کښی درانی کړه
په مغل په هند کښی غم ؤ ماتماد ی کړه
سن د هجر زرو سل دو شپیته سال ؤ
زما عمر په شمار دیرش دریم سن کال ؤ

علم خان چه د هاشم په ستاینه کښی کومه قصیده ویلی ده په دغه قصیده کښی ئی د هغی زمانی عمومی حالات تو لږو ډیر شکل او تصویر هم ښوولی دی :

په تیرا باندی حساب د باران نشته
هسی رنګ حساب زما دیاران نشته
لکه شیر هاشم ما سره اخلاص کړی .
اخلاص یار می دویم په جهان نشته
په هر لور زما یاران دی بی حسابه
شیر هاشم غوندی هیڅوک دوستان نشته
له هر یار سره می سیل د زړه وکړه
باری ماته هسی څوک دلبران نشته
له هاشم له طبیعت څه بیان کړم
په داطور څوک خوش بیان و خندان نشته،
شفقت لکه هاشم زما په باب کا
ترده څوک را باندی زیات مهربان نشته
په مور چه باندی ترتوری قلندردی
ګریختن ئی په یقین او ګمان نشته
په میدان دی شیر د شیر په خیر حمله کا
هیڅ پروائی په ټوپک په کمان نشته
ملامت که په ما څوک وایی غمازدی
هسی نه چه څوک زما غمازان نشته
لرو بر که چیرته ګرځم سبب دادی
چه زمین می د تیرا په میدان نشته

ACKU

په باړه کښې مې خه شته‌شکرګذار یم
که‌غایب‌زما پر ی نشی گما ن نشته
خلك گر ځي دد نیا په طمع‌وا ړه
په‌دادور عند الله طا لبا ن نشته
مخا مخ سر ه حقیقت کـا یو له‌بله
هیڅ پروائی په خپل سود و زیا ن نشته
احمد شاه غوندی باد شاه فلك‌جاه ناست دی
چه‌ئا نی‌ئی په خپل دور سلطا ن نشته
په حضور ئی عا لمان سر ه جدال کا
چه‌داهسی جنګ د میړوچرګا ن نشته
خد مت گار د عا لما نو پـه‌چشمان یم
مستقیم‌په شر یعت عا لما ن نشته
دنا صح پـه نصیحت بـه خه‌عمل کا
چه‌عمل‌ئی په حد یث او قر آن نشته
ملا مت را با ندی ځکه نه‌نبائیږی
چه‌صابرشا گـر زما پـر ځا ن‌نشته

دز ړه جو ش می په هیڅ رنګ‌کمیدن نه کا
باری خه‌کړم چه در خوا دم خان نشته
موا فق کړه سر ه‌او سپین سره‌په تول
داحسان‌په خیر نا در شا عران نشته
د(علم) سپائـی د یـوان ځکه ظاهـر شو
چه‌مهمندعبدا لر حمن . عزیز خان نشته
علم خان د خپلو شعرو نو په لړکښې داپر یدو په عامو قبیلو هم‌ځای په ځای تبصره کړی او داسی ئی‌لیکلی دی :
اپریدی په بلو را ضی وینم‌اکثر
خو ی‌خصلت ئی همیشه پـه بدو سر
دوی د نیا دو لت که ډیر لری دنیا کښې
بیا دبل‌گر ځی د ما لـه لـر و بـر
په بل ځای کښې په یوه قبیلـه‌داسی تبصره کو ی :
میرااحمد خیل همه له خرمی‌ظالمان دی
لاس ئی‌بر په هیچاه مه شه ته ا مین کـړه

گو کی خیل و لیان د ی په ظا هر کښی
ښا یسته‌دستار ئی و تا ړ ه پـه سـر
په جا مه پا کیزه پو ش تسبیح‌په‌لاس کښی
ته به واڻی‌چه پیر ا ن د ی سرا ســــر
لاس ئی بر په هیڅچا مشه ته امین‌کــړه
سرومال د ســړی خـوری لـګـه شکر
دادم خیلو قبیله داسی ستا ئی:
ادم خیل پـه اپریدو کښی ښه‌عالم دی
دی‌اولس یی بـی آزا ره بخـتـو ر
آدم خیل ظا لمان نه دی غر یبان‌د ی
خپله‌ما لګه چلوی د لله ی کـــــــر
دختکو سره کار دی بل چانشته
ادم خیلو سره جنګ ګاتور سر

له دی و رو سته ددی‌شا عردیوی‌ادبی غزل مقطع هم دلو ستلو وړده.
چه مدام جو رو جفا کړ ی زمـاد لـه
دوفاپه لار به کښیږ دی قد م کلـه
ستا په در کښی د جفـــا غشی‌ویر یږی
زه(علم)در ته و لاړ یـم د لـه . دلـه
په ګلزار کښی تما شه کړه د سروګـلـو
ددنیاساعت بـه نه‌وی تـل تـر تـلو
چه د یار په یاد مدا م بی خو ده‌ګرځـم
سا قی‌مسته پیا له را کړه د سرو ملـو

---

دخان غازی کا بلی لیکنه او دښاغلی سیفی تر جمه :
کابل مجله دکابل‌چاپ کال۱۳۴۸دحوت دمیا شتی ۱۲ ګڼه ۷٤صفحه

## میرا :

میرا په خټه دجمرود کو کی خیل اپریدی ۱۲۵۰ ه ش کال په شاو خوا کښی زیږیدلی او ده په موسیقی کښی هم لاس در لود . تر ۱۳۰۰ ه ش کال پوری ژوندی ؤ. دکلام نمو نه :

چه ستا غم لما چا پیر شه الغیا ث فرا ق می ډیر شه
زړه ه ی وسو ستا په مینه خلا صیږ م له لعینه
په غو بل کښی می تل گیر شه
اند رون زړه می کباب شه تمامی ژوند می خراب شه
چه په تن اشنا می هیر شه
لکه گل یم په بهار کښی مدام خو ښ یم په انگارکښی
زړه طوطی په قفس گیر شه
په عا لم کښی به غوغا شی یوه ورځ به هسی را شی
چه میرا له د نیا تیر شه

## خسرواپر یدی :

خسرو دخیبر دسیمی زخه خیل چه په ۱۹۰٦ عیسوی کال کښی زیږیدلی کسب ئی موټر وانی اوپه مو سیقی کی هم دبر خی ښبنتن ؤ خسرو په ۱۹۳۹ کال کښی په حق رسیدلی دی.

دکلام نمو نه .

بی گناه می ددر گاه نه شړی ولی
ښه اوبد سره په یو ځای لړی و لی
لږ می پر یږده چه می روح په قر اروځی
لاس او پښی می زنکدن کښی تړی و لی
یو ویښته ځما پا نسی لره کافی د ی
ته رسی دد وا ړ و ز لفو غړ ی و لی
هر بانه دی لکه غشی غوځول کا
ته ځما مرگ ته را اخلی چړی ولی

دخسرو بی نو سترگو تـه حیران یـم
چه دیارپه د ید ن نشو مـــړی و لـــی

## سیدا نشاه اپر یدی :

سیدا نشاه‌په‌قوم کمبرخیل‌اپریدی‌اودپیدا کیدو نیټه ئـی غالباً ۱۸۷۹ ع تال ښو دل شو یدی .

دکلام نمونه :

یارمی رانغی په وعده سخت می‌ژوندون دی
په برخه می بیلتون دی .خنگه زمانه شوه
یارمی رانغی په وعـده شو بـرخلاف
جدائی جوړ کړو راته غر د کو ه‌قاف

دزړه په رنځ کړمه اخته اغ بـی‌انصاف
عمرمی تول لکه هوسی پـه میکتون دی
په برخه می بیلتون دی .خنگه‌زمانه‌شوه
دزړه طوطی دی زما بند کړو پـه‌پنجرو کښی
باقی تنه می رقیبانو تـه منجره‌کړی
راباندی عمر تیر وی په دا اسر ه‌کښی

دحسن گنج دی جمع کړی دقارون‌دی
په برخه می بیلتون دی .خنگه زمانه شوه
دعشق ریبار کړو راته سپین دجبرجلو
په زړه صادق یم نیت می نشته‌دی دبدو
تین سوانچاس نامه دی راغله په‌ابجدو
په مادی کړی خه منتر د کلیمو نـدی

په برخه می بیلتون دی خنگه زمانه شوه
دبابا لغو چاری مکو ه سرداری
زه‌اپریدی دی تش دیدن یم‌خریدار
درپسی ځـی می همیشه د اوښکو داری
ماسید انشاه نوم په ځان ایښی دمجنون دی
په برخه می بیلتون دی . خنگه زمانه‌شوه

## امیر محمد ساغر اپریدی:

امیر محمد ساغر دمحمد عثمانخانزوی په‌قوم کمبرخیل د تیرا اپریدی په ۱۹۲٦ ع کال کی زیږیدلی د ی

دشعر نمونه ئی ګتلی شیء :

خیبر ته

په دا تورو هسکو غـرنـو کښی‌خیبره
ستا دنوم په دی حرفو نو کښـی خیبـبره
ستا د لار په کږ تیچونو کښـی‌خیبره
ستـاپه خاورو او ګر د ونو کښـی خیبره
دقو مو نو تقدیر ونه پریشـا ندی
دتاریخ ځلاند، بابونه ګوا هـان دی
په دی څه که درکښی نښته د ی‌ګلونه
یا دویری در کښی تلی نښی سیند ونـه
بیګانه کـه لـه سپرلی دی ستاباغونه
بیـاهم دی دومره خائیسته ستا منظرونه
چه ګلونه د سپرلی پری‌تول‌قربان‌شه
هرخائیسته سپرلی‌قر بان‌ستاپه‌خزان‌شه
دغیرت چینی په تاکښی را خـوټیږی
دوطن هر تږی ګو ټ پر ی اوبـه کیږی
په سینه دی چه غیور افغا ن ا وسیږی
ستالـه نو مـه د غلیم ژبی غـود یـږی
ته خیبره د پښتو ن ئـی پښتو نستا دی
دغیورقام د ځوانانو ژونـدو ن ستا د ی

## نورمحمد دځیګر اپریدی:

نورمحمد ځیګر هـم په قوم کمبرخیل د تیرا اوسیدونکی او دامیـر محمد خان ساغر کشر ورور په۱۹۲۸کښی پیدا شوی دی .

کلام نمونه :

عادت به شم جواب مـی دسلام‌مه‌را کوه
توهین‌می شی ء جذ به داحترام مـه راکوه
نظام د کائنات بـه پـه ګډا کړم‌درتـه ټول
فلکه‌نور ګردش بـس‌دایـام مـه راکـوه

خمار می دنشی دی سترگو له مستی
ساقی په ټیټو سترگو راته جا م مـه راکوه
چه لنډ په یو محفل کښې ترسحره شی د شپې
ژوندون لکه دشمعی پـه ماشا م مـه را کو ه
عاشق که زه هر څویمه خو بیا هم یم پښتون
ا ی حسنه ! بس جذبـه دا نتقا م مه راکوه

خیبر ته

دستا په سمه هم په غرمی قسم
دستا په لر او هم په برمـی قسم
چه پسرلی ورته پسخیږی مدام
دستا د شا ړ و پـه منظرمی قسم
هم په لوړ سر د تاتو ی می قسم
هـم دشلمان په لوئی ډبر می قسم
هم د پښتون په تیره توره قسم
هم په سینه دی لکـه سپر می قسم
هم په یادونو دشالی مـی قسم
هم د باړی پـه رو گذر می قسم
خورم دجمرود په گړ نگو نوقسم
هم د تیرا پـه هر نختر مـی قسم

چه کړی په لکه او په تورو پرواز
هم د همغه شاهین په پر می قسم
ډك دی په مینه ستا د تورو تړو
دافریدی په کلك ځیگر می قسم
چه دغیر پل په تاکښې پری نه ږدمه
لوړه خیبره ستا په سرمی قسم

## مصری خان خاطر :

مصری خان په قوم اپریدی زخه خیل د خسرو اپریدی دخور زو ی
په ۱۹۲۹ ع کال زیږیدلی دی او په۱۳٤۸ ه ش کښی وفات شوی دی.
دکلام نمونه ئی :
شاید چه حسن داشنا دسرولمبونه ډك دی
دزړه جهان می دلوگو د اسویلو نه ډك د ی


خوبنه مې ستا په بڼو غشو د ه‌ويشتنه دزړه
گني‌وطن خوهسې ياره داغزونه ړکدی
لمر مخی‌مخ ته‌مې له‌وراپه ناخبر کتلی
نـن‌راته ځکه دا جهان دپلوشونه ړك دی
داحر تونه دا غمونه تنگ گو گل‌زړ گيه
له دی‌خو گوربنه‌دی‌هرخوکه دتیرونه‌ړکدی
زړه مې یوه دليو نتوب‌پکښی‌سوداوکړه
بازاردحسن دله ډیرو تماشونه ړك د ی
همدمه مه رايار دوه دا تير ی‌هيری‌قصی
ځمازړگی خووختينی لاد گلونه ړك دی
ځما خاطرئی له شکونو له فکرونوړك کړو
د مخ‌کتاب دراله رواړه دقصونه ړك د ی

## احمدزی قاصر :

احمدزی قاصر پـه قوم د تيـرااپریدی زخه خيل دامير داد خان زوی چه‌په ۱۹۳۰ ع کال کښی پیدا شوی‌دی .
دکلام‌نمونه ئی :
که ئی په ځا ن مين سيزلی نـه‌وو
شمع‌به ټوله شپـه ژ ړ لـی نـه و و
که مې لمبې د غم په زړه کښی نه‌وی
څاځکي شـر ا ب بـه مـی څښلی نه‌وو
چـا بـه غمـو نـه و پـه سراخيستی
که‌پـه ښادی پو ر ی ترلـی نـه وو
راته په سرو شونډو مسکی که‌نه‌وی
مابه پـه سرو سترگو ژړلی نـه وو
دا بـه په خو ب کښی وو ميـن‌راغلی
قـاصره يا ر چـه را بللـی نـه و و

ضابطه خان حليم:

ضابطه خان حليم په‌قوم ا پر يدی‌کوکی خيل د غلجی زوی او د نواب زمانخان لمسی په ۱۹۳۶ ع کال په‌تيرا کښی پيدا شوی د ی.
دکلام نمونه ئی :
نظر يم په ککو کښی د پښتو ن دامیدونو
نه چـاوتی دتيارونه د همت پـه وزرونو



شمالي پښتونستان
(تیراه)
علامات
حدود
د سیمو ترمنځ حدود
سیند
ویاله یاخوړ
لویه لار
مقیاس
میلونه
د حکمې ساحه: ۹۹۵ مربع میل
د نفوسو شمیره: ۳۰۱۳۱۹ تنه
افغانستان
کوهاټ

بهار خود چمن نـه دپښتو لاتلی نـه دی
هرڅو د ځمکی مخ کهوی خړکړی خزانونو
شجر دآزادی ځما په سرو وینو نهالشو
ستورهړی چهپښتون نهشیپهصفتکی دقامونو
یو څا څکی پښتنه وینه په زرو بهوونه کړم
پیروزمیپه وطن ده په دهواو په سیرو نـو
تیاره می دوطن نه شوه فرار پـهرڼه توره
اوس لمر دآزادی لړی په سمه او په غـرونو
حلیمه خوره غیرهبه پښتانهورونهبیا درکړی
الهام دآزادیراوړ دستا خوږو شعـرو نـو

## عبدالقیوم کوثر :

عبدالقیوم کوثر دعبدالجبارزخهخیلزوی د ملك عبدالطیف کشر ورور په قوم اپریدی چه په ۱۹۳۷ع کام کښیپه خیبر کښی پیدا شوی د ی.
دکلام نمونه ئی :

دتیرا لام
ماچـه نـن و ترلـه مـلا بچیـه
نـو تا تپو س وکـړ و لما بچیه
دپښتانه بابا بچی نه ئـی تـه
دمستقبل به تور یالی نه ئی تـــه
دسترگو توره زه غزاله ځمه
بچیه ښکلی مشغـو لا لـه ځـمـه
بچیه وا خلـه نصیحـت واخـله
له د ی مـلا تړ نه میعبرت وا خله
صبا دا حا ل که ستا په لارراشی
هـم داسبـق به د ی پکار راشی
نن زه دقام غم کښی یو خو ائهځمه
بچیه ښکلی مشـغو لالـه ځـمه
نن مو په قام کښی اندیښنیراغلی
ءن ترلمنی مو لمبی را غـلـی
دی داسی غم چه ئی زغملینشم
تو ر ه په تیکی کښی سا تلی نشم

په نیت دسود د قام سودا ته ځمه
بچیه ښکلی مشغو لا ته ځمه
بچیه تا چه داسی خوار پریږد م
دمور په غیږ کښی دلاچارپرېږدم
بچی کـه ستا سلګو ته پاتی شمه
په کومو سترګو بهجرګو ته ځمه
پاللی پت نشی که شاته ځمه
بچیه ښکلی مشغو لا تـه ځمه
هلته کی تـوره ده پـر قیږی سره
شعلی دوزو او چتیـږی سـر ه
دافریدو میدان کارزار جوړ شوی
په انګریزانو هی ناتار جوړ شوی
دی پرق او پروق دغی غوغاته ځمه
بچیـه ښکلی مشغـو لا تـه ځمه
بچیه خیر که خوار زهیرپاتی شی
دننګیالی پلار په تصویر پاتی شی
چه په تیراکی ننګ ونام شی پځای
غیرت عزت به مود قام شی په ځای
ور ځمه زه دمرګی خواتـه ځمه
بچیـه ښکلی مشغـو لا تـه ځمه
نن په میدان خوږمن زړګی پراته دی
بچیه ستا غوندی بچی پراته دی
دمورپشانی نیک کرداره مینـد ی
بی پردی کیږی حیا داری مینـدی
حیا پالمـه چـه قضا تـه ځـمه
بچیه ښکلی مشغو لا تـه ځـمـه
ته لاماشو م ئی نن ځما وا ردی
خویا دلره چـه سبا ستا وار دی
تاته به غم د ملك او قام پاتی شی
مړ ښمه ئی نوم دی چه بدنام پاتی شی
بچیـه ښکلی مشغـو لا تـه ځمه
وایه ادی ته چه بابا تـه ځـمه

## محمد احسان ظهیر اپریدی:

ظهیر اپریدی د حاجی عبدالعظیم‌خوی‌په‌قوم زخه‌خیل اپریدی‌په ۱۹۴۰ ع کال کښې په خیبر کښې زیږ یدلی‌دی .

دکلام نمونه ئی :

راولی ربه دماضی وختو نـه
دپښتنو نه سپیلنی وختـــو نـه
لکه سیماب په‌اضطراب‌می‌شی‌زړه
کوم چه‌راياد هغه ځلمی وختونـه
خدایه له تانه گله من خونه یـو
نشته خـند نـی و خـتـونـه
ځان کړه آزاد دنیا خا ن بچیـه
پښتونه ځان په‌قام لوگی کړه‌گوره
هیر دچه نشی میړنی وختونه
په کاربه نشی ځان ځانی وختو نه
پښتو زه ستایم ته زما ژبه ئـی
خیردی که برند دی لیونی وختونه
یمه مالیار د پښتو ژبی ظا هـر
خوښی می‌دی‌خوښی‌دپسرلی‌وختونه

## مینار خان :

مینار خان د حاجی حمید خا نزوی په قوم اپریدی زخه خیل دخیبر اوسیدونکی په ۱۹۳٦ ع کال کښی‌زیږیدلی دی او په افسانه لیکلو کی دډیر مهارت خښتن خـو دده یـوه‌افسانه دغریبی اومینه‌چه‌ډیره لویه‌ده نو ځکه دلته رانقل نشو ه

## ممتازخان :

ممتاز خان دضابط خان حلیم دتره‌اول خان زوی په ۱۹۳٤ع کال کـی زیږیدلی دی.

دشعر نمونه ئی:

که مراد غواړی په زړه کښی ته‌مراد شه
بی طلبه‌که مـراد غـوا ړی خطـا ئـی

چه کښتي د امیدونو در کښې زغلي
هسې وګڼه چه سیند ئې یا دریا ئې
رنځوران دي ستا په سیمه کښې نتلي
هم مرض لره طبیب او هم دوا ئې
د ممتاز خاطر به ولې خوشحال نه وي
چه ته ناوې سنګار شوې په رښتا ئې

## جهان زیب نسیم :

د ملک عبداللطیف زخه خیل اپریدي زوی په ۱۹۴۰ عیسوي کال کې پیدا شویدی او د قیوم کوثر وراره دی.
د کلام نمونه ئې:

پښتون ته !

پښتونه وایه چه همت دخه شو
هغه غیرت او شجاعت دخه شو
څو به غلام ئې ته خپل ځان وګڼه
ځان خو لا پرېږده چه جهان وګڼه
پښتونه ویښ شه ته خوب نه مکړه
ته جهان بین ئې نور فکرو نه مکړه

لاس کښې غیرت او خپل عزت ونیسه
د اتحاد نښان اوچت ونیسه
شې به تالا په سپین سحر باندې
سرونه مه پرېږده په سر باندې

ته د غمونو شه غم خور پښتونه
د زغم پیدا کړه ځان کښې زور پښتونه
جنت د جوړ کړه له وطن پښتونه
وینې پرې توئې کړه له تن پښتونه
اوچ ډکې ستا چه د وطن ښکاري
وینې ترې زار کړه چه ګلشن ښکاري

ACKU

# عجب خان اپریدی :

عجب خان دغلام حیدر خان زوی په قوم اپریدی آدم خیل په اخوړدره کښې په ۱۲٤٥ کښې زیږیدلی دغه تورزن اودلوړ همت خاوند په کوهاټ او تجوری کښې ئې په انګریزی تانو حملې کړی دی او په ۱۳۰٦ ش کال کښې ئې انګریز خلاف دغزا اعلان وکړ پرنګی دتیرا دره محاصره کړه او توپخانې خوله ئې دتیرا په لوړو ګرځوله دشپیو څخه یوه شپه پرنګیان خبر شول چه عجب خان په کور کښې نشته نو پروس نومې پرنګی ۱۹۲۱ع کال دعجب خان په کور او کلی پوځی حمله وکړه وسله او دری تنه بندیان ئې تری بو تلل چه عجب خا ن خبر شو دوی واپس تللی وو نوخپلې کلې ئې دمحمود آخو نزاده په مرسته د اخور دری څخه بری تیرا «میدان» ته بوتلی او بیا دشپې ئې دنو موړی پرنګی په کور حمله وکړه پروس پټ شو میسکی ایلس ئې وواژه اوښځه لور ئې تری بو تلله او دهغې ناموس ته هیڅ په بده سترګه ونه کتل ځکه چه په ناموس تجاوز په تیرا کښې ډیر بدګڼې او که دغه شی واقع شی نراو ښځه دواړه مړه کوی. عجب خا ن دهغې په بدله بندیان خلاص کړل .



مرحوم غازی عجب خان ادم خیل اپریدی چه دتیرا په علاقه ئې اوس هم دمیړانی او توری غږ دی.

انګریزانو په هغې پسې ښځه نرسه اویو لوی افسر دورکزو ځمکې ته رالیږلی وو چه ښځه پیدا اوخلاصه شوه نو آدم خیل قوم ئې پنځوس زره کلداری جریمه عجب خان ئې وروسته لدی دتیرا څخه په شړلو بدل کړ ځکه چه دښځې معامله وه او دتیرا او دافغانستان تر منځ په سرحد کښې څه موده اوسید او بیا وروسته افغانستان ته راغی او په مزار شریف کې ځمکه ورکړه انګریزانو په افغانستان ډیرفشار وارد کړ چه عجب خان د بین المللی قوانینو مطابق مجا کمه کړی او په افغانستان پسې په اخبارو کښې زیاتی پرو پاګنډې شروع اودافغانستان او انګریزانو روابط ډ یر

خپرېږ شول‌او نژدی وچه جنګ‌واقع‌شوی وای خو افغانستان دو لت او ملت سره ددومره فشا رو نو عجب‌خان انګریزانو ته تسلیم نه‌کړ بلکه ډیر نوازش ئی ورکړ.

دغه هم بایدذکرشی چه عجب خان‌دافغانستان داستقلال په جګړه کښی نه هیریدونکی خدمتونه کړی او تړل او وانه پوری ئی دشپی له‌خوا دخوست په‌لار دافغا نی لښکرورهنمائی کړی اود ټل او وانه لوی افسر اپریدی هغه ئی نادر خان‌غازی‌ته را وست اودجګړی څخه ئی‌لاس واخیست اوپه افغانی لښکرو کښی‌سره دډلی شا مل شو .

عجب خان اپریدی په ۱۳۴۰ ش‌کال کښی افغا نستان کښی د۹۵کلو په عمر وفات او خاورو ته په ډیراحترام وسپارل شو.

دعجب خان میړانه لدی لاندی‌شعر څخه معلو میږی.

عجب خان :

بر هغه هغهوی چه تو ر زنؤی    چه مین په خپل وطن وی
ای ملکه ښه ئی واوره    ددری داسکنړه خا و ره
خاوره نده دا افق دی    ددی خاوری په مونږ حق دی
که خوك خاندی‌او که ژاړی
خو دا خاوره‌به حق غواړی

ملك رحمت خان:

عجب خانه ته په خود شه    په نادانه ته په خود شه
دانګریز خبری پر یږ ده    دجنګیز خبر ی پر یږ ده
ګنی زر به بندیو ا ن شی
هلاکت له‌به ر وان شی

عجب خان:

زه دجال نه ښه خبر یم    خو پښتون یمه زړه ور یم
سر به نکړمه خم واو ره    ټول ئی او ری ته هم واوره
څما خو نه چه تا لا شوه    څما مینه چه بید یا شو ه
آبادی چه ادیر ه شو ه    نو دا ستا په مشوره شوه
ته د کلی معتبر ئی    خو انګریز نه هم بتر ئی
دانګریز چه‌بهی خور وی
هغه قوم لره پیغو ر وی

ACKU

ملك رحمت خان:

خو له سمبا لـه کړه نادانه — ولی تنګ ئی له خپل ځا نـه
زه طوفان یمه آفت ... یـم — ښه می پیژ نی ر حمت یـم
که زه خوږ یم نو نبات یـم — که زه سوړ یم نو حیات یـم
او چه ګرم شوم انګار شـوم — په غصه چه شوم تلوار شوم

ددو ستانـوتابعدار یـم
دښمـنـا نو لـره مـار یـم

عجب خان:

نـه نبـات نـه حـیات ئـی — ته دښمـن د کا ئنات ئـی

ملك رحمت خان :

مګر تـه دقـام دښمـن ئـی — ته بد خواه دخپل وطـن ئـی

غلاو شوکی دستا کار دی
هـرسړی تـانـه ویزار د ی

عجب‌خان :

مـانـه هیڅوك ویـزار نـد ی — قام وژل ځمـا کـار نـد ی
قام چه څوك وژنـی غـدار و ی — چه غدار وی په دین خواروی
زه خواخوږی دخـپل قام یم — زه دهر سړی غـلا م یـم
زه دقام په مینه رنګـ یـم — داسلام پـه‌مینه ر نګـ یـم
انګریزان چـه غـا صبان دی — نو ځـما هـم غـلیـمـان دی
ځما تره چـه بندیـوان شـه — ښه آباد کور می چه‌ورا نشه

خلکو ته:

یو تر بور می چه په قید شه — دصیا د د غشی صید شـه
آزادی چـه مـی ور کـیـږی — ګرمه وینـه مـی خو ټیـږی
ځکـه غـم دانـتقـاد کـړ م — اوس به څنګه زه آرام کـړم
اوس دتوری شرنګ پکار دی — څه خو کار دننګ په کار دی
ای تـور زنـو افـر یـد یـو — ای زړه ور افـر یـد یـو
اوس راپورته شیء تیار شیء — یاپه تخت شیء یاپه دار شیء
که نن توری بی نیام کـړی — نو انګریز به هم غلام کړ یء
بـس ځـما دغـه ګفـتار دی — اوس دستاسـو اختیـا ر دی



ACKU

بیداری غواړی که خو ب ... غلامی که میږ نته و ب
خو ځما دغه سو گند دی ... چه هرکس ورته څر گند دی
نه به خواب کړم نه آرام ... چه وا نخلم ا نتقا م
له هغو چه انگریزان دی ... داسلام چه دښمنان د ی
نه لښکر شته نه سا مان ... زه ولاړ یم په بیل ځان
چه و لاړ یمه نو غر یم ... زه پښتون یمه زړه و ر یم
زه مغلو ته خیبریم
زه انگریزو ته لښکر یم

## ملتان زخه خیل:

دتیرا دخیبر او تاتری دغاز یانوډلی څخه یو نو میالی غازی دی په ۱۹۰۸ع «۱۲۸۷»ه دانگریز برخلاف په تیرا کی ډله جوړه او په انگریزئی حملی کوای چه دهغوی څخه ئی داندرشیر حمله دهچه دده دټوپك دگو لیو سوری اوس هم دتیلفون اوبرق په پایوکی موجود دی نوموړی دتودی جګړی وروسته دبالاحصار دپو لیسو سره ئی جګړه شروع اونورو ملگروئی چه اتیا کچری ور سره وی داندر شیربازار ته داخل او دانگریز دوستان صرافان اونور نوکر پیشه ئی تالاکړل پدی وخت کښی جنګ شروع نو دوی په تاوده جنګ کښی دشاهی باغ له لاری شیخ ولی نومی ځای ته ورسیدل اوبیا کجوری ته لاړ نودوی دانتقام اخستلو دپاره ۱۹۰۹ ع «۱۲۸۸» ه،ش کال دتیرا په بازارحمله وکړه او ددی حملی سره سم دتیرا خلکو دغزا اعلان وکړ جنګ شروع شو دانگریزی پوځ اتیا کسه مړه او نور ډیر زیات کسان ئی مات. گوډشول اته تنه دتیرا اپریدی شهیدان شول روس کیپل پرنگی سو لهوغوښته او واپس لاړ. نو څرنگه چه ملتان ئی په زور ونه نیوه نو نوری دسیسی ئی ورته جوړی کړی همده سبب وه چه دپیسو په وجه شیرغلام نومی ته ئی شل زره روپی ورکړی نو د۱۱ ملگرو سره ئی دپیښور په سرویزخوړ کښی په یوه سمڅ کښی دیره شول نوشیر غلام دډوډی په بهانه لاړ او پرنگی ته ئی خبر ورکړ.

نو دپرنگی او ملتان دملگرو ترمنځ جګړه وشوه نوچه څومره ورسره دارو مردکی وجنګ ئی وکړ او څلورتنه ملگری ئی زخمی او ٦تنه ونیول شول اوبیا دملتان څخه څوك خبرنشو .

دملتان زخه خیل شجاعت پدی لاندی شعر کښی بیان کیږی:

## اندر شمیر

دنیاله اندر شمیره          ډاکی یوړله ډیره
لاټ جمع فرنگیان کړ پــه رعیتمی کړوزی زیاته
ملا وتړی تیراته
سپتانو ورته ویل چه مونږه ځودپیښوره
خبر شه کمشنر
خبر شه ته سر کاره          غوږ ونیسه هو ښیاره
سو دا موده‌پدی‌کښی تیروی مونږدشمشمیره
دنیا داندر شمیره
نصیب دډاړو کم شو          دځان ورسره غم شو
بال بــچ سره موبیایی اپریدو راخستی زیاته
ملا وتړی تیرا ته
بال بچ به‌مو روان کړی          بیا ځوك زمونږ پرسان‌کړی
ډاکه داپریدو په پیښور راغلــه‌برسیره
دنیا داندر شیره
تار ورکړ چیلا رام          کل حال پکښی تمام
په راج‌کښی دپرنگ په گرزید وکاغذ په سر
تالاشو پیښور
خبر پری شهزاده شو          پیشانه غمزده شو
لندن کښی پرنگیانؤ زیړ زبښلی‌داندیره
دنیا داندر شیره
شهزاده ور کړ خبر          دوی وړاندی کړ لښکر
بی نیمه ایجنټیان بــه چلــیده دجمرود خواته
ملا وتړی تیراته
جمرود خوا کښی دیره شو          غازیان ور ته پوره شو
چوره کی یارمحمد په کلانوبست‌فرنگ
کړی کفر سره‌ننگ
دکفر سره مل شو          په نزد دشر عی غل شو
دولت یی کړ قبول ورځ دقیامت‌شوه ترینه‌هیره
دنیا دا ندر شیره



ACKU

خپل دین اسلام یی خوار کړ        په غاړه یی زنار کړ
بدنام یی کړ اسلام که رب یی خونه کړی میراته
ملا وتړی تیرا ته

لوی لاټ یی ترینه مړ کړ        په خاوره یی خړ پړ کړ
کوچ وکړ پر نګیانو ځی چه ځوتری نه په بیرته
کاته به یی دغره سر ته

ملتان پکی سلطان ؤ        دټول اپریدی خان ؤ
حملی به یی کولی په پرنګ باندی بر سیره
دنیا داندر شیره

صفت دمو منا نو        ماوکړ سامعانو
مولادی مکرم بصیر تیر کړ ی دصراطه
ملا وتړی تیراته

## اخونزاده محمد الیاس :

اخوند زاده محمدالیا س قمبرخیل په ملاصاحب مشهورو او دا ځکه چه نوموړی دمیدان کمبرخیلو دبوټان په دره کی اوسیده. خپل ابتدائی تعلیمات ئی دوطن دعلماو څخه کړی او نور پاتی تعلیمات ئی د محکوم پښتونستا ن دمشهور علماو څخه حاصل کړی دی شا ګر د ا ن . مولانا نوردل خان قاضی محمد شاه خان زخه خیل مرام زو مولوی صاحب دننګرهار کامی مشهور او مرحوم عالم مولو ی ابراهیم خان او داسی نو راخوندزاده محمد الیاس مشهور شاګردن وو.

سفرونه : په ۱۳۵٦ هجری کا ل کښی دبیت الله شریف ته دحج دفریضی اداکولو لپاره تللی دی او اکثره عربی ممالك ئی لیدلی .افغانستان. هندوستان اوپاکستان ئی لیدلی .

ژبی :په عربی فارسی او اردوژبو ښه پوهیده .

## الحاج مولانا نوردل خان :

الحاج مولانا نوردل خان دشیردل خان ځوی په قوم قمبر خیل او په ۱۳۰۰ هجری کال دتیر دمیدا ن په علاقه کښی زیږیدلی .

تحصیلات .لمړی بناغلی مولانانور دل خان دخپل تره مولوی ګل احمد خان څخه په کور کښی ابتدائی تحصیلات کړیدی او د هغی نه پس د

بو تهان اخوندزاده محمد الیاس ځنې ئی ځینی فنون لکه صرف. نحو، فقه، اصول منطق او طب ولوستل داحادیثو ا وتفاسیرو دبشپړ کولو دپاره محکوم پښتونستان پیښور ته لاړ او هلته ئی په توطیه ځا ی کښی دزخه خیلو دقاضی محمد شاه او نورو جیدوعلماوڅخه داحادیثو او تفاسیرو دوره پای ته ورسوله .



مرحوم مولا نا نور دل خان چه په مشری ملاسره په تیرا کښی مشهور دی .

شاگردان . مولانا نور دل خا ن دتحصیل دپوره کولو نه پس پـه تدریس شروع وکړه او دلری لر ی علاقو خلکو ور څخه زده کړه کوله او په عین حال کښی ئی دخلکو صحت مندی لپاره مجانی تداوی هم کولـه دمولانا مشهور شاگردان په هره علاقه کښی شته ولی مشهور شاگردان ئی دادی . مولوی خان افضل اپریدی. مـولـوی صـفت شاه اپـریـدی. مولوی امیرالرحمن اپریدی چه اوس دتیرا دسیمی دلویو او جیدوعلما و څخه دی او د پښتونستان د جمعیت العلماو په غړو کښی شامل دی .

سفرونه. مولانا نور دل خان آزاد او محکوم پښتونستان .پاکستا ن ا و افغانستان اکثره منطقی لیدلی وی ا و په ۱۳۵۶ کال کښی دبیت الحرام د فریضی دادا کولو دپاره تللی وه او اکثره عربی ممالك ئی لیدلی .مولانا نوردل خان د عربستان څخه ځینی کتابونه همراوړی چه اوس ئی دتیرا په میدان کښی یوه لویه کتا بخانـه شته دی .

الحا جمولانا نـوردل خان پـــه طریقت کښی هم لاس درلود ا و د ننگرهار د چار باغ (صفا) د مرحو م حضرت صاحب لـه خـوا نه ماذون شوی وه .

ACKU


ژبې: نوموړی مولانا په پښتو فـارعربی او اردو ژبو یو شانته پوهیده.
په سیاسـت کښې لاس وهل: کله‌چه‌په ۱۳۲۸ هـ،ش په ټولوآزادو قبائلو کښې ملی شوراگانې تاسیس شوی‌نوداپریدو قومونو له خوانه الحاج مولانا نور دل خان دتیرا خانگی دملی او محلی شوری درئیس په‌حیث ومنل شو او دپښتونستان دآزا دی‌په باره کښې ملی جهاد ته ملاو تړله په ۱۳٤۱ کال د اسددمیاشتی په ۲۰نیټه‌دغه نیمگړی‌ارزو دځان‌سره‌گورته یووړه .دنوموړی دتدفین لپاره پــه‌زرگونو خلك حاضر او پاك روح ته ئی دمغفرت غوښتنه وکړه .خدای دوبښی .(امین)

نوټ :
مولانا نور دل خان په مشری ملاصاحب مشهورو او اپریدی خلك‌ئی په مشری ه لاصاحب سره پیژنی. داهم باید زیاته شی چه دافغانستا ن داستقلال په جگړه کښې ئی په زړ ه‌پوری اونه هیریدونکی خدمتونه کړی دی.

## مرحوم محمدایاز خان:

محمد ایاز خان دمحمد حسن‌خان‌زوی دشمالی‌آزادپښتونستان‌داپریدو دکمرخیلو دقوم په‌غلام علی کښې په۱۸۸۱ع کښې‌په‌یوه فاضله‌کورنی‌کښې زیږیدلی دی .
نوموړی خپل وطن او بیا دافغانستان‌دخپلواکی گټلو پــه لارکښې اوورو ستـه لـه هغه دافغانستان لـه پارمزیات خدمتونه کړی دی چه ځینـی یاد گارو نه چه دنوموړی دزیار ا وکوښښ نتیجه وه‌اوس هم شته اودده دمیړانی، وطن دوستی اواسلام سره‌دمینی او محبت ترجمانی کوی. اوپه افغانستان کښې دخپل خـدمت پــه‌مختلفو دورو کښې‌نهه (۹) نښانونه یوه‌اندازه تحسین نامی‌لاس ته‌راوړی‌دی .
محمد ایاز خان په ۱۳۳۲ ش کال‌دعقرب دمیاشتی په لسمه نیټه پـه خپل کور کښې وفات شو.
میراکبر خان غازی زخه خیل.
دتیرا دمشهور وغازیانو څخه یو بل‌تن چه تراوسه پوری ئی په‌تاریخ‌کی نوم پټ پاتی شوی او چائی یادونه‌ده کړی‌مگرپه اپریدو کی‌ډیرمشهور دی‌چه میراکبر غازی دیاد په نـوم‌یوه تیره‌واله سندره هم ویلی شی.
میراکبرخان غازی اپریدی پــه‌قوم زخه خیل زاولدین دی څه وخت چه دپیښور په بالاحصار جنگ وه‌ودی پدی جنگی قلعه بانـدی سـم ورغی‌اوپـه قلعه باندی دږنگـی دپوځیانولخوا ووژل‌شو اود بالاحصار ترځنگ خاوروته سپارل شوی دی

## مولوی غیرت گل :



مولوی غیرت‌گل اکاخیل اپریدی

په قوم اپریدی الی خیل د تیر ا ځانگی د جمعیت العلما غړی چه پښتونستان دآزادی تحریك په لاره

کی ئی فعاله برخه اخیستی اوپه نتیجه کی دقوم دبید اری او د پښتونستان دآزادی غوښتلو په گناه

په ۱۳۳۲ کال کی دپاکستان حکومت له خواو نیول شو او په شل کاله تکلیف نه ډك قید ئی محکوم کړخو

بالاخره‌د ۱۳٤٤ کال جوزا په لسمه

نیټه‌د (۱۲) کاله بامشقته بندتیرولو څخه وروسته آزاد کړی شو.

### متلونه

کلی په لیونی پوری خاندی ا ولیونی په کلی پوری ·
۱ ــدزرو په قدر زرگر پوهیږی.
۲ــ چیرته چه زړه ځی هلته پښی
۳ــ چه نه کار هلته څه کار.
٤ ــبی چرگه به هم سباشی.
٥ــ خپل به پردی نشی او پردی‌به خپل‌نه شی ·
٦ــ دیوه لاس‌نه ټك‌نه‌خیژی ·
۷ــ پښتون وینه پرېږدی اوبرید‌نه‌پرېږدی ·
۸ــ خپل عمل دلاری مل ·
۹ــ چاړه که‌د سروشی خوپه‌خیټه‌ئی څوك نه منډی ·
۱۰ــاوبه په‌لوړ نه بلیږی.
۱۱ــ که بدی نکړی بدی چا ری‌بدی به چاویژه بی لاری ·
۱۲ــ په ښه خبره مارهم دسوړی‌نه وځی ·



ACKU

۱۳- دوربښ نه تیری اوبه بیرته‌نه جار وځی .

١٤- ژرنده که دپلارده همپـوار ده .

١٥- څه چه کری هغه به ریبی.

١٦- چې وئی غواړی په خوله وبه‌ئی‌خوری په څه .

١٧- لمر په گوته نه پټیږی .

١٨- سل پاپړ دیوه لوړ .

١٩-که غر لوړ دی په سر ئی‌لارشته .

٢٠- غرپه‌غره نه ورځی سړ ی‌په سړی ورځی .

٢١- اختر پټ میره ندی .

٢٢- ددروغو منزل لنډ دی.

٢٣- کوږ بار ترکوره نه رسیږی

٢٤- دلاندو خاورولړی اوبه بس‌دی.

٢٥- دړردی کټ نه دنیمی شپی‌تګ دی .

٢٦- دمکی نه زه راغلم اوتوری‌تیږی ته دموی .

٢٧- دپردی زوی سرعټ وی.

٢٨- خوشی ناستی نه غزل ویل‌ښه دی ..

٢٩- دمریی په خیرئی وګټه او دخان په خیرئی وخوره .

٣٠- یوپه طمعه بل بی غمه .

## ب: دتیرا اورکزی

لیکونکی ممبر خان ستوریخیل



ممبر خان ستور یخیل یو زلمی شاعر اولیکوال

ورکزی آزاد شمالی پښتونستا ن دتوریالیو او ننګیالیو قامونو څخه یولوی اومېړنی قام بلل کیږی چه د تیرا په آزاده خاوره کښی میشته او سکونت لری دخپل وطن او خپلی خاوری دساتلو لپاره ئی راز راز تکلیفونه ګاللی او د سرومال قربانی ئی ورکړ یدی د چنګیزیانو او مغولو دزمانی نه راپدی خواتراوسه پو ری دغه مجاهد قام داستعمار منحوس لاس خپل وطن او خپلی خاوری ته نه‌دی پرینښودلی ورکزو په‌خپل‌تاریخ کښی ـچنګیزیانو ـمغلو اوانګریزانو سره سختی ډغری وهلی دی ورکزی قام په خلورو یشتو ښاخونو ویشل‌شوی‌دی لکه :

۱ـستو ریخیل.
۲ـ سپای .
۳ـمانی خیل
٤ـ برامد خیل
٥ـ باباخیل
٦ـ عبدالعزیز خیل.
۷ـ اتمانخیل
۸ـ فیروز خیل
۹ـ بیزوټ خیل
۱۰ـ میشتی
۱۱ـ ملاخیل
۱۲ـ علی خیل
۱۳ـ شیخان
ـ۱٤ـ اخیل

۱۵ـ ربیه خیل
۱٦ـ علیشرزی .
۱۷ـ مسیزی.
۱۸ـ ماموزی .
۱۹ـ مامازی .
۲۱ـ وزیر
۲۰ـ خوائیداد خیل
۲۲ـ وتی زی.
۲۳ـ خمکنی
۲٤ـ توری.

چه دغه ټول قامونه په یوه ورکزی‌باندی یادیږی دیوه پلاز اویوی مور اولاد دی یوننګ یوناموس اواتفاق‌دی دوطن حفاظت او خپلی خاوری ساتل په ځان فرض بولی دوطن دحفاظت او خپلی خاوری دساتلولپاره ئی همیشه مجاهدی کړی دی او دهرقسم قربانی امتحان ئی ورکړی دی دپیرنګیانو په زمانه کښی یعنی هغه‌وخت چه پیرنګیانو دهند په لویه خاوره استعماری پنجی‌ښخی‌کړی اوپه محکوم پښتونستان ئی‌ګیله‌واچوله غوښتل‌ئی چه‌خپل منحوسی دسیسی‌اوناروا ارادی دورکزی قام په ازاده خاوره کښی په کار واچوی خودورکزی قام قوی عزم او کلکه اراده خپلوغزاګانوته دوام ورکړی اوپه‌مجاهدوئی لاس پوری‌کړه خپل قامیت او اتفاق ئی ژوندی وساتل دپیرنګیانوارادی بیځایه اوناکامی پاتی شو ی ورکزی په خپل وطن مین اوپه قامیت‌ټینګ قام دی نه غواړی چه ددوی په وطن یا قامیت کښی څوك دخل‌وکړی په قامی اتفاق او اتحاد خپله خپلواکی ژوندی اوخپله خاوره‌آزاده‌ساتی دخپل وطن او خپلی خاوری ساتل دورکزی قام فرضی وظیفه‌ده ددفاع په لحاظ دخپل تار یخ په صفحو کی ډیر جګ مقام لری .

## اوله برخه تاريخي وضعيت :

دکرم ايجنسي په‌نوم چه کومه‌علاقه ياديږي په دي کښي اوه‌لوی قومونه آباد دي بنگښ په سنه ۸۰۰ ﻫ کښي دکرمي علا قي ته راشر يك شوی دي او توری په‌سنه ۱۰۰۰ ﻫ کښي او د دواړو قومونو تر منځه دکرمي دز مکي‌په قبضه باندي دانگر يزانو تر زماني سنه ۱۸٤۹ ﻫ پوري جنگو نه‌وواوبيا په‌خاص طور سره دد ی جنگونو سلسله هغه وخت نوره‌هم‌سخته شوی وه چه په سنه ۱۸۰۰ع کښي وادي اريوب ته دتوری قو م‌نوری نوی‌کلي راغلي وی اودد ی دواړو قومونو تر منځه دبړ کسي‌پيواړ ـ شلو زان ـ ژيړان او ملا نا دقبضي په سلسله کښي جنگو نه‌شوي وو د دوی دغه خانه جنگي طرف ته داشاری کولو غر ضـ‌دادی چه څه وخت انگريز ان د کرمي دعلاقي پولي ته‌دکوهاټ .بنواو شمالي وزير ستان علا قو ته را شريك شول نو دبدقسمتي نه دادواړه قبيلي په خپل منځ په جنگونو کښي اخته وو .

«۳» دکرمي دريم قوم د منگل‌قبيلي خلق دی دوی

په سنه ۱۲۳۹ کښي دکرمي‌وادی ته راشريك شوی وو اوددی وادی په برسر کښي دسپين غره‌په لمنو کښي پراته دی.

«٤» دکرمي څلورم قوم دچك‌مني «چمکني» قبيلي خلق دی دا د پښتون قوم په قبائيلو کښي ډيرزيات پخواني قوم دی . دخو ست کرم اوتيرا علاقو ته ددی قو م‌مشران دنن نه دوه‌زره اته‌سوه کاله پخواپه سنه ۸٤٦ ق م‌کښي راغلي‌وو دچمکني قوم دقبايلو نومو نه دادی حاجي خيل څوا جك . خاني‌خيل . ليساني . غربينه . گود ری ددوی علاقي ته‌پاړا چمکني وايي.

د «٥» قوم‌نوم مسوزی دی . دشا خونو يی دانا مي دی :ـ

مشو خيل دلمر زايي .سمل .اشں خيل . گاړ .مند وخيل .دوی چه‌په کومه علاقه پراته دی هغي‌ته مسو زای وئيلي شي .

د «٦» قوم نوم علي شير زا يي‌په جغرا فيايي لحاظ د دوی دعلاقي دوه حصي دی ديوی نوم سو دی‌دی او ددويمي نوم پتا ؤ دی .ددی قوم دلاند نيو ښا خونو اوقبيلونومونه دادی . مير محمدخيل‌مصری خيل ،عمر خيل ،کسيا خيل دو ی‌چه‌په کومه علاقه پراته دی هغي ته دره علي شير زايي وايي .

ACKU

«۷» قوم نامه ذو مشت چه‌هر کله چه‌په هغې انګریزانو په شمالي وزیرستان داتما نبز ی«زمخت نامه» یادیږي . دقبا یلو نومونه یې دادي خو ئید اد خیلوني زایي . منډان . منتولل . دا ودزي . په‌دوي‌کښې‌دمنډا نقبیلي خلق چه په‌کومه ځمکه پراته دي هغې ته‌پاړه منډان وایي

د «۸» د وروستني خلوز واړه‌قومونه چه په کومه ځمکه پراته‌دي هغه دوادي کرم شمال او مشر ق‌خواته واقع ده. ددې قبیلو اود توري او بنګښو تر منځه دیوبل‌قوم‌خلق آباد دي چه‌نوم یې زیړان دی اوعلاقه یې‌په پاړ ایران یادیږي .

«۹» د وادي کرم‌په جنوب مغربي‌او جنوبي حصه کښې شما لی وزیرستان او دکوهاټ اوبنو علاقې‌ته څرمه دوزیري قوم دکابل خیل قبیلي خلق آباد دي .

په کومو ورځو کښې چه په کابل‌باندې دمغلیه حکمر ان همایون باد شاهي وه .اوپه کرمه یې هم‌قبضه راغلي وه‌نود هغه‌په زمانه سنه ۹۵۰ هـ کښې د وادي کرم‌علاقه په دوه نومونو یاد یدله «۱» لره کر مه (۲) بر ه کر مه لکه‌دتیرو شوو «۴۳۸» کالو راپدیخوا ترنن ورځې پوري وادي کرم په‌هم هغه نومونو یادیږي .

## دکرم اولنی غزا :

د وادي کرم اولنی غزا په۲۰ ـ دسمبر سنه ۱۸۵۹ ع کښې شوې وه چه‌د انګریزانو پوځ‌دکرنل‌سر نیول چیمبر لین په کمان‌کښې دکوهاټ دپو ځې چا ونې نه‌روا نشوی وو اودکر مي په‌سیند د پوري وتلونه وروستو دبلند خیلوپه لاره په میداني غره باندې دحملې په‌نیت چپاوئي کړې وو. دلته‌دایاد لرل پکاردي چه دکو هاټ ضلع هغه حصه چه دټل چاو نۍ نه جنوب مشرق طرف ته واقع ده اوپه پخواني تاریخ کښې په‌ننده اومنده یاد شوې ده‌داهم د انګریزانو دراتلو نه مخکښې په‌وادي کرم کښې شامله وه .دکر مي په‌دې اولنی غزا کښې دخټکو.وزیرو دوړو . مسید ونه علا وه دعلي شیر زیې او لري کرم نوروقبا ئیلو حصه اخیستی وه اود فرنګیانو په خلاف دمهم آغاز یې کړې وو .



ACKU

## دکابل خیلو غزا :

په سنه ۱۸۵۹ کښې دوزیر، دوړ، ختك. مسید وقبایلو په خلاف چه انگریزانو کومې حملې کړې وې هر کله چه په هغې کښې دوادی کرم قبائیلو هم حصه اخیستې وه نو ددغې نه وروستو چه څه و خت انگریزانو په شمالی وزیر ستا ن د ا تما نزی وزیرو اودوړو په علاقو باندې کوم پوځي اقدا مات کول په دې غرض چه دشاد طرف نه پر ی باندې دکرم دعلاقو غازیان حملې و نه کړي نو داییې ضروري و گڼله چه دکوهاټ بنو او شمالي وزیرستان سره چه دوادی کرم کومه پوله جنگیدلې ده دهغې هم تابیاو کړي لکه ددې قسم وجوهاتو له مخه هر کله چه په سنه ۱۸۶۹ کښې انگریز ی پوځونه دبر یکیډ یر سرنیو ل چیمبر لین په کمان دبنو د پو ځی کیمپ نه روان شول چه دشما لی وزیر ستان ددوړ قوم او ددرویشس خیلو وزیر و په علاقه باندې حمله وکړي. نو دهغې نه وړاندې یې دلوئیر کرم «لره کرمه» د کابل خیلو وزیر و په علاقه حمله وکړه ددې حملې جواب چه قبا یلي غازیانو په کومه بها دری کړی وو دهغې اندازه ددې نه لگو لی شي چه د غا ز یا نو یو ی و ړ ی ډ لی چه شماره باندې فقط اته شله «۱۶۰» کسا نوو . دانگریزانو په پوځ باندې یې په منځ لاره کښې احمله وکړ له او د فرنگي د پوځ نه ئې پنځه دپاسه دیارلس شله پوځیان قتل کړل او د تعجب خبره داوه چه دغاز یانو دډلې نه د یو غازي هم نوك قد رته سورنه شو ددې غزا نه وروستو د وادی کرم د ننگیالو قبائیلو او دانگریزانو ترمنځه پریوتله دغزامیدان نورهم گرم شو. فرنگیانو دا فیصله کړې وه چه په هر قیمت باندې چه کیږي په وادي کرم قبضه و کړي او د غازیانو فیصله داوه تر خپله وسه وسه ددین اسلام ددښمن برخلاف غزا سلسله جاري وساتي . دواړه فریقه په خپله خپله فیصله ټینگ ولاړوو ددریائی کرم سپینې اوبه دواړه فریقو په سروو ینو باندې تکې سرې ښکنته بهیدې .

دلته دا یاد لرل پکار دي چه انگریزانو دوادی کرم دقبائیلو په خلاف دجنگو نو کوم مهم شروع کړې وهغه ددوه طرفه نه و.

الف ـ یو طرف به ئې دکوها ټ د پوځی کیمپ نه علاقه نریاب ته مغرب طرف ته او دعلاقه دوابه نه شمال مغرب طرف ته دتوره وړی (تورغر) په لاره به په علي شیرزی باندې ددغه دری په لمر ختیځ او کوز سر باندې حملې کولې دره علي شیرز ی دتیراه علاقه ده داورکزی قوم څینې

حسابیږی .لیکن هر کله چه اوس په انتظامی لحاظ دکرم ایجنسی سر ه تړلی ده ځکه مونږ هم ددغه غزا دوادی کرم دغزا گانو په لړ کښی راوسته .

ب- دویم طرفته به ئی دتمل ا ومادی شمه داړخ نه حملی کولی نکه هم په دی سلسله کښی دوادی کرم منځ ته دلمر خاته (مشرق) د طرف نه درسید لو په غرض یوه حمله په سنه ۱۸٦۸ کښی دموجوده ضلـع کوهاټ دمقام نریاب د طرف نـه داورکز وپه علاقه کښی ددره علـی شیرزی په مشرقی سر حد باندی دمیجر جونز په کمان کښی کړی وه ددی غزا او جنگ ذکر مونږه پــه ابتدائی فهرست کښی دسنه ۱۸٦۸ دجنگونو په تړ کښی دورکز و غزاپه عنوان سره کړی دی .

## دسنه ۱۸٦۸ دوهمه حمله:

هم په دغه کال سنه ۱۸٦۸ کښی دورکز وپه ذیلی ښاخ علی شیرزی باندی وادی کرم ته په لنډه لار دمشرق دطرف نه درسید لو د پار ه کوهاټ دعلاقه دوابه دتوری غونډی(توره وړی ) او (تور غر ) په لاره د جنرل وائید په کمان کښی حـمله کړی وه په دی دواړو حملو کښــی انگریزی پوځونو ډیر سخت وهـل خوړلی وو .ډیر زیات نقصا ن ورته رسیدلی و او دکربو غی دبابا جی صاحب مشهور مرید شیخ اخونــد ولی الله صاحب دماموزی د خپلـو مریدانو د ورکزی علاقـی د مختلفو قبائیلو غازیانو سره سخته مقا بله کړی وه .

## دعلی شیر زو غزا :

ددی پورتنی پس منظر په رڼـــا کښی په کوموو رځو یعنی سنه ۱۸٦۹ کښی چه یو طرف انگریزی پوځونودسرنیول چمبر لین په کمان کــښی دبنو دپوځی کیمپ نه د کابل خیلووزیرو په علاقه حمله کړی وه. نوبل خواته ئی ددوا بــه (کوهاټ)تــه دتوره وړی په لاره ددره علی شیرزی ختیځ سرحد باندی حمله کړی وه دا حمله دوه لوړ ولوړ و غرونو دشمالی او جنوبی ترمنځه په الگلډه او تو ئی کی مغرب طرف ته غزیدلی لاره باندی شوی وه ددره علی شیرزی دالگلډه دخوړ په رسامنځ کښی ځای د غاز یانو او شهیدانو بی شماره زیار تونه اوس هم مو جود دی . چه یو زیا رت پکی د حضرت نظام الدین بخـاری عـلیه الرحمة دی .



ACKU

# سید نظام‌الدین شهید (رح)



ملک عبدالحکیم خان ستوری خیل دپښتونستان یو حساس پښتون

حضرت سید نظام الدین شهید (رح) چه‌په قام باندی بخاری سیدوو ددره علی شیرزی اوسیدونکی وو. په سلسله عالیه قادر په کښی د حضرت باباجی صاحب (رح) دسوات ماذ ون او خلیفه وو. او دسوات د باباجی صاحب (رح) د نورو خلیفه گانو او ماذونانو په‌شان دانگریزانو په خلاف په جهاد ونو کښی ئی عمر تیر شوی وو. د تو ره وړی په غزا کښی دنریاب‌په غزاکښی دتوره وړی په دویمه غزا کښی ا و وریسی داو رکزی (علی شیرزو) په دی دریمه غزا کښی چه په سنه

۱۸۶۹ کښی دتوره وړی په لاره دکونل کینر په گمان کښی شوی وه د علی شیرزی په ختیځ سرحد (الگهی‌خوړ) په‌رسا منځ کښی په ډاگه . میدانی او اوره ځمکه باندی شهیدشوی واو چه په کوم ځای کښی‌شهید شوی وو هم په هغه ځای کښی دکلی‌او آبادی نه جدا او لری پری مز ار جوړ شوی دی په کوم ځای کښی‌چه‌ددوی مزار دی دهغی نه دامعلومیږی چه غازیان دانگریزی پوځونو مقا بلی‌ته غرونو د دړ ونه ښکته میدا نی حصی ته راکوز شوی وو. رسا منځ‌لاری ورته نیولی وه او د انگر یز ی پوځونو پیش قدمی ئی حصار ځکړی‌وه. او په هغی کښی حضرت سید نظام الدین بخاری دشهادت مر تبه‌حاصله کړی وه .

دکرنل‌کینر په‌گمان کی‌دا حملـه‌ناکامه شوی وه ددره علی شیرزی په دډه‌کښی چه وزیری قوم کوم‌ننگیالی‌غازیان آبا ددی هغه ورسره د چکمن نو مشت .موسی زی ننگیالی پښتانه‌دعلی شیرزی په دره کښی داسی راپریوتل لکه چه دپاسه نه سیلاب‌راشی انگریزی پو ځونو که‌هر څو مره کوشش وکړ چه دره مر غا ڼته ځان ورسوی لیکن کامیاب نشول او په دی شان سره دوادی کرم منځ‌ته دلمر خاته طرف نه درسیدلوکومه

منصوبه وهغه ناکامیابه شو له .البته دټل او مادی شمه په لار چه کوم انگریزی پوځونه مخکښی تللهغوی ځوقدمه وړاندی تللو کښی کامیاب شوی وو.

## دکورمی دوهمه غزا :

په کرمه باندی په سنه ۱۸۶۳ کیدامیر دوست محمد خان د ځوی محمد اعظم خان حکومت وو. هر کله چهامیر دوست محمد خان په ٦ جونسنه ۱۸۶۳ کښیو فات شو اود هغه پهځای امیر شیر علی خان دافغانستان پادشاه شو . نو په سنه ۱۸٦٤ کښیمحمد اعظم خان د خپلورو ر امیر شیرعلی خان نه بغاوت وکړ .مقابلهوشوه .محمد اعظم خان شکست وخوړ هندوستان ته په تیښته لاړانگریزانو ته ترینه دافایده ورسیدله چه په کرمه کښی دسردار محمداعظم خان کومه ډله او پره وه هغه انگریزانو ته رانژدی شوه.

دانگریزانو په سازش په کرمه کییو ځل بیا دامیر شیرعلی خان په خلاف بعاوت وشو لیکن امیر شیرعلی خان خپل وزیر محمد رفیق خان مقابلی ته را ولیږ ه هغه بریالیشو اودکرمی باغیان ووهلی شول . لیکن سیاسی طور دانگریزانو ډلهپکښی نوره هم پیدا شوله .

بل خواته د انگریزا نواوامیرشیرعلی خان تعلقات خراب شول . پهسبتمبر ۱۸۷۸ کښیدافغانستانپهخلاف داولین جنگ ا علا ن وشو . انگر یزا نو په د ریطرفه په افغانستان حمله وکړه دخیبر،کرمی او بولان په لاروو غازیانو مقابله وکړهلیکن انگریزانو په ډ یر زور کښی حمله کړیوهغازیانو ورته لارنه شوه نیولی . په دی موقع دجینډړی ء سده اوجهلم په مقام چه غازیانو کومه مقابله کړی وه هغه دیادولوده .

په کورمه باندې په سنه۱۸۷۸ کښی دانگریزانو دحملی نه دری اثرات اونتیجی راوتلیوی (۱) یوه داچه ددی حملی په ذریعه انگریزانو ته دکورمی اهمیتنورهم معلوم شو چه په افغانستان باندی د حملی دپاره دالار ځو مرهاهمه ده چنانچه د حملی سره سره ئی هم په دغه سنه۱۸۷۸ کښی د دریائی کرم په غاړه دټل توتکی (پاړچنار) پوریدسړکجوړ و لو بنا ء وکړ له .

دسړك دجوړ ولو د پاره دبارك‌ختیكو خان چه خواجه محمد نو م ئی وو .پنځلس سوه ختیك سره‌داوښانوپه بیگار را لیبن لی وو دهغی په خلاف د پارك ختیكو اولس‌را پورته شو. جنگ ئی وکړ چه ور وستیو به ددغی واقعی حال بیان‌کړ و .

ـ (۲) انگریزانو چه په‌کابل حمله‌وکړه امیر شیرعلی خان ووهلی شو اوپه٤تاریخ دجمادی الثانی سنه۱۱۹٦ ه مطابق ۲٦ ـ می سنه ۱۸۷۹ دگندمك په مقام د امیر محمدیعقوبخان نه‌په زور زیاتی په‌معا هده دستخط واخیست او ددغه معاهدی‌په دویمه ماده کښی دافقره شامله کړله چه دکرمی علاقه به‌ځاځیو دعلاقی ترامتداد پو ر ی د انگریزانو وی . قانونی طورانگریزا نو دځان دپاره داحق حاصل کړ . چه په کرمه‌باندی د جنگونو کولو سلسله جاری وساتی.

(۳) ددی جنگ په نتیجه کښی‌دکورمی په علاقه کښی‌یوبها درتوریالی او نومیالی غازی میدان‌ته راغی چه هغه د کوزی کورمی او سید ونکی وو . غلام سرورخان‌نوم ئی و په قام باندی منت وال ذومشت و . او په چکی نامه‌مشهور وو. چه وروسته به دده دبعضی کارنا موتذکر په اختصارسره وکړ لی شی .

## دکورمی دریمه غزا:

په‌سنه ۱۸۷۸ کښی انگریزانوپه کرم کښی د سړك په جوړولو لاس پوری کړی وو . .هرکله چه‌په‌سنه ۱۸۷۹ کښی دگند مك دلوظنامی په ذریعه په کرمه باندی‌خپله قصبه ثابته کړه نوپه کورمه باندی دلاس راوستلو دپاره ئی‌نوی اقدامات شروع کړل .بل طرف ته د خواجه محمد خان‌بارك ختیك چه کوم پنځلس سوه ختیك په بیگار باندی دکورمی دسړك‌دپاره را وستلی و .هغوی دکارکولو نه انکار وکړ او وروستو دهغه‌وروڼو عزیزانو دختیکو په علا قه کښی هم‌شورش پورته کړ او ورسره په‌کورمه کښی دد ر مشت قبیلی دبهادر غازی غلام سرورخان‌المعروف چکی په مشرۍ کښی دذومشت مو سی خیلو ـ علی‌شیرزو. بنگښ او ځمکنیو غاز یا نو دکورمی په‌هغه خلقو باندی چه‌دکورمی په تیرۀ شودوه غزا گانو

کبنی ئی دانگر یزانو امداد کړی‌وو .حملی‌شروع‌کړلی او بل خواته ئی دانگریزانو دسرك جوړو لودکار بند ولو دپاره حملی شروع کړلی نو ددی حالا تو او واقعاتوپه بناًانگرزانو په وادی کرم باندی خاص طورد ذومشت په‌قبیله باندی په سنه ۱۸۷۹ کبنی دجنرل ټټکرپه کمان کبنی یوه بله‌حمله وکړ له.

دانگریزانو په تاریخی یادشتونوکبنی داحمله دعلاقه ورکزای دجنګ په نامه یاده شوی ده . او ورسره‌ئی دالیکلی دی‌چه حمله په ذومشت قبیله شوی وه هر کله چه مشهورغازی چکی په قام ذومشت وو . او هغه د کوزی کرمی په علاقه‌کبنی او سید ه اوپه کوزه کرمه‌کبنی ئی دانگریزانو په خلا ف دعز امهم دکامیابی او په کرمه کبنی دانگریزانو دطرفدارانو د مغلو ب‌کولو دپاره دخپلی باد شاهی اعلان کړی‌وو. په‌دی وجه مو نږداغزا دکرمی دریمی غزا په نا مه یاده کړه .

په دی غزا کبنی کوم پنځلس‌سوه خټك چه د سړك دمزدوری دپاره په بیگا ر باندی را وستلی‌شوی وو هغه هم دغازیا نو سره ملگری شول .په قدم جنګ وشواودډیری تبا هی او بر بادی نه ـ وروستو دانگریزانو پوځ بیر ته‌واپس لاړ .

## غازی چکی :

لکه چه‌مخکښی ذکر وشو دغا زی چکی نوم غلام سرور خان وو . په قام منت وال وو .چه داقبیله‌د ذومشت قوم یو ښاخ دی .دکرم یو انگریز افسر چه مرك نوم ئی‌دی هغه په خپل رپوټ کبنی لیکی چه‌چکی یوزړه‌ور دجرات اوشجاعت‌خاوند.عقلمنددور اندیش او بها در ځوان دی تراوسه‌مونږه‌دواد ی‌کرم‌ملك هاشم علی خان ډیر لوی سړی گڼلو لیکن هغه د غلام سرورالمعروف چکی دکچی گوتی برابرهم نه‌دی .دمستر مرك ذاتی‌خط دگورنرجنرال انډ یا په نوم ).
چنانچه دی‌بهادر غازی داکوشش‌شروع کړچه‌دکرم علاقه انگریزا نو دقضبی نه‌بچ کړی .ددی غرض‌دپاره لکه چه ذکروشو دلوئر کرم په علاقه کبنی ئی خپله باد شاهی‌قائمه کړله بیائی په اپرکرم قبضه

کولو دپاره اقدامات شروع کړل .دېره علاقه‌ئی لاندی هم کړ له چه په سنه ۱۸۸۲ کښی دکرم دعلاقی‌یوه جرگه انگریزانو له ورغله چه تاسو کرمی ته راشی او هلته خپل‌حکومت جوړ کړی په دی سلسله کښی دیو انگریزافسر میجر کلت‌بیان دی«دکرم علاقی ته زمو نږ دتللووجه داوه چه‌ددی علاقی دتاوری‌نوم قوم دټولو نه غټ او لوی ملك مرزا گل راغی او مونږ ته ئی وویل‌چه‌تاسو هرکله چه کرمی ته را ځی ځمونږ سترگی به ستاسو په‌لاره کښی فرش وی» .

یو خواته دوادی کرم دغه‌حال‌شواوبل خواته دکرم دسړك دپاره چه دبارك خټکو کوم پنځلس‌سوه‌مزدوران په بیگار باندی خواجه محمد خان کرمی ته راوستلی‌وو اوپه سنه ۱۸۷۹ کښی ئی دانگریزانوپه‌خلاف دغازیانوملگرتیاوکړله نو په دوی کښی چه څوك ژوندی پاتی وو. هغه په مار چ سنه۱۸۸۰ کښی د ټل نه را وتښتیدل . (البته ددرویش خیل قبیلی ورسره‌ملگری شوی نه وو) چه خپلی علاقی‌بارك‌خټك ته‌راغلل‌اوخپل‌قوم‌ئی دواقعاتو نه خبر کړ. نو ټو ل پارك خلق ل، خپل خان خواجه‌خان نه وگرځیدل اوپه جون او جولای سنه ۱۸۸۰ کښی ئی‌دانگریزانو دهرقسم‌دیوانی او پو ځداری احکامو منلو نه انکاروکړ. بیائی په‌تیری‌توی‌باندی‌حمله‌وکړه‌او هلته چه څومره قیدیان ووهغه ئی‌دبندیخانی نه آزاد کړل ددی پجواب کښی په اگست سنه ۱۸۸۰ کښی‌فرنگیانو په بارك خټکو حمله وکړه انگریزی پوځونه دعلاقی منځ ته‌ورننه وتل دمیدان‌علاقی خلق ووهلی شوبیکن دلیئوغرغازیانو جنگ جاری‌وسا ته او روغ یو کال نود هم دانگریزانو سره ئی ښه دړدول .

## دوادی کرم څلورمه غزا :

په سنه۱۸۸۷ کښی انگریزان‌کرمی ته لاړل قبضه ئی وکړله لیکن دا قبضه دوادی کرمی په‌هغه‌حصه وه‌د دریاب‌په غاړه‌غاړه وه پاتی شوه هغه علاقه چه نن ورځی‌په کرم ایجنسی کښی شمارلی شی لکه د علی شیرزی موسی خیل .ذومشت او ځمکنی قبیلو علا قی شولی . نو دد غه علاقو خلقوشکست هم نه ومنلی اودانگریزانو قبضه پری هم نه وه راغلی بل‌طرف نه ددی څلور واړه قبیلو علاقی دوادی کرم سره دومره زیاتی‌گنډلی پرتی‌وی چه دددغه قبائیلو

دمخالفت په شکل د کرم سړک محفوظ نه شي پاتې کیدلی .په دې
وجه انګریزانو ددې پورتنو خلورواړه علاقو دخلقو طاقت او زور
ختم کول ضروري وګڼل .مخکښې دسنه۱۸۶۸ او سنه ۱۸۶۹ ایجنسۍ
دغزاګانو په سلسله کښې دابحث شوی دی چه ، ددغه دواړو کلونو په
جنګونو کښې انګریزانو په کرمه باندې ددوه طرفه نه حملې کړي وې. یوه
حمله ددره علي شیرزي په مشرقي سرحد «سره وړی» اودوابې دطرف نه
او نریاب او (توره وړی) دطرف نه اودویمه دټل د طرف نه، چنانچه په سنه
۱۸۹۷ کښې انګریزانو یوه حمله داورکزوپه علاقه باندې دکوهاټ
دطرف سمانه کښې وپه لاربانډې جرنیل ایلیټ مین بګزپه کمان کښې
وکړله . دپاره ددې چه داورکزو دعلاقې دغازیانو خصوصاً
ددره ماموزي اوعلي شیرزي دغازیانو مخه هغه طرف ته وګرزوي او بل خوا
ته ئې هم په دې کال سنه ۱۸۹۷ په کرم باندې دپخوا پشان بیا د
دوه طرفه نه حمله وکړله .

الف- ددوا به دطرف نه توره وړی نه دبریګیډیر ګیسلی په کمان کښې
ب- اود نریاب دطرف توره وړی ته دکرنل هل په کمان کښې دادواړه
پوځونه دتوره وړی نه وړاندې شول او ددره علي شیر زي په مشرقي
سرحد یوځای شول اومخ په وړاندې په دره مرغان پاړه منډان و غیره
ئې اقدامات شروع کړل . او مقصدئې پاړا چمکنی ته ځان رسول وو .

دو یمه حمله دټل دطرف نه وه چه دجینډړي او سدي منځ ته ځان ورسوي
په ذوهشت قبیله حمله وکړي اوبیاپه وړاندې ځان پاړا چمکني ته
ورسوي دادویمه حمله دکیپټن روس کیپل په کمان کښې شوې وه. دمیجر
روس کیپل په کمان کښې چه دانګریزانو کوم پوځ پرپاړا چمکني
دحملې دپاره روان و. دې پوځ په لوئیز کرم (لره کرمه) کښې دموضع سنتده
سره نږدې دبادامي پوست دمقام نه حمله وکړه اودپاړامنډان علاقې ته
دورننوتلو اود ذوهشت قوم ددغه ذیل بساخ منډان په زمکه دقبضې کولو
په تکل کښې شول. اود نورخاته طرف نه دبریګیډیر ګیسلی اوکرنل هل
پوځونه ددرهٔ علي شیر زائي په الګیډراپوریوتل چه دموسی زوا وعلي
شیر زو دری ونیسي.

دلته دایاد آرل ضکار دې لکه چه مخکښې هم ورته اشاره شوې ده .دا
پورتني علاقې چه انګریزانو پرې ددوه طرفه نه حمله کوله دوادې کرم شمال
مشرق اومشرق ته واقع دي.

ACKU

دبریګیډیر ګیسلي او ګرنل هل طرفه نه حمله کوله دوادی کرم شمال مغرب ته په یرغل راتلل او د میجر روس کیپل پوځونه د شمال وشمال مشرق په طرف چپاؤ کولو داټو نې علاقې دتیراه دنیمائی جنوبي او جنوب مغربی حصی نه شمارلی شي. په مقامي ویش کښي له تیراه نه حسابیږي او په قومي اعتبار سره موسی زي. علي شیرزي قومي اعتبار سره موسی زی.

علي شیرزي منځان دري واړه قبیلې ذومشت قوم شاخونه دي. او ذمشت په اوچته پیړی کښی منګل دي. ددې پس منظور به رڼا کښي هر کله چه انګریزانو دکرمې او تیراه په برید پ اورګزو . خمکنو او ذومشت قبیلو حمله وکړله . نو داو دکزی دعلاقې ټول قامونه دکرم دبر سر دعلاقې منګل او دچمکني قوم غازیان ئې مقابلې ته راوچلیدل . جنګ تود شو او قدم په قدم دهر یو کاڼي بوټي نه په انګریزانو ګولۍ وریدل شروع شول. دما مو زود علاقې پیرخانه حضرت مولانا ولي الله قادري چه دکربوغې دمو لانا انورشاه مرید وو او دذومشت قبیلې نامور غازي غلام سرور خان چکی او نور قومي مشران لکه غازي محمد شاه ولد غازي ګلاب شاه قوم ګاړمستو خیل موسی زي غازي حمید خان وتي زای ذومشت غازي بادشاه خان قوم خاني خیل خمکني راوړاندي شول دغازیانو دتبمکر سنبالني ئې وکړه او دخپلې ځمکې دیوه یوه انچ حفاظت د پاره ئې سربازي وکړله .

دغازیانو سره چه کومه وسله وه هغه د نشت برابروه . په مقابله کښي چه دانګریزانو سره کومه آتشین وسله وه. توپکونه مشین ګنونه دهغی وسله وه. توپکو، مشین ګنو توپونو دمقابلې په تشو لاسو نو ګرانه وه غازیان به قدم په قدم په شا باندې تلل او دانګریزانو په پوځ کښي چه کوم ګوره ګورکه او سکان پوځیان وو هغوی به یو یو قدم مخکښي تلل نو ور سره ور سره ئې دخپل وحشت او بربریت مظاهره هم کوله. آبادکلي کورونه . قصلونه. باغونه ،ځنګلونه چه څه به په مخه ور تلل هغه ئې ورانول. او په اورئي سیزل .جنګ روان وو هم دشپې او هم دورځې او په دې شان سره دفرنګي پوځونو دموسی زي علي شیرزي ګاړي. سمل. مامون زي او پاړامنځان علاقې یې دغازیانو ونیولې او دډیري لوئي علاقې په قبضه کولو کښي بریالي شول .

ACKU

## دجانی کوټ غزا :

دانګریزانو دحملې ټولنې پوځ څخه حصه چه دسده سره نژدې دبادا مي پوسټ دمقام نه ئې حمله شروع کړې وه. یرغل ئې کاوه اود ذومښت قوم علاقه ئې تباه کوله چه دموضع سد ه نه تقریبا نس میله وړاندې دجانی کوټ مقام ته ورسیدل نود غلته یوه ناسته (خوړ ،انګلې، توپ) ورته مخې له راغله چه دهغې نامه (پئیله .توپ) وه په دغه مقام غازیانو دفرنګی دپوځونو سره یو جنګي چال وکړ.یو عجیبه تیره ئې ورکړه چه دتاریخ په پاڼو به یادګار پاتې وي.

داواقعه داسې وه چه داپئیله نومې توپ) خوړ) دواړه طرف ته ګڼ اوګور ځنګل دی. غازیانو په ډیره تندې اوچالاکې سره د پئیله نه پورې ونلو

اوپه کښې ئې منډه واخیستله دفرنګي دپوځ دسیکانو ګوره او ګور که د پلټنو سپاهیان هم ورپسې په منډه وو زغابټ په ځنګل ور ننوتل . هر کله چه دانګریزانو دپوځ دسکها نو یوه پوره رجمنټ سپاهیان په ځنګل ورد ننه شول .نو غازیانو دنالې په دواړه غاړه عظیم الشان ځنګل ته اوور ته کړاود سکها نو دپوځ روغه رجمنټ ئې په اورستي کړنه بل خواته غازیان دانګریزانو په پوځ راور کړزید ل ګور که اوګوره پوځ په سپاهیانو یې داللّه اکبر په چغه او بنکلی تـو دي رو خلاصي کړلی لاس (په لاس جنګ وشو پرنګي پوځ دمړونه پئیله ډکه شوه.

په دې جنګ کښې غازیانو له په مال غنیمت کښې بی شماره وسله ټوپکونه کارتوس اونور جنګي سامان په لاس ورغی روغ اوسالم ټوپکونه چه په لاس ورغلي ووهغه پریږده دفرنګي کـوم پوځیان چه په ځنګل کښې په اورسوی داسې ټوپکونه یې ئوچه نیم سوي وو نیم روغ وو غازیانو دغه ټوپکونه ټول کړل دځان سره ئې دیاد ګار په طوروساتل دخکنو په علاقه کښې اوس هم دډیرو خلقو سره دغه نیم سوی روغ ټوپکونه دیاد ګار په طور موجودي اوډیر په قدریې په حفاظت باندې سنبال ساتي په هغه زمانه چه دانګریزانو دسپاهیانو سره کوم ټوپکونه وو.دهغې دوه نامې وې ګورایز، کو نیز داد واړه قسم پخوانې ټوپکونه چه غازیانو په مـال غنیمت کښې اخیستې دي. ننورځې هم په دغه قبائیلي علاقه کښې دخلقو سره موجود دي.

## دچاړو غزا :

دچاپي کوټ په مقام چه دانګریزانو پوځ کومه عظیم الشانه تباهي وشوه دهغې نه چه ډېر پوځ بچاو ژوندي پاتې شو . هغه یو ځای ته راټول شو. جنګ اوحمله هرڅه ترینه پاتې شول فقط خپله څوکۍ کوله اوپه دې انتظار کښې شول چه دعلي شیرز وددرې دطرف نه کوم پوځ راروان چه دهغوی امداد ته راورسیږي نوبیا به ګوري چه کول په کاردي څه وخت چه دغه امدادي پوځ ورته راورسیده نوبیائي جنګ اوحملې شروع کړلې مخ په وړاندې روان شول اوپه داسې حال کښې چه د پورته ذکر شو و علاقو تقریبا په څلور وکښې درې حصې علاقه به ئې قبضه کړې وه. دقبیله چکمني په علاقه کښې دچمکني ټام دیوې قبیلې خاني خیل کامیاب شول اودخاني خیل قبیلې په علاقه کښې دچاړو په مقام دا دواړه پوځونه چه رایو ځای شول. نو خپل پوځي کیمپ ئې قایم کړ دغه ئې خپل مرکزو ګرزولو اودپوځ دپاره دټو ل ضروري رسد اوسامان جمع کول ئې شروع کړل .

فرنګیانو چه په چاړ و کښې خپل مرکز ساز کړ نو دغه داسې وخت وچه بیا دوې دخاني خیل څمکنو تقریباً نیمه علاقه هم قبضه کړې وه اوپخپل فکر کښې دغازیانو طاقت ئې تقریباً ختم کړی وومنډان علي شېرزي موسی زی، زومشت ،اتمان خیل اودڅمکنو تقریباً نیمه علاقه ئې وهلې وه اوپه یوحساب دتیراه منځ ته رارسیدلي وو دقبیلې چمکني علاقه چه په کوم جغرافیائي محل ووقوع کښې پرته ده.هغې ته دانګریزانو دپوځونو رسید ل ډېره نویه خبره وه. ځکه نو په دې خبره باندې دپو هیدلو دپاره به دپاړا چکمني دعلاقې په محل وقوع نظر واچولی شي.

۱ـ دچمکني دعلاقې شمال اوشمال مغرب طرف ته ننګرهار دې.
۲ـ شمال مشرق طرف ته ئې دتیراه دافریدو علاقه ده.
۳ـ مشرق طرف ته ئې دافریدو اودموسی زي قبیلې علاقه ده.
۴ـ جنوب طرف ته ئې دموسی زي ذومشت قبیلې علاقه ده .
۵ـ مغرب اوجنوب مغرب طر ف ته ئې کرم ایجنسي یعني دوادي کرم اوزیړانو علاقه ده .

دمیجرروس کیپل په انظر کښې دڅمکنو د علاقه فتح کولو ډېرلوی اهمیت لرلو ځکه چه هم په دې سنه ۱۸۹۷ کښې هم په دغه ورځو کښې بریګیډیر . ګیسلي .کرنل هل اومیجر روس کیپل دڅمکنو په علاقه ددرې طرفه نه حمله



ACKU

کړی وه نو په دی کال او په عین دغه ورځو کښی انګریزانو پوځونو د جنرل نوټهارټ په کمان په اپریدو هم حمله کړی وه لکه چه ذکر و شود پاړ خمکنی پوته د شمال مشرق او مشرق په برید باندی د ممبر خیلو افریدو سره جنګیدلی ده تجویز دغه وو چه د کرمی د طرف نه حمله اور پوځ او د سمانه د طرف نه د جنرال ایلیټ مین بګزپه کمان کښی حمله اور پوځ او د جنرال نوټهارټ کمان کی حمله او رپوځ داټول به د اتیراه د میدان په باغ یو ځای شی او په دی ځوړ به د کرم د قبضی نه پس د تیراه داور ګزی قوم جنوبی حصه او د افریدی قوم شمالی تیرا ټول قبضه کړی شی. ټویه منصوبه وه. لیکن د خمکنی قبیلی غازیانو دغه ټوله ګډه وډه کړله.

واقعاً داسی پیښ شول چه د خمکنی غازیانو ټینګر برابر کړ او یو ناڅاپه ئی د چاړو په مقام د انګریزی پوځ په کیمپ یو طوفانی حمله وکړه او بریګیډیر کیسلی او کرنل هل چه ددی جنګ کمان ئی کولو هغه ئی قتل کړل. د خپلو جرنیلا نو په قتل کیدلو د انګریزانو پوځ وارخطا شو میجرروس کیپل هم په ټینګه کښی خپله کامیابی ولیدله د چاړو پوځی کیمپ کښی چه هر څومره سامان رسد و سله هر څه چه وو هغه ئی په ځای پریښودل او داسی وارخطائی باندی په ټیښته سرشول چه تازی سپو هم نه شول را لاندی کولی.

دا د انګریزی پوځ دګورکه او سکهانو پوځیانو حال وو. البته ځینی ګوره پوځیان ژوند ی پاتی شوو انګریزانو افسرانو حوصله دیادونی ده. هغوی چه د علاقه خمکنی نه واپس په ما تی راتلل نود چمکنی په علاقه کښی په ګورانلو نوم مقام کښی یی یو کتبه په انګریزی حروفو کښی لیکلی پریښی ده. په دغه ډېره لیک یی لیکلی دی.

د علاقی چمکنی نه دا نګریزانو د شاندارې پسپائی وجه داده چه د خمکنی قوم خلق ډیر بها در خلق دی. چونکه دا خلق د هیڅ یو حکومت په اتحتی قبلولو نه رضا کیږی په دی وجه د حکومت بر طانیه پوځو نه ددی سر زمین نه دی واپس کړ لی شی.

دالیکنه نن ورځی هم په ګور انلو نومی مقام کښی موجوده ده او د انګریزې پوځونو دغه عبرتنا ک شکست یاد تازه کوي چه خمکنو غازیانو د لاسه فرنګیا نو ته پیښه شوی وه.

هر کله چه دا نګر یزانو پوځونه د قبیله چکمان د علاقی نه واپس شول. نو دهغی یو هبه دا نتیجه شوه چه د علی شیرزی. موسی زی، ذومشت



ACKU

منځ‌ان د علاقو نه هم د انګریزانو قبضه پورته شوله . او په دې علاقو کښې د انګریزانو هیڅ یادګار پاتې نه شواو په دې جوړه قبیله چه کښې د بها درې په وجه د پورتنو خلورو واړو قبیلو علاقه هم آزاده پاتې شوه .

## سیاسي حمله :

هر کله چه انګریزانو دوادې کرم په ناوونو کښې د قبائلي غازیانو د لاس نه د جنګ په میدان کښې شکست وخوړلو . نو سیاسي میدان ته راوتل او دائې اراده وکړه چه دا خلق چه په کوتك ونه وهلې شو باید د جرګې په دام کښې ګیر شي خپل انګرېزي اسپې ئې د چمکني قبیلي مشرانو پسې ولېږل چه ستاسو د مشرا نو یوه جرګه د راشي د «پاسني کرمې» د میرجمال نومې کلي په مقام به سره جرګه شو . خبرې اترې به وکړو او دیو بل په زړه کښې چه څه شك اوشبه وي هغه به وباسو د چمکني قبیلي خلقو په میدان جنګ کښې ګټه کړې وه د فرنګي ئې ستر ګه ناسوزیدله دا دعوت ئې قبول کړ . په مقرر شوي وخت میرجمال نومې کلي ته راغلل دا جرګه د فرنګیانو په نظر کښې دومره اهمه وه چه ددې جرګې په موقع د چمکني مشرانو سره خبرو اترو د پاره د هغه زمانې د حکومت هند چه لوی افسر وو . هغه په خپله راغی .

د ملاقات په وخت انګریزي افسرانو په ډیره چمکنو د قبایلي سردارا نو نه تپوس وکړ چه تاسو د حکومت برطانیه رعیت کیدل ولې نه منظوره وي . ددې په جواب کښې د قوم د طرف نه د چمکني قوم د خانې خیل قبیلي یو مشر چه بادشاه خان نوم ئې وو .

راپورته شو جواب ئې ورکړ چه موږ د انګریزانو رعیت کیدل ځکه نه قبلو وچه موږ مسلمانان (دا کلمه وایو لااله الاالله محمد رسول الله) موږ یو الله منو د محمد رسول الله امتیان او پښتانه یو د غیر پښتو ناو غیر مسلم حکومت قبلول ځمو نږ د پښتو او دین اسلام خلاف خبره ده

چه هر کله باد شاه خان چمکني داوویل . نو په دغه موقع چه هر څومره نور قبایلي مشران موجود ووهغو ټولو په یو آواز د هغه د خبرو تائید وکړ او په دې جوړ سره د انګریزي افسرانو سیاسي حکمت عملي او سیاسي حمله چه د فریب په دام کښې ئې د چمکني قوم خلق ګیرول غوښتل هغه منصوبه ناکامیاب شو له او دې نتیجې ته ورورسیدل چه د چمکني قوم خلق څرنګه چه د جنګ په میدان کښې بهادران دي دغه شان په سیاسي طور هم بوه هوښیار او چالاکه دي . دوی له په سیاسي میدان کښې هم شکست ورکول یا د فریب په دام کښې ګیرول ګران کار دی .



ACKU

ددغې نه‌وروستو دسیاسي حکمت‌عملي په‌طور دقبیلو موسی‌زي علی شېرزائي ،ذومشت منځان مختلفوقومي‌اوقبائلي مشرانوله‌ټولنګي اوموا جبونه وړاندې کړل دپاره ددې چه‌قلار یې کړي ئیکن په‌مجموعي حیثیت سره دسنه۱۸۹۷ نه‌تر اوسه پورې چه‌کله‌هم‌موقع راغلې ده‌دکرم ایجنسي دې بهادرانو قبایلي غازیانو دوطن دساتنې په‌کار کښې ناراسته نه‌ده‌کړې اوخپل ایمان ئې دشمنانو ته‌نشکا ره‌کړې دی .

## دپرنګیانو په‌خلاف جهاد:

دپرنګیانو په‌خلاف دسنه ۱۸٤٦نه‌ترسنه ۱۹۲۳ پورې‌په‌تیرو شوواوه اویا کلونوکښې‌دسابق صوبه سرحداوقبایلي علاقو کښې چه‌کومې وړې اولوې غزاګانې شوې دي‌اتفاق دادې‌چه‌هغه‌هم په‌شمیره اوه اویادې .دلته ددې غزاګانو یوه مختصره ګوشواره‌درج ګولې‌شي اوپه‌کښې دځینې زیاتو اهمو غزاګانو تفصیل به‌هم وروستوبیان کړلی شي .

## درانی خیل غزا:

دضلع کوهاټ دغرو نو په‌سلسله کښې دهنګونه شمال طرف ته‌درانی خیل نومې یوقوم آبادې تقریباً شپږ سوه‌ملاتړ به‌ئې وي. په‌اوچته پېړۍ کښې داقبیله په‌حرم زي‌قبیله‌ورګډه یې ؟ په‌خه‌وخت چه‌انګریزانو کوهاټ ته‌ورننوتل اوهغه په‌وړاندې ئې‌اقدامات ئې‌شروع کړل دمیرانزي‌کندو وئې‌قبضه کړاود حرم‌زي (عارف‌زي)قبیلې سرحد ته‌ئې اقدامات شروع کړل‌نو دعارف زي قبیلې خلق‌ورته‌راپورته شول څوځله‌ئې‌پرې یرغلونه وکړل دپرنګي بې‌شمیره پوځیان ئې مړه او ژوبل کړل .

چنانچه دعارف‌زي قوم ددغه حملو په‌سلسله کښې دعارف زي‌قوم دیو وړکوټي بناخ رانې‌خیل غازیانو په‌سنه ۱۸۵۵ کښې دپرنګیانو په مقبوضه علاقه کښې دسامو خیل‌په پوځي کیمپ‌حمله‌وکړه کیمپ‌ئې‌لوټ اوتالا کړد پرنګي‌ډیرپو ځیان ئې‌مړه‌اوژوبل کړل.

درانی خیل قبیلې ددې حملې په‌ځواب کې‌دکوهاټ دپو ځې کیمپ دکرنل نیول چمبر لین په‌کمان‌کښې‌یومضبوط پوځ په عارف زي اورانی خیل قبیلو دحملې دپاره و لیږ لی‌شو انګریزي پوځ حمله وکړله لوی تباه کن جنګ‌وشوغازیان په‌شاشول‌اوپه‌اول سپتمبر سنه ۱۸۵۵ باندې انګریزي پوځو د سمانه غربانـدې‌قبضه و کـړله په دې جنګ کښې غـازیانو ته‌ډیر نقصان ورسیده‌لیکن‌د انګریزانو دپوځ ئې هم ښه تباهي ورکړله دا جنګ ۱۹ ورځې جـاري‌وو غازیانو په‌دې ۱۹ ورځې غزاکښې ترخپله وسه ښه میړانه او بهـادري کړې وه په ۲۰ سپتمبر سنه



ACKU

۱۸۵۵ انګریزانو د یوی ـ معاهدی په ذریعه دخپلو نورو ناپاکو مقاصدو دحاصلولو تابیاوکړه لیکن راتلونکی واقعات لدی قسم نه پیښ شوی وو چې د انګریزانو امید ونه ئی خاوری کړی وو د سنه ۱۸۵۵ پوری چه انګریزانو دکوهاټ اوعلاقه ورکزائی د کومو قبایلو سره جنګونه کړی دی په مقابله کښی قبایلی غازیانو ورسره غزاګانی کړیدی دهغی قبایلو نومونه دادی .

عثمانخیل . زمخت چه د میان زی قوم د علاقی نه شمال مغرب ته اباد دی . لوی قوم دی پنځه زره ملاتـړلری سبحان چه د عارف زی قـوم ښاخ دی دوه نیم زره ملا تړ لـر ی څلورم علی شیرزی چه دری زره ملاتړ لری اود دوی دغزاګانو حال مخکښی د کرم ایجنسی په تذکر کښی بیان شویدی پنځم اګاخیل چه پنځه سوه ملاتړ لری شپږم علیخیل چه دعارف زائی قوم شاخ دی تقریبا دری زره ملاتړ لری او د هنګو شمال طرف ته پراتـه دی اوم شنـــی زا ئـی دد ی قبیلی شمال طرف ته آباد دی دری زره ملاتړ لری اتم حموزائی داخلق هم د هنګو شمال طرف ته آباد دی او تقریباء دری زره ملاتړ لری دااته قومونه چه د جنګی خوانانو مجموعی طاقت ئـی تقـریباء پنـځه نیـــمز ره پخوا اټــکل شوی د ی شــا ه خلمـی غـازیا ن دی دهی قبــا یلوبها درانو پښتنو چه دانګر یـزانو خلاف کومی غزا ګانی کړی دی پـه هغی کښی د بعضی غزا ګانو حـال مخکښی بیان شویدی په دی پورته ذکر شوو قومونو کښی عثمان خیل چه مقامی خلق ورته اتمان خیل وائی د عارف قوم شاخ دی ور کوټی قوم دی تقریباء خلورنیم سوه ملاتړلری.

بله داچه په دی پورته ذکر شووااته قومونو کښی شپږ قومونو میران زی. عثمانخیل. سبحان زی .ابراهیم زی. شمنی زی . علی شیرزی بنیادی طور په خټه سیدان دی د سدمحمدبختیار ابن سیدابی سعید اسحـاق زیږنده ده په پښتنو کښی دشیرانی غور غشتی قوم سره وصل شوی دی په او چته پیړی کښی په خویشکی شیرانی غورغوشتی نامه هم یادیږی. عارف زی .ابراهیم زی. شمنی زی .وروند زی. عثمان خیل. سبحان زی دعارف زی شاخونه دی علی شیرزی شاخ او امیران زی د عـارف زی . ابراهیم زی . شمنی زی د مشرورورتوزی شاخ دی داټـول بـهادر ا ن پښتانه دی. دوپه غر غشتی شوریانی قوم کښی ستانه دار ګڼلی شی ددی قوم خلقو چه د انګریزانو په خلاف کومی غزا ګانی کړی دی هغه به د تاریخ په پاڼو یاد ګار پاتی وی .

---

زمونږ مجاهدین دپښنو ر چـاپ مؤلف عبدالحلیم اثر افغانی.



ACKU

# دوهمه برخه

## جغرافیایی وضعیت :

ورکـزی . د ازاد شمـالـی پښتونستان. تیرا .په ډنگو غرو نو کښې پراته او دکړي. توری .پښان په یوه اوږده لیکه دلمر خاته له‌خوا لمر پریواته پلو ته غزیدلی دی ټول‌وطن ئی غرونه . گړنگونه او دری دی ـ ځای په ځـای کـلـی دی او کلیوالی ژوندون لری . )

## څلور خواوی :

دور کزو پــه مشر ق کښــی کوهـاټ اود ادم خیـلـو د ره ا و ژویدیځ ته‌ئی افغانستان(پکتیا) واقع‌دی. شمالی‌خوائی‌داپریدی اقام‌سپین غره سره جنگیدلی او‌په جنوب کښې‌ئی هنگو . زرگری او سمه چه د ور کزو مشهور او سر حدی بازارونه‌دی پراتــه دی .

## مساحت :

د رقبـی مساحـت ئـی تقریباء۱۰۶۰۰ مر بع میله او نفو س ئـی تجمیناء دوه لکه او پنځوس زره‌دی.

## طبیعی جوړښت :

دور کزو وطن ټول غرونه او دری‌دری دی په‌هرغره‌او هره دره‌دځنګلی ونو دلاسه توره شپه جوړه ده‌ځینی‌ځایونه میدانی هم لری جګ غرونه واړه غرونه غونډۍ اودری پکښې‌ډیری دی .

ور کزی ځوك په غرو کښی ځوك‌درو کښی او ځینی ئی په میدانی ځایونو کښی استو ګنه‌لری څه‌ځمکی‌ئی للمی اوځه ئی زراعتی دی دللمی اوسیدو نکی‌خلك‌دښبلو اوبه‌دبارانی‌ډنډ ونو په واسطه برابره وی دټول ور کزی ځمکه یوه حصه زرا عتی‌اودری حصی ئی للمه او ځنګل دی.

## مشهور غرونه ـ ځنګلونه اومهمی دری:

### غرونه :

بلندر ـموکه ـ غونډ غر ـ ټونګه‌ـټوپ ـ شمر ـ زاکو ـببر ـ سمانه ـ ډپه ـ بډ ګاره ـ ډیور غر ـ تاجکه ـبابا رانی ـ تور غر ـ تبی ـ تختی ـ چنګګ‌بازه ـ تور ځ ـ کړمان ـ کبدر ـار هنګه ـ بازه ـ زیرړان ـ ډنخور ـ مزیو غر ـ سنه ـدری سری ـمال‌ګین‌اوګاړدور کزو مشهور ځنګلی‌اوجګ غرونه دی .

### دری :

ضاودینو دره ـ بغری ـدری پاڼی‌خواجه خدر ـ میرو دره ـ جنډرك شکو نډی ـخان دره ـ غونډ یودره،خوادره ـ دو لت موسی ـزیړه ـ ګل دره ـشیر ین دره ـ ایندره ـزړه میله ـ مانی‌خیلودره ـ برامدخیلو دره ـ ابرا هیم زو دره ـګوزدره ـابی دره ـ شکر دره ـخر مانی دره مرغان دره ـ چپه دره اودډاډ درمـدور کزو مشهور ځنګلی او لوئی‌دری دی چه‌په دغه شکل بی حسابه نوری‌دری هم لری .

### ځنګلونه :

دور کزو په ځنګلونو کښی نشتر ـخیړۍ ـ خو نه ـپلوس ـ ګرګره ښینی ـمامانی ـغوړ یشتی ـ خیروه، غوزان ـاملوك ـ تروش انا ر ـ ګیاه ـمزری ـاو داسی نور ځنګلی‌بوټی بی حسابه ډیر دی خو مزری دورکزولوی‌اواهم پیداوار دی.

### دورکزو مشهور سیندونه :

په ورکزو کښی مشهور رادونه‌دتاجلی رود دخر مانی رود مامو زو رود اوګندا و، انګوری ـ تبی ـکړمان‌اوابی دری رودونه دی.



ACKU

## دتاجکی رود:

هــو ننی ، پـلو شی ،دانی‌بارانی اوبو څخه یو ځای شوی د ی اود علي خیلو ملا خیلو شیخا نــومیشتیو ـ فروز خیلو ـ بیزوټ خیلو اتمان خیلو ـماني خیلو ـ برامدخیلوستور یخیلو ـ عبدا لعزیز خیلو ـ او سپایو په نیمائی قامو نو کښنــی‌بهیږی اود دغو قامونوبعضی زراعتی ځمکی خړوبه‌وی اخر سرئی سپیری‌ته‌چه کجوری دسیمی پاس سردی او دور کزو کوزه شمالــی حصه ده‌وتلی دی او هلته دباړی درود سره یوځای شوی دی ددغه رود اوږدوالی‌تقریبا پنځه اتیا کیلو متره دی .

## دخرمایی رود :

چه‌دا هم د چینو او بارانی اوبــوڅخه یو ځای شوی دی اوپه مسیزی قام کښنی بهیږی ددغه رود په یــوه‌غاړه اوبله غاړه دمسیزی قام کلـی پراته دی او زراعتی ځمکی ئی خړوبه‌وی اخر سرئی جنوبی خواته په سده باندی و تلی‌دی‌اود کرمی دلوی‌سیندسره یو ځای شوی دی ددغــه رود اوږد والی تخمینا دیرش کیلو متر ه‌دی .

## ماموزو رود:

چه داهم دچینو او بارانی او بـوڅخه یو ځای شوی دی اما مــوزو علیشیر زو ـ اخیلو ـ ربیه خیلــوقامو نو ځینی زراعتی ځمکی پـری خړو بیږی او اخر سرئی دکو هاټ‌پنګښو قام ته‌و تلی دی ددغــه رود اوږدوالی دپنځو شپیتو کیلومتروپه

## کرمان ګنداو ـ انګلوری اوابی‌دری رودونه :

چه د چینو او بارانی اوبو څخــه‌تشکیل شو یدی اود ځمکنو ځینــی ځمکی اوبه کوی اخر سر ئی دپنځوسو کیلو مترو په اندازه دکر می په رود ګډ شوی دی .

## ( آب اوهوا ) :

دور کزو مغــربی سیمی یــخه اومشر قی سیمی ئی ګرمه ده دژمی په موسم کښنی په مغربی ځایونو سخته‌واوره ور یږی اکثره ور کزی په‌ژمی کښنی مشرقی ځایو نو ته کوچ کوی‌او هلته دژمی شپی ور ځی تیروی.

دور کزو په مغربی‌علاقه دپسر لی‌ترا خری میاشتی پوری واوره پراته وی‌بارانونه په‌ورکزوهروخت وریږی‌للمی ځمکی ئی‌په بارانی اوبو فصل کوی د صحت په لحاظ دور کزو آب‌وهوا ډیره ښه ده .

## مالداری :

ما لداری سره ډیر شو قلــری ـــګډی وزی ـ میښی ـ او غوا ګانی

دور کزو ما لداری ښخه حسابیږیخودپسو نو ګڼو دما لداری په ور کزو کښمی ډیر رواج لری خرهاوکچر همپهورکزو کښمیترڅهاندازی پوری شته چه د هغو په ذریعه د ځنګلی تر ګیوښخه جوپی کوی په کو هاټ او نورو سر حدو نو کښې ئی خر څوی او دخپل ژوندانه توښه پری برابره وی.

## (زراعت ):

د ور کزو په زراعتی ځمکو کښمیغنم ، جوار ، ورښمی، شولی، الوګان لوبیا ، می ، ټیپر ، ګازری ، کدو ،توری ،بینڼی ،پیاز ،مولی ، بادرنګ خټکی ، هندوانی ، مـرچ ، سـرهباټینګړ ، تور باتینګړ او داسی نور کیږی تلمی ځمکی ئی هم په ښه کافیاندازه غنم جوار ور بشی ، مـی ، لوبیا ، الوګان او کوکنار ، کوی .

## (اقتصادی وضعیت):

ور کزی یو آزاد قام دی کوم سړکیا ټیلفون نه لری نو له دی کبله پکی ما شینـی صنعت نشتـه د خپلـوضرور یاتو شیان په لاس جوړ وی لکه ټوپك ، تمانچی ، ښکاری ټوپك،چړی، چاکو ګان، پولادی چـړی ـ لو رونه ، تبرو نه ، د دروزو خولید مزری خپلی ، شکرونه ، پوزی او داسی نور ګڼ شیان په ور کزو کښیپه لاس جوړ یږی .

## تجارتی مهم ځایونه اومرکزونه !

د ورکزو مشهور اوقامی بازارونهمیشتیو بازار د ګڼو بازار د نزاینو بازار د تیندو بازار دماڼو زو با زاراو دکلائی بازار دی .

فیروز خیلو میله ، میشتیو میله ،د ورکزو مشهوری میلی دی چه د هری جمعی پـــه ورځ ټول ورکزیقاموته په دغو ځایونو غونډ یږی د جمعی لمونځ او قامی تړون سره کوی خپلی اقتصادی نیمګړ تیاوی پوره کوی .

## دورکزو مهم ځایونه اودجرګو مرکزونه :

خوله ، ساپری ، بارکی ، سویکوټ،باړوان وچپل، زیړه، سلطانزی ، ابراهیم زی ، شین غاړی ، ټنډه ـبیزوټ ، میربـك، ګوبین ، ګیـدړه باړه، خوا، کـلان، کلائـی، ډوګـر،تری، درکه ، زړه ځمکی ،تلی،تړلی تختك ، الوزی ، غونزه ، کوټ ، تور نظام،زیړه ګاره ،بغری ،هزرینه ، کړم ، ریشکه ، تلپکه ، تینـدو ،ساتین ، منډان ، مناتـو چینګی ، سنکړو به ، کنډوئی ، سمه ، دپو ،شډل ، خوزه خیړی ، اروازه ،موسی مینه ، زاڼه ،نزاینو ،تیری ، خلزری ،غور غوږی ،لعل میله اوګـلډی ـ د ورکزو مشهور ځایو نه او د قا میلښکرو د غونډ و مقا مونه دی) د



ACKU

ورکزوکلی ځینی لوی اوځینی ئیواړه کلی دی خوړدګلاګونوشمیړ ئی تخمیناً یولك اولسو زروته رسیږی.
سنپاکه، تختك، زانهٔ یخو کنهو ، سره میله، زیړه، خوږجه حدره او بارکی دور کزودتجارت اوتلو راتلو مشهوری لاری دی ) .

## (صادرات اوواردات ):ـ

کانونه پـه ورکزو کښی ځیـنی کانونه هم شته لکه داو سپنی ، ډبرو سکارو او دتعمیراتو مختلف ډول ډنګی خاوره .
د ور کزو نه بازو ګان ، کټ بون، پوزی مزری، پو ستکی، چرګان ـ کبین ، هګی ، الو ګان ، می ، لوبیادا باد یو لرګی د سون لرګی د مزری څپلی دنداسه شکرونه ، او داسی نور ډیر شیان ، کوهاټ او نـورو ځایونو ته صادر یږی اوواردات ئی دانسان اولیه ضروری مواد تشکیلوی .
تیرا دپښتنو شاه زلمو او سربازوننګیالو وطن هسی خو ډیره ار تـه او پلنه سیمه ده او دلته د ور کزواو اپریدو ډیری مختلفی قبیلی میشته دی خوزه دلته دښکلی تیرا د دریولـویـو قبیلو یعنی د ماموزیو علی شیر زیو او ماسو زیو دسیمی یـوڅو ښا یسته ځایو نو په باره کښی یو څه لیکل غواړم چه د سیلا نیانو دتوجه مرکز دی .
د ماموزیـو علـی شیر زیـو اوماسو زیو قبیلو سیمه په یو ځـای خوره وره پرته ده اوپولی یی سره په څپلو کښی ګډی دی .

## دماموزو علاقه:

دتوی غاړه ، دخرمانی د توی غاړه دټولی تیرا دنګ او راتګ لاره ده . د دنګو دنګو غرونو نه را بهید ونکی دا توی د لویر کورم (سده) په شمال کښی شرقاً ، غرباء راتیریږی او بیا په څه فاصله قبلـی ته دکـور می ـ خوړته ورګـډیږی دتـوی په غاړه ،غاړه دا لاره د تیرا مختلفو ځایو نو ته رسیدلی ده دتیرا او کورمی ټول تجارت په دی لاره کیږی په دی لاره نمبی، آلیږونه بازو ګان اودنـدا سه راوړی شی چه په سده کی خرڅیږی او بیا د ملك تر لیری ، لیری ځایونورسولی شی دتوی په شمالی غـاړه ځای په ځای د غرونو په څو کو دماسو زیو د ګاړ او د سمل خیلـو مزبوطی کلا ګانی ښکاری . دجاودری توی چه په کوم مقام باندی د خرمانی سره یو ځای کیږی په دی ځای کښی دوه لاری بیلیږی یوه لار جنوب مشرق ته د ماسو زیو په منځ کښی تیریږی او بله شمال شرق ته د خونی خیلو خمکنو او پاړو ګورو ځنګلو نو تـه رسیږی د ماسوزو په دی منځنی لاره چه کوم مشهور مقامات مخی ته راځی هغه دادی .

## جاودره :

دما سو زیو او علی شیر ز یولاره چه کومه ړومبی دره مخی تــه راځی هغه چاو دره ده .

دجاودری توی په غاړه دغره پــه‌سر اوتێر کښې دجا ودری کلی پروت دی د غره په تێر کښې تکی‌سپینی د چینو اوبه را بهیږی او څروبی ئی د چاو دری په توی کښې‌را غور زیږی په ټوله کورمه او تیرا کښې دچاو دری او جیلامی انگورمشهور دی .

## درگی :ـ

درگی هم یوښائسته‌کلی دی دا هم دغره په‌تێر باندی پروت دی ، گیر چاپیره تری دمندتوغوزانو اوغوړ انگانو(ځنگلی انارو ) ونی دی ډیری خوږی مندتی او چغزی‌غوزان لری او د قدرت په خوږو میوو او سړو اوبو ښه پوره ماموره دی . د درگی لاندی هم د غره په بیخ کښې یو خوړ (توی) را تیریږی چه‌لږ لری دچاو دری توی سره یو ځای کیږی دپسرلی په موسم کښې چه‌سری د غره په سر دتوی سپینی اوبو شنو شگو ته گوری او بیا دغره پــه‌تێر کښې پـه شنو شنو ونو کښې پټی درگی ته‌گوری چه‌دلمر پلو شی‌پری را ټیټی شوی وی یخه یخه هوا په چلیدو وی گرد چاپیره د ســروزیړو گلو نو ښکلا او د ځنگلی بوټو خوشبو ئی وی نو ته به وایی چه‌درگی یوه ناوی ده چه په ښائسته کالو سره جوړه شوی وی ولاړه ده .

## مسعود نیکه :ـ

دماسوزیوباندی اوعلی شیرزیودحدو نو تر منځه چه کو م باندی د مسعود نیکه مقبره ده چه‌سپین گنبد ئی دلری نه ښکار ی مسعود نیکه د ټول مسعودی قبیلی‌نیکه دی یو وړوکی شان پوخ جومات دی چه ورته دځمکی نه پوړی ختلی‌دی . اوپاس دجومات په شمالی گوټ کښې د مسعود نیکه ښائسته مقبره‌ده . سنگ مرمر پکښې لگیدلی دی .

شا او خوا نوری قبیلی هم دمسعودنیکه ډیر تعظیم او احترام کوی او زیارت له‌ئی راځی .

د مسعود نیکه قبر هم د غره پــه‌سر پروت دی او ور سره نژدی یو خواته دما سوزو کلی (غونزه) پروت‌دی د غونزی میا گان په ټوله تیرا او کر مه کښې خاص ستا نــه‌دار د ی د لته د غو نزی میا ځای بیلتون کیږی پــه‌دی ټـک‌صاحب مزار دی کوم چه دخپل زهد تقوی او سخا په وجه په ټوله کورمه‌او تیرا کښې مشهور ؤ باقا عده‌لنگر به‌ئی چلیده او تر اوسه هغه‌سلسله‌جاری ده‌دخرمانی دتوی جنوبی ډډی

ته‌د توی نه‌په یوه دوه میله کښې دماسوزو یوبل ستر کلی‌پروت دی‌چه دتوی غاړی نه بیل دی خود توی نه‌لاره ور غلی ده دایو ډیر مشهور او تاریخی کلی دی ددی کلی نوم‌میرباغ‌دی‌او بیا دی نه‌وړاندی د علی‌شیرزو ابتدائی علاقه شروع کیږی .

## میرباغ :ـــ

دا کلـی دلـو یر کـــــر م‌مشهور مر کز (سدی) نه څلور نیم میله لمر خاته ته‌در خر مانی تو ی‌نه‌سهیل ته پروت دی ددی کلی څـه آبادی په سمه پرته ده اوڅه آبادی‌دغره په ټټر کښې ده دمیر باغ پـه باره کښې ځنی مشران وایی چه‌پخوازمانه کښې دلته یو باد شاه را غلی وه (چه غالبا) دوی ئی شاه جها ن‌بولی) داعلاقه ئی ولیده او ډیره ئی خوښه شوه تر څوچه دآباد شاه پـه‌دی علاقه کښې مقیمؤ نوپه دی علاقه کښې به‌ئی سیل او ښکار کاوه دلته‌ئی یو عالی شان میدان خوښ کړیؤ چه‌تری نه‌ګیر چاپیره دسرو زیړ وګلونو قطار ونه اود باغ په څیروړی لویی د خونو او چیړیو ونی وی اوپه منځ کښې ئی یوه ارته او پلنـه ښیرازه ټوټه وه‌چه هلته به‌ئی در بارکاوه چه اوس هم هغه چمن په سرو زیړو ګلونو ډک پروت دی‌ښه پلنـه‌هواره ټوټه ده‌چه ګیر چا پیره دشنو شنووونوبوټو او ځنګلی سرو زیـړوګلونو په‌منځ کښې غوړیدلی خو ره وره داسی ښکاری لکه ته‌به وا یـی‌چه‌په ټوله ځمکه‌چادسرو زیړوګلونو قالینی غوړولی دی دمیر باغ ننداره‌چه څوك دلیری نه کوی نو داسـی ښکاری چه لکه دغره په ټټر کښې‌چاباغ لګولیٔ وی دکلی نه داسی ګـر چاپیره داسی دونوګور ځنګل‌ولاړدی‌چه‌دیوی‌ونی اوبلی ونی ترشاه څوك لیدلی نشی دلته دیوه مشهور ؤلی‌الله «مصوفی بابا»مزار دی چه‌عقیدت مندان ئی دجمعی په شپه زیارت له‌راځی د مصوفی باباپه‌باب دا مشران وایی چه‌دی نا معلوم بزرګ د ی‌باد شاه ته‌ئی په‌خوب کښې خپل نوم او ځای ځایګی ور ښودلی ؤ باد شاه‌ډیر نیك سړی ؤنو ډیر خیراتو نه‌ئی ور پسی وکړل او ددی مقبری‌ودانی‌ئی جوړه کړه د مصو فی بابا مکمل حالات نه شی موندہ کیدای .

## دعلی شیر زو علاقه :ـــ

## دره مرغان :ـــ

دمیر بـاغ نه چـه لـر وړا ند ی‌ولا ړ شـی نـو دمـر غـا ن پـه کلی پسی مر غان دره شروع کیږی.دتیرا اود کورمی د تجارت او تګـ راتګ یوه بله عظیمه لاره مر غان‌دره‌ده‌دعلی شیرزوقا مونو دادره‌د ګورو

ACKU



د چترال دخاص وادی یوه ښکلی منظره



چترالی جنکۍ په یوډول ملی لباس کی لیدل کیږی

ACKU

ځنګلونو وطن دی دلته په دیغرونوکښې هرقسم ځنګلي ځناور پیداکیږی ښکار پکښې ډیر دی دغر ځنیپسونواو هو سیو پکښې رمی رمی روا نی وی خو ښکار ئی لږ ګران دیدمرغاندری یوه دوه فرلا نګه اوږده تنګه خولهچه دواړه طرفته پکښې سواداسمان بل څه نه شی لیدی دمر غان دری د ښائست یوه عجیبه نظاره دهوو لوړو غرونو په منځ کښې داتنګه خوله چه پکښې دمر غان دریدغرونو او چینو صفاء سپینی او به را بهیږی .

اوپه دی تنګه کښې ښکته د یویولی په شکل کښې مر غان کلی ته تیریږی نو ارو مرو انسان پـه دیمجبود وی چه خپلی ورته وکاږیاود تنګی مزلپهاوبوکښې وکړیدبارانونوپه موسم کښې چه اوبه ډیری شی نوبیا په دی تنګه کښې دو مرهاوبهزیاتی شی چه دمرغان دری خلك بیا پهدی تنګه نهشی پوریوتی اود غرهپه سر خلك اوړی دمر غان دری په څوکو سپینی سپینی واوری پهژمیاوری هرو خت ځلیږی پهدی غرونو کښې دښښتروګورګورو،خونو ځیریواود سر پانو قیمتی ونی ولاړی دی.

دهرغان دری پهغغه خوا لمر خاتهډډی تهچه واړی نودعلی شیر ز و خواره واره کلی پراته دی که څهمداکلی دغرونو په سرونوکښې آباد دی خود مر غان دری دسرنه داسیښکاری لکه چهړ، سمه کښې پرا ته دی چه دمر غان د کړپی نه سـړیکوز شی نو ړومبی یو ستر کلی د کړپی په بیخ کښې پروت دی چهنومئی کوټ دی .

کوټ :ـ

دمرغان دری په لاره کښې پـه لوړغره پروت داکلی یوه مزبوته کـلاده پخی پخی ماڼی او اټاریپکښې ولاړیدی په لارو کښې ئی (غوراژه) زیـړ ګلونه د شړ شمو په ځیر کتار کتارولاړ دی او خپلو را تلو نکو ته هر کلی وایی دکوټنهښی اړخ ته(بانډه)او (تور نزون) دعلی شیرزومشهور او ستر کلی پراته دی او کین اړ خ تهئی هم لوی واړه خواره واره کلی دی چه مجموعی نومئی تندی دی .

دتندی ملا صاحب چهیو مجا هداوستر عالم بزرګ تیر شوی دی د تیرا ملا صاحب مازون او قبـر ئیهم په مزار شریف ما موزو سیمـه کښې دی اود تیرا ملا صاحب سر هجوخت په جامع جو مات کښې د ننه ښخ دی .

## دماموزو سیمه :

دما موزو او علی شیرزو د پو لی‌نه‌په څه حد لمرخاته خواته دما موزو سیمه شروع کیږی دما موزو داعلاقه‌دنورو په نسبت سمه او میدا نی ده نوپه دی وجه‌داد ما موزو سیمه‌بولی‌دمسعود نیکه نه‌چه سړی روان شی نو تقریبا ددوو گینټو په پیاده منزل‌سره دما موزو سیمی ته رارسیږی .
دما موزو سیمه دټولو ود کزو اواپریدو قبیلو یو لوی‌مر کزدی په‌هره جمعه دلته یوه درنه میله کوی د هرقسمه دضرورت څیز ونه په کښې څو څیږی اوهر سړی په امن امـان‌خپل څیزونه اخلی او مازیگر چه‌میله ړنگه شی نو ټول خپلو کورو نو ته‌روان شی .

## دماموزو دسیمی بازار :ــ

دما موزو دسیمی بازار هم ډیـرښا یسته بازار دی نژدی پنځـوس شپیته پوری دکانونه په کښی د ی.فقط دجمعی په یوه و رځ د ځینـی دکانونو تر دریو . خلورو زرو روپوپوری سودا کیږی‌دکمیسټ ډرگسټ یږدوه سټر دکانونه دی چه دټو لی‌سیمی دما موزو او گرد چا پیره‌خلکو ضرور تونه پوره کوی . خلك یی‌ښه‌سره سپین دی . دما موزو سیمـی نه‌لمر خاته ته شمالا . جنو با ښکته‌په ژوره کښی دما موزو توی‌بهیږی دتوی په غاړه‌دما موزو دسیمی‌ژرندی‌دی دتوی په دواړو غاړو په غرو نو کښی دما موزو مشهوری او ښکلی‌دری دی او زیات خلك پـه دی درو کښی او سی .

## مزار شریف :ــ

مزار شر یف دما مو زو دسیمی‌هم‌یو مشهور مزار دی دسیمی بازار سره جوخت یوعالی‌شان اوپوخ‌جامع‌مسجد دی چه‌په کښی هر و خـت یوه لویه جمع‌ودریږی ـ ددی‌جماعت‌په‌سر کښی په‌یوه کوټـنـی کښی د ننه دتیراملا صاحب‌ولی الله صاحب‌مزار دی چه دسوات بابا جی‌صاحب مرید او ماذ ون ؤ اود ټول تیــــرارو حانی پیشواؤ . ډیر لوی متقی او پر هیز گار ولی الله تیر شوی دی.باقا عده لنگریی جاری ؤاو لاتراوسه یی دا سلسله جاری ده اوخه کمی‌په‌کښی نه‌دی را غلی .
دمزار شریف په ذکر با ندی زه خپل مضمون ختموم ځکه چه‌دټول تیرا دپاره یو مستقل کتاب په کاردی .

---

کابل مجله ـ خلورم گڼه کال۱۳٤۹

# اجتماعی وضیعت

ور کزی په ختهٔ پښتانهٔ اود اسلامی‌قوانینو پابند دی په خپل و طن‌کښی جرگی معا ملی اود عوی په شریعت‌اود ځلورو تنومشرانو په لیارفیصله کوی دمظلوم غور اوپه ظالم لښکرکوی دائی قا می شرافت او حقوقی وظیفه ده .

ملی لباس :ــ

کمیس ــ پر تــوگ‌ــ واســکټ‌ــڅادر ــ خو لی‌ــ پگړی‌ــ او څپلی د ور کزو دنارینهٔ وٌملی لباس دی اوکمیس ــپرتوگ‌ــ پړو نی‌ــ پڼی ــ او څپلی ئی دښځو لباس دی ښځی گاڼهٔ هم‌استعمالوی دجوار‌وس‌وړسك غنمو ډوډی دوربشو روټه‌ــ وریجی،تروی‌ــ ما سته ــشدی ــ کرت‌ــهگی کخته ــ الو گان‌ــ ټیپر ــکدو‌ــ توری گبین‌ــبینډی‌ ــسابه ــباد رنگ‌ ــ ختکی‌ــهندوانی ،ممانی، غوزان‌املوك‌الوچی ــ اوزر دالو‌ــ دور کزو هر وخت خوراك او خپل پیدا وار دی.

مهم دودونه:ــ

کوژده او واده :ــ ور کزی چه‌پخپلو مینځو کښی سره خپلوی‌کوی او دیــو بــل نــه لــــور غــوا ړ ی‌دو ستانو پهٔ ذریعه‌دلور په پلارجرگه کوی هر کله چه دلور پلار ورسره‌دخپلوی اقراروکړی نود ورکزوخلکو دارواج دی چه دلور پلار دځــــوی‌پلار نهٔ شپږ یااتهٔ پسونه دکابل‌لس منه وریژی لس منــه اوړه دری دړی‌غوړی دری دړی بوره ــدوی دړ ی نکر یزی ــ یوسیر چای دلور جوړه‌اوځهٔ قدری میوه‌دلور دکوژ دنی‌لپاره اخلی . کوم وخت چه کوژدن تیاره‌شی دځوی پلار ټول ــ خــپلوان او دو ستان را غواړی ــنر‌ــ ښځی ــواړه ــستر دلوردپلار کور ته‌لاړشی هلته پسونه حــلال کړی ور یــژی‌چر گان او حلوا هم‌دور کزو په‌ښادیو

کښې رواج دی ځلمیان اټنونه اچوی او ډزی کوی ښځې او نجونې دلور د پلار په کور کښې اټنلو او غړوی سندری او اټنونه اچوی په ورځو کښې دا هم یو پخوانی رواج دی چه دګوډ دنی دپسونو هډوکی نه ماته وی پسته غوښه ئی خوری او هډوکی دلـــور پلار ته ور کوی داددوی یو مشهور متل دی وائی چه که دګوډ دنی دپسه هډوکی مات شی خپلوی ئی ښه نه راځی د ګوډ دنی دوه حصې تاوان دځوی په پلار او یوه حصه تاوان دلور په پلار وی دنجلۍ ولور اود واده نیټه لـــه همدغې ورځې څخه ټاکی دګوډ دنی په پنځمه ورځ چه ور کزی خلك ور ته پښه آزادی وائی دنجلۍ مور سره دګڼو ښځو اوځو تنو ځلمیانو دزوم کور ته په پښه آزاد ورځی دځان سره یو پوخ ګډی پسه او یو دیګ حلوا دزوم کور ته وړی او هلته شپه کوی هر کله چه دزوم دکور څخه واپس کیږی زوم ئی خپلی خواښې ته اونـــورو ښځو ته پرونی ور کوی او خواښــی ئی هم خپل زوم ته په ولور کښې څه ښښنه کوی .

مړی :ــ

پهور کزو کښې چه دچا مړی وشی سمد ستی خپلو خپلوانو ته خــبر ور کړی ــلری او نژدی خپلوان اودوستان ئی نر ښځې په چیغه راشی پهور کزو کښې داد ستور دی چه ټول خپلوان ئی نهوی حاضر شوی تر هغې مړی نه ښخهوی اکثره داسی پیښیږی چه ځینی خپلوان ئی په اوله ورځ مړی ته ونه رسیږی تردو یمی ورځی پوری ور ته مړی ساتی هر کله چه ټول خپلوان اودو ستان ئی حاضر شی نو پس له هغې مړی ته غســـل ور کړی اود جنازی ځای ته ئی یوسی جنازه ئی چه وشی دمړی وارث دیوه خاص دوست په لاس دجنـــازی په حاضر ینو یوه یوه روپی ور کوی چه خلك ور تـــه دسقاط خیرات وائـــی

او وروسته له هغه مړی چه اد یری ته یو سی او په خاورو ئی وسپاری په کومه ورځ چه مړی دفن شی دهمغی ورځی په ماښام دمړی وارث په مړی پسی خیراتی دوه پسونه او یو غوائی حلاله وی چه ور کزی خلك ور ته دشومی خیرات وائی دری ورځی وروستـــه چه دمړی دریمه بوټی یو یادوه پسونه نورهم حلاله وی ښځې او هلکان دمړی قبر ته ورځی او هلته ددغو پسو نوغو ښی خیراتی ویشوی تر څلویښتو ورځو پوری ور ته خلك ددعا لپــاره راځی بعضی دوستان دمــړی وارث ته د ځان سره خیراتی پسه چه ور کزی ور ته شل وائی راولی څلویښـــت ورځی پس په مړی پسی دود یــږو غوړیو لوی خیرات کوی اود مړی قبر هم پوخ جوړوی دغه خیرات ور کزی خلك دمړی څلو یښتی خیرات بولی.

### دهلك زیږیدنه :ـــ

په ور کزو کښې چه زوی پیـداشي ټول خپلوان اودوستان ورته دمبارکۍ لپاره راځي دځوی پلارته مبارکـۍ ورکوی اود خو شالۍ ډزی ور تـه کوی دځوی پلار ورته پسو نه حلاله وي ځینی وخت داسی هم کیږی چه څوك ورته دمبارکۍ لپاره راشي دخوشحالی ډزی ورته وکړی اوپسه ئې ته نه حصاریږی هغوی ته دځوی پلار دپسه په بدل کښې پیسی ور کوی چه ورکزی خلك ورته وچ پسه وائي په ور کزی کښې داد ستور دی چه خپلوان ئـی ښځۍ ئی دری ورځې پس دهلك مبارکۍ له ورځی اوپه مخه کښې خانی وروړی دځوی پلار ټولو ښځو ته پړونۍ ور کوی دور کزو ما شوم شپږ ورځې دمزری په شکاره کښې څملوی اوپه اومه ورځ ئی دیوی مشری ښځۍ پلاس په زانګو کښې څملوی چه په دغه ورځ څه قدری خیرات د هلك دزانګو دڅملا ستـی کوی څلویښت ور ځی ماشوم لمبوی چه ور کزی ورته دما شوم دزیږید نی څلویښتی وائی اویو خیرات هم کوی.

### سنتی :ـــ

هم دور کزو دښاد یو څخه یوه ښادی بلل کیږی هرکلـه چه څو ك په ور کزو کښې سنتی کوی خپلوان اودو ستان ټول راو بولی ډمان ساز غږوی ـ لښتی ګډیږی او ځلمیا ناټن اچوی ـ ښځۍ اونجونۍ چه دسنتی دکور له خوا بلل شوی وی د ځان سره څوك په سرودو سمالونو کی ګنډه وریژی غوزان املوك او ځینی چر ګان غونډی پخی هګۍ ـ اومیوی وړی دور کزو په هره ښادۍ کښې رواج دی کله چه هلك سنتوی ددغو خلکو داد ستور دی چه یوه دشـړشمود تیلو ډیوه بله کړی اویو لو ی خنك پری دپاسه نسکور کړی هلك په خنك باندی کښینوی اویو پـو ه نائي ئی سونت کړی بلل شوی کسان یوه یوه یادوه روپی ورکوی ډمان په میدان کښې ګډیږی او هم خلك ورته ګیر چاپیر ناست وی ښځۍ اونجونۍ د کوټو په بامونو ولاړ وی دغوزانو، املوکو غونډو پخو هګیو اونورو میونه ئی جولۍ ډکی کړی وی اوپه دی لا ندی خلکو ئی راغور ځوی سړی او ځلمیان سره په خپلو مینځو کښې تښتوی کله چه سنتی پای ته ورسیږی د سنتی خاوند بلل شویو ښځو تـه پړونی ور کوی .

### سپورټی لوبی :ـــ

توده ـ کبډی ـ سوره څپلی تبـی ټانۍ ـ پټه ونی، میرغولوب ـ سواره

کوتی - پښ ستر گی - تیت پاتوتی‌ککچی -اوداسی نــوری دور کــز و مشهوری لوبی دی .

## میراث :ـ

په‌ور کزو کښی که‌یو وروړمشروی‌اوبل ئی کشر وی یـاد یــوه وړور زامن وی اوبل ئی یو سروی خــودمیراث په لحاظ مساوی داد ور کزو نسبی لاړ ده .

## تداوی اوعلاج:ـ

په‌ور کزو کښی اکثر دملاریا -بریخ- زکام - او سترګو لیچنوا لی نارو غی پیښیږی ور کزی ځینـــی‌نارو غانوته پوستکی‌ورا غو ندی او بعضی نارو غانو ته اکثرا نباتـــی‌دوا ګانی ور کوی .

## نباتی بوټی :ـ

په‌ور کزو کښی نباتی دوا ګانی‌لکه سپیر کی -باد یان- شر غندوی خاکشیر - بار تنګ -دغوائی ژبی-اسپیغول -خوازه ولنی -شمه کی- پتو خنی - شاتره -خربـوټی -زړلرګی- مښکك مره غونی خاپیا نګه کور کمن - سور خی -خلاص پلی-ماوه اوداسی نوری دور کزو نباتی دوا ګانی او خپل پیدا وار دی .

ورکزی پخپـل نوامیسو مین ا وکلك خلك دی یودبل نا موس ته په دراننده سترګه‌ګوری‌حیادتو لوشریکه‌ده یودبل په ناموس اوحیا نـــه بلوسیږی بدناموسی ورته پیغـو ر ښکاری دخپل ناموس او خپلی حیا قدر اواحترام کوی.

## مقیاسات :ـ

ورکزی څلویښتو چارکوته (من)څلوروچارو کوته دړی اویو چارکته سیر وائی.

## متلونه :ـ

اول کښینه مه اوچه کښیننی بیا پاسه مه
یوپه‌تمه بل بی غمه
چه‌ترود وی لکی ئې وی
وګټله ما وخټله تا

پهشلمه دې شوم غلطه کور دی‌نه‌وه خړه کته
یوئی وګټی- اوسل‌ئی وختی
دهرئی پهشان ئی وګټه‌دخان پـه‌شان ئې‌وخته.
چه‌نه دی وی دمور هورته مه وایه‌چه وروره
که‌غر لوړدی په سرئې لار ده
دمکی نه‌زه راغلم توری تیزې ته‌دمه وی
زه دې پهغم ژاړم ته‌مې په خوله‌پورې خندا کوی
دپردی څوی سرغټ وی
دخوشې ناستی نه غزل ویل‌بمه‌دی
پهپردی خیرات کبنې سپی پـه‌ډانګ مه‌وهه
دپردی کټ‌نه‌دنیمې شپې پاسیدل‌وی.
په‌دغه شکل‌ډیر متلونه دور کزوپه‌قام کبنې عام شوی دی.

## اصطلا حات :

دورکزوپه اکثر ژبه کبنی کنبینه‌ته‌چینه کنبینا ستل ته چینا ستـل پاسه ته پاخه کاڼی ته‌سیزه څادره‌ته‌څوټی تبرته نخه خی‌ټوپك ته توپك ګیدړی ته تروړیی پوزی‌ته سونګه‌اوغوایی ته تنلو وائی.

## نومیالی :ـ

محمود اخوانزاده فضل قادر صاحب‌زاده ملك یاقوت خان چکی سـر ور خان‌مولوی محمدګل میا ظهور خا نجعفر علی- غلام حسن کمال خـان رسول خان زرمست خان عبدالغفو رخان‌ګل‌باز خان ـګل بدار خـا ن کمین خان، نیاز میرخان ـملك الیاس‌خان- ملك افضل خان میا اکبـر جان‌ـحسن فقیر ـعلی رضا او خان‌حمیم اللـه خان او محمـد خـان دورکزوپخوانی ملی مشران تیـرشوی دی.

## اوسنی نومیالی :ـ

ملك غازی عبدالحکیم خان ملـك‌حاجی میراضغر خان ملك جنت‌خان مولوی فضل اکبر خان‌نور محمد خان‌سید غریب خان- ملك ګلاب دیـن عظیم‌خان ـبادشاه ګل ـنجم الد ین‌اخونزاده بهو خان میر تدام خـا ن صاحب زاده بها والحق- صا حب‌ګل، خیال محمد ،ابراهیم اومحمد جا ن دورکزو اوسنی ملی‌مشران دی .

## شاعران :ـ

محمد انور ورکزی او ممبر خـان‌ستور یخیل دورکزو مشهــــو ر

لیکوالان او ملی شاعران دی چه یوخو نمونی دهغوی داشعارو څخه ښاغلو لوستو نکو ته وړاندی کوومګر ځینی نور شاعران اولیکوال لمونږ دځینومشکلاتو لـه کبله ونه شوکړی چه ټول په مکمله توګه ګرانو لوستو نکو ته وړاندی کړو.

ظاهر روغ پټ ښبانو کښی ژاړم
دزړه دردونه ترانو کښی ژاړم
هرڅوا چه ګورم خندا هو سـدی

زه خپل ژوندون په افسانو کښی ژاړم
خپل شوله مازه شوم له خپلو جدا
جدا له هرچا ویرانو کښی ژاړم

زړه ته چه راشی پخوانی وختونه
دا نو ی ژوند په ارمانو کښی ژاړم
ټوله ژړا ده هیڅ ویلی نه شم
زه ورکزی خله بهانو کښی ژاړم

(محمدانور ورکزی)

زړه ته می راغلی دارمان خبر ی
آدیتروخت او تیر دوران خبری
فکر کښی ډوب وم چه داخیال راغلو
عبث کوی د زوړ سامان خبر ی

داخلك څه کوی او ته څه کوی
لږ ی خوواره دجهان خبر ی

دنیا بدله شوه هر څه شو بدل
او ته کوی دزوړسامان خبر ی

څوك دشرابو میخانو کښی ګرځی
او څوك کوی دپاس اسمان خبر ی
ګیلهږ زمری سره خړ پو سی وهی
دبازپه کور کښی کړی زاغا ن خبری

نوی دنیا نوی جهان جـو ړیزی
تاسره مل دی دشیطـــان خبری
دستور یخـیل په زړه نور نـه‌ځاییزی
ځکه‌کوی‌په سپین میدان خبـــر ی
ممبرخان ستوزیخیل

مدرسی :ـ

دغور غوړی اسلا می مدر سه‌دړبوری اسلا می مدرسه او دتیندو اسلامی مدرسه چه دورکزو مشهوری‌اسلامی مدرسی دی او د میشتیـــو شیخانوعلی خیلو ملا خیلو اوعلیشیرزوپه‌قامونو کبنی مشتر کی پرتی او په‌قامی چنـده‌یی تـول ضرو ریـت‌ترسره کوی په دغه بنکل څه وړی لویی اسلامی مدرسی په‌ورکزو کـی‌نوری‌هم ډیری شته دی)

ورکزی داسلامی قوانینو د پـــراحترام کوی پخپل وطن کبنـــی د امربالمعروف په زوز او حکم‌اسلامی‌روښنایی تازه کوی بی‌نما زانو تــه مخونه توره وی اوپه خرو پـــــی‌سواره وی د مظلوم غور غواړی اوپه ظالم لبنکر کوی دداد ور کزو قا می‌اتفاق دی چه ورکزی ور ته قام‌څونه وایی.

# دمنځنی پښتونستان یعنی وزیرستان جغرافیه:

لیکو نکی خلیفه عبد ا لطیف



خلیفه عبداللطیف

۱ـ دتاریخی نظر لەمخی دوزیـر ستان دنوم نسبت د موسی درویش پلار خدری او د خدری پلار وزیر ته چه دسیلمان‌زوی دی‌شوی دی. گویا د موسی درویش‌اولادخپل غورنیکەوزیر پەنوم او د هغوی ناتوبی پەوزیرستان موسوم او معرفی شوی دی .

## دوزیرستان څلورخوای :

دوزیرستان په شمال کی کو هاټ اوتیرا واقع ده .

مغرب خواته ئی دافغانستان‌دخوست او ارگون غرونه پراته د ی.

مشرق طرف تەډیره اسماعیل‌خان او بنوعلاقه واقع ده .

جنوب طرف تـه ئـی ژوب او د محکوم جنوبی پښتونستان علاقی دی وزیرستان په ۵ر۷۵ او ۶۹ درجه طول‌البلد او د ۵۰ ر۳۳ او ۴۰ ر۳۲ درجه عرض البلد کښی واقع دی‌دوزیرستان ټوله رقبه داوسنی‌اندازی مطابق ۵۳۰۰ میل مربع او دنفوسو شمیر ئی که څه هم (۱۳۴۰) کا ل دشمیر له مخی(۳۹۴۹۱۲) تنەښودل شوی دی خود تازەوروستو معلوماتو له مخی اوه سوه زره تنه اټکل شوی دی .

## دوزیرستان مشهوری علاقی اووادیگانی :

دکورم وادی شرقاءاوغرباءتخمینا ٤٠وسل میله اوږدوالی جنوباء اوشمالا ځای په ځای له پنځو میلونه ترلسو میلو پوری پلنوالی لری .

دکورم علاقه او وادی شمالمغربی سرحد سپین غره د ځاځو اومنګلوله غرونو څخه سر چمشەاخلی اوشرقاءیی بیخ بنو ته رسیدلی دی .

دکورم وادی او علاقه پڅلوروبرخو تقسیم شویده .

اول ـباندنی سر کښی توری قام اباد دی .

دوم ـ پمیان کی بنگښ قام ابا د دی .

درېمه حصه کښې کورم کابل‌خیل اتمانزائی وزیر .
علاوه‌لاندنی برخه کې نوری‌خیل اتمانزائی وزیر میشته دی .
دتوری قام مرکز پاړا چنار دی چه په دغه مقام کې یوه عسکری قشله یوټولی دوه‌غتون یوښوونځی او یوه لیسه او یو ستر بازار موجود دی .
دتوری قام بسه‌زر خیزه ځمکه‌لری غنم‌اوربشی .جوار شولی .زرغونوی سبزیجات . پالک . توپی .شلغم‌مولی ، گازر پیاز تور او سره بادنجان پیدا وارلری .
میوه‌جات‌توت.انګور چهارمغز خربوزه مڼی نارنج سنتری،نیمو اونور ډیر قسم میوی لری دتوری قوم ډیوی او بلی ډلی سره د سپین غر اورنزانی منځنو ځا خیوانو د خوست سرحدی غرونو سلسله راغلی ده.
دتوری کورم اب وهوا په ژمی کښی یخ واوره هم پر یوځی او په ړمی کښی خوشگوار او معتدل ده

## دکورمی بنګښ :

دتوری له بریدځخه چه مخ په‌لمرخاته راتیرشی نو د کورم بنګښ‌قام علاقه شروع کیږی دکورم بنګښ‌هم دغرونو په مینځ کښی موقعیت لری . دبنګښ قام مرکز دټل بازا ر دی په ټل کښی یوعسکری کیمپ‌یوه لویه شفاخانه یولوی بازار او یــوه‌لویه اسلامی مدرسه لری .
دکورم بنګښ ښی ځمکی اوباغونه‌لری

## زراعت سبزیجات ،اومیوه جات :

ددوئی ځمکه غنم، اوربشی، شولی جوار ،مڼی په ښه توګه زرغونوی.
ګوپی ، ټیپر، الوګان ،پالك،مولی ګازری تور او سره بانجان ،کریلی، کدو ،بینډی تری اونور
میوه . ـانګور خربوزه ،هند وا نه بادرنګ ،چهار مغز ،مڼی سنتری ، نارنج اونور .

## دکورمی کابل خیل اتمانزایی وزیر :

دټبنګښ نه‌دلمرخاته‌خواته په دریمه درجه کښی راتیر شی نو د کابل‌خیل قام دکورمی په دواړوغاړو داشاخونه میشته دی . میا می ،پیپلی ،سیفلی، او ملکشی ددی خلکو علاقه‌په‌شمال کښی‌دبنګښنو سره‌لګیدلی ده او په



ACKU

جنوب کښی د سپین وام تور یخیل دعلاقی اوغرونو سره اتصال لری .د کورم کابل خیل پدغه‌دریمه درجه‌مقام کښی ښه زرع خیزی زمکی او پټی لری چه جوار او غنم ،وربشی شولی اونور هرقسم حبوبات پیدا کو ی هرقسم‌سبزی جات او میوه جات هم زرغونوی دکورمی کابلخیلو په علاقه کښی دفقیر صاحب زیارت اوجماعت قابل ذکر دی . د فقیر صاحب مرحوم زیارت او جماعت د شوی په مقا م کښی واقع دی دا زیارت او جومات دکورمی کابل خیلو د جرګواومرکو ځای دی بل په شوه کښی یوه دخاصه دارو قشله یوستر روغتون او یـو منځنی ښوونځی هم موجود دی

## دکورمی توریخیل اتمانزایی وزیر:

دتور یخیل قام دغه ځمکی اوعلاقی ته ځوکنی وائی چه جنوبی اړخ ئـی دولی داحمدازائی وزیر دغرونو سره لګیدلی دی . باندی سری ئی دکورم ملکشی سره لګیدلی دی. جنو بـی ډډه ئی د سپین وام د غرونو سره اتصال لـر ی او لا نـد نـی بیـخ ئـی بنـو کښی د کـر م ګـړ ی سیند تېرسیدلی دی د کورمی دا وادی چه بنو ته ورسی په جنو بی برخه کښی بنو ځی او مومند خیل وزیر اقوام آباد دی او پهشما لـی اړخ کښی ئی بنوځی او داحمدزائی وزیرو شا خوته میشته دی .

دځوکنی زمکه غنم، جوار ،اوربشي شولی ،اونورهرقسم‌حبوبات‌زرغونوی بالك ،ګوپی ،شلغم الوګان، مو لی ګازری او نور هم هر قسم سبزیجات پیدا کوی .

مـڼی سنتر ه ،ناریج چهارمغز، نـو ر هـر قسم میـو ه جات پیداکوی .

دبنګښو کابل خیل او طور یخیل کورم علاقه آب وهوا په ژمی کښی ډیر یخ خو واوره نه لویږی او پـه ګرمی کښی ګرم دی .

دکورم توری . بنګښ کابل خیل او توری خیل داقسم مرضونه لری . ملاریه (نمونه) ټوخی دق او نور څو قسم بیمار یګا نی لر ی .

## دکیتو وادی :

دکیتو وادی غرباً تهو ځلدا نـو منګلو ، صبر یو دغرونو څخه شروع کیږی او د خوست پهعلاقه کښـی د ذکر خیل وزیرو په مقام سره یو ځای کیږی نو د کیتو ستر لګه ورڅخه جوړیږی نو مخ‌په لمرخاته‌خواته د پنځوځلویشتو میلو طول بنو کی د کورم ګړی پـــه مقا م دکر مـی

وا د یسر ه یو ځـای کیږ یدکیتو د لګه عرض د څلور و او شپږومیلو تر مینځ فاصله لری ذاکر خیل‌هغه مقام دی چه دهیوړنه په‌کرښه پروت دی .

نود کیتو وادی چه له ذکر خیل نه‌مخ په ښکته راتیر شی په دواړو غاړو نی په اول لمبر کښی‌دهیتهـی مداخیل اتمانزائی وزیر کلی پرا ته دی په دویم لمبر کښی په دوا ړوغاړود دممیت خیل قام حسن خیـل قبیلی کلی میشته دی په دریم لمبر ددغه کیتو په دواړو غاړو چه د غه علاقی ته(سپین وام) وایی د تور ی حبل قام د ریپلاری شاخ ګڼ کلی تر کورم ګړی پوری میشته دی .

بیا د سپین وام نه جنو ب‌خواته دسپین وام او میر علی تر منـځ د شیره تله په میدانی علاقه کښی د توری خیل قام درپیلاری .میبتی او سو تی شاخونه اباد دی د شیره تلی مغرب طرف ته ددرویستی په‌لاندینی دره کښی د ممیت خیل قام‌دبوره‌خیل شا خونه میشته دی .

دکیتو د تګه په دواړو خواو کښی داغرونه واقع دی .

موسی تربل، لاړیمانی غرړیمبه ،غړوشتی ، دمومه ایشخو، درویسته تره غری ، خلاخانی ګوسه وا قع‌دی په دی غرو نـو کښی ځیـړ ی ښون تر توره ، پلو سه بیره ،شیره‌وان ـ او مزری ځنګلو نه لری .

## دکیتو د علاقی طبیعی بوټی او وابښه :ـ

سپوږده، شپیانګه ، زیره ،سپیغول‌پمنه ، سپیلغزی ، تمن. کر کنه . درګه ، سرګړی ، برویزه، اونور .. دکیتو په لګه په دواړو غاړو ژمکی جوار، غنم،اوربشی شولی ،ګنی‌می، منی ، الو چی ، توتان ، او نور ...

## سبزیجات :

شلغم مولی ، ګجری ،پالك ګوپی ټماټر . کلو تری ،بنډی .پیاز په ښه توګه زرغونیږی .

## دکیتو دوادی آب وهوا :

دکیتو مغرب طرف ته دموسـی تربل لړیمی په غرونو په ژمی کښی واوره لویږی او درویستی په سر کله کله واوره پریوزی .



ACKU

دکیټو آب او هوا په اوړی کښې ډیره ګرمه او په ژمی کښې ډیر یخ اوتند باد ونه الوزی .
دکیټو وادی په باندینی حصه کې دښتې په ګلی کښې د مقتدا صاحب دبیګه (رح) زیارت چه په بیګه مشهور دی او په حسن خیل کښې دشادوخیلو په ګلی کښې دبادی بابا (رح) زیارت پروت دی چه دسپین وام توری خیلو حسن خیلو .او مدا خیلو د جمع اوړی او جرګو مرکزونه دی .
په سپین وام کښې دعمومی تجارت دراکړه ورکړه دوه سرایونه جوړشوی دی چــه یــو تــه د شــمــیر ی سرای وایی دویم دسپین وام میرعلی سرای وائی .
له سپین وام نه تل په اتلس میله فاصله شمالی خوا کښې واقع دی .
اوله سپین وام نه میرعلی جنو ب کی په اتلس میله فاصله کښې پروت دی بنو له سپین وام نه د میر علی په لار شرقی خواته په څلویښت میله کښې پروت دی .

## دمسعودو علاقه :

دمسعودو علاقې په غرب کښې د وزیرو دشوال اوشکی غرونه په جنوب کښې د ګومل دره کونړی غر او ګرنی لوی غرونه په شمال کښې دوزیرو رزمك اوشوند رغرونه اوپه مشرقی خواکښې ئې د ترا کی او بیټنی قا م غرونه او علاقې واقع دی.
دمسعودو قام علاقه تخميناء پــه میله مربع سیمه کې واقع ده چه څه حصه زمکه اواره او د کروندی قابله د ه او اکثره حصه ئې غرنی ده چه دنښترو لمنځو جلغوزو ،خیړیو، ګور ګورو او ښوونانو پــه ځنګلو نــو پټه ده .
غرونه دشتې ئې د مالداری لپا ره ډیر مساعد دی نو ځکه یوه برخه خلك د مالداری او د ځنګلونو له لرګیو څخه ښه استفاده کوی .
دمسعودو قام دنفوس دډیر والی له کبله د کروندی ژمکی لږی دی مګر په جنوبی حصه کښې ګومل اوشهود ښې زمکې لری چه غنم، جوار شولی الوګان اونور رهرقسم میوه جات او سبزی زرغونوی .
دمسعودو د قام مشهوری دری دغــه دی . سپین کمر ، میکن ، میدا نبدر شهور ساړه راغه له دی څخه علاوه نوری دری هم لری .
دمسعودو په علاقه کښې مشهو د زیارتونه دادی .
میارو ښان په ګاڼی ګرم کښې :
دبارك نیکه زیارت. په کنړی غرکی دمامګرنیکه زیارت په میدان کی .
دملاپیونده نیکه زیارت په مربی کی .



ACKU

دمحمد رمضان خان زيارت . په سلطانه کښې .
دنائب سالار موسي خان زيارت او شاه بدانداده زيارت په مکين کې.

## دمسعودو قام مشهور کلي :

ـ اسپاس ـ بدرا ، مانی تـوسپين کمر ، مـر بي ـ گـر مـي خيسور ، مکين ، گـرم او نـور

## سپين کمر :

مسعودو قام په علاقه کښې مشهور غرونه . پرې غل کونهٔ غر، گرنې غر، شوئدر مشهور ی منهٔئی او سرایونه ئی دادی . کورم سرای او بازار ، د نوری چینی سرای ، د ساړه رو غه سرای ، دکوټکی سرای، دخلوينبتي منهٔ دسرويکی سرای ، د تيارز ه سرای، دکړمه سرای اوداسی نور.

## شوال :

دشوال سر سبز او شاداب منطقه دوزير ستان پحقله دسراورز مځئی دزړه مقام لري . شوال هغه منطقه ده چه مشرق ته ئی رزمك شوئدرغره د مسعودو سپين کمر .مکی غره ، او لغړ غر واقع دی .
مغرب خواته ئی د خوی د ره ، سپين غر، او د بيرملو سيـمی او غرونه پراته دی جنوب طرفته موسی نيکه، دری نشترد احمدزائی وزيرو سيمه واقع ده. او شمال خواته ئـی د منظر خيل دره او دميرزامد خيل پروت دی د شوال مسا حه تخميناً يوسل مربع ميله اټکل کيدای شی.
دشوال علاقه پخو هموار ميدانی ټوټی اوپه خه لوړو ژورو او اکثر د جګو غرو نو پـه سلسلی مشتمـل موقعيت لری .
دشوال په سيمه کښې دبکاخيل جانی خيل ، ميامی ،ملکشی ،اوشاهی خيل، اتمانزائی وزير ميشته دی.
دشوال يوسل مربع ميله سيمه په عمومی طور د لمنځو ،چلغوزی،سرپ نښونو ، او خيړی دونو په ځنګلو نود کشمير په شان پټه ده .
په شوال کښې د باکيوم په مقام دسن گل چه په شوی فقير صا حب مرحوم مشهور دی او اوس ئی اخوند زاده مولا خان جانشين دی مهم موقعيت لری .
دشوال د منطقی اب وهوا پگرمـی کښې يخ صحت افزا او خوشگوا ر وضعيت لری . اوپه ژمی کښې ډير زيات يخ او ډيره زياته واوره پری لويږی
دبکا خيل ،جانی خيل ،ميامی ، ملکشی او شا هی خيل، شاخو نـه

په اوړی کښي شوال ته راځي .او بیا په منی کښی بنو او کور م ته‌در ومی.

رزمك د شمالی او جنوبی وز یر ستان مینځ او دمرکز یت مقام لری. رزمك هغه مقام دی چه دشاهجهانان په دور حکومت کښی د شمالی او جنوبی وزیرستان پښتانه په رزمك کښی راغونډ شوی وواو څلورنفر مشران ئی دوزیرو د قانون دجوړښت لپاره منتخب کړل .ځکه چه‌په د غه زمانه کښی دوزیرستان خلك عمومي طور خپلواك او د کوم‌حکومت دقانون اوسیاست زیرا ټر نه‌وو نو هغه‌وچه لاندی څلور و کسانو وز یری قانون جوړ او تماموزیر ستا ن دهغی قانون پابند شو .

دهغو څلورو کسانو مشرانو نومونه په لاندی ډول دی

١ـ کاجی کابل خیل اتمانزائی‌وزیر . د مرغی اوسیدونکی

٢ـراجی‌جانی خیل‌اتمانزائی‌دبنو اوسیدونکی .

٣ـ زوبیره ممیت خیل‌اتمانزائی‌مامه زیارت خدر خیل .

٤ـاو سکندر توری خیل‌اتمانزائی رزمك اوسیدونکی

نوپه همدغه اساس دوزیر ستا ن قامونو ته چه په‌هروخت کښی په عمومی طور کوم خارجي یا دا خلی‌اقتصا دی یاسیاسی مشکلات وړپیښ شویدی نوبیا درزمك ښکلی‌میدان ته راغونډ شوی او پخپل خیر شر غم او ښا دی سره خبر شوی او هر کـه‌شویدی اوبیا د خپل مرام دحصول او قا می حیثیت بر قرارسا تلـو لپاره ئی په متفقه طور لازم تصمیمونه نیولی او عملی کړیدی درزمك‌میدان په جنوبی اړخ کښی دسپین کـمر مسعود د ختی غر اوتـودی چینـی مسعود پراته دی شمال خوا ته د سولی نرائی د ممیت خیل قام‌پروت دی .

مغرب خواته شوال دشوئدر ، او سورد دارغرونه. او مشرق خوا ته دنوال انګا مال اونږمیری غرو نـه‌واقع دی .


رزمك یو میدانی علاقه ده ځای په ځای وړی وړی غونډی لری یوه ډیره سر سبز اوپرکیفه منظره لری


زمکه اکثر للمی ده .آب وهوا ئی په‌ژمی کښی یخ او واوره هم پر ی لویږی اوپه گرمی کښی ډیر معتدل صحت افزا او خوشگو ارموقعیت‌لری داوړی په موسم کښی دهری غرمی‌په وخت کښی باران پری وریږی .


هرکله چه انګریزانو د وزیر ستان دخلکو سره له ډیرو جنګونو څـخه وروستو توچی ونیوله نوانګریزا نو ته فوراء د زرمك تاریخی ا همیت معلوم شونو بیائی درزمك دنیو لـو کوښښ وکړو ډیرو سختو خونړی جنګونو څخه پس کا میاب شو چـه په‌رزمك هم‌قبضه وکړی .انګریزانو

ACKU


(۱)



سلیمان
وزیر
خدری
لالی
موسیٰ درویش
محمود یعنی مسعود
مبارک یعنی گربز
اتمانزی
احمدزی
علی زائی
بهلولزائی


اتمان زائی
محمود خیل
ولی خیل
ابراهیم خیل
خدر خیل
وزی خیل
حسن خیل
بورا خیل
منظر خیل
توری خیل
مدا خیل
علی خیل
دولت خیل
میراسائی
یعنی مچه
یوزی خیل
سرکی خیل
جانی خیل
باقی خیل
کابل خیل
وری پلاری
خوشحالی
شوگی
حبیتی
ملکشاهی
عنذی خیل
عیدیا خیل
ملک شاهی
نیامی
سیفلی
پسپلی
سردی خیل
تحتی خیل
زرمی خیل




احمدزائی
سین خیل
کالوخیل
سپیرکی
نصری
شدائی
بومائی
گنگی خیل
تاجی خیل
زلی خیل
بیزن خیل
پاینده خیل
بودین خیل
حوجل خیل
خانی خیل
سانک خیل
یعنی سودن خیل
سدی خیل
مهمند خیل
عمرزائی
سرکی خیل
پاتی خیل


مسعود
علی زائی
بهلولزائی
فتح خیل
شمن خیل
علی خیل
باند خیل
نانو خیل
ایشنگی
شابی خیل
منزائی
خالیخیل
چارخیل
بودین زائی
گلیشی
ورمر
استونری
پنج پلاری
عبدلی
ملک شاهی
نظر خیل
گدی خیل
پالی خیل
ملک دینی
شامیری
نصر خیل
تاتی خیل
حکم خیل
عثمان خیل
درامان خیل
نیک زن خیل
زاتول خیل
حبیب خیل
عمر خیل
کیکری
کیگه خیل
ورمر خیل
محمدی
سرنگ خیل
ملائی


داود
ملخ
همزانی
درپه خیل
میرام شاه
تپی
مبارکشاهی حکیم خیل
عیدک
خدی
مسوخیل
عیدرخیل
نصرت خیل
پائی خیل
لنند
طویئف خیل
زیرا خیل
ابراهیم
مریم خیل
علی زائی
گربزائی
اتمان
لقمان
کتی خیل
نانه خیل
تره خیل
طوری خیل
بلالی
مبارکشاهی
حکیم خیل
پیران
عیدک
خدری
سیمان
خدی
عیسودی
زیرکی
عیرمنر
شال
بی بکی
بدتوم
موسکی
نصرخیل
علی خیل
قیمت خیل
اپی

ACKU


بیتنی
دانائی
تته
وړسپون
بوبائی
بوبک
توران خیل
کټه گرام
مندانه
تاروخیل
آدیزائی
عمرخیل
سالن خیل
نعمت خیل
علی خیل
شادی خیل
وړوکی
آباخیل
خیچه
شینخائی
ترائی
ثپلائی
سورامد
عمرخیل
معزائی
سمرزائی
جانی خیل
دری خیل
الله‌ودین خیل
لعلی خیل
حسن خیل

ACKU

له توچي څخه رزمك ته‌يوپوځي‌سړك او د ټيلفون تار ورسولو ته رزمك كښې دلغږي په مقام يوپوځ داسې‌عسكري كيمپ او يوا هوائي ميدا ن جوړ کړ چه په يووخت‌په هغه كښې دپرنګيانو څلور ويشت زره پوځ اوسيده.

دسولي نري څخه جنوب طرفته تخميناء ددري ميلو په فاصله يو ه خوا بل خوا د مميت خيل ز مكې ګوټو نه اوكورونه موجوددي. په‌رزمك كښې دغه علاقه د مميت خيل قام ملكيتدي بيا دمميت خيل‌له بريدنه جنوب خواته تخميناء دپنځه ميلوپه فاصله دتور يخيل قام زمكي‌اوملكيت شروع دي‌په جنوب‌كي‌ئي‌آخري‌بريد د سپين كمر خوا ته او تو دي چيني مسعود سره لګيد لي دي .

او د نور محمد خان سرائي دتو ر يخيل او ميمت خيل اونورو تجارو لپاره د تجارت يوښه مساعدموقعيت لري اګر چه‌په‌رزمك كښې دتوريخيل او مميت خيل اكثر خلك په مني‌كي توچي او خيسورته‌واپس در ومي خوبياهم‌ډير خلك د ژ مي په يخني كښې هلته پاتي كيږي ځكه چه تور يخيل او مميت خيل درزمك په دواړو برخو كښې ښه مضبوط كوټو نـــه قلاګاني او كورونه لري .

عام طور رزمك زمكه اګر چه‌للمي ده خوا بيا هم جوار .غنم ا لو ګا ن كدو بادرنګ او هرقسم سبزيجا ت او ميوه جات په اعلى توګه زرغونوي د رزمك هرقسم فصل اووني داوبو دكمي له وجې نه خرابيږي ځكـــه چه د رزمك په زمكه هروخت ښـه بارانو نه كيږي.

درزمك آب وهوا دومره صحت افزا او خوشګو ار ده چه انګريزا نو به ورته وړوكي لنډن وايه .

دخيسور وادي اوعلاقه د هغـي مقام‌نوم دي كوم چه له دري منظر خيل پارياټ خوړ دوسلي لګه اولاكي د ميداني خوړونو څخه داسد خيل او موسكي مميت خيل د كليو په خـوا كښې سره يو ځاى كيږي نودخيسور وادي تشكيلوي .

ددوسلي لګه جنوب لخوا د مند يخيل‌او كاكا خيل له‌غرونواوخوړونو څخه سرچشمه اخلي.

دپارياټ لګه دسولي . اوپرنجين غرله ناليو څخه جوړيږي .

دمنظرخيل دره دلواړګي .شوئدر او پرانجين غر د غربي ډډې له‌ناليو څخه جوړيږي داټول خوړونه اونالي دوسلي د كلي او قشلي په مقا م سره يو ځاى شي نو لمر خاته خواته ورڅخه دخيسوروادي جوړيـږي د خيسور دوادي په غربي پاس‌سر كي داسد خيل او موسكي كلي ميشته‌دي

چه‌دوی په دغه مقام کښې ځمکې او باغونه لري .

د همدغه خیسو ر د لګه په باندینی سر واقع دی ښه حاصلا ت ورکوی ، د همدغه خیسور لګه چه د اسد خیل او موسکي له کلیو څخه مخ په ښکته راتیر شي نوبیا د بوبلي او خوشحالي توریخیل کلي مخـې ته ورځي . دبوبلي . خوشحا لی له کلیو څخه لاندې په مسلسل ډو ل د توریخیل قام کلي د لګه په‌یو خوا او بل‌خوا کښې میشته دي چه د غه ځای ته (تنګرائی ) وائي.تنګړی نه‌چه تیر شی نوبیا ورته د(ډکی‌خوله) وائي چه دغلته خوا اوشا کښې هم‌دتور یخیل قام ګڼ شمیرکلي آبا د دي . د (ډکی خولی )نه‌تر خوشحالي علي خیل او بوبلي‌کلیو پوري‌باندیني خواکښې دخیسوره دلګه په غا ړه‌عاړه ددی کلیو څه لږ ډیرې ځمکې شته چه غنم اوربشی .جوار ا وسبز یجات‌اومیوه‌جات زر غونوی .

دډکی له خولی نه ترپاس سر دبوبلي‌دکلي پوري د خیسوره وا دی‌تخمیناً دلسو میلو په فاصله دلګه په‌دواړو غاړو جګ جګ غرونه راچاپیر د ی چه د ګور ګورو . ښو نو او ځیړ و په ځنګلو نو پټ دی .

د (ډګی خولی ) او (تنګړی )نـه‌چه مخ په لمر خاته تیر شی نو د خیسوره لږ ارته علاقه شروع کیږی‌چه په دغه علاقه یعنی د خیسور د وادی په‌شمالي غاړه دانګریزا نو د وخت یوه قشله چه اوس د توریخیل قام پنځوس نفر پکښې اوسی او د هغی په خواکښې د مشهور مولانا ګلمنیر کلی واقع دی . دی نه علا وه په دغه مقام کښې دتوریخیل قام‌ګڼ کلی لکه (زرړینی) شوګی. علی‌خیل مقبل اونور دغسی اڼ ترسن تنګی پوری مخ په لمر خاته تخمینا ۶په‌شل میله فاصله کښی دیو اوږدرغزی په سر پراته دی .

دخیسور د علاقی جنوب خوا تـه شکتو شمال ته جلیر او تو چـی . مغرب ته اسد خیل موسکی .ډمهول او دوسلی . او مشرق خواته شا هی خیل او دبنو علاقه واقع ده.

دخیسور دوادی او علاقـی چارچاپیر دغرونو او خوړونو سلسلـی جاری دی چه‌په دغه غرونو کښې‌ګور ګوره .پلوسه .بیره .ښـونـو او د ځیړو ځنګلو نه مو جود دی .

دخیسوره په علاقه کښی د پنځو کالو څخه راپدی خوا دیوی ستر ی ویالي په جوړولو شروع شوید ه‌چه په هغه څلوینښت لکه افغانی مصر ف شویدی او څه ر وا ن دی کیـږی‌خوتراوسه تکمیل نده .

په خیسور کښی دمولوی ګلمنیر په ځای کښی یوه لویه اسلا می‌مدرسه

شته دبیچی کڅکی د پوست سره‌یو ابتدائی ښوونځی اویوه وړه شفاخانه هم موجوده ده .

د خیسور د خلکو ځمکی څه ا بی څه للمی دی‌خوبهرحال دغنمو.جوارو او میوو حاصلات ورکوی .دخیسور آب‌وهوا په اوړی کښی گرم اوپه‌ژمی کښی یخ او وچه ده .

دخیسوره وادی دسن تنگی په مقام دشکتو د وادی سره یوځای کیږ ی روپه دغه مقام د توریخیل بکا خیل اوجانی خیل بریدی نوله دغه مقام څخه د بکا خیل اوجانی خیـــل اتمانزائی وزیرو په بنو کښی علا قه شروع کیږی . د بکاخیل او جانی خیل علاقه دشکتو او خیسور پـــه همدغه مشترکه غاړه شرو ع کیږی ان چه دبنو څو سره لگیدلی دی .د بکا خیل او جانی‌خیل‌علاقه نسبتاء‌هموار‌ه او میدانی ده‌البته په‌باندینی برخه کښی دسن تنگی غراو د توری غرواقغ دی .جنوب ته ئی دبنوسیو غر او شمال ته‌ئی دتوچی تنگـــی غرونه واقغ دی او مغرب طرف ته غرونه نشته ټوله همواره اومیدانی برخه ده .

دجانی‌خیل اوبکا خیل ځمکی‌اکثره للمی او څه آبی هم دی چه د خیسور او توچی له لگښ ونو څخه خړوبیږی. دبکاخیل او جانی خیل ځمکی غنـــم اوربشی .جوار او نور هم هرقســم سبزیجات او گنی زرغونوی .

دجانی خیل او بکا خیل د علاقی آب وهوا په گرمی کښی دبنو په‌شان گرم او په‌ژ‌ه ی کښی معتد له ده.

(نوال ــ انگمال او شاه ولی)

چه درزمك له عسکری کیمپ او نور محمد خان تور یخیل له سرای نه مخ په لمر خاته روان شی نوددوه میله په فاصله به د نوال او انگمال دغره غربی ډډه ته ورشی . د نوا ل غربی ډډه جنوباً او شمالا تخميناء د لسو میلو په طول فاصله واقع‌دی.

دنوال د غره غربی ډډه‌شمالانیمائی حصه د ممیت خیل قام متصر فه ده او جنوباء نیمائی برخه ئی‌دانگمال اونړ‌میری دغرونو پوری د تو ریخیل قام ملکیت دی چه دنړ میری په مقام‌د مسعود قام سره اتصا ل‌لری .

دنوال د غره په غربی ډډه کښی د توریخیل او ممیت خیـــل دواړو قا مونو لږ څه ځمکی جوړی‌کړید ی دنوال او انگمال غر دواړه بـــر خـــی دخیږی او ښونو ونو ښه ځنگل لری‌کله چه دنوال اودا‌انگمال غر پـــه تری لمر خا ته خواته ورواوړی نـــو ددغه غره په بیخ کښی به تور یخیل قام او کلی مخ ته‌درشی .

دشیخ عمر کلی د مینی نام ئـــی هواخیږی ، د علی خیل ، دته خیل



ACKU

او ابا خیل کلی دمینه ی نا مونه ئــی (بنړیزی ) زکر خیل کلی د مینی نام ئی (بوبکره ) د مدیخیل کلی د مینی نام ئی (زیند رگه )بیا ددته خیــل کلی دمینی نام ئی (ورجاغونی )ـ

ددغه کلیو ګرد چاپیر د غېږی ډک عرونه واقع دی او د کروند ی للمی اوابی ځمکی هم لری .ددغه کلیــو ځمکی غنم ، اوربشی ، جوار الوګان کدو بادرنګ ، زردآلو او نور هرقسم دانی سبزیجات او میوه جا ت پــه اعلی طریقه زرغونوی .

ددغه خلکو پیشه او کسب دهقانی مالداری او د غېږوله ونو څخه سکاره ایستل دی . دشیخ عمر کلــی ا و علی خیل جنوبی برید په سپینه میله او تنګی په مقام دشابی خیل مسعود سره لګیدلی دی .

هر کله چه مشرق خوا ته د علی حیل له ځمکی نه تخمیناً ددری میلو په فاصله په ښکته لا ړشی نو دشاه ولی علاقه چه د میرعلی یا میرالی قام ملکیت دی شروع کیږی .دغه دشاه ولی په باندینی ابتدائی حد اودعلی خیل د ځمکی په لاندینی اخرینی برید چه سره جنګیږی نو د غلته د ری یا څلور نالی سره یو ځای شی . دشاه ولی یوه ستره لګه ور څخــه جوړه شی. چه د غه لګه په شوالی کښی د میرالی کلی په خوا کښی راتیر دشاه ولی نه مخ په لمر خــا ته ددری میلو په فاصله دبو بــکر ی زیندرګی .ورجه غونی او وروستــه بازو دیو لګه سره یو ځای شی چه د کرچ خیل مرسنځای او کیکړ ی مسعود له کلیو څخه مخ په لمر خا ته تیریږی چه دتور یخیل د علاقی ماتوم ارسل کوټ په مقام ورته شکتولګه ویلی شی دغه لګه چه دارسل کوټ کیکړی مسعود او شابی خیل علاقونه تیره شی نو بیا د زیاندی اوشو او سیو غره څخه ورته نور هم وړی وړی نالی او خوړو نه راوزی نو بیا دغه دشکتو له لګه ورتیر شی ان له جانی خیل وزیر په علاقه کی بنوته ور ګه شی .

## شاه ولی:

دشاه ولی دنوم په نسبت او س دا تاریخی حقیقت څرګند شویدی چه دشاه ولی زیارت چه په ستر زیارت هم مشهور دی وائی چه دغه دموسی درویش نیکه دویم زوی (اتمان) بابا دی چه اوس ئی او لاده په اتمانزائی وزیر یا دیږی.

ددغه ستر زیارت په لروبر کښی نور هم ډیر ښکلی زیارتونه د ی. خوستر زیارت ته د هری پنجشنبی په ورځ دمسعود او وزیــر له لــر ی

لري څخه د خلکو بهيرونه را ځـي ددوی په توسل له لوی خدای نه‌خپل حوائج پوره کول غواړي په شا ه‌ولی کښې ميرعلی شاخ ډيره‌زرخيزه ځمکه او د ځيری او ښونو له ونـو څخه ډك غرونه لري .
دشا ولی دعلاقی مير علی شاخ ډيره‌زر خيزه زمکه لري او د غرونو يو څو مشهور نا مو نه دغه دي .
دشينكي غر كونډ غر كماله غر، جنجول‌نري ،مهترړو، ټيپ‌غر،شروني غر، شمال خوا ته څومشهور غرو نو نومونه دادي كوم چه‌دروسته بازو نو ورجـه غوني ، زيندراگـه او پـه‌ختيځ كي علي‌خيل ياشيخ‌عمر كليوسره متصل بريدلري.
جگ سر ،پټي خوني ټيپ‌سر، دشيرړو ر ، او د مند تي ړور ، څه للمي او هم ډيره زمكه آبي لري .
شاه والي دواړي برخي ځمكي غنم‌اوربشي ،جوار الو گـان، كـدو ، بادرنگ ټماټر ،انگور شفتالوزردالو اونور قسما قسم سبزيجات او ميوه جات پيدا وار لري .
دشاه والي آب‌وهواډيره خوشگواره‌معتد لـه ده پـه ژ مـی كښی ډيره واوره پری اوريږی او‌په اوړی كښی ډير بارانو نه پری اوری .
دمير علی كلي په اوړی كښی‌شاه‌والي ته راځي او‌په ژمی كښی مير علي او سپين وام ته‌درومي .
دشاه ولي علاقي ته له دوسلي نه‌دابلنكي .شام اوگړيوم پ‌ه‌لاريو كچه سړك راغلي دي .

## دوراسته بازونه :

دشاه والي له علاقي نه چه په لمـر خاته ددرو ميلو په فاصله تير شي وراسته بازونه ځمكه او غر د سيد خيل شاخ احمد زائي وزيرو ملكيت دي .دوراستو بازو غرونه هم دځيری او ښونو له ونو څخه ډك .او ځمكه ښه زرخيز موقعيت لري .دوراستو بازو ځمكه هم للمي او هم آبي ده جوارغنم، اوربشي .الو گان كـد و بادرنگ ټماټر ،بنډی او شلغم پـه ښه توگه زرغو نوی .
وراسته بازونه ته دسيد خيل كلي له بنو په اوړی كښی راځي او پـه ژمي كښي بنو ته دروه ی .دوراستوبازو آب وهوا د شاه والي‌آب‌وهوا په‌شان معتدل اوخـوشگواره ده ا وهم په ژمي كښی‌دشاه والي په شان ډيره واوره پريوزی .

## شام او ګړیوم :

شام او ګړیوم یوه میدانی ټوټه ده چه ګرد چاپیر د غرونو سلسله ېری رابدله ده ،د شام‌په‌برسر شمال مغرب خواته د ممیت خیل یو کلی بوره خیل آبا دی په دویمه برخه کی‌ددر پیلاری توریخیل شا میری ا و بوبلی. په دریمه برخه کښی میر خانخیل او په څلور مه اخری برخه کښی هیتی بودر میشته دی .دشام باندینی حصه کوم چه بوره خیل شمیری بوبلی او میرخانخیل پکښی اوسی للمی نوعیت‌لری‌او لا ندینی حصه ئی آبی ده .دشام او ګړیوم للمی ځمکه غنم اوربشی او جوا ر زرغونوی او آبی ځمکه غنم .جوا ر اوربشی الوګان ،کدو شلغم او هر قسم میوه جات‌او سبزیجات‌زرغونوی دشام او ګړیوم غرونه هم د ځیړی او ښونو ځنګلونه لری . دشام اوګړیوم د میدانی علاقی په منځ کی له دوسلی نه ابلنکی په لاریو کچه سړک‌راتیر‌دی‌چه‌انترشاه والی رسیدلی دی.ددغه سړك په ذریعه دغه قا مونه دلاریوپه ذریعه ښه استفا ده‌کوی .

دشام او ګړیوم آب وهوا معتدل‌او خوشګوار او په ژمی‌کی درند ه واوره پریوزی .

دشام‌اوګړیوم‌اوسیدونکی‌توریخیل او بوره خیل دګرمی په موسم کښی د کاهو سره راځی اوپه منی کښی خیسور ـتوچی ـشیره تله او سپین وام ته درومی.

## شکتو :

شکتو د هغی ستری لګاړی نو م:ی چه مغرب له طرفه دشاه وا لی وراسته بازونو .شام او ګړیوم غور لمی اونور څوړونو څخه جوړشویدی دکیکړی او مرسنځای مسعود ونـه کیلو څخه نو موړی لګاړ مخ لمر خاته تیرشی نو ددی لګاړ په شمالی ا و جنوبی غاړو پوری داپوری دتوریخیل اتمانزائی وزیرو ا ودمسعو د وکلی‌مبشته لیدل‌شی او دلګاړ په یو خوا ئوبل خوا څه ټوټی ځمکی هم جوړی کړیدی نو د غلته دغه لګاړ او علاقه ته (شکتو ) وائی .

دشکتو شمالی او جنوبی خواوی سره دغرونو یوه لویه سلسله‌روانه ده‌چه‌په لاندینی‌برخه کښی‌دتوریخیل علاقه (کـنړوم) تـه و ر سـی . د (کنړوم) او (سپین تنګی) په مقام د شکتو لګاړ او غرونه او د خیسورلګاړ سره یوځای کیږی نوبیا دیو طبیعی دریاب شکل غوره کوی آن چه دبنو

په علاقه کښې د جانيخیلوزیر لهعلاقې ښخه تیریږی نوبیا د تو چی دوادی سره یو ځای دګمبیلی دریاب نه ورپریوزی .

په پاس سر کښې دشکتو دواړو خواو ته کوم غرونه واقع دی په هغو ګښې د ګور ګورو ښونو اوزیړ و نیوونی ځنګلات شته چه دسون ا و تعیمراتو لپاره په کار راځی .

دشکتو په لګه کښې چه توریخیل او مسعود اقوامو کومی مزرو عـی ځمکی موجودی دی هغه څه آبی او څه للمی دی خوبیا هم دغنمو جوار اوربشو ،میوو او سبـزیجاتـو دزرغونولو لپاره خاص موقعیت لری.

د همدغه شکتو لګه په غاړهارسل کوټنه لاندی دتوریخیل قام علاقه د (کنړوم) کښې ښې ځمکی لری چـه حاصل خیز موقعیت لری .

شکتو آب وهوا نـسبتاء وچـه د ه باران پری کماوریږی اوپهژمی کی کله کله واورهپری لویږی ځمکهدخوړونو له بارانی اوبواو چینو ښخهخړوبیږی دشکتو شمالی او جنوبی خوای سرهدغرونو یوه لویه سلسله روانه د ه چه په لاندینی برخه کښې د توری خیل علاقه (کرکنړوم) ته ورسی .د (کرکنړوم او (سن تنګی )په مقا م دشکتو لګه او غرونه او دخیسورلګه سره یو ځای کیږی نوبیا دیوطبیعی دریاب شکل غوره کوی هغه شی چه دبنو په علاقه کښې د جانی خیل وزیرو له علا قی ښخه تیریږی نوبیا

په پاس سر کښې د شکتودواړی خواوی ته چه کوم غرونه واقغ دی په هغو کښې دګور ګورو ښونو ا وزیړ نیوونی ځنګلو نه شته چه سوی اوتعمیراتو لپاره په کار راځی .

دشکتو په لګه کښې چه د توری خیل او مسعودو اقوا مو کو مـی مزروعیزمکی موجودی دی هغه څه آبی او څه للمی دی خو بیا هم دغنمو جوارو اوربشو میوو او سبزیجاتودزرغونولو لپاره خاص موقعیت لری.

دهمدغه شکتو دلګه په غا ړهارسل کوټ نه لاندی دتوری خیل قام علاقه (کرکنړوم) کښې ښې زمکیلری چهحاصل خیز موقعیت لری .

دشکتو آب وهوا نسبتا وچه د هاو باران کم پریاوریږیاوپه ژمی کښې کله کله واوره پری او ر یزمکهد خوړونو د بارانی اوبو اوچینو ښخهخړوبیږی .

## ګربز:

ګربزد وزیرو یو ستر شا خ د ی‌ه سمه او غرونو کښې میشته لیدل کیږی .

دگربز قام په دو برخو تقسیم دی چه لــه میر انشاه نه مغرب طر فتــه چه یوه برخه ئی په افغانستان اوبله به پښتونستان کښی اوسیږی .دد ی قام سابقه کور شماری یو زر وه‌خو اوس تقریباء دری زره کوروته‌رسیږی عام طور د گربز قام علاقه غریزه‌ده البته دخوست طرف ته گربزډیری زمکی لری خواکثر للــمی دی او د وزیر ستان طرفته گربز هم زمکــی لری خو لږی لږی دی کربزو علاقه دانو مونه لری .مشه ،گلوم خون‌کلی ډنډی ، جن شوره ، کڅکی، لالیز ه کونډی کلی ، باړی کلی ، او داسی نور ددی خلکوگذاره په تجار تاو د مزری څخه په‌جوړ شوی شیا نــو او مزری کیږی .دوی د زمکوحاصلات ډیرلږ دی‌خوبیاهم‌ځای‌په‌ځای‌غنم‌جوار اوربشی کری دگربزو غرونو کښی ځنگلو نه‌نشته خیږی‌ښون گورگوره پشیا اوکرکڼه ددی علاقی مهمی‌ونی دی‌آب‌اوهوائی په‌ژمی کی‌یخ اودبعضو غرونو په سر واوره هم لویږی اوپه اوړی کښی گرم دی داخلك دبوری خیل‌گلم خون کلیــو په‌مــقام دو ی‌تجارتی منډئی لری چه دافغا نستان ا وپاکستان سودا گرو رته مالونــه راوړی .
د گربز قام شرقی خوا ته میرانشاه او تبی ټول خیل ،غربی خوا ته‌ټنی جنوبی ډډی ته ډنډی او داویگرسید گی اوشمالی‌خواته د ټنی مدا خیل عرونه موسی تربل اولړیمی واقع دی

## دبیرمل علاقه :

بیرمل د هغی سیمی او میدا نی‌منطقی نوم دی کوم چه مشرق خواته ئی د گرویك .څوی . او د شوا ل‌غرونه مغرب خوا ته ئی‌دخروټو ا و ارگون غرونه واقع د ی.
شمالی ډډی ته ئی مداخیل اوپیر کیتی پراته دی .
جنــوب خوا ته ئی داحمــد زا ئــی‌وزیر وعلاقه او د موسی نیکه مزار او غرونه وا قع د ی.
په دغه منطقه کښی کابل خیــل اتمانزائی‌وزیر ابا د دی چه‌افغانستان سره الحاق لری .
بیرمل یوه میدانی علاقه ده‌چه له‌له څلورو خوا ونه دغرونو سلسلی پری را چاپیر دی .
دبیرمل‌زمکه هم آبی او هم‌بارانی ده هغه زمکی چه بارانی دی غنم‌جوار اوربشی زرغونوی او کومه چه آبی‌ده غنم ،جوار اوربشی شولی ،الو گان انگور ، توت مڼی الوبخارا تور ا و سره بانجان گوپی شلغم پیاز ا و



افغانی خویندی دپښتونستان دجشن پـــه‌مراسمو کی دګډون په حال کی لیدلی کیږی

داسی نور هرقسم تر کاری او سبزیجات زرغونوی د بیرملو آب او هوا په ژمی کښی یخ ځکه چه ډیر ه واوره پریوزی‌ا و په‌اوړی‌کښی‌معتدله ده .

دبیرمل په علاقه کښی یوه‌ستره‌لګه‌هم شته‌د ی‌چه په‌جنوب کښی د احمد زائی قام او موسی نیکه لـه‌غرونو څخه سر چینه اخلی په‌رابوت مرغه اوپه لاند نی حصه کښی دپیپلی په کلیو کښی‌راتیریږی چه‌دمراملی پمقام د ګرویك ا ود خوی د لګه‌ونو سره دتوچی لوی لګه ته ورتوئیږی په بیرمل کښی کابل خیل اتمانزائی وزیر د مرغی پمقام یوستر بازار او د منګړ یتی پمقام دچارتراشو یو ه‌منډ ئی هم لری په بیرمل کښی‌یو اسلامی مدرسه شته چه تخمیناً سل تنه پکښی دینی تعلیم حاصلوی دبیرمل کابل خیلو د خـواو شاءغرونه د لمنځونښترو سر پو، او چلغو زودونو په ځنګلونو ښه پټ‌دی چه همدائی مهم حاصلات دی.
دبیرمل کابل خیلو اقتصا دی‌حا لات ښه دی دوی ژونـد پـه تـجا رت مالداری او د هقانی کیږی او پـه افغانستان کښی خورا ښه منصبونه او ملاز متونه لری .

په‌بیرمل کښی ددی قام د جرګی‌او مرکی مهم ځای د مرغی بازار دی

## کږه :

لګه د هغی لګه‌ی نوم دی کوم چه دد مغرب خوا ته ددریخیلی او د ګیان خیلو له غرونو او خوړونو څخه‌سر‌چینه اخلی او په لمر خاته کښـی تخمینا د پنځوسو میلو په فاصله د کانی روغه منظر خیلو پمقام‌دتوچی وادی ته ورګډ یږی .

دکږی لګه چه له باندی خوا راشروع شویده نوپه لراو برسراومنځ کښی مدا خیل قام ابا د او میشته‌دی دکږی د لګه جنوبی غاړه تـه د لواړه میدانی علاقه واقع د ه‌چه په‌هغه کښی مداخیل‌قام‌دخریدوفروخت اوتجارت لپاره یوه مهمه منډئی ا وسرای جوړ کړیدی چه دمداخیل ټول قام ته ئی مفا داوحاصلات‌رسی‌ا وشمالی څڼډی ته ئی د ځدرانو اوتڼیو غرونه واقع دی .

ددی لګه‌ی په‌دواړوغاړو مداخیل‌قام زر خیـزی زمکی او سمسـو ر باغونه جوړ کړیدی چه د غه‌زمکی‌غنم جوار وربشی زرغونوی .

او باغونه ئی د توت انار ،انګور مڼوزردالو الوچی اوآلوبخاراپه‌ونوپټ دی او دی نه علاوه سبزی او ترکاری هم په ښه توګه زرغونوی او همدغه



ACKU

مهم حاصلات دی . د کړی د لګښه باندی څخه د لاندی نیمی په‌برابر شمال خوا ته ئی داسمعیل خیــل‌مدا خیل زنګو تی او وږګی خرخینو سمه او غرو اقع دی .

دکړی د لګښ او خواشا سیمو آب‌وهوا معتد له ده په ژمی کښی‌وا وره پری لویږی.

د کړی د پرسر نه علاوه دلاندینی برخی په غرونو کښی اګر چه څــه خاص ګڼ ځنګلونه خونیشته خــو دګور ګورو او ښونوونی نر ی‌نر ی پکښی لیدلی شی.

داسمعیل خیل د شته کوم چه دکړی د لګښ شمالی اړخ ته پراتــه ده پد غه دشته کښی هم څه قابل ذکر و نی او ځنګل نیشته .

اسمعیل خیل شاخ پد غه د ښته کښی ښه کوټونه او څه‌للمی او آبی زمکی هم‌جوړی کړ ید ی چه غنم‌جوار کوی او څه میوه داری ونی پکښــی زرغونی دی .

داسمعیل خیل ددشتی آب‌وهو اپه اوړی کښی ګرمه او په ژمی کی معتد له ده داسمعیل خیل ددشتی سره متصل‌شمالی‌خواته‌دخرخینوکلی علاقه پراته ده چه هغه ته دوږه ګی‌او زنګوتی خرخین وائی .

دوږګی او جنګوتی خوخینو هــم‌په دغه دشته کښی او د هغی نالی په غاړه کوم چه د خړی او مزك له‌غرونو څخه راوتلی ده څه‌لږ ی‌ډیری زمکی جوړی کړیدی چه جوار غنم‌او ور بشی کوی .

دغه نالی چه د مزك او خړی له‌غرونو څخه د زنګو تی او وږ ګــی خرخینو ترمینځ راوتلی ده ددغه‌نالی په امر خاته داتو میلو په فا صله

دتوچی دریاب ور دا خل شوی دی‌او اوږګی آب وهوا هم داسمعیل‌خیل ددشتی په شان ده او په ژمی کښی‌ډیر یخ ندی او واوره هم نه ګویږی

دجنګوتی او وږګی خرخینو پــه‌شمالی څنګ کښی دداویګو لګښ او غر واقع دی دا منطقه کښی سید ګی‌وزیر آباد دی .

داویګر یوه تیته جګه . اولاند ی باندی زمکه ده دچینوپراوبوخړوبیږی دداویګر مخ په قبله د مزدك‌غر‌پروت‌دی او شمال‌مغرب ته ئی د جن شوره ګر بز پروت دی داویګر د میرانشا ه‌په دړی ډی په میدان کښی را غلــی تخمیناً د شلو میلو په فاصله د درپه‌خیل په مقام د توچی د ریاب تــه ورګډ شویدی .



ACKU

## په‌شمالي وزيرستان کښې دتوچي رود :

توچي په شمالي وز ير ستان کښې دهغه ستر رود نوم دی‌چه په مغربي خوا کښې يې د بيرمل څوی.لموستي توئی او شوال تنګی له‌ګډ ونو څخه جوړيږي او مشرق خوا ته‌تخميناً داتيا ميلو په اوږدوالي کښې د بنو ضلع‌ته داخليږي .

دتوچي دوادی په بانديني سر کی‌د مدا خيل قام يو شاخ مچه ميشته دی چه هغه د تنګی مچه وائی مچه‌څخه لاندی دميز راوشيرني مداخيل کلي پرا ته دی. د شيرني‌مدا خيـل نه لاندی د ما مه زيارت خدر خيل او د بابا زيارت او ددته خيل کلي قشله او سرای واقع دی . د دته‌خيل کلي نه ترلاندی بيا دخدر خيل څوکلي شته او بيا لاندی کاني رو غه منظر خيل ستر کلي ميشته د ی. دمنظر خيلو له کلي لمر خاته خواته دتوچي درود په غاړه دځلورميلـوپه فاصله دپوئی خيل دوړ نه کلي څخه د توچي درود په دواړو غاړوددوړ علاقه ښار ونه او کلي په دی ترتيب شروع کيږی اول دمحمدخيل‌کلي او ښار. بويه وال .همزو نـی خری ګلي دربه خيل .ميـرا نشا ،بوتړه تپی حکيم خيل عيدك حدی . زيرکی .عيسوړی. هرمز .موسکی .سوخيل ايپی او عيد رخيل د توچي لګډ چه دعيد رخيل له‌کلي اوکجوری‌له پوسټ نه په تنګه کښې لمر خاته خواته لاړ شي نو ددری غونډو ا و بکا خيل منډئی پمقام بنـو کښـې داخليږی .دتوچي پـه دواړو غاړوځائی په‌ځای دغرونو په لمنو کښې د توريخيل او مميت خيل کلي هم‌ميشته دی .

## دتوچي پيدا وار:

دتوچي دوادی پـه دواړو غاړوپوری داپوری پراتي زمکی آبی د ی دغه زمکي غنم جوار .وربشی ګنی‌شولي او الو ګان زرغونوی.

## آب وهوا:

دتوچي آب وهوا په ګرمی کښی‌ګرم او په ژمی کښې يخ خووا و ره نه پری لويږی .

## ميوه جات :ــ

انګور . زردالو منی الوبخارکجوره نيشپاتـی خربو ز ی هند وا نـی بادرنګ او نورو زرغونوی .

## سبزیجات :ـ

گوپی .تیپر. پالك .سره او توربا د نجان .بنډی .کدو کریلی اونور هر خه زرغونوی .

## دموسی نیکه علاقه :

دموسی نیکه علاقـه د لاندینـوغروڼو او خوړونو څخه تشکیلیږی.
دموسی نیکه د علاقی‌شما لشرق‌ته د (زړوبه غر)«مروتی‌غر » «نیزی غر» او د خواجه خدر غرونه وا قع‌دی د موسی نیکه شمال غربی‌خواته د بیرمل کابل خیل غرونه وا قع‌دی
دموسی نیکه د شا وخوا غرو نه‌د لمنځو نبنتر .جلـغوزی .سرپ. په شنو ونو پټ دی چه داحمد زایوقام ته زیات حاصلات ورکوی‌په‌دغه علاقه کښی د موسی نیکه باغړ نیکه اوشین سترگی نیکه زیار تونه واقع دی .
د موسی نیکه عموماً زمکه ا گر چه‌چه للمی ده خو ځای په ځای آبـی نوټی هم پکښی شته چه‌هرقسم غله‌میوه سبز یجات پکښی شنه کیږی
دموسی نیکه آب‌او هوا په ژمـی کښی یخ‌اوپه غرونوئی‌واوره‌هم‌لویږی او په‌گرمی‌کښی‌معتدل اوخوشگواروی

## شکی علاقه :

شکی یوه بنکلی میدانی علاقه ده‌چه له وانه څخه شمال مشرق‌خواته دشلو میلو په فاصله واقع ده.
شمال خواته ئی دبوش او لکړی‌جگ غرونه او جنوبی خوا ته ئـی خیسورغټ غر او کوټغړی وا قع‌دی‌او لوید یځ خوا ته ئی دکمکی بوش د غره سلسله تاو شویده او مشرق‌طرف ته ئی د خیسور مسعودوسره لگیدلی دی .
دشکی ښکلی دره چه تخیمناً اته لس میله اوږد وا لی او ا ته میلـه پلنوالی لری چه زیاته بر خه ئـی‌غرونه او غونډی دی او تقر یبـاً (۵۰)میله‌مربع همواری‌او دکروندی‌زمکی لری.
دشکی غرونه د نبنتر .جلغوزی‌سرپ او لمنځو اوخیړی په ونو پټ دی دشکی زمکه غنم جوار وربشی‌کچالو ددی زمکی مهم حاصلات د ی د مندتی منې انار او شفتالو ونی‌هم‌پکښی موجود دی .

## دشکی آب‌اوهوا:

دشکی آب وهوا په ژمی کښی‌یخ په غر ونو واوره پریوزی . او په گرمی کښی آب او هـوامعتدله او خوشگواره وی .
شکی انگریزانو سره دجهاد یولوی تاریخی مرکز پاته شوی دی له همدغه شکی څخه به داحمد زا یووزیرو په وانه او د انگریزا نو پـه نورو سیمو سختی حملی کولی .
دشکی دری د غازی مولاناهمزاللهقاضی صاحب حاجی محـمد .او د وزیر ستان لوی مشرمانی کاکا پـه‌مزارونو ښایسته شوی ده.

## دوانه علاقه :

وانه د هغی سیمی نوم دی چـه‌مغرب خوا ته یی «نیـزی غـر» او مروتی غرونه او مشرقی خوا ته یی‌تنایی .کزه پوزه او تیارزه وا قعدی او شمال خوا ته یی د شکی اوکوټ‌غرونه پراته دی .
او جنوب طرف ته دگومل غرونه‌واقع دی .
وانه یوه لویه او ستره د شته ده چه‌هم للمی اوهم‌آبی‌زمکی‌پکی‌شته.
دوانه ټ‌ه‌ته سیمه کښی احمدزائی‌وزیر میشته دی .
دوانه زمکه جوار .غنم وربشی .او نور هم هر قسم دانی‌زرغونوی.
گوپی پانك. شلغم مولی .گازری‌او هر قسم سبزیجات پیدا کیږی .
مانی اتوچی .انگور او نور هم‌هرقسم میوه جات زرغونوی .
په وانه کښی دانگیریزانو لـه‌وخت نه تراوسه‌پوری یوسترعسکری کمپ یولوی بازار یوه لویه منډ‌ئی یو لوی روغتون لری .
ونه داحمد وزیر د جرگو مر کو او تجارت یو مهم او تاریخی مر کز دی .
د وانه آب وهوا په‌ژمی کښی‌یخ او کله کله واوره هم پریوزی او په اوړی کښی معتدل او خـو شگوار موقعیت لری . د وانه له دښتی نه مغرب طرف ته ددانی ښکلی د ره‌واقع ده چه د غه دره د مروتی او نیزی نری له غرونو څخـه سـر چشمه ا خلی او مشرق طر ف ته‌د شولام هغه لویه منډئی ده چـه د احمد زایو وزیرو د تجارت ستر مرکز شمارل کیږی ددانی شما ل خوا ته د شوال شکی او جنوبـی عرونه پرا ته دی . او د جنـوب‌خوا ته یی د مانی اوغور لمنځـــی غرونه‌واقع دی .

ددانی په‌دره کی گنــگــی خیل تاجی‌خیل اوخوجل خیل احمدزائی وزیر میشته دی . ددانی ته له زمکه‌آبی‌ده‌چه‌غنم،وربشی،جوارشولی ا لو گا ن اونور هم هرقسم فصلونه کوی.

ددانی وادی دلمنځو نښترو . سریو او جلغزو د ونو په ښکلــی ونو کښی پټه ده چه همد غه و نی‌ددی شاخو نو د عا یدا تو لو یــه ذریعه گڼل کیږی .

## دجنوبی وزیرستان « دبیټنی‌علاقه»

د بیټنی علاقه غرباء او جنو باء د مسعود وقام د غرونو او علا قــو سره اتصال لری.

شر قاء د مروت قام سره‌لګیدلی دی او شمال ته ‌ئی دبــنو وزیــرو سره پیوستون لری دبیټنــی قــا م ټوله رقبه تخمیناً اتیا میله مبــع مساحت لری دبیټنی علاقه اکـثراً دد غرونو او خوړونو د سلسلی څخه جوړه شویده څه آبی او للمی زمکی‌چه غنم وربشــی جــوار او چنــی زرغونوی غرونه او خوړونه ئــی‌ګور گورو پلوسو .بیرو غزانو ا و ښونو پوښلی پټ دی .

دبیټنی‌په‌علاقه‌کښی دګبرسیمی‌ته د بیټنو د مرکز یت مقام حاصل دی .

او د بوبی او شا دی خیل الیخیل ګټه ګرام ابا خیل .نعمت خیل او پینک ستر ستر کلیو ته دښارونــو او بازارو نو موقعیت حاصل د ی.

د بیټنی قام په لاندینی برخه کی‌مکتبونه موجود دی.

خیساری کلی کښی نعمت خیــل ابا خیل ګټه ګرام پا خیل آزا دخیل کښی اد یزائی کښی سوزه کښی ،جنډول کښی پینک کی. دبیټنی‌علاقه په‌گرمی کی گرم اوپه ژمی کی سړیخ او خوشک وضعیت لری .

دبیټنی په‌علاقه کی‌په سوغرکی دسبا گل نیکه زیارت دی.

د عمر گل نیکه زیارت‌په با غ کی

د فقیر دین محمد خان زیا رت‌په کخکی کی .

د لاهور نیکه زیارت په اسبابه کی .

د خدر زیارت په وتین کی .

د شیخ عثمان نیکه زیارت پــه بند کی .

او د بدل گل نیکه زیارت په بند کی .

## دوزیر ستان مشهور تاریخی مقامات:

موسی نیکه :ـ گرویك ـ شوال رزمك . مکین وانه. شکی دانه .کانی گرم ، مروبی سره روغه ، کوټکـی سلطانه میدان بلړ، شهور ، اسپاس شاولی ډمبول، دته خیل ،میرامشاه میرعلی کجوری ، سپین‌وام ، شو ه

## دوزیرستان غرونه :

پریغال ، شویدار ، حماټه کوطمه کونډی غر ، ویژده سیوغر، دروبسته گرویك مزدك زیوبه ، مروتی ،خواجه خدر ،لاکی جینی ، موسی تربل غر ترغری .

## دوزیر ستان مشهور دریابو نه اودری:

کرم، کیتو ، توچی خیسـور ،شکتوئی ، وانه مکین ،سیریژ ه.

## صنعت :

دوزیرستان صنعت عموماء دمزری‌څخه په لاس شیان جوړول او هم په بنو کی د شوی دلرگی څخه‌کاسی امساء ، د کټوپښی اونور ډول‌شیان جوړوی چه خورا زیات شهرت لری‌اوسر بیره پردی وزیری چاړی هم زیات شهرت لری چه په کانی گرم کی جوړیږی او په ځینو ځایو کی اسلحه هم‌جوړیږی چـه داسلحـی جوړولو یو مهم مرکز ئی په گرویك اوبل ئی کانی گرم دی په‌وزیرستان کی ځای په ځای نور شیان هم په لاسونو جوړیږی او ځینی وړی وړی کار خانی هم لری چه خلکو په‌شخصی پانگه باندی جوړی کړی دی .

## دوزیرستان مشهور روحانیون اوملی مشران

د وزیرستان د مشهورو روحانیونو او ملی مشرانو زیارتو نه

موسی نیکه په برمل کی

محمود یعنی مسعود بابا دپریغل غره په سر باندی .

اتمان بابا په شاولی کی.

حاجی میرزا علی خان فقیر ایپی په گرویك کی .

بادی بابا په‌سپین وام کی .

شوی فقیر په کرم کی .

نیکه بابا ټتی مداخیل کی

مولانا گلاب الدین وزیرو مـلاصاحب بنو مهمند خیل.

ولانا محی الدین مشهور پــه پیونده ملا صاحب په مروبی کی .
مولانا همزالله قاضی حاجی محمد مانی کاکا په شکی کی .
محمد خون فقیر په موسکی دوړ کی .
ملك اژدر په سپلگه کښی .
باغړ بابا په برمل کی .
دین محمد فقیر په مرمند کښی
میا روښان په کانړی گرم کی.
براك نیکه په کونړی غر کی.
شیخ نیکه په کوټکی کی .
سارنگ نیکه په بدر کی .

مچن بابا په مدیجون کښی
شین ستر گی نیکه په برمل کی
پیر صاحب لنړ په ډبگی کی.
ماما او بابا په خدر خیل کی.
نائب سالار موسی خان غازی په مکین کی .
نائب سالار زار خان په مرغه کی

جرنیل زاکیم شاه خان په مرغه مرغه کښی .
شاه بدان داده په مکین کی
فرقه مشر رمضان خان په میدان کښی .
فرقه مشر شیر محمد خا ن په موسی نیکه کی .

فرقه مشر انگور خان په موسی نیکه کی .
غازی عبدا لله جان زلی خیل په برمل کښی .
کاکا صاحب په بنوجاتی خیل کښی.

فرقه مشر میران خان پــه برمل کښی .
ملك سلو خان په شرنی کی
ملك سندرای خان بوراخیل به رزمك کښی .
ملك شهزار خان په سپلگه کښی .

## دوزیرستان کورنی حیوانات :ــ

اوښان ، غوائی خره ، هیښی وزی میږی ، کچری ،او اسپی .



په رزمك کی داتمانزائی وزیرو یوه جرگه

# دوزیرستان پیداوار

## ځنګلی ونی :

زن غوزی ، لمنځه ، سرپ، نشتر بشته ،خیړی ،شو وا ن شرا وا ن شیروه ، وزګی ،شنګ مرغیړوه ، کریړه ، زیړلرګی ، سفر ځی، لاغیی نوغه ،تیراوان ،پلوال، ګور ګوره ،غوز ،غوړی بنتی، ګنډیری، زیړه‌ونه بره، کرکنه ، پلوخه ، بړبا که ،، غوجیر ، بنپیانګه ،بارړه ، ماموښی شوه ،بکنه، تاهن، سهلی، سپوند ه‌میړا عینی ،سپلمی ،.

## سبزیجات

الو ګان ، ټماټر ، کدو ،با درنګ بیاز ،ویړه، مولی ،ګجری ،میټ می، ګوپی ،شلغم، بنګڼ توری، بنډی، کریلی ،پمنی ، شیز ی ، مانی .

## مرغان :

بلبل، کوزبی ، وراغون، مینا کی باز ، تیتغه ، ټل ټلای، شا هین ، ټکټکنری ، کونګ ، سرزی ،غرڅکی د لما بنام مرغی ،شین طوطی ،پکه د مرداری ، مر غان بابنه ، زر کی کوتری ،بټیر ی، آیلی او داسی نور.

## معدنیات:

وسپنه ، دډبرو سکاره فو دلا ،زیړ سرویل، سره زر سپین ز ر ګوګرد ،د چونه کانی ، سنګ مر مرونجه مانی ،ګورین مانی د بریک

## د وزیر ستان مهم تجارتی صادرات

د سو نلرګی ، د تعمیر ا تولرګی سکاره هزری اودمزرو جوړ شیا ن وړی څرمنی ګبینه ، غوړی زیره زلغوزی الوبخارا انار چار مغز ، انګور، کجوری ګور ګوری ،تو تان مالته سنتری ،شفتالو الوچی نشپاتی زرد الو منی اونور.

## دوزیرستان مشهور بازارونه تاریخی مقامات او تجارتی سرایوته په لاندی ډول دی

کورم شیوه، سپین وام د وه سرایونه ، میر علی اډه او بازار ،د سوخیل داوړو بازار د عید ک د وړوبازار ،دمیرانشاه سرای او با زا ر

د لواړه مدا خیل سرای دګریک تاریخی مرکز د مرغی بازار د شوال دری منډئی ، د رزمك تاریخی کیمپ او سرای .دروسلی منډئی د کجو ر ی منډئی د بکا خیل منډیی داتمانزو نوی منډئی د شا م او ګړیوم منډئی د شاولی منډئی د ډبکی منډ ئی ، په مسعود کی ساړه روغه سرای او منډئی د پیازی سرای او منډ ئی ،د کوټکی منډئی د سپین کی رغز ی سرای او منډیی د جنډولی سرای او منډئی د چیغملی منډیی د لدی منډئی دګاڼی ګرم بازار اومنډئی دتودی چینی منډیی په احمد زایی وزیر کی دوا ړه باز اراو منډ ئی ا ودموسی نیکه منډئی په واڼه کښی د شولام منډئی په شکی کښی دوی منډئی .

په وزیرستان کی معاملات په قرض به نقدو او په تبا د له سره په افغانی پیسو او په کلدار و باند ی اجراء کیږی او کوم تحریری سند په مابین کی د یوبل څخه نه ا خلی تنها په ژبه اعتبار سره لری د وزن مقیاس ئی چیټاك (خورد) پاو ،سیر ،چارك اومن چه یومن دکابل په ډبره اوه نیم سیره کیږی مرو ج دی.

## دوزیرستان اجتماعی وضعیت:

وزیرستان د پښتونسان دیوی ښکلی او ښائسته علاقی نوم دی چه د منځنی پښتونستان په نوم یاد یږی او مرکزئی ګرویك دی دوزیرستا ن خلك حنفی مذهب او داسلام د مقدس دین پیرو دی .

دوزیرستان د خلکو ژبه پښتوده او ډیر زیات زاړه لغتو نه او دقدیمی لهجی آثار پکښی موندل کیدا ی شی دوزیرستان خلك دنورو پښتنو په شیر ځنی مخصوص دودونه رسم اورواج لری چه هریو ئی بیل بیل محترمو لوستونکو ته په لاندی تو ګه وړاندی کیږی .

## خوراك لباس اوګاڼه:

دوزیر ستان خلك عمو ماء د دجوار غنمو ډوډی. اووریجی اسعمالوی اوکله کله روټه یعنی داوربشو ډودی هم کاروی او ورسره د شودو .مستو شنی بی تروه الو ګان ټماټر بین ګڼګوبی .ټیپر. سابه کدو . او نور حبوبات د کتغ په ډول ملګری کو ی اوغوړی استعمالوی دوزیرستان خلکو لباس د نارینه د پاره کمیس .پرتوګ واسکټ. پټکی . څپلی په او ږی کی او په ژمی کی کوټ بنیان او جرابی ورسره زیاتیږی .

دښځو لباس ئی اوږد کنډدار کمیس دپیغلی سپین پرتوګ او میرمنی رنګه پرتوګ څینی «شال» پټکی او دځرمنی څپلی په پښو کوی .

گانړه چار گل ،ټیك‌پیزوان نته . غوړه . (غاړه) خول ، ډیدی لبنتی‌سر تاویزونه .اوږدی گوټـــی کنـــړی . (باو گان) گا نی دولگی او داسی نور دی .

## دوزیرستان حقوقی اوجزایی تعاملی قوانین :

دوزیرستان جزائی او حقو قـــی‌معملات چه ددوه متخا صمو ډلو او یاقبیلو ترمنځ راشی دوه ډو لـــه‌فیصله کیږی اول په قومی اساس او دوهم په شرعی اساس .

## الف په‌قومی اساس‌فیصله:۱

ددوو کسانو ترمنځ او یا ددوه قبیلوترمنځ کومه منازعه واقع شی نو اول ددغه قضیی د فیصله کولو او جوړی‌دپاره ددی دوه فریقو خپلوان او څو کسان پوه سپین روبی ددوی ترمنځ‌خبری کوی او دموضوع د فیصلی د پاره دواړو ډلو څخه واك ا خلی‌مگرواك په پوره ا عتبار سره تړی‌اخلی یعنی یا څوزره روپی پری وتاکی اویاکه روپی ونه‌لری‌ټوپك تری دپیسو په قیمت کی اخلی د جرگی چه دهرڅو شپی په دواړه ډلو راځی پسونه ورته حلالوی چه موضوع فیصله شی‌دعا وکړی او خلك رخصت شی .

مگر که موضوع د ښځی دتور وی‌هغه بی له مرگه نه فیصله کیږ ی او که مړی ئی‌بی حقه کړی وی هغه‌هم‌بی مړی کولو تر څو چه قد رت ئی‌وی نه فیصله کوی مگر که مړی‌په سهوه شوی وی نـو مجـرم د ننواتی په توگه قبر ته ورځی او دمړی د قبر ترڅنگه اوږد پریوځـی نودلته دمړی ورثه ورته عفوه‌کوی‌اوتردو کالو یاپنځو کالو پوری میعاد ورکوی یعنی په دی موده کی د مړ ی‌ورثه هیڅ ورته نه وائی او تر دغه موده پوری قاتل ورته ددیت «نیك»د برابرولو کوښښ کوی هر کله چه ذکر شوی موده پوره شی نو قا تل‌د مقتول خپلوان او دوسان او دقبیلی مشهور سپین ږیری را جمع کړی‌اوڅه نیك ئی چه تیار کړی وی که پیسی وی‌او که‌ټوپك جرگی ته ئی‌وړاندی کړی چه دغه شی می جمع کړی دی فعلا ئـــی و ر کو لی شم‌نومرکه ئی‌شروع کړی او پسو نه او ډوډی دواړه طر فـه ور کو ی دوزیرستان نیك اندازه له‌دیرشو زرو څخه نیولی تریو لکو افغانیو پور ی‌رسیږی نو قاتل چه هرڅه موجود لری هغه ورکړی اونور ورته پـــه‌میعاد کوی مگردغه‌شرطحتمی دی‌چه دوه برخی نیك باید اول ورکړی.



ACKU

## ب شرعی فیصله :

که‌ددعوا دواړه ډلی په‌قومی اساس‌فیصله کولوته تیارنشی‌نوهغوا‌ملاته د شرعی فیصلی د پاره وړا ند ی‌کو ی‌مګر د ملاسره هم یو یادوه قومی مشران موجود وی او اول په دی‌زورورکوی چه قومی فیصله ومنی مګر که قبوته ئی نه کړی نو بیاوروسته‌له هغی ملاخه چه د خدای او رسول لاروی هغه دواړو ډلو ته وړا ند ی‌کړی چه‌کوم فریق دخدای په‌کتا ب ملامت وی هغه ته ملامت ووا ئی اوپه دی ډول موضوع فیصله شی او که چیری په‌وزیرستان کښی میراته (حی،ستړه) واقع شی ټول قو م‌پری راجمع کلی ئی سیځی او فصل یی‌له منځه وړی او دیوئك ځخه تر یو لك اوپنځوس زره افغانی پوری‌رسی‌او۳۰پسونه تری اخلی اوحتی دوطن ځخه ئی هم شړی .

## زیږدنه اوسنتی:

په وزیرستان کښی کله چه یـوژنکی «زوی» پیدا شی فقط ځه اندازه ټوپك ډز ی‌پری وکړی بیا نو ځـوورځی پس د خپل وست «قدرت»سره ځه خیرات یعنی پسه غوائی حلال‌کړی او که مادی‌وضعیت ئی‌کمزوری وی ددی شی ځخه صرف نظر کوی‌په او مه ورځ ئی ملاپه غوږ کښی اذان کوی‌اونوم هم‌پری‌ایښودل‌کیږی‌او دزیږندی او سنتی مراسم‌په‌همدی ځای پای‌ته رسیږی .

## واده :

هر کله چه دوزیرسان یوه کورنی‌د خپل زوی د پاره د کور آبادو لو په نیه کی شی نوله‌ړی یوه داسی‌کورنی ګوری چه ددوی خوښه شی او هم ئی جلی خوښه شی چه‌دغه‌اول‌خبری او تهونکی د ښځو په واسطه سره صورت نیسی او بیا وروسته‌نارینه د مور او پلار ځخه یی‌مخصوصه پخپله او یا د چا په واسطه پوښتنه‌وکړی نو چه موا فقه یی سره راشی وروسته له هغه جلګه «جرګه» وروړلی د عا وکړی او وایی فلانی خپله لور د فلانی زوی ته ورکړه او بیایوبل سره تګ او راتګ کوی چه دی اول تګ راتګ ته «ښه‌اوریتی»وایی که د جلی مور او نور خپلوا ن او ل ورغلل او که د هلك چه په د ی‌مراسمو کی که د جلی مور اوپلا ر او نور خپلوا ن ورغلی د هلك کورنی‌دوی ته پسه حلاله وی او چه‌واپس رخصت کیږی د خوانی ځخه نیولی‌ترشال «ټکری» او پسه پوری د جلی

مور ته ورکوی او په همدی ترتیب د هلك موراو خپلوانو ته د جلی د کورنی ته خوا ورکول کیږی هر کله چه واده شروع شی نو جلی د پا ره گانه او نور سا مان د جلی د مور او هلك یعنی د میره له خوا تهیه کیږی او پس له هغه د وا ده نیټه تعین کیږی چه لومړی شپه خوشحالی د جلی د پلار په کور کی وی او ټول مصارف یی د پلار په غاړه وی او وروسته چه جلی په اوښ یا اس باندی هلك کورته یوسی نو د هلك پلا ر خلکو دوستانو او کلیوالو ته دخپل قدرت په اندازه دپسه څخه ترغوایی پوری خیرات کوی او په دی مراسمو کښی په ډیره خصو صی تو گه د شرعی اصولو مطابق یی نکاح تړل کیږی او پس له دی چه دجلی سره مور او یا نور خپلوان راغلی وی پس له دریوورځو رخصت کیږی او هلك خپلی خوابښی ته یو پسه چه «منځ» ورته وایی ورکوی او پس له دی هر کله چه هلك د خسر او خوابښی کورته ورشی و ده ته پسه حلالـه وی او دی هم د جلی مور خور اونوروته د قدرت په اندازه پیسی ور کوی او دخسر له طرفه د مهر څخه یوه اندازه پیسی زوم ته کموی او په دی ترتیب دواده مراسم پای تـه رسی .

## غزوالی:

غزوالی د وزیرستان دمهمودودونو څخه دی هر کله چه څوك وغواړی چه د چالور خپل زوی او یا دکورنی کوم بل غړی ته کـو ژد ه کـړ ی نودلور په پلار مر که وکړی چه لور درا کړه که هغه ونه غواړی چـه دنو مو ړی سره دوستی او خپلوی وکړی نو دلور د ورکولو څخه انکار کوی مگر که مقابل لوری ډیر جدی وی نو دمرکی څخه چه راوگرځی یوڅو ډزونه وکړی او په اولس کښی غـږ شی چه فلانی سړی د فلانی په لور غږ وکړ چه په دی صورت کی دغه جلی هیڅوك نه شی واده کو لی مگر دغه کار د خپلوی نه دی بلکه دځان او د هغی بلی کورنی د پاره دښمنی جوړول دی نو ددی لپاره چه معا مله یوطرفه شی هغه بل لوری هم ورسره عیناً کار کوی چه په دی ترتیب یا به دواړه لوری یو بل ته لونه او جلـی ورکوی او یا به دواړه لوری دیو بل دجلی نه صرف نظر کوی او دغه دود ته دوزیرستان په اصطلاح (غږوالی) وایی .

## مړی:

څه موده چه دوزیرستان په کومه قبیله یا کورنی کی مړی وشی فوری هغه ټول خلك خبر شی د قبر کیندلو کفن اونور ضروری شیانو په تکمیل

کولو لگیا شی هر کله چه مړی ته غسل ورکړی او د جنازې لمونځ ئې ادا شی نو خاورو ته یې سپاری چه مړی دفن شی نو ملایوڅوایاتونه قرائت کړی او ورپسې ددعا کو لوڅخه وروسته د مړی دروثې له خوا د

اسقاط په‌نوم پیسې ویشی چه په‌قبر حاضرو کسانو ته د مړی دورثــــې د مالی قدرت په اندازه دلسو افغانیوڅخه نیولې چه څومره ئــې قــدر ت وی نغدی روپۍ ورکوی .

بیانو مابنام یو څو تنه‌خپلو ان‌د‌مړی دورثې‌سره پاتې شی‌اوډوډۍ د هغې نږدې تربورانو له خوا ورته‌ورکوله کیږی چه پسه ورته حلالوی او هم د مړی دورثې له خوا یوپسه حلالیږی چه د (شومې )پــه نا مــه یا دیږی اوپه په دریمه ورځ هم‌دنږدې تر بور له خوا پسه حلالیږی او یاهغه پسونه چه دنورو خپلوانو ا ودوستانو له خواورته راوستلی وی حلالیږی

چه دی ته شل وائی نو هر کله چه‌دریمه ختمه شی ترخلوینښتمې‌شپې پورې په مړی پسې دسحر اومابنامې‌کله (ډوډۍ) مسافر انوته ورکو ل کیږی او په څلوینښتمه ورځ یو لوی‌خیرا ت وکړی چه دپسه څخه‌نیولې تر غوائی پورې حلا لوی او دمړی‌رسم او رواج په همدی‌ورځ پای‌ته‌رسیږی.

## دچیغې ډول.

هر کله چه دوزیرستان په کومه قبیله کی یوه مهمه واقعه وشی‌فرضا د خارجی دښمن له خوا پرې حمله شوی وی یا مال ئې څوك بوزی اویا څوك‌قتل کړی نو د چیغې ډول ووهل شی او د چیغې سره په سر کــی ډول وهونکی روان وی دچیغې ډول‌داتڼ اوخوشحالی له‌ډول سره‌توپیر لری او په وزیرستان کښې هرڅوك ددی دواړو ترمنځ فرق کولی شی.

کله چه د چیغې ډول واوریدل‌شی ټول خلك هغه ځای ته ځان رسوی مگر یوبل ډول د چیغې هم شته هر کله که چیری‌په وزیرستا ن کښې په‌یوه قبیله‌کی‌میراته(ستاله‌خی)وشی‌نوډم په یوجګ ځای ودریږی او د

چیغې ډول وهل شروع کړی هغه نه دنژدو کلو خلك پوښتنه کوی چه‌څه چل‌شوی دی‌او څه‌پیښنه ده نوبیائی‌ئې د قضیې څخه خبر کړی او په دی ترتیب ټول خلك یوبل او ولس په لږه موده کی خبر شی او د پیښې ځای ته‌راجمع شی اوبیاتری مقر ره‌ناغه اخلی.

# ملی مبارزی

## لومړۍ برخه :

مونږ پدی باب کی دانگرایزانوپه خلاف د وزیرستان د بها درو ننگیالو وزیرو. مسیدو دوړوبیټنو شیرانواوړ مړو او ورسره د ختکو د غزاگانو حالات د سنه ۱۸٤٦ نـه تـرسنـه۱۹۳۳ پوری داوه اتیا (۸۷) دزما نی په ۲ ختصار سره بیان کړیدی . دا ختصار مطلب دادی چه پدی او ه اتیا کالوکیچه هرڅومره غزا گا نیشویدی په هغی کی مونږ د یو څو غټو غزا گانو حالات لیکلی د ی وجه ئی داده چه که مونږ د ټو لو غزاگانو حالات په‌تفصیل سره‌لیکو نو یواځی د وزیرستان د غز ا گانود حالاتو د پاره ځان له جد ا کتاب‌لیکل‌غواړی هگـر سره لـه دی مو نـږ ددی خپلی خبری په‌تائید کی د سنه ۱۹۱۱ نه تر سنه ۱۹۳۳ پوری د دولس د یارلس ددولسم او د یارلسم کال زمانی دغزا گانو یو فهرست درج کوو چه په دی لږ وخت کښی انگریزانو د وزیرستان پـه علاقـه باندی په شمار (۲۸٦۰)و ړی‌اولویی حملی کړیدی نو ددغی په رڼا کښی د سنه ۱۸٤٦ نه تر سنه ۱۹۱۱پوری د منځنی (٦٥ ) کاله زمانی او بیاد سنه ۱۹۳۳ نه وروسته ترسنه۱۹٤۷پوری دی منځنی (۳٦) کاله زمانی دانگریزانو دحملو اوجنگونو اندازی‌د پخپله ولگولی شی انگریزانوصرف په دولس کاله کی په وزیرستا ن(۲۸۸۰) حملی کړی دی نو چه په‌یو سل یو (۱۰۱) کاله زمانه کی به ئی پدی خاوره څومره جنگونه کړیوی • نقشه داده .

دلته دا خبره یا دلرل پکار دی‌چه د وزیرستان علاقه دبنواوکوهاټ په سر حد باندی پرته ده. قد رتی طور د وزیرستان په علاقـه چـه دانگریزانو د حملو او جنگونواندازی‌وړاندی به ئی د کوهاټ او بنو د پښتنو په علاقه هم فوځی اقدا مات کول. د وزیرستان دغزاگانوپد ی باب کی مونږ ورسـره ورسـره دکوهاټاو بنو دیو څو غزا گـا نـو واقعات هم درج کړی دی ا لبته ددی افسو سناك حقیقت اظهار هم‌ضروری معلومیږی چه‌د بنو د علاقی پښتانه برنگیانو وهلی ولیکن په‌جنگ کی نی‌نه وو، وهلی په‌حکمت عملی ا وسیاست او په چالبازی ئی وهلی ؤ اوچه بنو پښتنو دانـگریزانـو پـه‌مکر اوفریب په خپله او خپل منـځ لاس ورغی نو جنګ د بنو د سرحد د جنګ جګړی نه پرنگیانو ته پـه کی‌ټول تباکړل اوامیـدان په غیـر نه دوزیرو دوړو او مسیدو علا قی

ته ورسید ەاو وروسته هغه وا قعات پیښ شول چه مونږ په ا ختصا ر سره دهغې حالات بیان کړی دی.

دبنو ځوپه علاقه زمونږپښتانه‌چه انګریزانو په کوم مکر او فر یب وهلی وو د هغې حال د بنو د علاقې داولنی اسټنټ ریز یډنټ کرنــل هربرټ د یډوردس په خپلو ا لفاظلو کښې د غیرت د پاره درج کولی شی دی وائی .

دبنو ځو په‌علاقــه زمــونږ قبضه‌توری او ټوپك په زور نه وه شوی دا قبضه مونږ داسی وکړله چه د پښتنو ددوه ؤ قبیلو ترمنځ تربورولی او د ښمنی ،بغض او عنا د مونږ را تازه کړ تور ګوند اوسپین‌ګوندواړه طائفی موسره وجنګولی بیا مو نــږ دسی کار وکړ چه د سکانو د حملی ویره موږی راوستله او بیا مونږداسی حالات راپیدا کړل چه‌دبنوځو دواړه ګوند ونه د یوبل په تبا هی بسی‌شول‌د هریوخا ندان‌مشر د خپــل تربور تباه کولو ته لاس واچاوه ا و دخپله لاسه ئی خپلی مضبو طی په شمار څلورسو ه قلاګانی ورانی‌کړلی ملك ډاګه شوه او زمونږ د پاره ئی دبنو ځو په ملك د قبضی لګلو لو کار اسان کړ د بنو ځو دویری نه بیازما په وینا یوه قلا(قلعه د لیپ سنګه ) جوړه کړی شوه (داقلا د موجوده‌بنو ښار سره د یو زر مترو په فا صاه شمال طرف ته واقع د ه) ددی قلا په جوړیدلو د بنو په‌ټوله علاقه باندی‌زمونږ منګول کلکه شوه او پــدی طــریقــــه یو قـــوم د(ا مــن ا وتهذیب) دسوری لاندی را غــی ا و فقط په دری میاشتو کی هغه کاروشو کوم چه سکانو په پنځویشت کالوکی نه وو کړی .

( میجر هربرټ ایډ وردس کتا ب(د پنجاب په‌سر یوکال)

مګر څرنګه چه مونږ مخکی اشاره وکړه او وروسته به ځای په ځــا ی بحث راشی د بنو پښتنو غازیانو او عالمانو بزر ګانو دانګریزانو د حملی او قبضی سخته مقابله کړی وه ا ومیجر ایډوردس چه کوم بیا ن کړی دی هغه صحیح نه ثابتیږی.

## موسی نیکه :

د پښتون قوم د شجره نسب د کتابونو د بیان مطابق دککی ا بن کرلاڼ ددریم ځوی نوم سلیمان و .د سلیمان د ځوی نوم وزیرو د وزیر دوه ځامن وو خدری او لالی په‌دوی کښې د خدری دری ځامن وو .

١ـ موسی چه پــه درویش لقــب باندی مشهورو د هغه دوه ځا من او وو ا تمان او ا حمد . ددی دواړ وځامنو اولاد په ا تمانزی اواحمدزی



په موسی نیکه کی داحمد زائی وزیرو خلك‌دغونډې په‌حال کی لیدل‌کیږی

وزیر هم یا دیړی او د خپل نیکه د لقبی نوم د رویش په نسبت سره اتمانزی ا حمد زی میسد دری واړه درویش خیل وزیر هم یا دیړی .

۲ـ محمود . دده یو ځوی و چه مسعود نوم ئی واولاد ئی په مسعود محسود ، مسوت ، مسید ، مسیت نومونو یا دیړی او هر کله چه د مسعود د پلار خدری د وزیر ځوی وپد غه مناسبت سره د مسعود قوم خلق په مسید وزیری نامه یا دیړی اتمانزی احمد زی مسید دری واړه قامونه د نسب په ا عتبا ر سکه وړونه دی درویش خیل وزیر ا و مسید وزیر په شمالی او جنو بی وزیرستان دواړو حصو کښی آبا د دی ا لبته مسید خاص په جنوبی وزیرستان پرا ته د ی .

۳ ـ مبارك دده یو ځوی ګرېز نوم ئی د ګربز د نسل خلق د مسید وزیرو د څه کلو سره د مومنـــلو په علاقه کښی پراته دی. دګربز وزیری دوه ځامن وو . . نصردیـــن حزی خیل اولنی څلورر ښاخه دی او دویم شپږ ښاخه دی. د وزیـــر قوم . دګربز وزیری او دوزیر نیکه د دویم ځوی ئی اولاد په افغانستان کښی هم آبادی . وزیر قوم یو لوی قوم دی اوپه راتلونــکو پاڼــو کښی ددی قوم د غــزا ګانــو حالات درج کولـــی شی .

په دی وزیر قوم کښی موســی نیکه چه د درویش خیل اتمانـــزی او احمدزی دواړو قومونو مشرنیکه او پلار دی یو ډیر لوی بــزرګ . نیکو کار او ښه سړی تیر شوی دی زیارت ئی دبر کی په سیمه کښــی دی کابل خیل او احمد خیـــل او د نورو وزیرو قبائلو خلك ډلی ډلــی د دی خــپــل مشــر او بـــزرګ نیکــه زیارت لــه راځــی او زړه د اخلاصه قدر او عزت ئی کوی .

## دګمبتی غزا (۱۸٤٦)

د وزیرستان په علاقه کومـــی غزا ګانی شوی دی په هغی باندی دبحث کولونه وړاندی دا ښکاره کول پکار دی چه انګریزان د وزیرستان پولی ته څه رنګ ور شریك شوی او ددغی نه مخکښی کوم واقعات ـ پیښ شوی وو او هغه کومه اولنی غزا وه چه وزیـــزو او مسیدو پـــه سر حد شوی وه او دوی په هغـــی کښی غزا کړی وه چه دهغی پـــه نتیجه کښی دبدل اخستلـــو دپاره انګریزانو دوزیر ستان په سیـــمه بلو سیدل شروع کړی وو .

سکـــان په اول ځل په سنــه ۱۲۳۵ ه مطابق سنه ۱۸۱۹ کښی دمهاراجه رنجیت سنــکه په کما ن کښی دبنو عـــلاقی ته ننو تلی وو

او د تاریخ مخزن پنجاب جلـد ۲ صفحه ۳۵۱ د بیان مطابـق ئـی په دی ملك د سنه ۱۲۳۵ ﻫ مطابق سنه ۱۸۱۹ نه تـر سنه ۱۲۶۳ ﻫ مطابق سنه ۱۸۴۶ پوری ۲۷ کـاله د سکهانو قبضه وه په دغه دوران کښی د سکهانو او پښتنو ترمنځ بیا وروسته ډیری غزاګانـی هـم شویدی لیکن په سنه ۱۸۴۶ کښی چه په بنو بانـدی د سردار دلیف سنګه حکومت وو او د سکهانو اوانګریزانو د یوی معاهدی له مخـه چه په لاهور کښی لاسلیك شوی‌وه او د هغی له مخه دسکهانو دفوځی دو انتظـامی معاملاتو په لـړ کښی‌انګریزان افسران هم مقرر شوی‌وو د لاهور د انګریز ریزیډنټ په حکم جرنیل کورټ لینډ اوجرنیل ایډورډ د پرګنه بنو د انتظامی محکم والی‌دپاره مقرر شول‌دی دواړوانګریزانو د دی ملـك د انتظـا مـی دپاره چه‌کوم اقدامات شروع کړ ل ظاهره ده چه د هغی مطلب په دی علاقه باندی دسکهانو اودانګریزانو دمشترکه اقتدار مضبوط والـی وو او لازمی نتیجه ئی ددی عـلاقـی دپښا درانو .ننګیالو اوځـوانـمردوپښتنو غلام‌کول وو پـه دی و جـه باندی‌دبنو، وزیرستان،خټك، مروت‌شیتن، ډول،مسید، قبایل راولړزیدل اودجنګ میـدان تـه را ووتـل .په ۲ تاریخ د جنوری سنه ۱۸۴۸ مطابق سنه ۱۲۶۵ ﻫ لفټنټ کرنل ایډ ورډ ناظم بنو د لاهور دانګریز ریزیډنټ په حکم باندی د بنو ښار بنیاد کیښود او ددی ښار نوم ئـی د سکهانو د حکمران په نوم دلیف نګر کیښوده او وریـسی ددسمبرپه میاشت کښی او په سنه ۱۸۴۸کال کښی‌ئی دکرم درریاب جنوب خواته په ښه فاصله او دګچ کوټ نومـی‌د خوړته د شپږ پرلانګه په فاصله دبنو دقلعی بنیاد کـښیښود او دانبر ګـه کـلا وه پـه یـوه کـلا کـی د نـنـه بلـه کـلا د منځ‌کلا ځلور کنجه وو . د هریو کوټ سـل ګـزه او ډ د او د ر ی‌کزه پلن‌اوپاو کم‌اته کزه لـوړوالی درلود ددویم کـلا چار دیـوا لـی دیوال‌یی دمنځ‌قلانه‌اتیاګزه‌لری(یعنی‌د دواړو قلا ګانو منځنی فا صله اتیا‌ګزه وه ( او ددی دویمی قلا ددیوال بلن والی ئی دوه ګزه او لوړ والی ئی پاو کم ځلور ګزه وو ددی قـلا نوم ددلیف سنګه ابن مهارا جـه‌رنجیت سنګه په‌نوم باندی دلیف‌ګډ هه کیښودلی شو دقلانه چار چاپیره خندق کښل شوی وو چه لس ګزه پلن او لس ګزه ژور وو .

ددی ښار او قـلا د آبادی حال‌پـه دی غـرض دلته بیان شو چـه د سکهانو د حکـومت په آخیرنـی‌دوره کښی چه انګریـزان د بنو او

ACKU

ډیره جات عـلاقې نه‌را شریك شوی‌و دهغې تاریخي پس منظر په علم ـ کښې راوستلی شي .

واقعات داسې پیښ شوی ووچه هر کله په ۲۷ جون په سنه ۱۸۳۹ کال کښې مها راجه رنجیت سنگـه مړ شو او د هغه ځوی کهړك سنگه گـدی نشین شو نـو د سکهـانـوسردارانو په منځ کښې داسې خطر ناکه خانه جنگي شروع شوه چـه د سکهانو طاقت ئې ختم کړ په‌هغې پسې دانگریزانو په‌خلاف ځلور لوی‌جنگونه ئې وکړل او په هغه ټـولو کښې‌ئې شکست وخوړنو انگریزانوچه په سنه ۱۸۰۹ کښې د سهکانو سره کومه معاهده کړې وه د هغې د تجدید مطالبه ئې‌وکړه په دغـه ورځو کښې سردار دلیف سنگـه ابن رنجیت سنگه د لاهور «پنجاب» ولي ؤ ددلیف سنگه او انگریزانـو تر منځ په ۹ مارچ سنه ۱۸۴٦ یوه نوی مـعاهـده وشوه چـه دهغـې‌له‌مخه دجالند هردواب کشمیرهزاره او د اټك سیند نه مغرب طرف ته واقع ټولې عـلاقـې لکـه پیښور . کوهاټ . بنو . ډیره جات بانـدې‌د انگریزانو قبضه تسلیم شوی او د پنجاب باقیمانده ملك دلیف سنگه ته پریښودل شو .

د لاهور ولي سردار دلیف سنگه‌ در خواست وکړ چه په لاهور کښې دیو انگریز ریزیډنټ مقرر کړل‌شي څه وخت چه انگریز ریزیډنټ پـه لاهور کښې د سکـهـانـو پـه خټ‌کښیناست نو هغه خپل اسسټانټ مقرر کړل چنانچه په دغه سلسلـه‌کښې سر جارج لارنس یې دپیښور ریزیډنټ مقرر کړ او ـ سر هربرټ‌ایډوردس ئې دبنو او ډیره جـا ت دپاره د ریزیډنټ په طور راو لیږه او چه ایډ وردس بنو ته را تللو په وخت کښې د جرنیل کورټ لیډ په کمان کښې یومضبوطفوځ‌هم‌ورسره وو.

په لاهور کښې چه په ۹ مارچ‌سنه ۱۸۴٦ کښې کومه معاهده چه د سردار دلیف سنگه له خـوانه دانگریزانـو سره لاسلیك شوی وه هغه د هزاره جات او پیښور. کوهاټ مقامي سکهانو افسرانو نه وه منلې چنانچه په هزاره کښې مقامي سکه حکمران سردار چتر سنگه انگریزانو له‌دقبضې ورکولو نه‌انکاروکړجنگ‌ئې شروع کړ په ملتان کښې دیوان مولراج د انگریزانو مقابله وکـړه اوکوم اسسټانټ ریزیډنټ اوفوځي جرنیل چه د ملتان قبضې له تلـی‌وو هغه ئې قتل کړل د پیښور پـه عـلاقه کښې چه کـوم سـکـهان حکمرانان وو یاد ـ سکهانو دطرف نه‌کوم بارکزی سردار خراج گزا روو چه‌کله پیښورته سرجارج لارنس په‌طور دانسسټانټ ریزیډنټ‌راورـسید نو حمله پرې وشوه سر جارج

ACKU

لارنس په تنبته ځان کوهاټ تـــه ورسولـو .

بل خواته دبنو او ډیره جـات په علاقه کښی دانـگر یزانـو د فـو ځ اوریزیډنټ مقابله ونه کـړی شو ه به هغه زمانه چه د بنـو ښار سره نژدی کوم کلی وو او دغه کلی نـن هم موجوددی دځای دهغه زمانی مشرانو د انگریزانو مخالت و نکړاو انگریزان موفق شول چه د بنو ښار په مقام یوپوځی کیمپ جوړ کړی.

## دانگریزانو دویم کیمپ :

د انگریزدنو یو کیمپ د بنـوپه مقام ولگید اودویـم کیـمپ ئـی د گمبتی په مقام ولگیده دگمبتی په مقام انگریزان په پوځی کیمپ لگولو کښی داسی کامیاب شوی وو چـه دبد قسمی نه دوزیر قـوم داحمدزی نوم قبیله کښی یو ښاخ دی چـــه سعید سپرکی بلـل شی په دغـــه سپرکـی قام کښی یـوه قبیلـه ده باغوان خیل نوم ئی دی په دی باغوان خیل قام کښی عالم خان نومی یـو مشر نیکه تیر شوی دی د هغـــه د بولمسی نوم سوهان خان و سوهان ساده پښتون وپه سنه ۱۸٤٤ کښی مشهور سیاح او پولیتیکـل افسر خان ولیم مور کرافټ د وزیرستان په علاقه کښی دخپل خفیه سیا سی مهم په دوران کښی دملك سو هان خا ن میلمه شوی و لکه چـه د پښتنو دستور دی سوهان ئی ډیر دارو مدار کړی و او په نتیجه کښی ولیم مور پدی کښی کامیاب شوی وچه سوهان خان دانگریزانو دوستی قبوله کړی سوهان خان د ـ انگریزانو دوست شو او ددغی دوستی په نتیجه کښی چه په سنه ۱۸٤٦ کښی سر هربرټ ایډ وردس دبنو .ډیره جات علا قوته را شریك شو نو په مقام دگمبتی به کیمپ لگولو کښی ورته هیـــخ تکلیف پیښ نه شو .

په دی سلسله کښی د افسوس خبره داده چه د ملك سوهان خـــان مشر نیکه عالم خان خو هغه ننگیالی پښتون و چه کله د عالمـــگیر اور نگزیب دباد شاهی په زمانه دشهزاده بهادر شاه فوځونه د بنو علاقـــی ته را تلل نودغه عالم خان ئی مقابله کړی وه چه د اغیارو قبضه ئـــی د پښتنو په خاروه نه منله لیکن دهغه په پنځـم پشت کښی لمسی صرف د یو انگریز ولیم مورد دوستانـــی په خاطر دخپل دیـن او پښتنـو د دښمن حکومت انگریـزانـو نا پاك قدمونه د بنو او وزیرستان ځـمکی ته را شریك کړل .

په دغه شان حالاتو کښې د بنو څو . مرو تو . ختکو . وزیرو او مسیدو قبائلي غازیانو د انګریزانو دوالئو کیمپونو بنو اوګمبتي باندې حملې شروغ کړې . قبائلي غازیانو د څلور واړو طرفه نه په انګریزي فوځونو حملې کولې او دا حملې‌داسې سختې‌دلې چه‌قیا متو نه ئې راګوز کړل .

## جان شهید او سیلګي شهید :

په سنه ۱۸٤٦ ـ ٤٧ کښې چه د انګریزانو په ګمبتي کیمپ کومه حمله کړې وه او کومه غزا شوې‌وه په هغې کښې د غازیانو مشران دوه مشهور توریالي غازیان وو چه د یو نوم جان وو او د دویم نومیالي غازي نوم سیلګي ؤ .

دا دواړه په قام احمدزي. سپرکي‌وزیر وو لکه د قهریدلو زمرو د غزا میدان ته راوتلي وو او د ټولو غازیانو د لښکرو مشري ئې په دې وجه کوله چه د ملك سوهان خان سپیر کي وزیر د بې ننګي په وجه چه‌دبهادر وزیري قام په‌لمن دبدنامي کوم‌داغ لګیدلې دي‌چه هغه‌پاك شي .

خدای‌پاك مهرباني‌وکړله دغازیانوامداد ئې و کړ غاز یا نو ـ له ئې فتح ورکړله او دګمبتي کیمپ په مقام چه دا ځای د بنو ښار نه‌لس میله لرې دې د غازیانو د لاسه نه‌د انګریزانو د فوځ څلور نیم زره ـ «٤٥٠٠» فوځیان او یو انګریزي‌فوځ لوی افسر مسټر ډدان قتل شو او دوې په مقابلې کښې دمسلمانانو په لښکر کښې فقط څلور نیمې شلې «۹۰» غازیان شهیدان شوي وو اودپرنګي لښکرو ددغه کلي«۱٤٥» یو سل پنځه څلویښت کورونه نړولي وو که‌فکر وکړلې شي ددشمن‌انګریز فوځ چه څومره تباه شوی وو جنګي وسله . رسد او سامان ئې څومره تالا شوي او مال‌په غنیمت وړ لـې شوي وو دهغې په مقابله کښې د غازیانو جاني او مالي تاوان په نشت حساب دې دپښتنو غازیانو د اولسي او بې سرو سامانه لښکر ددې‌شانداري فتحې په‌وجه دانګریزا نو لښکر ته تر څو ورځو پورې دنور ـوراني کولو موقع په‌لاس ورنه غله .

وزیرو مسیدو پښتنو غازیانو د سنه ۸۱٤٦ ـ ٤٧ نه وروسته د انګریزانو جنګ جګړې ته پوره‌پوره اهمیت ورکړ او په‌دغه وجه دټولو نه لوی کار ئې دا وکړ چه د وزیرو او مسیدو دواړو قومونو تر منځ یاددې دواړو قومونو د مختلفو قبیلو ترمنځ چه کوم اختلافات وو هغه یـې ختم کړ. تیره‌یې کیښودله خپلې اندروني تر بګنې د منځ نه وکښلې

او انګریزانو ته یو شول وزیرو او مسیدو چه په سنه ۱۸۴۶ ـ ۴۷ کښی د انګریزانو په خلاف په یـواتفاق میدا ن ته راوتلی وو دغـه اتفاق ئی د سنه ۱۹۴۷ پوری یعنی د انګریزانو ددی ملك نه دکـډی اخستلو د ورځی پوری قایم وو اوداخبره په خپل ځای ډیر لوی تاریخی اهمیت لری چه یو داسی پښتون‌قوم چه هغه خپل تربور د هرچانه زیات دښمن ګڼی هغه دی دخپل تر بوردشمن روغه سل کاله پریـږدی او متحده دشمن ته یوشی .

د وزیرستان قومونو وزیــــرواو مسید و چه بله کومه تاریخـــی کار نامه انجام ته رسولی ده هغـه داده چه د سنه ۱۸۴۶ ـ ۴۷ دزمانی د ملك سوهان خان وزیر بی ننګی‌یی دیو مثال په‌طور خپلی مخی تـه درولی وه او د سنه ۱۸۴۷ نه تـرسنه ۱۹۴۷ پوری سل کاله زمانـه کښی که کله هم یو قبائلی ملك دانګریزانو مرسته کړی ده نو هغه له ئی په قومی رنګ کښی تر خپلــه‌وسه سزا ورکړی ده‌او دخپل‌مضبوط قومی تړون په ذریعه یی دانګریزانو دسیاسی حکمت عملی ټول تدبیرونه چالاکی او ساز شونه ناکامیا بــه کړی دی پـه دی سلسلـه کښی د وزیرستان قومی مشرانو . عالمانـو او برزګانو ډیر لوی کار کړیدی .

دبها در خیل ختکو غزا :

د انګریزانو د زمانی نه مخکښی د کوهاټ او بنو تر منځ سړك دنری پانوس او کرك په خونی لګه‌ه کښی تیریدلو چه انګریزان راغلل نـو د بهادر خیلو دمالګی درنګ «یامعدن» باندی د قبضی کولو په خاطر ئـی په سنه ۱۸۵۰کښـی هغه زوړ سړك ړیښوده . په بهادر خیل او سـور ډاګ ئی سړك تیر کړ او په جنوری‌سنه ۱۸۵۰ کښی یی ددرنګ نه‌په مالګه وړلـو دومـره زیات محصول ولګولو چه د خواږ شاد خلکو دپاره اودعامو ختکو او تجارت پیشه‌خلکودپاره هغه دبرداشـت کـولونه وو په دغی بانـد ی خلك را پـور تـه‌شول ور پسی دفروری پـه میاشت کښی په ۱۸۵۰ کال کښی انګریزانو د تیرا په اپریدو و حمله وکړله چه ددغی نه د ختك قوم خلك خبر شو په هغی باندی په خلکو کښی د جهاد جذبه نورته هم زیاته شولـه او د بهادر خیلو ختك دیر نګـی په‌خلاف دجهاد میدان ته را ووتل .

دبل طرف نه دانګریزانو فوځ دلفتننټ کرنل پولك په کمان کښی چه دوه تو پو نه ور سره ؤ د فرسټ پنجاب رجمنټ یوه کمپنی او ۲۵۰ نفره فوځ سره مخامخ شول لړه شان مقابله وشوله د پر نګیانو جر نیل پولك ځان په تښته خلاص کړ دلتمر فوځی کیمپ ته په زغا ست ورسیده

د هغې نه وروسته تر اپریل سنه ۱۸۵۰ پورې د جنګو نو د اسلسله جاري وه او غاز یانو به ځای په ځای دپرنګی په کمپو نو حملې کولې .
په اکتوبر سنه ۱۸۵۰ کښې د بهادر خیل خټک غاز یانو دطو طکی نومي مقام سره دپرنګیانو په هغه لوی فوځ حمله وکړه کوم چه د کوهاټ . بنو د سړك د څوکۍ د پاره مقرر وو دغه فوځ له ئې شکست ور کړ ور پسې وړاندې لاړل د بهادر خیلو د مالګې په کان (درنګک) ئې قبضه وکړله د دغې نه وروسته دکوهاټ دفوځی کیمپ نه دکرنل کوك په کمان کښې تازه دم فوځ راغی د کرنل کوك او کرنل پولك د واړو پوځو نو په شریکه دبهادر خیلو غاز یانو مقابله وکړله غاز یان په شا شول او انګریزا نو د بهادر خیلو په مقام د فوځی قلا جوړ ولو تا بیا وکړله .
په دې موقع باندې نولس ور ځې پرله پسې جنګ شوی وو دغاز یانو دقومی لښکر نه نهه دیرش غاز یان شهیدان شوی وو او بل خوا ته د پرنګی دفوځ نه شپږ د پاسه څلورسوه (٤٠٦) فوځیان قتل شوی وو .
په او چته پیړۍ کښې په پښتنو کښې دوه مشهوری ګوندی دی د یوی نوم ګاړ دی او دبلی نوم سمل دی خټك او وزیر دواړه دیوی سمل ګوندی خلك دی په دی وجه کله چه په خټکو باندی کرنل کوك او کرنل پولك حمله کړی وه نو دوزیری قوم غاز یان ئی هم امداد له راغلی وو او په خاص طور سره دانګر یزا نو دفوځ د چار پنجاب رجمنټ دپیدل فوځ سره د وزیری غاز یانو مقابلی ته راغلی وو .

## دبهادر خیل خټکو دویمه غزا :

د سنه ۱۸۵۲ د ګرمی په ورځو کی د خټك قوم غاز یانو د انګریزانو بر خلاف د جهاد میدان ته د را وتلو اعلان وکړ په پوره زور کښی راټول شول . لښکر ئی وکړ او دپرنګیانوپه فوځی کیمپونو ور پریو تل دد ی غزا وجو هات دا وو :
الف۔ انګریزانو په سنه ۱۸٤۹ کښی په مقام دنری او مقام دلتمیر فوځی څوکی جوړی کړی وی او ددغه څوکو نه ئی د خټکو په علاقه حملی شروع کړی وی . دمثال په طور په سنه ۱۸۵۰ کښی کرنل پولك دبهادر خیلو په علاقه چه حمله کړی وه هغه ئی دلمتیر دفوځی څوکی نه کړی وه .
**ب: دویمه داچه انګریزانو درانی زی قوم په علاقه حمله کړی وه .**
**په دی غزا کښی د بهادر خیل کرك او لیواغر خټکو حصه اخستی**

وه . د انګریزی فوځونو او غازیانوترمنځ مقابله وشوله‌او دیو لوی او سخت جنګ نه پس دانګریزانوفوځ شکست وخوړ . غازیا ن بر یالی شول او د مالګی په درنګ (ګان) باندی یو ځل بیا او لسی قبضه وشوله چه‌دلتمیر فوځی ځوکی ووهلی شوله نو د لیوا غر ختکو تیاری شروع کړه چه د نری پـه‌مقام د انګریزانو په ځوکی باندی‌هم حمله وکړی او قبضه ئی کړی .په دغه ورځو کښی‌کپتان کاکس چه د بنو ډپټی کمشنرو او په راتلی زی ئی حمله کړی وه هغه درانی زیو حمله ئی په ځای پریښوده . پـه‌منډه‌را غی د ختکو مقا بلی ته ئی خان تیار کړ .

١ـ فسټ پنجاب رجمنټ ټول‌فوځ .

٢ ـ د نمبر ٣ پنجاب رجمنټ د پیاده فوځ څلور کمپنی .

٣ـ د فسټ پنجا ب رسالی‌سکو ا ډرونه . دادومره مضبوط فوځ ئی سره د توپخانی او جنګی‌ساز او سامان نه د ختکو مقابلی له میدان ته را وستلو او په څلورم‌جون سنه ١٨٥٢ باندی دبهادرخیل ختکو علاقی ته راور سیده. خونړی‌جنګ وشو د بهادر خیلو ځمکه هم سور بخنه او ـ سره د دواړو طرفه دمړو او زخمیانو په سرو وینو نوره هم سره شوله . د پرنګی دا خیال‌شو چه ختک‌به‌ویریدلی‌یا ستړی‌شوی وی سوال ځواب ئی ور ولیږه چه حکم ومنی سلامی شی . ختکو ځواب ورکړ چه وارمه خطا کوه چه‌میدان ته راغلی اوس مه تښته چه یو څو لاسه جنګ نور وکړو بیاچه څه کیږی هغه‌به کیږی. چنانچه بهادرانو او ننګیالو ختکو غازیانو په پرنګیانو حمله وروړله ـ جنګ ئی وکړ جنګ ورپسی اوږد شو غازیانو قیامتونه را کوز کړل . په آخره باندی کلی ئی خالی کړ

دغره غاړی ته مورچه شول او‌جنګ یی جاری وساته دانګریزانو فوځ چه‌کلی خالی‌ولیدلی پری‌ورغلل په‌کلی کښی چه‌واړه. زاړه. کمزوری بیماران یا څاروی هر څه چه ئی‌وموندل هغه ئی ووژل او دکلی‌ټول کورونه ئی وران کړل . ښکاره‌خبره‌چه یو بهادر دښمن داسی کار هیڅ کله هم نه کوی مګر د انګریزانو تاریخ د داسی ظلمونو نه ډک دی اګر چه انګریزان د میدانی علاقی په‌پایماله کولو کښی‌کامیاب شول‌لیکن ددی واقعی نه وروسته تر سنه ١٨٥٣ پوری د لیو غر ختکو سلسله جاری ساتلی‌وه.

# دسنه ۱۸۵۲ جهاد

## دسپری غزا :

د گمبتـی د غـزا نـه وروسته دانگریزانو او وزیرو، مسیدو ترمنځ د کور می په علاقه یوه غزا شوی‌وه‌چه‌د هغی حال مخکی بیان شوی د ی په دغه غـزا کښی چـه د عمـرزو او احمدزو . وزیرو دلاسه انگریزانو شکست وخوړ نـو دبدل اخیستلو د پاره ئـی د بنـو د ډپټی کمشنر میجر نکلسن په کمان کښی په شلم د سمبر سنه ۱۸۵۲ د دری نیم زره «۳۵۰۰» فوځ او سازو سامان سره د گمبتی په‌لاره باندی په عمرزی او احمد زی حمله و کړه اود بر غنتی‌په لاره د سحر په خړه کښی دبنو ښار نه شپاړس میله لری دعمرزی قبیلی د دوه کلو دریابی او سپری نه گیره تاؤ کړله او داسی جنگ ونښت‌چه بیان ئی نشی کیدلی . په دی جنگ کښی د عمرزی قبیـلی ۸۷ کسـه ننگیالـی ځـوانان شهیدان شول . تقریبا ۱۷۰ کورونه او خیمی ئـــی‌په‌ور وسوزیدلی .اود پرنگی فو ځ نه «۳۰۵» فوځیان مړه او بی شمیره فوځی سازوسامان‌ئی لوټ اوتلاشو. ددی غزالویه خبره داده چه‌انگریزانو د ډیری تیاری نه پس حمله کړی وه بیا هم نقصان ئی وشو او خپل عزم‌باندی کامیا ب نه شول سره دڅو پکو تو پونو وا پس شول اود بلی مو قع‌په‌تلاش کی شول .

## دمیدانی غره غزادسنه ۱۸۵۹

په سنه ۱۸۵۹ کښی داسی واقعه پیښه شویده‌چه‌دبنو دښارشمالشرق خواته یوکلی دی ډومیل نو میـږی‌اود بنو څخه شل میله فاصله‌لری‌د ختټك قوم یو کلی دی لتمیر دلتمیراوډو میل ترمنځ دانگریزا نو یـــوه فوځی دسته دمیجرمیچن نومی‌پرنگی په کمان کښی د غازیانو په خلاف د اقداماتو دپاره پرته وه. د محبت‌خان‌او زنگی خان نومی دوه نومیالـــی وزیری غازیانـــو په مشری کښی دوزیرو . مسیدو او- ختټکوشاه ځلمو غازیانو د پرنگی په دغه فوځ حمله وکړه او میچن پرنگی ئی قتل کړ . دمیچن پرنگی د قتل الزام په د غـه دواړو نومیالو غازیانو ولگیده هغوی دواړه د کرمی علاقی ته واوړیدل او د ـ کابل خیل وزیرو په‌قبیله کښی استو گن شول .

بل خوا ته داواقعه هـر کله چه د ختک نامی په ځمکه د لټمـــیر او ډومیل تر منځ پیښه شوی وه نـو انګریزانو فیصله وکړه چه ددی بدل دختکو دخلکو نه واخلی .

د لټمیر نه کوهاټ شپیته میله شمالشرق طرف ته واقـع دی او د ختکو سـره تعلق لرو نکی ښـار دی چنانچه د کوهاټ دډپټی کمشنر په رهنمائی کښی څـلور نیـم زره انګریزی فوځ د پوره جنګی ساز او سامان سره د میچن پرنګی د بدل اخستلو دپاره دلفټننټ کرنل چیمبر لین په کمان کښی د کوهاټ دفوځی چاونی نه روان شو اوپه ۲۰دسمبر سنه ۱۸۵۹ دکرمی دسیند نه دبلندخیل په لاره د میدانی غر خواته را پر یوت .

د انګریزی فوځ د مقابلی د پاره د توریالو او جنګیالو غازیانو لښکر چه په قام باندی ختک او بنګښ وو او په شماره دری نیم زره «۳۵۰۰» غازیانو د بلند خیل قبیلی د علاقی په‌جنوب مغربی«سوئیلی‌لمر پریواته» خوا کښی اته میله لری په میدانـی غر کښی د جنګ د پاره مورچـه محصاره کړه . د غازیانو دا خیال وو چه د انګریزانو فوځونه دمیدانی غر د شمال دطرف نه ګنی اوبه پـه‌لاره نه شی راتللی اوددغی‌اړخ نـه د پرنګی د فوځونو د حملی خطـره نشته بلکه که د انګریزانو فوځونه د غازیانو مقابلی ته راوړاندی کیـږی نو د زخی په طرف به حمله کوی په دغه و جه غازیانود میدا نی جنو ب‌طرف‌ته‌خپل‌پخلی کړیؤ مور چه شوی وو لیکن انګریزانو په ډیره چالاکی غازیانو له تیر ورکړ او د خبر لـه مخی دد سمبر د میاشتی په ۲۳ او په کال ۱۸۵۹ کښی دګنو اوبو پـه لاره انګریزی فوځونو په غازیانـــوچپ او را ووړ. دواړه لښکری ار لچی برلچی‌شولی.دغازیانواو پرنګیانوترمنځ یو بی مثاله سخت جنګ جوړ شـو چه د دواړه طرفه نه قیامتونه راکوز کړی شول .

په دی جنګ کښـــی د ولیخـان‌اتمان‌زی‌وزیر دوه‌زامن‌هیبت اونیازی‌او د دوی نه علاوه دری نوی «۹۳» نورغازیان شـهیدان شول‌اوبل خـوتـه د دوی په مقابله کښی د پرنګـی ددلښکرو نـــه اته سوه او اوه نوی (۸۹۷) کسا ن قتل شول او حملـه‌کوونکی انګریزی لښکـــرو تـــه ماتی‌و ر کړی‌شوی انګریزا نودمیچی پرنګی بدل اخستلو لیکن نهه سوه فوځیان ئی نور پکښی مړه شــول .

غازی صحبت خان وزیر اوزنګی‌خان وزیر د چا د لا سه چه مچـــن پرنګی قتل شوی وو هغوی دمیدا نی‌غره‌په غزا کښی هم توری وو هلی او

د کرمی د کابل خیل قبیلی د علاقی‌نه دنبوداحمدزی وزیرو علاقی نه را غلل او د پرنګی په‌فوځی کیمپونو به ئی حملی کولی په دغه منځ کښی د یو خو ملت فروشو وطن دشمنواوغدا رانو د لاس نه غازی صحبت خان ژوندی په کټ کښی تړلی پرنګیانوله‌و ر کړی شو ا نګریزا نو د غه بومیالی غازی د میچن په ځای اواوبدل کښی په سیلی وخیز او ه شهید ئی کړه د غازی صحبت خان زنګی خان سره فکر ملګری شو د شابی خیلو وزیرو علاقی‌ته راووخت‌او په مالک‌صدرا لدین‌پوری ئی‌واړو، ملك صدرالدین داسی کارو کړ چه د ځان سره روان کړ. د مسید قوم مرکزی ځای او د اولسی ټولنی‌او جرګو مرکز کانی ګرم ته‌ئی‌بوتللو د قام جرګه راغونډه شوه او زنګی‌خان یی غازی جنګی خان شهیدغازی زبیرخان شهید ملك غازی ا میرخان شهید چه دا دری واړه د مسید قوم مشران ووهغوی ته وسپا رهاودائی وویل چه زه د مسید قوم د مرستی او ملاتړ نه په غیر غازی زنګی خان‌نه‌شم ساتلی ځکه چه پرنګیان په‌ده پسی ډیره سخته هڅه او لټون‌کوی. دهیری اوږدی جرګی مرکی نه‌وروسته داتړه وشوله چه:

دزنګی (وزیر ) مرګ او ژوند زمونږ د ټول مسید اولس د مرګ او ژوند سره تړلی دی ترڅو پو ری چه زمونږ په قوم کښی نارینه‌خو لا پریږده‌چه یوه مړوښه ښځه‌هم‌ژوندی وی دزنګی خان‌نوك به‌هم څوك سوړنه کااودزنګی‌خان ښځه به‌کونډه‌تون ته‌نه پاتی کیږی.

د مسید قوم ددی تړون نه چه انګریزی حکومت خبرشو نو هم په دغه کال سنه ۱۸۵۹ کښی ئی یو خوا ته دبنو د طرف نه او بل‌خوا ته دډیره اسماعیل‌خان‌دی‌طرف‌نه‌په‌احمدزی‌وزیری قام‌په مسید قام د جنرل چیمبر لین‌په کمان کښی حمله وکړه چه د هغی حال د پلسین غزا د سر خط لاندی په ا ختصار سره در ج شوی دی .

د پلسین‌غزا:

یعنی سپین کی دغزی د جنډ و لی سره نږ د ی دپښتنو غازیانو او د غیر ملکی وطن دشمن او اسلام دشمن پرنګی دفوځونو ترمنځ چه دوزیرستان په سیمه کومی غزا ګانی شویدی په هغی کښی یوه لویه‌تاریخی اوخونړی جګړه هغه ده چه دپلسین غزا په‌نامه یاد یږی .

دا واقعه داسی پیښه شویده چه په سنه ۱۸۵۹ـ۱۸۶۰ کښی دجرنیل
سرنیول چیمبر لین په کمان کښی د شمالی او جنوبی وزیرستان په‌دواړو
حصو په دواړو اتمانزو احمد زو وزیر او مسید وباندی حمله وکړه. دا
چیمبرلین هغه پرنگی وچه وروسته د سنه ۱۸۶۳ د سر کاوی جنګ‌هم
دده په کمان‌کښی شوی وو.دقبائیلی علاقونوړودېروجنگونو کی‌شامل شوی
وو جنگجو او چالاکه‌و وروسته دده لمسی مستر چیمبرلین په دو یم
عالمگیر جنګ سنه ۱۹۳۹ تر ۱۹۴۵ کښی دبرطانیی وزیر اعظم ؤ. لکه
چه وروسته به بحث راشی دا حمله په دوه طرفه په شمالی وزیرستا ن
سرنیول چیمبرلین حمله کړی وه او په جنوبی وزیر ستان د حملی کمان
جرنیل لمسډن کولو کوم فوځ چه د سرچیمبرلین په کمان کښی ؤ په‌د غی
کی‌یوبل انگریز جرنیل وچه د هغه نوم‌میجرجنرل سرجارج‌ینګ‌هز بنډو
د خپل‌تجویزمطابق‌سرنیول‌چیمبرلین دکجوری .میرعلی خیسور .رزمك او
مکین په طرف حمله وروړی وه‌لیکن بل طرف ته چه د جنرل لمسډن په
کمان کی کوم فوځ په جنو بی‌وزیرستان حمله کړی‌وه هغه دپلسین
په مقام د غازیانو په گیره کی‌راغلی‌وو او سرنیول چیمبرلین‌خپل مهم‌په
ځای باندی نیگمړی پرینبودلو ځان‌ئی دپلسین رسو لو ته جوړ کړ.
پلسین ته دسر نیول چیمبر لین‌دا‌امداد رسیدلو نه وړاندی چه په
دغه مقام کومه غزا شوی وه مونږ هغی ته د پلسین‌اولنی‌غزا وایو ا و
ددی امدادی‌فوځ رارسیدلونه‌وروسته چه بیا کومه درنه غزاشوی وه هغی
ته دویمه غزا وایو .کال هم دغه یو سنه ۱۸۹۵ ـ۱۸۶۰ وو لیکن په
دغه یو مقام باندی غزا گانی د و ه‌ځل شوی وی . دپلسین داولنی غزا
په موقع باندی د غازیانو دلښکرو مشری ملك جنگی خان غازی کو له
چه په قام منزی مسیدو د وزیرو او مسیدو ننگیالو غازیانو د غا ز ی
جنگی خان په مشری کښی دپرنگی په لښکر باندی جنګ ور ووړ او دا
جګړه دومره سخته شوله چه‌دپرنگی لښکرو او پښتانه ځوانان‌خو له په
خوله اوسینه په سینه ورغلل او د تورو ټوپکو په ځای د متو دزور او
د پیش قبضودگذارونو جنګ‌شروع‌شواو سخته نښته وشوه .

## جنگی خان شهید :

په دی تاریخی او خونړی جګړ ه کښی چه لاس په لاس د تورو .چړو
او نیزو اوبرچو وهلو جنګ وو او دداوړه خوانه خلق گډ وډ شوی وو
په لړ وخت کی پنځه‌سوه اوه‌پنځوس غازیان او په قول د سر جارج‌ینګ



ACKU

هز بنه دوه نیم زره غازیان شهیدان شول او د غازیانو مشران غا زی جنگی خان او ورسره شپږ تنه نور لوی لوی مشران غازیان شهیدا ن شول او په مقابله کښی دپرنگی د فوځ په دوه کښی دولس سوه نهه او یاکسان (۱۲۷۹) فوځیان مړه شول او اولس کسان د فوځ افسران ئی هم قتل شول او دانگریزا نو فو ځ د محاصری په حالت کښی شــو د چیمبرلین دامدا دی فوځ په انتظا ر شو .

دویمه عزا :

د پلسین په مقام ددی لوی تاریخی عزا نه څو ورځی وروسته په اپریل سنه ۱۸٦۰ کښی پلسین ته دسرنیول چیمبر لین امدادی فوځ راورسید ه په دی غرض چه د مسید وزیری قوم په حمکه بانـدی ددی ننگیالـی ا و نوریالی قوم طاقت ختم کړی لیکن خدای پاك د غازیانو ملگری وو د انگریزانو دغه فسا دی خوا هشات ناکا مه پاتی شول .

دجنرل چیمبرلین تجویز دا وچه دټانك دیره ،اسماعیل خان فوځونه دی دشراونگی په لاره کانی گرام ته ځان وباسی اودبـنو لښکـر د ی اول داتمانزی وزیرو په علاقه حمله وکړی د مروبی او خیسور په لاره دی ځان رزمك ته ورسوی او بیا دهغه ځای نه دی د مټ په زور ا و طاقت دمسید قوم مرکزی مقام مکین ته ځان وکاږی بیـا دی دمکیـــن او کانی گرم فوځونه یو ځای شی او دا دواړه فوځونه کوم چـه د ډیره اسماعیل خان او بنو نه حرکت کوی دوی له چه په لاره کی هرڅومره کلی او کورونه په مخه ورځی هغه دی په زورو سیزی او وارن دی کړی

د جنرل سرنیول چیمبرلین د تجویز مطابق د ډیره اسماعیل اوبنو دواړه فوځی چاوڼو نه انگر یز ی فوځ حرکت وکړ دیو لښکر کمان د سر نیول چیمبرلین په لاس کښی وو اودبل لښکر کمان دجر نیل لمسډ ن په لاس کی وو دی دواړو ا نگریزی فوځونو د وزیرو مسیدو دوړو پــه علاقه کی یرغلو نه وکړل او پښتنو غازیانو ئی قدم په قدم مقابله وکړله په نتیجه کی ئی جنرل لمسډن پــه پلیسین کی محصور شواو چیمبرلین ئی ا مداد له ورغی .

میجر جرنیل سرجارج ینگ هزبنډ چه په دی جنگ کی د کیپټن په حیث پخپله موجود وو پخپل کتاب د گائیډ پلټنی سر گذشت کی دصفحه ۹۳ نه صفحه ۹۹ پوری چه کوم احوال درج کړی دی په هغی کی په صفحه ۹٤ـ۹۵ چه د وزیرو مسودو غازیانو د جنگ خاکه ئی په کومو الفاظو کی را ښکلی ده

هغه دلو ستلو ده سر جارج ینگــــ لیکلی :

چه‌دسر نیول چیمبر لین په‌کمان کی چه کوم‌فوځ وو هغه دوزیری قوم پخوا د مضبو طو قلاګانو طرف تـه روان شو او د جرنیل لمسډن پـه کمان کی چه کوم‌فوځ وو هغه‌دمسید قوم په علاقه د حملی د پاره حرکت وکړ ددی دویم فوځ یونیم زر فوځی ځوانان د سا مان جنګ او رسدو د حفا ظت د پاره دپلسین په مقام پاتی شول. د خپل ځان د حفاظت انتظام ئی وړ اونور فوځ په ډیـر احتیاط قدم په قدم مخکی روا نشو د فوځ ځوانان به د یوبل سره‌نژد ی جخت روان وو وړاندی وروسته یو خوا بل خوا به‌تری نه پهریدار او خوکیدار روان وو چه غازیان پری رانه شی . د جنرل لمسډن په د ی انتظار کی هم وو چه وروسته بـه برپسی نور انگریزی امداد را ورسی په دی منـځ‌کښـی دد شـمـن (یعنی مسلمانانـو غازیانـو ) درانلو او حملی کولو څه‌هیڅ آثار او علام ی‌په نظرنه راتللی‌اونه‌دانگریزی فوځ جاسوسانـو او مخـبرانـو او انگریزی فوځ ته‌څه اهم قسم‌اطلا ع‌ورکړی وه‌چه نژدی یالری چیرتـه غازیان موجود دی‌په چار چاپیره‌غروهم د غاز یانو څه هیڅ قسم‌علا مـه نه‌ښکار یدله . انگریزی فوځ په بی‌غمه زړه کیمپ لگولی وو چه په‌دغه منځ کی مدیجر جنرل سر جارج‌ینگ‌هنربند په الفاځو کښی .

مگر یو ناڅاپه معلومه نه ده چه‌له‌کوم طرف نه چه داسمان نه‌که د ځمکی نه‌په زرگونو وزیری راووتل اوپه‌انگریزی لښکریی‌چپاو ر اوړ.

سر جارج ددی جنگ ډیره ښکلی نقشه راښکلی ده مخکښی لیکی چه په ۲۳ اپریل سنه ۱۸۶۰ باندی دسهار وخت وو لمرلانه ور اختلـی دانگریزی فوځونو په کیمپ کښی لادسحر بگل نه ووغږ ید لی چـه دری زره‌وزیر غازیان‌توری او‌ټوپکونه‌ورسر ه وو او دغزا اوجهادجو ش لبونی کړی‌وو دانگریزی لښکر پـه هغه اړخ حمله وکړه چیرته چه د گائیله‌پلټن فوځیان پراته وو .سـرجارج مخکی لیکی :

هغه سپین جا می غاز یان چـه‌توری ورسره وی او پـه انگریـزی فوځونو داسی د پاسه ازاد را ختل‌لکه طوفانی سیلی چه وی د غازیانو داطو فانی سیلی په‌انگریزی فوځونو‌ورغله لاس په لاس دبرچو او پیش قبضو جنگ شروع شو. دانگریزانو د فوځ دوه نیم زره فوځیان دسترگو په رپ کی په ځمکه گذار کړی شول. وزیری غاز یان دانگریزی‌فو ځ‌منځ ته ورننوتلی وو او څلورواړه طرف‌ته د تورو گذارونه یی کو ل او د



ACKU

کفارو په لښکر کې ئې پرې وکښېلې سر جارج ینګ هزبنډ دې خپل کتاب په صفحه ۹۷ باندې ددغه لاس په لاس جنګ منظر کې په دې الفاظو کړی دی :

د جنګ هنګامه توده شوله اسونو او قچرو هنیدل او چغې شروع کړې خپلې واګې او پچواړې شلولې ئې را واخیستل سپو غپا شروع کړه بنیاد مو چغې کړې د توروشر نګار او د ټوپکو اواز نه شو اورېد لی. اود ټوپکو دډزو درزهار دزخمیا نو کوکار اود مړه کیدو نکو های های او چغو داسې یو قیامت جوړ کړی ؤ چه آواز نه شو اورېدلی .

ددې خونړی جنګ انجام دا شو چه انګریزانو ماتې وخوړه فوځ یې په ماتې سر شو په زرګونو فوځیان ئې مړه شول چه په هغې کښې زیات تعداد د سکهانو او ګورکیانو وو ګڼ انګریزان افسران هم پکې ووژلې شول چه په هغې کې د لفټننټ یونګ او لفټننټ لویس نومونه د یادولو دی . په دې جنګ کې د سکهانو څلورم نمبر او د ګورکیانو پنځم نمبر پلټنې شاملې وې او په دې شان سره انګریزانو چه د سر نیول چیمبرلین په کمان کې دوزیرو مسود و په علاقه کومه لویه حمله کړې ده هغه نا کامیابه شوله او په همې سنه ۱۸۶۰ کې ئې پوځونه راو پس شول. په دې جنګ کې دانګریزی فوځ لوی جانی تاوان شوی وو. دوه زره اوه سوه شپږ نوی (۲۷۹۶) فوځیان او ددغې نه علاوه نهه کسان لوی لوی فوځی پرنګیان یې د خاورو خورا کشول اود پښتنو غازیانو دټولو قبیلو او خیلونو دټولو هغه شاه ځلمو چه د شهادت درجه یې حاصله کړې وه هغه به شماره پنځه اتیا (۸۵) وو اولویه خبره داده چه میدان پښتنو غازیانو و ګاټه انګریزی فوځونو شکست وخوړ او مکین ته درسید لو ارمان ئې په زړه کې پاتې شو د لته دا یادول پکار دی چه سر جارج دغازیانو د شهیدانو کل تعداد (۳۲) بیان کړی دی لیکن صحیح تعداد هم هغه (۸۵) دی .

## غازی پاخړی :

په دې جنګ کې دوزیری غازیانو یوې ډلې دانګریزی فوځ په یوه کمپنۍ باندې د غازی پاخړی وزیر په مشرۍ کې حمله کړې وه. خوا جه خواص قمر خان بارودین او میر ګل نومې شاه ځلمې غازیان دانګریزی فوځ منځ ته ورسیدلې وو او مشر انګریز فوځی افسر کیپټن مبخام یې وژلی وو.



ACKU

## ددې تاریخي غزا پس منظر :

دسر نیول چیمبر لین په کمان کې چه انګریزي فوځونو د وزیرستان په دواړو حصو شمالي او جنوبي کومه لویه حمله کړې وه او په نتیجه کې په دې تاریخي غزا کښې غازیانو ته کامیابي حاصله شوې وه . ددې تاریخي پس منظر هم په علم کې راتلل پکار دي .

واقعات داسې پیښ شوي وو چه کله انګریزان دډېره اسماعیل خان ځمکې ته را شریک شول نو په دې ځمکه چه کوم لوی لوی خانان او نوابان وو او د پخوا نه دد رانې حکومت او ورپسې د سکهانو د حکومت سره ئې معاهدې وې. هغوی دانګریزانو سره هم معاهدې وکړلې او خپل اقتدار ئې محفوظ کړ په دغه سلسله کښې یو د خانۍ او نوابۍ خاندان دنواب شاهنواز خان کټي خیل وو چه په ټانک کې یې خانۍ او نوابي وه. په ټانک باندې اګرچه دده عملداري وه لیکن انګریزانو له ئې مراعات ورکړي وو. دانګریزانو دپنجاب رجمنټ د سکهانو او ګورکیانو فوځ د معاهدې له مخه په ټانک پروت وو او د معاهدې له مخه د نواب کوم فوځ وو د ټانک حفاظت کول د نوابي فوځ او انګریزي فوځ دواړو شریکه ذمه واري وه خو ټانک د جنوبي وزیرستان دروازه وه او بل خوا ته چه هرکله دانګریزانو او وزیرو مسیدو ترمنځ جنګونه ناوده شول او د ټانک او د ټانک سک او ګورکه فوځ په هغې کې په خصوصیت سره ظلمونه وکړل او د ټانک دنواب فوځ هم په هغې کښې حصه دار معلوم شو نو وزیرو او مسیدو غازیانو په ټانک دحملې کولو فیصله وکړله دسنه ۱۸۵۹ په اخر کې د ټانک په فوځي کیمپ او بازار حمله وشوله دپنجاب رجمنټ فوځ یې زیر او زبر کړ او د ټانک بازار ئې لوټ او تالاکړ او بیا وروسته ددغې په ځواب کښې د سنه ۱۸۶۰ په ابتداء کې د کرنل چیمبر لین په کمان کښې هغه لویه حمله شوې وه چه مخکښې ئې ذکر وشو .

په ټانک باندې دوزیرو حملې او تالان او ورپسې د سنه ۱۸۶۰ په غزا کښې ټانک ته بیا د لوی نقصان رسیدلو په وجه ټانک دحکمران نواب شاهنواز خان سره خطره پیداشوه او په جون سنه ۱۸۶۱ کښې یې د انګریزانو او وزیرو مسیدو په منځ کښې دروغې جوړې کولو او کوښښ شروع کړ. دشالم خیل علي زي او او بالول زي قبیلو څه ملکان یې رضا کړي هم وو لیکن فقیر شیرعلي خان شهید غازي پردل خان غازي خدا داد او غازي حسین خان د مخالفت په وجه دانګریزانو دغه کوشش هم ناکامیابه شو او میدان ګرم په ګرم پاتې شو .



ACKU



دچترال دسیمی دسیند اویوه پله‌بشکلی منظره



دچترال دوادی عبریت یوه په‌زړه‌پوری منظره .

## ددوړوغـــزا :

دسنه ۱۸۶۱نه وروسته دانګریزانوفوځونو د وزیرستان په‌سیمه ددوړو و مسودو قومونو په بیله بیله‌حصه‌پرله پسی حملی وکړلی ه‌دی حملو په لړ کښی دوړو په علاقه د حملی ابتداء کرنل سر هنری چیمبرلیـن کړی وه . د جغرا فیایی محل‌وقوع په‌لحاظ دوړو علاقه داسی ده چه د شمالی وزیرستان په سیمه کښی ددېنو د پولی پـېری پـــه اواره او میدانی حصه کی داوړ او وزیر شریك پراته دی لیکن دوړو طرف ته دتوچی دریاب نه‌یوخوا بلی‌خواته چه کـو مغرونه‌دی په‌هغی کی‌وزیری خلك آباد دی .د وزیرستان اهمو ځایونومیران‌شاه . دته خیل .رزمك وغیره تـه لارتلی ده. دخیسور اهم ځای‌ددو ړوپه لاره قبضه کید لی شی. چنا نچه پوځی اهمیت له مخه انګریزانو سنه۱۸۶۱ نه وروسته ددوړو په علا قه کښی دپوځی اقداماتو په تـکل کښی‌شول.
دوزیر ستان دوه مشهور غـازیا نبزرګان بادی فقیر اومولانا ګلاب‌دین المعرو ف په وزیر وملا صـاحـب انګریز انو ددی ناپاکی منصو بی نه غـا لـبا ء چـه خـبـر شو ی وو هم د غه وجه ده چه دی دواړو نا مدار غازیانو دپرنګی د تجاوزاتو د مقابلی د پار ه‌تیاری کولی.چنانچه په دغه شان حالاتو کښی په سنه۱۸۷۲ کښی انګریزی‌پوځو نودکرنل کینر په‌کمان کښی‌دشمالی وزیرستان‌ددوړ قوم په‌علاقه حمله وکـړ ه‌اود کجوری په مقام د تاریخ یوعظیم‌الشان جنګ وشو چه دپرنګی پوځونو تـه زیات جانی او مالی نقصان ورسیده‌او د وزیرستان لوی روحانی شخصیت بادی فقیر په دغه غزا کښی‌دشهادت‌او چت مقام حاصل کړ هر کله چه دوزیر ستان په‌مشاهیرو غازیا نـوکښی بادی فقیرته لوړ مقام حاصل دی په‌دی وجـه ځه‌لړشان‌حالات یی دلته درج‌کول‌مناسب‌معلومیږی.

## بادی فقیر شهید :

بادی فقیر علیه‌لرحمه دوزیرستان دعلاقی یومشهور روحانی‌شخصیت او لوی غازی تیر شوی دی اصلی‌نوم یی پیویز خان و اوپه‌قام باندی محمود خیل اتما نزی وزیروپه‌عوامو کښی په با دی فقیر نا مه زیا ت مشهور دی د جناب مولانا عبدالغفور بابا جی صاحب د سوات مریداو ما ذون و او د هغوی په مشری کښی‌ئی دسنه ۱۸۶۳ د بونیر په جنګ کی د سور کاوی په غزا حصه‌اخستی‌وه ددغه نه وړاندی په‌وزیر ستان‌کی

چه په سنه ۱۸۵۹ اوسنه ۱۸٦۰کی دد پلسین غزا په نوم کوم جنګ شوی وو په هغی کی یی هم د غا زیانو رهنمائی کړی وه اوتوری ئی وهلی وی .

د با دی فقیر دو خوانږه او منلی ملګری او مرید غازی الله با ز خا ن په روایت دی چه کله پرنګیانو دصوبه سر حد په علاقه په سنه ۱۸٤۹ کی قبضه ولګوله نو د هغه ورځی نــه وروسته د با دی فقیر صاحب دا کارو چه دفقیری په جامه کښی به له وزیرستان نه سوات ته د خپل پیرسلام له تللو او د سفر په دوران کښی چه په کومه علاقه کی به د پرنګی برخلاف د غز ا د پاره لښکری تولیدلی لکه دبونیر، چمله ،رانی زی وغیره علاقوغزاګانی شولی نو دی به په هره یوه غزاکی په میدان کی تیار او تکړه ولاړ ا و شا مل وو دا ټول نیک عمل اودخدای په لاره کښی غزا ګانی دا هر څه بی دومره بی ریا او په ا خلاص کول چه کله به دبونیر سوات، مومندو خیبر او پیښور د علاقو دغزا ګانو نه راستون شو او واپس به خپل کلی ته راغی نو د کور کلی خلکویا خپلو خپلوانو هیچا ته به یی همدا حال نه ښکاره کولو چه زه غزا له تللی وم.

غازی الله باز خان نه روایت دی چه کله بادی فقیر وفات کیده نو د هغی نه لږ مخکښی یی دخدا ی پا ك دشکر ادا کولو په طور دا خبره د خولی نه ختلی وه .

دلوی خدای ډیره شکریه ادا کوم چه زما غوندی عاجز فقیر انسا ن دلاسه یی ۳۳ کسان د لویو لویــو عهدو خاوندان انګـریزان افسران وژلی دی .

روایت دی چه یوځـل دا نا مورغازی د سوات په سفر روان و دنو ښار سیند ته چه ورسیده نو اوداسه د پاره د سیند غاړی له چه ورغـی ګوری چه یو پرنګی ولاړدی دماهیا نو ښکار کوی . د فقیر صاحب په لاس کښی شل و په هغی باندی پرنګی رساپه سینه وواهه سیندته ئی ګوزار کړ

روایت دی چه دالاندینی شعر دبادی فقیر وظیفه وه چه هروخت به ئی په ډیره مینه وایه .

د نبی سترګــی سره ګــل
دی دد یــد ن لایــقی
راځی انګر یز په توچــی
کــه شهیــد شمــه

او ا خر دا چه د غه ارمان ئــی خدای پوره کړ او په سنه ۱۸۷۲ کی چه انګریزی فوځونو دکرنل کینږ په کمان کی دداوړو په علاقه حمله کړی

وه په‌هغې کښې شهید شواودشهادت کوم ارمان چه‌یې وظیفه‌کړې وو او دائې د خدای نه سوال وچه دشهادت په وسیله دحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم لکه دګلو نوپه‌شان سرو سترګو مبارکودیدنوکړی هغه ارمان یې ترسره شو د شهید بادی فقیر ددی شعر نه د حضورنبی کریم علیه التحیه والسلیم سره دهغه مینه څرګند یږی او دا ترینه معلومیږی چه هغه خالص دالله‌تعالی‌درضا د پاره غزا ګانی کولی علیه الرحمه والغفران .

## دټانک دوهمه غزا :

مخکی دټانک د هغې غزا ذکـــرشوی دی چه په‌سنه ۱۸۶۰کی شوی وه. ددغې نه‌وروسته چه په ټانــک باندی‌وزیرو. مسیدو او بیټنو او دوړو غازیانو کوم جنګونه کړیدی دهغې دپوره بیان د پاره روغ کتاب پکار دی . په دی وجه د لته دټ انک‌دیوی بلی لویی غزا ذکرکووچه‌ددغه اولنی غزانه شل‌کاله وروسته پـه‌سنه ۱۸۷۹ کی شوی وه .

دا واقعه داسی پیښه شوه چه د تاریخ صولت افغانی صفحه۳۲۵ د روایت مطابق په‌ورځ دشنبه (هفته)۲۶ دمحرم الحرام سنه ۱۲۷۹مطابق لسم تاریخ جنوری سنـــه ۱۸۷۹ دوزیرو او مسیدو دواړو قومونولښکر د مولانا ګلاب دین‌المعروف په‌وزیروملاصاحب او د مولانا همزالله خا ن صاحب وزیر په مشری کی جمع‌شوا و د ټانک په بازار یې حمله وکړه دټانک بازار د حفاظت د پاره او دغاز یانو د مقابلی د پاره دانګریزانو فوځ دکیمپ نه راووت جنګ ونښت‌تود شوغازیانو په بازار او رپوری کړ ښار ئې وسیزلو او دانګریزا نوکوم فو ځ چه مقابله کوله د هغـــی نه‌یې شپږ سوه دری پنځوس(۶۵۳) پوځیان ووژل او په مقابله‌کی یوکم دیرش غازیان شهیدان شول او د ټرنګیانو د نګی دنګی مانی پکښــــی وسو زیدلی .

ددی زوره وری مرګ ژوبلی ا وپه بازار داور لګولو په دی اړی‌ګړی کی غازیانو په بازار باندی تا لا ن‌هم ګډکړی وو او پنځونه پنځونه‌مال غنمیت یې کورونو ته یووړله .

لیکن واقعات دادی چه غاز یانودی حملی او د ټانک ښار سوزولو که‌اصـــــلی مقصد لوټ اوتا لان نه ووبلکه‌اصلی‌وجه‌یی دغه‌وه‌چه‌لکه‌مخکښی هم ورته اشاره شوه ده دټانک‌کټی‌خیل نواب دانګریزانو سره د یو ی معا هدی په وج ، یو خوا ته‌دانګریزی پوځونو امداد کولو د غازیانو پــه

ACKU

مقابل کښی د ټانك حفاظت به یی پخپلو نوکرانو هم کولو او بلخوا به په وزیرو مسیدو ملکانو کی به ئی لاس وهلو دانگریزانو د پاره به یی ډله هم پیدا کوله او دایوه داسی خبره وه چه دغازیانو ملاپر باندی ماتیده .

اتفاق یی پری ختم کیده او ددښمن انگریز لاس پری مضبوطیدلو غازیانو چه ټانك باندی دادونه لویه حمله کړی وه ددی په ذریعه ئی داښودل چه داولس دومره زور دی چه دانگریزانو طرفداران څه چه پخپل پوځ ئی هم مقابله نه شی کولی.

## دجهاد مرکزونه :

ددی واقعی نه وروسته په سنه ۱۸۸۰ کی دقوم مشرانو او پښتنو عالمانو لکه مولانا گلاب دین المعروف په وزیرو ملاصاحب.مولانا حمزالله خان وزیر.مولانا کاکاصاحب اتما نزی وزیر په اولس کی دجهاد تبلیغ شروع کړ او دپرنگی په خلاف دغزا د پاره یی دشاځلمو غازیانو ځوانانو راټولوله زور ورکړ.

او ورسره ورسره جنگی وسلی تیارول او راغونډول شروع کړل . مشرانو په اوازراپورته شول او دشمالی جنوبی وزیرستان په مختلفو سیمو او مرکزی ځایونو کښی ئی د غازیانو مرکزونه قایم کړل او په لویه پیمانه په انگریزانو چپاؤ کولو ته تیاری ئی شروع کړه.

بل خوا ته چه څه وخت انگریزان د غازیانو ددی قسم تیاری نه خبر شول نو ناراسی یی ونه کړله په حمله کی د غازیانو وړاندی شول دبنو او ډیره اسماعیل خان دپوځی کیمپونو نه یی فوځونه راوکښل او ددری مشهورو جرنیلانو په کمان کی یی په سنه ۱۸۸۰ کی دوزیرستان په دری مختلفو علاقو باندی د ریلوئی حملی وکړلی دا دری واړه حملی هم په هغه لار او هغه پروگرام باندی شوی وی کومی چه ددی نه وړاندی دجنرل سر نیول چیمبرلین په کمان کی شوی وی مگرناکامیا به شوی وی . داسی معلومیده چه داخل دچیمبرلین د ناکامیابی بدل اخستل غواړی داحملی په دی طریقی شوی وی .

الف. دکرنل رائینډ په کمان د بیټنی قوم په علاقه حمله .

ب.دجنرل کارډن په کمان کی دداوړ او اتمانزی وزیرو په علاقه حمله.

ج. دجنرل گار ډن اوجنرل کنیډی په کمان کی دمسیدو په علاقه حمله.

دادری واړه حملی په سنه ۱۸۸۰ کښی شوی وی .تجویز داؤ چه کرنل



ACKU

رائينډ د بيټني قوم علاقه ووهي. نو وزير واو مسيدو علاقي ته بهورمخکي شي او دجنرل کنيډي سره به يـــو ځای شي دبل خوانه جنرل ګار ډن ورنه راتاؤ شي او په دی جوړ به د مکين علاقي ته ځان ورسوی . ليکن هر کله چه کرنل رائينډ دبيټنو او احمد زو وزيرو په علاقه کښې داسې ګير شو چه خلاصي يي ګران شو او بل حوا ته په جنرل کنيډي همسخته راغله نو جنرل ګارډن چه ددرړو پـــه علاقه حمله کوله او جنګ يي شرو ع کړی ؤ لاريي بدله کړه ځان يي کنيډي ته ور ورسولو ځکه چه هغه ډيـــر بدبدګير شوی وو او په دی شان دجنرل ګارډن او جنرل کنيډي پــــه شريکه کمان کی دمسيدو په علاقه يي جنګ وروړ چه کانی ګرم قبضه کړی او ورپسې مکين ته ځان ورسوی

## دمکين غزا :

که فکر وکړای شی دسنه ۱۸۸۰ نه مخکښې که د کرنل سرنـــيو ل چيمبرلين جنرل سر جارج هزبنډ اوجنرل لمسډن په کمان کښې پـــه وزيرستان حملې وی او که په سنه ۱۸۸۰ کښې د کرنل رائينډ جنرل ګارډن جنرل کنيډي په کمان ښې حملې وی. داټولی مکين ته د ځا ن رسولو او په مکين کی د قبضې کولو د پاره وی په دی وجه مونږ په خصوصيت سره دسنه ۱۸۸۰ دغه دری وا ړ ه حملې د (مکين غزا) په نا مه يادی کړلی له بلې خوا دا دری واړه حملې د غاز يانو دطاقت د ختم کولو دپاره وی او اصلی مقصد يي دغا زيا نو هغه مرکزونه تباه کول ووچه غاز يانو په دغه نژدی ورځو کښې د جهادد انتظاماتو د پاره په حيدر خيـــل . شکتوی او مکين کښې قايم کړی وو ليکن پرنګيان په دی ناپاک مهم کی کامياب نه شول اوخر نګـــه چه دکرنل چيمبرلين مهم ناکا ميابه شوی وو دغه شان د جنرل کنيډي مهـــم ناکا ميابه شو يوزر دری سوه اودوه (۱۳۰۲) پوځيان او پوځي افسرا ن يي قتل شول. ټوپکونه کار توس او نور بيشمار پو ځی ساز اوسا مان نرينه پاتی شو او په ماتی بيرتـــه واپس شول.

دسنه ۱۸۸۰ روغ کال په جنګونو او اړی ګړی کی تيرشو د پرنګـــی چه کوم خيال ووهغه ترسره نه شو .

مالی او ځانی تاوانونه ورورسيدل او د جنګونو داسلسله ترسنه ۱۸۸۱ پوری وغزيدله .

دسنه ۱۸۸۰ اوسنه ۱۸۸۱ پـــه دی غزا ګانو کښې قومی مشرانو . عالمانو او رو حانی پيشوا يانو چه کومه تاريخی کار نا مه انجام تـــه

رسولي وه هغه داوه چه‌یو خوا ته ئې پخپله د جنګ په میدان کې توری هم وهلی اوبل خوا ته‌یې د غزا تبلیغ برکت وو چه غازیان دسر او ما ل نه تیرشوی وو او دوطن او دین اسلام حفاظت د پاره ځانونه یـــې شهیدان کړی وو او ورسره ئې د دښمن په‌سرونو هم لوبې کړی‌وی.

## دانګریزانو سیاسی حمله

هر کله چه دسنه ۱۸۸۰ اوسنه ۱۸۸۱ په دوه‌کلنی اوږده جګړه کې انګریزانو ته پـه‌هیڅ ډول هـم دوزیرستان د غازیانو برخلاف‌کامیابی حاصله نه‌شوه او هغه دپښتنو خبره‌چه د تبنتی لاره هم ځنی ورکه شوه اوبل خوا د عالمانو او قومی‌مشرانو د تبلیغ په‌وجه د غازیانو طاقت ورځ په‌ورځ زیاتیده او په‌انګریزی‌پوځونو داسی ویره راغلی وه چه دکیمپ‌نه به یې قدم نه‌شو با هرکولی نـوانګریزی پوځی افسرانو د پوځـــی حملی په ځای سیاسی حمله‌شروع کړه دا دانګریزانو داسی منلی شوی حربه اوتجربه شوی لوبه وه چه د دنیاپه اکثرو حصو کې یې‌مسلمانان پری وهلی دی او دایی غوښتل چه دوزیرستان مشران هم په دغه حربه ووهی تجویز یې دا جوړ کړ چه په‌سنه ۱۸۸۱ کې یې دپښتنو مشرانو ملکانو له دتنخواه ګانو ورکولو اودتجارتی مرا عاتـو ورکـو لـو دام وغوړولو او پـه دی شان سـره دغازیانو د قابوکولو او ددغی نه علاوه قومی خلق‌په خپل مینځ کې په‌یوبل باندی دشك من کولو او په‌یوبـل دوهلو د پار ه‌ئې کوښښونه شروع کړل.

واقعات دادی چه دانګریزانو داسیاسی حربه او حمله دقوم داتفاق اعتماد اویو والی د پاره ډیره زیاته‌خطر ناکه وه لیکن د خـدای پا ك مهربانی وه په هغـه وخت چـه دوزیرستان قومی او اولسی مشرا ن وو یا عالمان او روحانی پیشوا یان‌وو لکه مولانا ګلاب‌دین صاحب.مولانا همزالله صاحب مولانا کاکا صاحب دهغوی په‌قوم کې ډیر لوی اثر او رسوخ ،برکت اوعزت درلود داټول ایماندار عالمان او توریالی غازیا ن وو او د ملك او قوم دآزا دی په رازاو دښمن‌انګریزد فریبونوپه‌خطرناکو نتیجو هرڅه باندی ډیرښه پوهیدل.هغوی هم ناراستـه ونه کـړلـه د انګریزانو ددی سیاسی حملی د پاره‌ئې قومی تړون وکړ اولسی‌جرګی ئې جوړی کړلی د پښتنو ژبه او لو ظی‌یې‌دقام نه واخیست .ناغه کینښو دلـه شوه چه هیڅوك به دانګریزا نو نه‌بلی رشوت، انعام ،اکرام ،مراعات هیڅ شی نه اخلی اونه‌به‌یې قبلوی. عالمانو بیرغ‌راپورته‌کړدانګریزا نو په‌رشوت خوړ لوپسی وړ هغه‌چاپسی‌چه دانګریزانو ددوستی په‌تور باندی

تور شوی وو په‌هغوی پسی یـــی‌راوا خیستله قومی خلق ولگید ل‌چه خوک‌د پرنگی تنخواه خواره شوی ووهغه ئی دکور کلی نه وویستل مړی ژوندی یی ورسره پریښووده خبری‌اتری یی‌ورسره‌بندی‌کړلی اوعالمانو بی‌جنازه کول پریښودل‌دجماتو نونه‌ئی ایسار کړل نتیجه یی داشوه چه کوم‌خوک‌دخپلی بی ننگی پـه وجه دپرنگی تنخواه او ا نعام اخیستلو ته تیار شوی وو هغوی هم دا ولســـتړی ته‌ټینگ نه‌شول اود پرنگی نه په شاشول توبه‌یی وکښله اوپه دی‌شان دانگریزانو افسرانو داسیا سی حمله ناکا مه شوه .

## مولانا گلاب دین شهید :

دسنه ۱۸۸۰ ـاو سنه ۱۸۸۱ دغزا همه واقعه داوه چه‌په دی غزا کی مولانا گلاب‌دین شهید شو ی‌و. غازی مولانا گلاب دین چه په‌عامو خلکو کی په (وزیرو ملاصاحب) نامه‌زیات مشهور دی او اصلی نو م ئی دیرو کمو خلکو ته معلوم دی په‌قام‌باندی سرکی خیل احمدزی وزیر و او ټول عمرئی‌په‌غزاگانو کی تیـــر شوی‌دی.

هرکله چه په سنه ۱۸۶۰ کښی‌دکرنل سرنیول چیمبر لین په کمان کښی انگریزی پوځونه روان شو ل‌چه دبنو نه د میرعلی اوخیسور په لاره د شمالی وزیرستان علاقی ته‌دننه‌شی اوددو ړو اووزیر وعلاقه تباه کړی. نو غازی مولانا گلاب د یـن‌المعروف وزیرو ملاصاحب چه په‌دغه زمانه په‌بنو کی اوسیده لوی عا لم‌و.داولس د قومی اوروحانی رهنمایی کولو توفیق خدای ورکړی و په‌دین‌اسلام ملـك او قـــوم مـــین و د د وطن په ننگ د سر او مال نه‌تیر و هر کله چه په‌سنه ۱۸۶۰ کښی انگریزا نو د شمالی وزیر ستان ددوړو قوم دعلاقی دنیولـــو دپـا ره اقدا مات شروع کړل نو د انگریزانو ددغه نا پاکه اقدا ماتو د ناکامیا به کولو دپاره مولا نا گلاب دین دبنونه‌کله وکړه اود شمالی وزیر ستا ن دتوچی د در یاب په غاړه د کجوری‌په علاقه کښی حیدد خیل نومی کلی ته را غی او دا مقام‌ئی دجهاد دتیاری‌دپاره مرکز وگر ځولو .

موالا نا گلاب دین وزیر او لنـی‌مجاهد دی چه د انگریزا نو د منظم او وسله بند پو ځو نو د مقابلی دپاره د (وسلی جوړ ولو) دیوی کار خانی قایم کولو انتظام او تد بیر ئی کړی وو چه په هغی کښی ټو پکونه نمانچی ، توری ، چړی ، پیش قبضی برچی او دا رو مړدکی اووړو توپونو



ACKU

جوړ ولو بنائی کړی وه او هر کله چه ښه پوره وسله هم تیار شوه او
او دقومی او اولسی غاز یانو مضبوطه ډله هم جوړه شوه او اولسی تنظیم
برابر شو نو دانگریزانو په خلاف دمنظمو غزاگانو سلسله شروع شوه
او ددی تیاری برکت و چه هر کله کرنل سر نیول چیمبر لین او وروسی
جنرال گارډن ددوړو په علاقه کومی حملی کړی وی هغه ناکام پاتی شوی
وی .

مولانا گلاب الدین د سنه ۱۸۶۰ نه تر سنه ۱۸۸۰ پوری د اسلام د
دین د سر لوړی او دپر نگی دقبضی نه د پښتنو مسلمانانو دخوږ وطن
د بچ کولو دپاره شپه او ورځ پـــه غزاگانو بوخت ؤ او په آخر کښی
چه هر کله په سنه ۱۸۸۰ ـ ۱۸۸۱ ع کلو کښی دوزیرو مسیدو .دوړو
په علاقو د جنرال گاردن او جنـــرال کنیډی په کمان کښی انگـــر یـــزی
پوځونو کومه حمله کړی وه په هغی کښی شهید شو . د اسلامی لښکر
غازیانو دده لاش پـــه قبر کښی امانت کیښوده او بیا چه کله جنگ
ختم شو او څه لږه ډیره قراری شوه نو دیارلس میاشتی وروسته ئی د
شپی په تیاره کښی د بنو علاقی ته وړی او هلته ئی ښخ کړ او اوس ئـــی
هډ یری ته لوی او واړه شپه او ورځ روان دی . په غزاگانو کښی چه د
وزیرو ملا صاحب مولا نـــا همزالله صاحب وزیر او کاکا صاحب پـــه
مشری شوی دی په هغی کښی چه دانگریزانو کوم پوځ تباه شوی د ی
د هغی اندازه لگول گران کار دی یواځی د سنه ۱۸۸۰ او سنه ۱۸۸۱
په دی غزا کښی د وزیرو ملا صاحب په مشری کښی چه کوم جنگونـــه
شوی وو په هغی کښی دغازیانو دطرف نه دوه سوه اوه نوی غازیان
شهیدان شوی وو او دانگریزانـــو دپوځ نه ئی یوولس سوه نهه اتیـــا
افسران وژلی وو . ددغی نه علاوه یوځیان او شپږ ویشت تنه انگریزان
په دی غزاگانو کښی د پرنگیانـــو ظالمانو د لاس نه دپښتنو نهه سوه
دری نوی ودان او آباد کورونـــه نړیدلی او وران شوی وو .

## غازی مولانا همزالله وزیر :

د مولانا (گلاب الدین صاحب) دشهیدکیدلو نه وروسته په وزیرستان
کښی چه کوم مشر روحانی پیشوا او عالم پاتی شو د هغه نوم مو لا نـــا
همزالله خان ؤ چه دوا نـــه سره دشپږ میله په فاصله د شگی نومی
کلی او سیدونکی ؤ او پـــه قام (احمدزی وزیرو) عالم سړی دکرامت
خاوند او لوی مجاهد هم ؤ دهندوستان سفر ئی کړی و په لکنهو کښی د

مولانا عبد الحی لکنهوی پرنګی‌محلی سره پاتی شو د افغانستان عالمانو به ئی ډیر قدر کولو ډیر خوش خط هم ؤ او لویه خبره دا چه د مشهور مجاهد ملا پیونده تربیت کوونکی دی.

ملا پیونده دده نه دینی کتابونه لوستلی وو او دده ی خپل نومیالی استاذ په ملګرتیا کښی ئی دجهاد عملی تربیت حاصل کړی ؤ . دمولا نا ګلاب الدین نه وروسته دغازیانو رهنمائی ده کوله . مولا نا اتکړ او کاکا صاحب ئی ملګری وو .

## مولانا اتکړ یامولانا ارکړ:

حضرت شیخ المشایخ (مولا نا اتکړ) چه په (مولا نا ارکړ) نامه هم مشهور وپه‌قام (دومشت) سید ؤدتیرا (اورکزای) اوسیدونکی ؤد سواد د باباجی صاحب (مشر خلیفه او ماذون و اصلی نوم ئی معلوم نه دی زیارت ئی اوس د داوړ قبیلی په علاقه (شمالی وزیرستان) کښی د نوچی د سیند په لنډه نومی ځای کښی دی . مولانا ارکړ په سنه ۱۸۷۸ کښی د بنو او د ټل په مینځ لاره کی دپرانګیانو په لښکر یرغل وکړ او انګریزی پوځونو ته ئی ډیرزیات تاوان ورورسولی اوپه مقابله کښی یوځو ننګیالی غازیان هم‌شهیدان شول

ددغی نه وروسته د مولا نا ارکړ په مشری کښی په کال ۱۸۸۹ کښی د وزیرو اومسیدو اوداوړو دری واړه قبیلو تخمیناً دوه سوه کسان غازیان را ټول شول او د ټل نه په اته میله فاصله باندی په سپری نومی کلی کښی پر انګریزانو باندی یی حمله وکړه په کیمپ ور ننوتل لاس په لاس جنګ وشو او د انګریزی پوځ اوه شپیته پوځیان ئی قتل کړل .

په سپری باندی انګریزانو په سنه ۱۸۵۱ کښی قبضه کړی وه . او د سنه ۱۸۸۹ نه مخکښی په تیروشوو (۳۷) اوه‌دیرش کلونو کښی داسی ورځ نه وه تیره شوی چه غازیانو پری حملی نه وی کړی ، مولانا ارکړ د وزیرستان په هغه نومیالو غازیانو کښی یو لوی ننګیالی غازی و چه ټول عمر ئی په غزا ګانو کښی تیر شوی او په آخر کښی د شهادت درجه موند لی ده .



ACKU

## گلستان شهید :

د وزیرو ملا صاحب د شهادت نه وروسته په سنه ۱۸۹۲ کښې چه د برتانیې دملکې وکټورییه دپادشاهۍ شپې او ورځې وې . دپرنګې لښکر ئې د جرنیل سرلا لهارت په کمانډ کښې د ټوچي په سیمه ور وختې او دغه خاورهٔ ئې ونیوله دوزیرو مسیدو ننګیالو پښتنو د خپل خوږ وطن په ننګ میدان ته ودانګل او دا سې جنګونه ئې وکړل چه په تاریخ کښې ئې مثال نشي پیدا کیدلې په دې جنګونو کښې داځل وزیرو اومسودو غازیانو داسې تاؤ اخیستی وو چه د مقابلې د امکان او نه امکان او دلږ او ډیر یا زړور تیا اوکمزور تیا خیال ئې هډو په فکر کښې نه راتللو او چه تنها یو پښتون به د پرنګی په لوی لښکر را ووخت نو دا به ئې نه کتل چه زه یو کس یم بلکه په دشمن به ئې لاس پورې کاوه چه وروسته به هر څه پیښ شول یعنې هریو غازي داسې د خپل سرو نونه دانګلې وو چه د پرنګې د پوځ دلوی نه لوی طاقت ورته هډو څه څیز نه ښکاره کیده او داځکه چه دانګریزانو دبې دریغه ظلمو نو د لاسه د وزیر ستان پښتانه ډیر زیات دردیدلي وو هره ورځ جنګ هره ورځ جنګ د انګریزانو د پوځو نو دتباه کارۍ هډو څه سرنه وو او هغه دغه وجه وه چه د هر یو پښتون مثال لکه دزخمي زمری په شان وو .

په دغه شان حالا تو کښې غازي او ننګیالي ګلستان خان چه په قام دوړؤ اود بړ و خیلو دکلي او سیدو نکې و ، د سو خیل کلي سره نژدې په لاره کښې ئې دپرنګیانو په یوه قافله حمله وکړله مستر کیشنړ نو مې انګریز پو لیټکل ایجنټ ئې د توری په یو ګذار دوه ټوټې کړ . د پرنګی سره چه ګوم ملګرې پوځیان وو هغه دګلستان خان غازي نه را تاو شول شهید ئې کړ دغازي ګلستان خان بها درې داوه چه په یوازې سر په رڼا ورځ د پوځ په مینځ کښې دوان پولیټیکل افسر ته ئې ځان ور رسولی وو او دتورې په یو ګوزار ئې وژلې ؤ .

## شیر علي خان مسید:

په سنه ۱۸۹۲ کښې د شکتوی عزا ، په ټوچي د انګریزانو قبضه :

هر کله چه انګریزانو په وادې ټوچي قبضه وکړه نو وزیرو او مسیدو دچا رچا پیره نه دانګریزا نو په کیمپو نو باندې چپا ونه او غلې شروع کړلې . دغدې او شبخو نوهلو دپاره چه کوم غاز یان میدان

ورا وتلی وو، هغوی دغزا ددیمهم دپاره وزیر واو مسید دو پو فو مو نو دعلاقو پهمنځ کښی شکموی نومی مقام خپل مرکز نیولی وو . او د هغه ځای نه به ئی دانګریزا نو پهخواو شا کیمپونو حملی کولی .

په سنه ۱۸۹۲ کښی پر ننګیا سوددغه ځای دنیو لودپاره دګرنل ټونك نومی فرنګی پهمشری ئییو مضبوطپوځدحملیدپاره ولیږه پښتنوغازیانو هم ددی پوځ د مقابلی د پاره چهخومره ئی وس کیدلی شو خپل دړو مړ دکی تیاد کړل یوځوا دانګریزا ومنظم پوځ . اعلی وسله او توپخانه وه ، او بل خواته د غاز یانو کمه او نیمګړی وسله وه لیکن دایمان جوش ور سره وو . چه څه وخت دواړ ه لښکری مخامخ شولی لاس په لاس اوسینه پهسینه جنګ وښت ټوداسی ځوانمردی و ښودلی شو ی چه د دواړو خوانه په یو بل آفرینوویلی شو، جنګ داسی تود وو .

چه د قیامت علامه وه غازی شیر علیخان چهپه قام شابی خیل مسعودوو په فقیر شیر علی خان نامه مشهوروو . هغه ټونګ فرنګی ته ځان ور ورساوه او د توری په یو ګوزار ئیدوه ټوټی کړ پسی خونړی جنګ وشو اوپه هغه کښی غازی شیر علیخان او ور سره (۲۵۷) تنه نور ننګیالی پښتانه وزیر اومسید غازیان هم شهیدان شول . اوپه مقابله کښی بل طرف ته دانګریزانو د پوځ نه(۱۲۳۵) پوځیان او(۹) تنه انګریزان پوځی افسران چه لوی لوی پوځیعهده داران وو ووژلی شول اوددغی علاقی (۲۳٦) کورو نه د فرنګیدپوځو نو له خوا وران اوبرباد شول د فرنګی دا پوځی مهم نا کامیابه شوشکست ئی وخوړ او د شکتوی په قبضه کولو کښی کامیاب نه شو .

## دوانه غزا :

مخکښی دا ذکر شوی دی چه دوزیر ستان ننګیالو او توریالو پښتنو غاز یانو د انګر یز د مقا بلی دپاره بافاعده مرکز و نه جوړ کړی وو . د هغه ځایو نو به ئی په انګر یزی پوځو نو یر غلو نه کول .

دانګر یزانو د غاز یانو تر منځ ددښمنی بنیاد کیښود لی شوی او د لاس د بری کار وو .نهانګریز انو نا راسته کوله او نه غاز یانو د انګریزا نو طریقه داوه چه یوه لو یهحملهبهئی وکړه نو بیا بی ئیځه ورځی صبر وکړ لوچه ځان بهئیبرابر کړ . نو بیا به ئی لښکر کشی وکړه اودغا زیانو طریقه داوه چهوخت بی وخته به ئی نه کتلو همیشه به ئی دفرنګی کیمپو نه ډزهول حملی به ئی پری کولی په دغه وړو وړو

حملو کبنی به ئی دانگر یزا نو دجانی نقصان نه علاوه دو مره د.رو مړدکی او وسله هم دانگر یـزا نـوپوخونه وا خیستله چه‌بیا کله بـــه انگریزا نو لویه حمله کوله . نـــوغا زیانو به هم هغه د انگریزی پوځ نه اخیستی وسله د انگریزی پوځ بر خلاف استعما لو له .

چنا نچه هر کله پرنگی دپښتنوغاز یانو د ډیرو حملو او یر غلو نو نه‌تنگ شونو په‌سنه ۱۳۱۲ مطا بق سنه ۱۸۹۲ کبنی ئی په ۱۱ تاریخ د ر بیع الثانی چه دگل (دو شنبه) ورځ وه د اکتو بـر د میاشتی ۱۳ تاریخ وو . د جنرال ټر نر په کمان کبنی د انگر یزا نو پـوځ د ډیـره اسما عیل خان نه روان شو چه په‌وا نــــه حـــمـله و کـــړ ی

ـ حمله ئی وکړ ه‌او ددغه اکتوبر د میاشتی په‌پنځوشتم ئی په وا نـه کی کیمپ ولگاوه بیتنو دوړ ووزیرواو مسـید و غـا زیـا ن د جنـا ب مولانا همز ا لله خان وزیر جنا ب کاکا صاحب وزیر . جناب‌مـلاپیونده مسود . او جناب قاضی حا جـــی‌محمد په مشری کی د جها دپه‌شوق او مینه په ډیره خوشحالی د غزا د پاره د پرنگی‌ه قابلی ته تیارشول دری ذری غازیان برابر شول . اوســهـار و خـــتـی د ســهـــا ر دنما نځه ادا کولونه سمـد ستـی‌دوانـه په‌کیمپ باندی ورپریو تل . غاز یان او د پرنگی‌پوځونه‌گهوډشول‌سیـنـه پـه سنـه ور غـلل پښتنو ځلموپه دوه‌لاس‌توری‌و هلی دښمن‌یی‌په‌چړو اوپیش قبضو وسیخـا وه . ددښمن دوینو رودونه ئی وبهول او د وانه زمکه یی‌پخپلو سرو ویتر هم لاله زار کړه د مرگ او ژوبلی‌په لحاظ دوانه غزا یوه ډیره‌د ر نه او لویه غزا وه په دی کی خلور سوه‌یواو یا وزیر مسید شهیدان شوی وو. اوبی شمیره زخمیان شوی هـم‌وو. اوددښمن انگریز پوځ نه یـــو زراوه سوه دری شپیتــه پوځیـــان(۱۷٦۳) قـــتـل شو ی وو او دد ی شپیته پکبنی پوځی افسران چه په‌قام انگر یزان وو هـغه هـم قتـل شوی او د جانی نقصان نـه‌علاوه‌د.نگریز زانو بی شمیر ه‌پوځـی ساز اوسامان غازیانو ته‌په لاس ورغـلی‌وو .

## کاکا صاحب شهید :

دوانه په‌دی‌غزاکبنی‌چه‌کوم غازیان‌زخمی شوی ووپه د غه غازیـانو کی یـو نا مور غازی جناب کاکا صا حب‌انما نزی وزیر هـم وو جناب کاکـا صاحب دوزیر ستان دعـلاقی مشهورروحانی شخصیت وو په قام بانـدی ولی خیل .ا تما نزی وزیر وو ټو لژوند ئی دانگریزانو په خلاف‌په‌غزا کی تیر شوی ؤ.



ACKU

ملاګلاب الدین المعروف پـه‌وزیر وملاصاحب مولانا ناهمزا لله صاحب وزیر ملنګری غازی وو.

دکومی ورځی نه چه‌دانګریزانـــوپوځونه دوانه په طرف را خو زیدلی وو او غا زیانو پری باندی د ډیر ه‌اسماعیل خان اووا نه تر منځه‌کومی حملی کولی په هغه ټولو کی جنا ب‌مولانا کاکا صاحب موجو د وو اوبیا چه کله غاز یانو په وانه کیمپ‌حمله ګوله . د حملی ترورځی پوری اوه شپی او ورځی یی بهرتیری کړ ی‌وی او ډیرغل غدی اوغزادمنهوترړ و او جنګ نه ورستو چه په ا تمه‌ورځ کور ته راغی نو ټول بدن ئی پر هر پړ هر اوسوری سوری وو. یو څوورځی ژوندی پاتی شو او بیا هـم ددعه زخمونو د لاسه په جمادی‌الاول‌سنه ۱۳۱۲همطابق‌سنه ۱۸٤۹ کی شهید شو .

د کاکا صاحب قبر د پرنګیانـوپه زمانی کی پټ ساتلی‌شوی وو . چه هسی نه پرنګیان خبر شی‌دهغوی قبر وسپړی اوبی عزتی ئی‌وکړی .

د کاکا صاحب‌شهید مزارمبارک‌د بنو په علاقه کی دتوچی‌سیندپه جنوبی غاړه په ورغړ نو می ځـا ی‌کی‌دی‌اوددغه علاقی‌نارینه اوزنا نـه واړه او لوی یی زیارت او سلام له‌راځی . ددی‌لوی غزا نه وروستو د مولانا همز ا لله خان وزیر مولا نافاضی حاجی محمد او ملا پیونده په مشری‌کی غا زیانو خپل مرکز شګی‌بومی کلی‌مقررکړ .د لته دایادلرل پکار دی چه مولانا همز ا لله خا ن‌ددغه شګی کلی‌اوسیدونکی‌وو.داکلی دوانه نه تقریبا دشپږ میله په فاصله باندی دی یعنی دوانه‌کیمپ‌ته‌نژدی دی مطلب داچه غازیانو دامرکز هم‌د مـولانا همزا لله خان وزیر پـــه نګرانی او مشری کی‌هم‌دهغه په‌کلی‌کی جوړ شوی وو. او هم د هغه په مشری کی به ددی مرکزنه غا زیانوشپه او ورځ‌دانګریزانو په‌پوځی‌مرکز وانه حملی کولی بله داچه ملاپیونده‌د مولانا همز الله خان شا ګرد و ا و د خپـل نامور غازی استاد په کمان‌کی ئی غزا ګانی کولی .

## دمکین دریمه غزا :

پرنګیانو چه هر څومره عمر په‌دی‌ملك کی تیر شوی دی هغوی‌دپښتنو دګوریلا جنګ یعنی غیرمنظم جنګ نه‌تنګ‌وځکه‌چه‌ددی‌به‌وخته‌نه‌ومعلوم چه‌غازیان به‌کله حمله کوی اود کوم‌طرف نه به ئی کوی مخکی مونږه د سر جارج ینګ هنربنډ یوبیان نقل‌کړی‌دی‌هغه‌غریب‌هم‌دا ژړا کړی ده چه دغازیانوبه هیڅ‌پته‌نه‌وه اونه‌به‌یی‌ښکالووه نه‌به کش‌و نه‌به کړپ‌نه به

په کنده کي ښکاريده نه به په غر ه کي نه‌په اواره اونه په ژوره کي د انګريزانو مخبران او جا سو سا ن به‌هم ترينه خبرنه واو ناڅا په به غا زيان را پيداش سول‌حيرانتيا به داوه چه چيرته دآسمان نه‌راو ريدل‌او ګه‌دزمکي نه‌را وتل اويو ناڅاپه به‌ئي دانګريزانو په‌پوځ يرغل او چپاو وکړ.

دديو انګريز پوځي افسر الفا ظاو تا ثرات دي چه په سنه ۱۸٦۰کي يي دوزيرستان ديو جنګ‌دحا لا تـو ليکلو په ضمن کي بيان کړي‌دي.

دانګريزانو د ماتي او نا کا مي‌اصلي سبب‌اوعلت‌هم‌دغه‌غير منظـم (ګوريلا) جنګونه و.

هر کله چه د مولانا همز ا لله‌خان‌په مشري کي هم‌دغه‌کلي شکي د غازيانو مرکز او دوانه د مشهو رميداني جنګ او غزا نه وروستـه غاز يان به د خپل‌مرکزشګي‌ته‌راتلل‌او د پيرنګي په لښکر وشپه او ورځ يوه کړي وه‌که سحر به وکه غر مه‌که‌شپه به‌وه که‌ورځ وختي وخت ته ئي نه کتل او د پرنګي په لښکر به‌ئي خپل ا يمان تازه کولو. نو دد ي بلاد ځان خلاصو لو د پاره تيا ري‌ئي‌و کړچه دمسيدو زيري قوم علاقه ټوله قبضه کړي او په‌دغه خيال په‌مکين باندي په‌دريم ځـل حملـي کولو ته‌تيار شول داځل انګر يزانوپوځ دجرنيل ويليم نو کهات‌په کمان کي‌په دري مختلفو محاذونو باند ي‌دحملي دپاره روان شو.

(الف) د وانه د کيمپ نه د(تيازري)او(شراونګي) په‌لار باندي (کا نـي ګرم) ته .

(ب) د جنډوله کيمپ نه‌د ساړه‌راغه او (مروبي) په‌لار باندي(ميکن) ته .

(ج) اود بنو کيمپ نه د(شکتوي)او ( خيسور )په لار باندي (رزمك) نه .

په ۲۱ تاريخ ددسمبر سنه ۱۸٤۹روان شو د پوځ تعداد زيات‌ووجنګي سازو سا مان ئي د پخوا نو پوځـي‌حملو‌نه‌ډيرؤ يووخت‌په‌دري‌مختلفولاري حمله وه د غا زيانوتعداد دو مره نه‌وپه‌يووخت به‌ئي په‌دري مختلفو لارو حمله کونکي پوځونو کا ميابه مقابله‌کړي وی نتيجه ئي دا شو ه چـه انګريزي پوځونه مخ په ور ا ندي‌لاړل په لاره کي‌چه هرڅومره کورونه او کلي مخ ته ورتلل هغه‌ئي‌ورانو ل‌اوپه اورئي سيزل اوپـه دي شا ن دري واړه پوځونه خپل منزل تـه‌يعني کاني ګرم مکين او رزمك تـه ورسيدل په‌منځ لاره‌کي‌کوم پوځ چه‌دجنډو له کيمپ نه‌په حمله مکيـن



ACKU

ته روان و دغه پوځ د مروبی په کلی کی دجنا ب مولانا محی ا لدین قادری المعروف په ملاپیونده کور سیز لی ودانگریزانو پوځونه په رسید لوخو دغه دری واړه مرکزی مقا مونو ته ورسیده لیکن دغازیانو دغیر منظم جنگ اوير غلونونه دومره تنگ شوچه آ خر په ماتی بیرته راغی .
په دی دربمه غزا اوخونړی جنگ کی د مسلما نانو د طرف نه څلو ر سوه پنځه دیرش غا زیا ن شهيدا نشول او دانگریزانو د طرف نه یو زر اوه اتیا کسان پوځیان اوشپاړس تنه فرنگیان افسران قتل شوی وو لدی نه علاوه دا نگریزی پوځ نه چه کوم مال غنیمت وسله جنگی سامان او درسد او خوراك ځیزونه غازیانو ته په لاس ورغلی وو دهغی دحد او حساب اندازه لگیدل گران دی .

## دميزرغزا :

انگـريـزانـو دكـال ١٨٩٤ نـه وروستو په کال ١٨٩٥ کی په وز یـر ستان چترال ملکنړ باندی جنگو نه وکـړل په سنه ١٨٩٦ کی ئـی پـه باجوړ جنگ ور وړی و او په کال ١٨٩٧ کی فرنگیانو د قبایلی علاقو د غا زیانو په خلاف په لویه پیمانـه پوځ کشی کړی وه.
هم دا یو کال سنه ١٨٩٧ وچه په دی کال یی په مالاکنړ اوباجوړ باندی په مهمندو باندی په بونیر باندی. په افرید و باندی په ورکزو باندی .په ځکمنی قبیله او په وزیرستا ن باندی په اته مختلفو علاقو دقبائلو بانـدی وړاندی وروستو جنگونه او حملی وکړی دلته مونږ دکال ١٨٩٧ د هغه جنگ ذکر کول غواړو چه انگریزانود مده خیلو وزیرو په علاقه زور ور وړی وو اومونـږ ئـی د(مـيزرغزا) په نا مه یا دو .
دا وا قعه داسی پیښه شوی و ه چه هرکله په سنه ١٨٩٢ کی انگریزانو دشمالی وزیرستان اکثر حصی قبضه او ددوړ قبیلی د میران شاه نو می سره نژ دی ئی ( د میران شاه کیمپ) په نوم پوځی قلعه جوړ کړه او بیا د میرا نشاه نه وړاندی د وزیرستان دعلاقی په برید د (دته خیل) قلا هـم جوړه کړه نو انگریزانو خپل مخبررام سنگ مشهور په وند ه په نیرنـی نومی کلی کی د ملك سا دی خا ن سره دیره کړ چه فرنگیان د غازیانو د حال نه هم خبر ساتی جاسوسی هم کوی او غا زیان چه په پوځی کیمپونو دحملی په وخت کـوم کـوټ تالا ن کړی چه دلوټ او تالان دمـال پته هم لگوی دا ښکاره خبره ده چه دانگریزانو ددغه جاسوس استوگـــنه



AQKU

غا زیانو برداشت کولی نه شوه یومده خیل وزیر چه وارث خان نوم‌ئی وراپورته شه او دغه جاسوس ئی‌مړ پرنگیانو خو بهانه غوښتله د خپل مخبر مرګ یی بهانه کړ دوزیر ومسیدو اودوړو نه‌ئی دولس سوه روپی کلداری جرمانه‌وغوښتله‌غازیانوونه منله اوپه نتیجه کی‌ئی په ورځ د هفتی ۱۸ د محرم سنه‌۱۳۱۵مطابق۲۰حوت ۱۸۹۷ دلفټننټ کرنل بایی په‌کمان کی‌دمیزر په‌زمکه لښکر وروواچا وه انگریزانو پوځ ددته خیلو نه پټ په‌پټه روان دمیزر قبضه‌کولو تدبیر ئی وکړ

بل خواته ا تفاق داوچه دمیزر دعلاقی مشران مشران سړی لکه پایل خان سیل خان خدری خان .یټخا ن‌ابر ا هیم خان . سا دی خان ټول د گودونو نه بهروو صلاح ئی وکړه‌یویو وار په په‌وار د پرنگیانو لښکر ته ورګله شول دسوال ځواب اوخبر واترو په‌بهانه ئی ځانو نه د انگریزی پوځ مشرافسرته‌وروړسول‌نا خاپه حمله ئی پری وکړه په‌توره ئی ووا هه او د اولنی گوزاره سره‌بیا د ا نگریزافسر تنه‌یو ځای او سر ئی بل ځای پروت‌و .

بل خوا ته په کلی او اولس کښی‌د فرنگی د پوځ د حملی چغه خوره شوه دخواوشا نارینه اوښځینه‌وسلی ته لاس کړچاتوره چا تو پك چاچړه، چاکونك هرخه چه‌په لاس‌ورتلل هغه‌ئی‌راواخیستل.دانگریزانو په‌پوځ لکه د زمر وپه شان ورخوشی‌شول غیږ په غیږ او لاس په لاس هغه تاریخی جنگ وشو چه دفرنگی دپوځ نه (۹۵۷) پوځیان اواوه کسه پرنگیان افسران و وژلی‌شول د جنگ او رسد سا مان ئی غاز یانو تا لا کړ او د مسلما نانو له‌طرفه نه پکښی( ۵۳) ننگیالی نارینه او ښځینه غازیان او غازیانی شهیدان‌شول .

## دمیزر دویمه غزا

د میز ر په جنگ کښی چه دانگر یزا نو ډیر بد ر نگه شکست وموندنو دهغی دبدل اخیستلو دپاره‌ئی یوځل بیا په میزر حمله وکړله بیا سخته جگړه وشوه د دواړوخوانه مړی وشول لیکن خدای پا ك پښتنو مسلما نانو له بری ور کړ اود انگریزا نو پو ځو نه په ما تی وا پس شول.

## دمیزر دریمه‌غزا

هر کله چه انگریزا نو د میزر په‌مقام دوه ځله شکست وخوړ نوخپل لښکر ئې دومره مضبوط کړ چه‌څو مره ئې وس رسیده او د مده خیلو وزیرو په علاقه باندې ئې پـه‌لویه پیمانه حمله وکړ له ډیر زیات ورانی نی و کړ داو لس ئـی‌ډیـرزیات تاوانو نه‌وکړل په دی ځـل جنګ کښی‌په شماره (۷۸۹) کورونه‌ئی وران کړل اوپه اورئـی وسیز ل بل خوا ته د میزر د علاقې مد ه‌خیل وزیر دواړو جنګو نو زړلی وو دارو مړ دکی او وسله ور سره کمه‌وه بله دا چه ناڅاپی حمله‌وه دوزیرو مسیدو نو رقبا یلی امداد نــه وورا رسیدلی په دی وجه د غاز یانو له طرفه مړی هم ډیر وشـول (۳۷۵)غاز یان شهیدان شول . مګر سره ددعی د انګریزا نو (۸۵۳) پوځیان و پنځه تنه انګر یزان افسران ئـی قتل کړل . په دی جنګ کښی غازی‌ملك ساد خان د انګر یزانو په خلاف ډیر په بها دری جنګید لی وو پـه‌دعه جرم انګریزا نو ډیره موده پـه شیخ الدین او پنځی کښی بند یوان‌ساتلی وو .

دسنه ۱۸٤٦) نه چه د انګر یزانوپه خلاف د غزا ګانو کوم دور شروع شوی وو تر سنه ۱۹۰۰ پوری دغی‌ته مونږ او لنی دورو ا یو پــه دی منځنی ٥٤ کالو کښی چه کو مـی‌غزا ګانی شوی دی د هغی بیان مونږ د سنه ۱۸۹۷ د میزر غزا په بیان باندی ختم کړ په‌دی منځ کښی نوری هم ډیری غزا ګانی شوی دی چه دهغی پوره پوره بیان زمونږ پـه دی ور کوټی کتاب کښی ځای کیدی نه‌شی .

## دوهمه برخه

دغزا ګانو د دوهم دور ابتدا دسنه ۱۹۰۰ نه کیږی د شلمی صدی او لنی جګړه او (او لنی غزا) هغه‌وه چه کله د انګریزا نو پو ځو نـه د جنرل ډیننګ په کمان کښی دوزرو مسید و په علاقـه د جنوبـی وزیر ستان په سیمه حمله کړی وه‌دا حمله په سنه ۱۹۰۰ کښی شوی‌وه او د دواړو طرفو نه بی حده جا نی‌او مالی نقصا نو نه پکښی شوی ؤ .

د دی نه وروسته په سنه ۱۹۰۱ـ۱۹۰۲ کښی دویمه لویه غزا هغه وه چه دانګریزانو پو ځو نودمجر ایجرټن په کمان کښی د در و یش خیلو وزیرو په علاقه حمله کړی وه . اوپه دی کښی هم د دواړو طرفو ډیر زیات جانی او مالی نقصا نونه شوی‌وو

مخکښي دا ذکر شوي دي چه دمولا نا گلاب الدين المعروف پــه وزيرو ملا صاحب د شپاه دت سنــه ۱۸۸۱ نه وروسته د وزير ستان پــه سيمه د غزا ګانو رهنما ئــي دوهمشهور رو حاني شخصيتونو کو له چــه ديونوم مولانا هــز الله خــان وزير او دبل نوم مولا نا محيالدين قادري المعروف په (ملا پيونده) وو.

## ملا پيو نده

د مو لا نا پيو نده اصلي نــوم محی الدين وو په قام شابی خيـل مسيد وو دمروبي کلي او سيدونکي دي

د دسمبر په مياشت کښي او په کال ۱۸۹٤ کښي چه د انګر يزا نو پو ځو نو د جنرل ويليم لوکهارټ په کمان کښي د جنډو له کيمپ نه کومه حمله شروع کړي وه په هغې کښي د ملا پيونده کلي مروبي پــه خاص طور سره وران کړی شو ی او سيزلي شوی وو .

مولا نا محی الدين په قادر يــه طريقه کښي دکربوغه شريف دباباجي صاحب مريــد او مــاذون وو او دکربوغې ملاصاحب دسوات دبابا جي صاحب مريد و څرنګه چه د صوا ت باباجي صاحب مو لا نا شيخ حافظ اخوند عبد الغفور په خپله په سنه۱۸٦۳ کښي د علاقه چمله او بو نير د سر کاوي په غزا کښي د جنرالسر نيول چيمبر لين په کمان کښي جنګيدو نو انګريزي پو ځو نو مقابله کړي وه دغه شا ند هغه ګڼ بيشماره مريدان هم د جهاد د ميدان توريا لي غاز يان وو او د قبايلي علاقو په بيله بيله سيمه کښي دانګر يزانو پــه خلاف ئي جهاد ونه کول . لکــه د باجوړ په علاقه کښي د تبــی جــان صاحب دبابړی ملا صاحب د مومندو په علاقه کښي ملا خليل د مــړخنيملا صاحب ، د هډې ملا صا حب او ورپسي د هغه نامور مريد د ترنګزوحاجي صاحب دتيرا پهعلاقــه کښي دما موزی د علاقې مولا نا ولي اللهصاحب (چه دکربو غی صاحب مريد وو) او د وزير ستان په علاقه کښي بادي فقير او مولا نا ګلاب الدين ، مولا نا همزا لله خان چه دادری واړهدصوات دباباجي صاحب مريدان وو او مو لانا محی الدين المعروف پــهملاپيونده چه د مو لا نا همز الله خان شاګرد وو او د کر بوغی د بابا جيصاحب مريد وو دقادر يه طريقي دا لول بزر ګان او رو حاني پيشوا يانډير لوی نامور غاز يان تير شوی دي او په وروستني دور کښي د شلمیصدی کومی غزا ګانی چه په ټو لــو

قبایلي علاقو کښي په خصو صیت سره د اولني لوی جنګ سنه ۱۹۱٤ نه وروسته شویدي په هغه کښي دصوات صاحب دمریدا نوپه خاوندان کښي دوه مشهور بزرګان په کلکه دجهاد په میدان کښي ولاړ وو .
(الف) یو د با جوړ مومند اوچیبر.و نورو قبایلي علاقو په محاذ حضرت حاجي صاحب سید فضل وا حد ـ المعروف په حاجي صاحب ترنګزائی.
(ب) او دوهم د ګو ر مـی اووزیر ستان په علاقو کښي حضرت مولا نا محی الدین المعروف پیوندملا صاحب لکه چه مخکښي ور تـه اشاره شویده د جهاد په میدان کښیدملا پیونده تر بیت مولا نا همز الله خان وزیر کړی وو . تر څو پوری ئی‌چه دا نا مور استاذ ژوندی و د هغه په ملګر تیا کښي ئی جهادو کولو اوچه کله هغه شهید شو نو بیا ئی د وزیر ستان په‌محاذد انګریزانو مقابله‌په‌یواځي سرګونه او په دی دوهم دور کښي د جنوبي وزیر ستان اکثر غزا ګانی هم د دوی په مشری ا و رهنما یي کښــي شــوی دی اوانګریزا نو که هر څو مره کوششونه وکړل پیونده ملا صاحب که ئــی‌شکست ور نه کړلي شو ، د پیونده ملا صاحب د جهاد کار نامی دومره‌ریاتي او دومره شا نداری دی چـه هغه خان له روغ باب دی .

## ملاحاجی محمد

د وزیر ستان د غزا ګناو په دویم‌دور کښي چه د سنه ۱۹۰۰ نه شروع شوی وو دمو لا نا همزالله خان په‌کلي شکی او قام احمد زی وزیر کښي یو بل نو میالي غازی ملا حاجي محمدصا حب تیر شوی دی . د پلار نوم ئی شاه مال خان و په قام‌باندی شودیاکی احمد زی وزیرو او د مولا نـا همز الله خان د شها دت نه وروسته‌دملا پیونده کلك ملګری وو د غازی ملا حاجي محمد دریوروڼه سلام خان ګل سلام خان ، محمد سلام خان دبنو په غزا کښي شهیدان شوی وواو په خپله دانو میالي غازی د ډیر عمر جهاد و نو کولو نه وروسته په‌سنه ۱۳٤٥ مطابق سنه ۱۹۲٦ کښي وفات شوی وو .

## دکال ۱۹۱۸ ـ ۱۹۱۹ غزاګانی :

د دنیا او لني عظیم جنګ په آخر کښي په هندو ستان کی د انګریزانو طاقت کمزو ری شوی و د هندوستان سیاسی تحریکو نو د آزادی مطالبه

نوره هم سخته کړی وه او په ملـك کښی ځای په ځای شورش و . بل خوا ته د ترکیی یو پـوځی وفـد افغا نستان ته‌را غلی وو . او پـه افغا نستان کښی ئی دغاز یانو ځلمو یوه داسی ډله پیدا کړی‌وه چه هغوی دانګریزا نو په خلاف قدم پور تـه کولو ته تیار شوی وو.

بل خوا ته د تحریك ریښمی د لوی‌مشر شیخ الهند محمود الحسن یو لوی ملګری مولا نا سیف الرحـمن‌الکوزی او د کر بوغی ملا صاحب او دهړی صاحب یونامور مرید مولانـا محمد اسرا ئیل (شهید) کابل ته رسید لی وو

او خلق ئی غزا ته پور ته‌کول دغه‌شان حالا تو کښی چـه هر کله د انګریزانو په خلاف په ټولو قبا یلی‌علاقو کښی د جهاد عام اعلان وشو . او په یو وخت کښی دمحکوم مرکزی‌پښتو نستان په شپږ سوه میله اوږد سر حد باندی قبایلی غاز یانو حملی‌شروع کړ لی نو دوزیر ستان قبایلو د ډاړ وړ وو . بیټنو ، وزیرو ، مسودو شیرانو اونور هم‌په انګر یزا نو حملی شروع کړلی په شمالی ا وجنوبی وزیر ستان دواړو علاقو کښی چه د انګریزانو هر څو مره کیمپو نه‌وپوځی قلاګانی وی‌پـه هـغی و ر وختل غزا ګانی ئی پری وکړلی اواو انګریزی پوځو نه ئی تباه‌او برباد کړل .

په دی سلسله کښی چه غاز یانوپه کومو انګریزی کیمپو نو حملـی کړی وی او هغه ئی په جنګ نیو لی‌دلـته لاند ی دهـغه‌قـلا ګانوصرف نو مو نه لیکو او بیا ور پسی پـه‌اختصار سره د یو څو قلا ګانو ا و پوځی کمپو نو د غزا ګانو حـالات‌لیکو غاز یانو چه پـه د ی کـال ۱۹۱۸ ـ ۱۹۱۹ کښی دفرنګیا نو په‌شمار اتیا قلا ګانی سوی دی . په هغی کښی دیوڅو مشهور وقلاګا نو نو مو نه دادی :

١ ـ سپین وام .
٢ ـ کجوری
٣ ـ بو یـه
٤ ـ توت نری‌ء
٥ ـ شپا نه حیساری
٦ ـ شوه
٧ ـ ایشا
٨ ـ دته خیل
٩ ـ امات خیل
١٠ ـ تـل
١١ ـ تو چی
١٢ ـ زیړ کی کمر
١٣ ـ شنګی کیمپ
١٤ ـ وا نـه
١٥ ـ سور کاوی
١٦ـ تنائی
١٧ ـ خجوره
١٨ ـ سپین کڅ

ACKU

۱۹ ـ تور ماند
۲۰ ـ مغل کوټ
۲۱ ـ گلو گځ
۲۲ ـ پوزی
۲۳ ـ درگیء
۲٤ ـ ومیژه
۲۵ ـ مر تضی
۲٦ ـ توئی خوله

## دمغول کوټ غزا

دا واقعه داسی پیښه شوی وه چه غاز یانو د وانه په پوځی چونی دومره سختی حملی شروع کړی وی . چه په فرنگیا نو ئی شپه او ورځ یو ه کړی وه او هېو د جگړی په تود والی کښی سوړ والی نه راته د هر لوری اوهر یوی لاری نه پری سخته راغله د ځان د خلا صی بل څه علاج نـه ور تللو شپه په شپه دوا نه د قلعه نه ووتل چه په تیښته دمغول کو ټ قلانه ځان ورسوو. بل خواته غازیان هم په دی پوه وو چه دشمن بـه پـه تیښته ځان وباسی هځه ئی ورپسی وکړه منه ئی ورپسی ووا هه او د مغول کوټ نه ئی گیـره واچـولـه قلابند ئی کـړ

دپرنگیانو کوم لښکر چه په تیښته اوماتی دوانه نه مغول کوټ تـه را ښښتیدلی او دلته قلابند شوی وودری شپی اوورځی په مغول کوټ کی قلابندی کړی وه په څلورمه شپـه ئی دمغول گوټ نه هم دتښتید لـو بناء وکـړله د قـلا دروازه ورتـه غازیانو نیولی وه انگریزی پوځ دومره بدی ورځی راخیستی وه چه شاطرف ته د قلا دیوال ئی سوری کړ او پـه هغی وو تل.

کومو غاز یانو چه د (مغول کوټ) قلا بندی کړی وه هغوی پری پـوه شوی و چه انگریزی پوځ به خا مخا تښتی . لاری گودری ئی ور ته نیولی وی چه د کوټ نه دانگر یزانو لښکر را بهر شو غاز یانو پری شروع وکړ له سخته جگړه وشوله دپـرنگـی د پوځ (۸۹۷) پوځیان سپا هیان او دیارلس کسان انگر یزان افسرا ن پکښی قتل شول . په دی جنگ کی د انگریزی پوځ یو لوی افسر چه دخان بهاد رمحمد نواز خان پو لیټکل ایجنټ پلار وو محمد یار خان نوم ئی و هغه هم د غاز یانو د لاسه قتل شوی وو دادو مره سخته جگـړه وه چه په دی کښی د انگریزی پوځـی افسران قتل شوی وو یوهم نه وه بچ شوی په غیردیو انگریز پـوځـی افسر نه چه کرنل ډالن نوم ئی وه هغه په تیښته خپل سر قدر ته بچ کړی وو او دا پوزی کیمپ ته ژوندی رسیدلی وو

## د ټانک غزا

په مغول کوټ چه د پرنگي پوځ تباه کړی شونو غازيان په ټانک ور پر يوتل او د ټانک په ځمکه دمنځي په پوځي کيمپ ئې حمله وکړله .

پدې کيمپ کښې چه کوم وزير او مسيد خاصه داران و هغوی دغاز يانو ملترتيا وکړه له په نيمه شپه کښې ئې د قلا دروازه غاز يانو ته خلاصه کړله . غاز يان په قلاورغلل په در وازه کښې چه کوم سيکان او گورکا خوکيداران ؤ هغه وژل ، وپه چو نې ور ننو تل.

په دې جګړه کښې دپرنگي دپوځ (٥٨٦) پوځيان او (٧) تنه پوځي افسران ووژلي شول .

کومو وزيرو او مسيدو خاصه دارا نو چه په دې غزا کښې د غاز يانو سره مرسته او امداد کړی ؤ په هغوی کښې د سائيده خان ز لي خيل احمد زی وزير نوم د ياد و لووړ دی چه دده په مړانه او همت غاز يان په ډيره اسانه پوځي کيمپ ته ورننوتلي وو.

## دا پوزی غزا

مخکښې دا ذکر شول چه په مغول کوټ کښې ټول انگر يزی پوځي افسران وژل شوی ؤ نوپه هغوی کې يو پوځي مشر افسر کرنل ډالن په تيښته ژوندی د پوزی کيمپ ته پـه رسيدلو کښې کامياب شوی وو . بل خوا ته هر کله چه غاز يانو په مغول کوټ او ورپسې په منځي کښې د پرنگي پوځ اوپوځي کيمپو نه ووهل نو دا حمد زو وزيرو شاه ځلمي خوا نان را ټول شول لښکر ئې ساز کړ او په اپوزی با زار او د اپوزی په انگريزی قلائې د پيرنگي په پوځ حمله وکړه له خو نړی جنگ وشو په نتيجه کښې د فرنگي د پوځ نه (٢٥٤) سپا هيان او پنځه انگريزی پوځي افسران قتل شول اود مخکينو دواړو غزا گانو نه چه په مغول کوټ اومنځي کښې شوی وی. دا پوزی په غزا کښې ډير زيات مال غنيمت وسله او نور سامان غاز يانو له په لاس ور غی او دا قلعه هم ووهلی شو له .

په دې پور تنو درې واړه غزاگانو کښې د پښتنو مسلما نانو د لښکر (١١٣) غاز يان شهيدان شوی وو اود دوی په مقابله کښې په دې درې



ACKU

واړو غزا ګانو کښی د فرنګی دپوځ د مړو مجموعی تعداد (۱۷۶۲) وو

## دتوچی غزا

د سنه ۱۹۱۹ د غزا ګانو په سلسله کښی یوه اهمه وا قعه چه ذکر کول ئی ضروری دی هغه داده چه هـر کله په دی کال انګر یـزا نو پـه وزیر ستان باندی دا سی بده ورځ جوړه کړه چه هغه د چا خبره هسی خوله ئی ولګوله اوداسی معلومیدله چه انګر زان دا غواړی چه په هـر قیمت چه کیږی په وزیر ستان کښی هیڅ یو پښتون غازی ژوندی پاتی نه شی ژمونږ ددی خبری په تائید کښی هغه نقشه دی وکتله شی کومه چه مونږ ددی بحث په اول سـر کښی درج کړی ده چه یواځی پـه سنه ۱۹۱۹ کښی انګریزا نو په وزیرستان باندی (۶۱۱) حملی کړی وی

انګریزا نو چه په وزیر ستان باندی دومره تباهی را وستلی وه دا پـه حقیقت کښی د ټول وزیر مسید او داوړ قوم په خلاف مهم وو او قدرتی طور هر یو وزیر ستانی پښتون بچی که هغه هر څوك چه واو هر چیر ته چه وو هغه له دقام په ننګ راپور ته کیدل پکار وو او د انګریزا نـو په خلاف د جنګ میدان ته وتل پکار وو چنانچه د دی وجو ها تو له مخه د شمالی او جنوبی وزیر ستان پـه ملیشیا او سکا و ټس کښی چه کوم وزیر ستا نی ځلمیان نو کران و یا افسران او عهده داران و هغوی سره د خپلو ملګرو او ټو پکو او وسلو دغاز یانو ډلی تـه واو ختل او پـه انګریزا نو ئی حملی شروع کړلی . ددی نمونی په ننګیا لو ځلمو کښی دغازی پت خان مده خیل وزیر چـه په ملیشیا کښی صوبیدار وو او د غازی ترین خان توری خیل اتمانزی وزیر چه په ملیشیا کښی جمعدا ر وو ددوی نومونه دیادولو وړدی چه پـه سنه ۱۹۱۹ کښی سره دخپلو ملګرو او سر کاری وسلی د انګریزا نو دپوځی کیمپو نونه وتلی وو د غازیانو ملګری شوی وو او د سنه ۱۹۱۹ نه وروسته په نورو ټو لو غزا ګانو کی د غاز یانو ملګری وو .

هر کله چه د مغول کوټ ټانك او اپوزی په دری واړه غزا ګانو کښی کښی زیاته فتح حاصله کړه نو دغازی ترین خان توریخیل اتما نزی وزیر په مشری کښی د توچـــی دعلاقی د محمد خیل کلی ته په پلسین نومی ځای کښی دپرنګی په پوځ او پوځی کیمپ باندی یرغل وکړ د ی جګړی دومره‌زور واخیست چه‌غازیان او انګر یزی پوځ سپا هیان د یوبل

سره گډ وړ شول . لاس په‌لاس او برچه په برچه جنګ وو او د حقه خبره داده چه د دواړه طرفه ز لموهغه غاز یان وو که دبرنګی پوځیا ن ښه په نره ئی جنګ وکړ په دی‌خونړی جنګ کښی د فرنګی (۲۶۲) پو ځیان او (۳) تنه انګریزان پوځی‌افسران قتل شول او بل خوا ته (۱۳) مسلما نان شهیدان شول .

دا جنګ په‌سنه ۱۹۲۱ کښی شوی‌وو او د وزیر ستان په جنګو نو کی اهم جنګ وو

## غازی ترین‌خان

لکه چه ذکر وشو غازی ترین‌خان په قام توری خیل اتما نزی وزیرو د خو شحا لی نو مې کلی‌او سیدو نکی و دا کلی په شمالی وزیر ستان کښی دمیرعلی په‌تحصیل کښی دی په ژمی کښی به په میرعلی کښی او په اوړی کښی به په زرمت کښی او سیده هر کله چه انګریزانو د وزیر ستان تباه کولو مهم په لویه‌پیمانه شروع کړه نو ترین هم دخپل کیمپ میران شاه ته سره د خپلو ملګرو چه ټوپك . میګزین او مشینونه ور سره وو د غاز یانو سره شامل‌شو د میران شاه په خوا و شا عرونو مور چه شول . رو په روړ له‌نی زیا تید له څه غازیان او څه د پوځی کیمپو نو نوکران ورته راغونډ‌یدل لښکر ترینه جوړ شو او دجنوبی او شمالی وزیر ستان په دته خیل‌میران شاه سپین وام مغول کوټ ، ټانك پوزی ، توچی او نوری حملی‌شروع کړی .

ترین خان یو تعلیم یافته ځلمی وو‌په میلشا کښی جمعدا روپه ړا که په ملیشیا کښی جمعدا ر و د ر نګ‌او ‌ټانو ګمان ئی کولو او چه کله د غزا میدان ته راوو تلو نو دیوبهترین‌جرنیل په شان د انګریزا نو مقابله نی په ښه پوځی صلاحیت او بهادری‌سره کوله آخر دا چه په سنه ۱۹۲۱ کښی د توچی په علاقه کښی‌د محمد خیلو نه بره د سپینکی ځلی سره د خپلو نورو غازیانو په ملګرتیا کښی داتو ریالی شاه ځلمی شهید شو او د بها دری نوم ئی یاد ګار پاتی شو

## دکسی غره جهاد

د پښتنو سره د پرنګی چه هرخومره جنګو نه په دغه زما نه شوی وو په هغی کښی به انګریزا نو دپوخ راسن . وسله او نور جنګی



دمنځنی پښتونستان مرکز ګروپك پـلـی‌عکس کی لیدل کیږی

سامان او نور د جنګ مود چو اوپوځی کیمپونوته په خرو قچرو .
غوا یانو . او ښا نو په ذریعه رسوویوتر دغهوخته پوری ئیپاخه سرکونه
هم نه وو او پوځی لاری هم دو ه ره نه وی چنانچه په دغه شان حا لاتو
کښی یو ځل داحمد زو وزیر یوی‌مضبوطی ډلی د کسی غره او اپوزی
تر منځه د پرنګی په یوه جوپه باندی‌عدی و غور ځوله پهدی جوپه کښی
غله ، جامی او وسله بار وه د دی‌جوپی د حفاظت د پاره کوم پوځ چه
ور سره روان وو هغوی ډیر کوشش‌وکړ ، لیکن بل خوا غاز یانو دافیصله
کړی وه چه خامخا دا جو په تالا کوی‌جنګ وشو لیکن دانګریزا نو پوځ
د غاز یانو د مقا بلی په ځای د جوپی‌دسازو سامان د حفاظت په فکر کښی
وو نتیجه دا شوه چه ډیر زیات‌پوځیان ئی قتل شول
په دی جنګ کښی (۷۳۸) پوځیان‌او (۱۷) انګر یزان پوځی افسران
قتل شول او ددغی نه علا وه دوه‌نو پو نه (۳٤۱) ټو پك (۳۷۰) قچر
او ښان او ټټوان او نور بی شمیره‌مال غنیمت غاز یانو له په لاس‌ورغی
او د مسلما نانو د طرف نه (۷۳) غاز یان پښتنا نه پکښی شهیدا ن
شول .

## د کاوړ برج غزا

په سنه ۱۹۲۰ کښی د احمد ز ی‌وزیر قبیلی ځوا نانو د کاوړ برج او
مانری نومی پوځی کیمپ ترمنځه دپرنګی پهیوه پوځی دسته حمله وکړه
او په هغی کښی دری پرنګیان اوخلور نور پوځی افسران قتل کړل
او چه څه ور سره وو هغه ئی ترینه‌واخیستل .

## دمانجی ګړی غزا

مانجی ګړه‌د ټانك په‌علاقه کښی‌دیو ځای نوم دی . په دی مقام په
سنه ۱۹۲۰ کښـی غـزا شوی وه‌داحمد زی وزیر شاه ځلمو غاز یانو
په دی ځای کښی د انګر یزانو پـه‌یوه پوځی رساله باندی حمله‌و کـړ
لهسخته جګړه وشوه اوچه دجنـګ‌دوړه خوره شوه نو معلومه شوه چه
د فر نګی د د ی سو ه نهـه کسا ن پوځیان او دوه‌پوځی انګریزان افسران
پکښی قتل شوی وو او بی شماره ټوپك او نور جنګی سامان هم‌غازیانو
له په لاس ور غلی وو د مسلما نانو د طرف نه فقط اوه غازیان شهیدان
شوی وو

## دژژی قلا غزا

د ژژی قلا د گومل دری په غاړه پر نه ده او دپرنگی پوځ پکښی پروت وو د وزیرو او مسیدو غاز یانو په سنه ۱۳۳۹ ه مطابق سنه ۱۹۲۰ کی په دی قلا حمله وکړله خو نـړ ی جنگ ونښت ټوله ورځ جنگ وشو (۱۳۱) انگر یزی پوځیـان او دوه انگریزان افسران پـکښی ووژلـی شول بل خواته غاز یانو پکښی دوه ځلوېښت ټوپك مال غنیمت په لاس ورغی او (۷) غازیان پکښی شهیدا نشول .

ددی جنگ په سبا له داسی وخت چه لا غاز یان د ژژی قلا د جگړی نه را ستا نه شوی نه وو چه د ژژی قلا انگریزی پوځ مـلا تړ او مـد د را ورسیله اودو باره کلك جـنگ ونښت لاس پـه لا س جنـگ وشـو او ننگیالیو پښتنو غاز یانو پکښی په دوه لاسی داسی توری و چـلولی چه په دښمن کښی ئـی پری اولاری وښکلی چه جنگ سوړ شـو او د مړو ژوندو حساب وشو نو معلومه شوه چه دپرنگی (۱۳۷۱) پوځیان (۱۷) کسه انگر یزان افسران پکښی وژلی شوی دی . دولس نیم شلـه ټوپك ئی غاز یانو له په لاس ور غلی دی او نور جنگی سازو سا مان رسد اوخوراك اونور هرڅه ئی لوټ اوتالاشوی و د هغی شمار نه وو په د ی دویمه جگړه کښی (۱۷) غاز یـان شهیدان شوی وو.

## ددرابن غزا

درابن د کوه سلیمان (دا غر پـه کوه کا لا او کسی غر پـه نوم هـم یا دیږی) په لمنو کښی یو مشهورمرکزی مقام دی . په دی ځای کښی د پرنگی د پوځ مور چه او کیمپ وُ په سنه ۱۳٤۰ ه مطابق سنه ۱۹۲۱ کښی د وزیرو او مسیدو غاز یانو ددرابن په پوځی کیمپ حمله وکړ له او ټوله ورځ ددواړه خـو اوسختـه جگړه وشوه چه په دی جنـگ کښی د پرنگی پوځ درنی وسلی تو پی اوما شین گنو نه استعمال کړل لیکن بری ئی ونه موندله (۲۳۲) پـوځیا ن او دری تنه انگریزان افسران ئـی ووژلی شول اوددغی نـه عـلا و ه (۳۵,۰) ټوپك ترینه غاز یانو ته پـه لاس ور غلل او د مسلما نانو د طرف نه (۵۳) غاز یان هم پکښی شهیدان شول .

## دقلعه دوه جگړه :

قلعه دوه دوزیر ستان اوبلوچستان‌په سرحد باندی دپرنگیانو پوځـی کیمپ‌ؤ دوزیرومسیـدو .بیتنو ۱ وسیرانی قبیلی غازیانو په‌سنه۱۳٤۱ه مطابق سنه ۱۹۲۲ع‌کښی ددوه پـه‌پوځی کیمیپ حمله وکړله دامور چه تر ډیره حد پخه او تلکه وه . ډیـرزیات زورئی وغوښت تړله ورځ‌جنگ و شو او د دواړه طرفه نه مړی پکښی‌وشول.

د انگریزا نو لـه طرفـه (۳۷۲)پوځیان او پنځـه انگریزی پوځـی مشران پکښی قتل شول او علا وه‌د نور جنگی سازو سامان نه پنځـه دیرش ټوپك غاز یانو ته پـه لاس‌ور غلل .

## دتر کی غزا

په سنه ۱۳٤۳ ه مطابق سنه ۱۹۲٤کښی چه د جنوبی وزیرستان دتمتر کی او تره کی په مقام کومه تاریخی‌غزا شوی وه ددی جنگ پــه پس منظر باندی یو هیـد ل ضرو ر ی‌معلو میږی .

واقعات داسی پیش شول چه دپرنگی یو ډیر لوی او درو ند پوځ دتوپو او مشینو نو سره جنډو لـه‌کیمپ ته د جنرال کرسو یټ په‌کمان کښی را ور سیده دا جر نیل یــوسیاسی لوبغا ړی هم وو دا خیال ئی وکړ چه دجنوبی وزیرستان احمدزی‌وزیراو مسیدوزیر دواړه‌قومو نه‌که په یو انفاق وی لکه چه اوس دی نــوانگریزی پوځ له د متحده او لسی او قومی طاقت مقابله گرانــه ده ددی‌خیال په بناء جنرال کرسو یټ دا تجویز جوړ کړی وو چه په سیاسی‌چالبازی مسید پښتانه د احمد ز ی
[illegible]
وزیرو د امداد نه قلار کړی . او چه‌یو ځل احمدزی وزیر ووهی نو بیـا د مسیدو وزیری قوم سره ځان له‌خپل حساب کتاب وکړی .

چنانچه څه وخت جنډو له کیمپ‌نه جنرل کر سو یټ را ور سیده نو د حوا و شا سیمو مسیدو مشران ئی‌راوغو ښتل جرگه ئی کړل او دخوږو پستو خبرو اوځه‌طمع طمائی او غوړمالی په ذریعه مکر او فریب شروع کړ د مسید مشرانو ته ئی وویل چه‌احمد زی وزیر چه څر نگه ستاسو دشمنان‌دی دغه‌شان زمونږه دشمنان‌دی زمونږه جنگ د احمد زی وزیرو برخلاف ستاسو برخلاف نه د ی .په دی وجه زمو نږ پـوځ چه پــه



ACKU

احمدزی وزیر باندی د حملې د پاره روان دی هغه ستاسو په علاقه کښې هیڅ دخل به نه ور کوی په تا سو به څه عم غرض نه ساتی صرف ستاسو په زمکه کښې به وړاندی تیرشی او په احمد زی وزیرو به حمله وکړی چونکه لاره ستا سو په ځمکه کښې تیره شوی نو تا سو به د ا سی و کړ ی چه ز مونږ کوم پو ځ ستاسو په علاقه په سر ویکی در ګئی (او سره منځه) کښې تیر یږی نو ستاسو کاردی چه خپل خلق پوه کړی چه هغوی په دغه علاقو کښې زمونږ د لښکر مخې ته را نشی او زمونږ په پوځ ونه بلسیږی.

## دمسیدو ځواب

دجنرال کر سو یټ د دی سوال نه وروسته د مسید قوم مشران جرګه شول او د هغی نه وروسته ئې پرنګی ته دا جواب ور کړ .

که چیری مونږه خپل وزیر ستان وروڼه تاسو ته په جنګ ځا ن ته پریږ دو تاسو پر نګیانو تـه خپل وواړو او هغوی ته دښمنان وودیو . نو یواځې دا خطره نه ده چه وزیر ووهی نو مونږ به درته .یواځې شو او بیا چه ستاسو څه خوښه وی هغه به را سره وکړی .بلکه مو نـږ دا کار په دی وجه هم نه شو کو لی چه دا کار د پښتنو لی نه خلاف دی . د اسلام نه خلاف دی تر دی حده چه زمونږ دخدای ناز ولی پیغمبر به آن په مد ینه منوره کښې زمونږ نـه نارا ضه شی او بل خوا زمـو نږه ننګیا لو ته به په هد یره کښې مړی پیغور ونه کوی .

دا قسم په مزه او په قراره ښه په حوصله د پښتو او غیرت نـه ډک جواب مسیدو مشرا نو د ننګیا لی غـازی ملـك بـها در دیو مسیـد په خوله ور کړ هر کله چه د جنرال کرسویټ مکر او فریب کا میاب نه شو . جرګه ورانه شوه . نو پرنګی جربیل باندی د قهر اور بل شو او د احمد زی وزیرو په ځای په مسیدوزیرو دحملې تابیاوکړه.

پرنګی مشید قوم له دسزا ورکولو په خاطره په (ساړه راغه) او(کوټکی) باندی حمله وکړله. بـل خوا چـه احمدزی وزیر ددی نه خبر شول چه مسید قام په احمد زی قام بانـدی ننګ خوړلی دی . او د پرنګی جرګه ئې نه ده منلی . نو په دی باند ی احمد زی وزیر که لوی وو که واړه په یوه چغه او نغاره را ووتل . دجنګ میدان له ئې ځان را ور سو لو د وزیرو او مسیدو دواړه قومو نو لښکری په ډیر جوش یو ځای شوی

په تمن کی او تره کی مور چه شول او په انهی تنگه باندی ئی خپل اولس اواسلامی سلی ودراوه.

## دانگریزانو حمله

چنانچه ددی تاریخی پس منظـر مطابق په سنه ۱۳۴۳ ه مطابق سنه ۱۹۲٤ کښې په تمن کی او تره کی مورچه باندی دوزیرو اومسیدو په شریك لښکر باندی حمله کړی ومدا جنگ دنورو جنگو نو نه ډیرزیات سخت وو پښتا نه غـاز یـان او دانگریز پو ځیان گوره سکان او گور کهه یو بل نه ځین په ځین ور غلیؤ .لاس په لاس جنگ وو . د تورووهلو پیش قبضو ، چړو اوبرچو جنگ ووا و یو ډیر لوی تاریخی دیاد ساتلو جنگ وو دوه ورځی سر په سر په دغه ځمکه جنگ و شو . وینی پری و بهیدی. دانگریزانو لـه طـر فـه دری زره څلور سوه اویا پو ځیان او در ویشت لوی انگر یزان افسران پکښې ومړه شول او د مسلما نانو د طرف نه دری د پاسه څلـور سـوه نکیالی غاز یان شهیدان شو .

ددی غزا بل اهمیت د اوچه غازیانو د خپل دښمن نه اوه کم شپږ سوه ټوپك او بی حساب زیات پوځـی سازو سامان قبضه کړی وو او بله خبره داده چه په دی کښې چه کوم غاز یان شهیدان شوی وو هغه زیات په قام مسید وو .

تمن کـی یوانگریزی مور چه د ه چه دتره کی او جنډ ولی د مور چو په ځمکی وه او تره کی دیوی غونډی نوم دی چه دساپه راغه اوتمن کـی نر منځه ده .

## دا نهی تنگی غزا

پـه سنه ۱۳٤٤ ه مطابق سنـه ۱۹۲۵ کښې د وزیرو او مسیدو یو شریك په انهی تنگی باند ی دپرنگـی په پوځی کیمپ حمله وکړه تو لـه ورځ جنگ روان وو او د دواړ ه طرفه نه جنگید ونکو ځوا نـانو دا کوشش کولو چه خپل دښمن رالاندی کړی مگر دپرنگی پوځ بدبد ووهلی شو د فرنگی په پوځ اوه کـم ا تـه سوه پوځیان او دیـار لس کسـان انگریزان افسران قتل شوی و او دمسلما نانو په ډډه کښې دری کم سل کسان شهیدان شوی وو .

او د پرنگی بی شمیره پوځی وسله . یویک کار توس او نور غاز یانو له په لاس ور غلی وه
تمن کی. تره کی. اوانهی تنگی په دری واړه غزا گانو کښې په شمار پوره پنځه سوه غازیان شهیدان شوی وو .

## دساړه راغه غزا

په سنه ۱۳٤۸ ه مطابق سنه ۱۹۲۹ ع کښې د وزیرو او مسیدو لښکری را تولی شولی او د ساړه راغه په پوځی کیمپ ئی حمله وکړه ددې حملی نه څه ورځی وړاندی غازی رمضان خان شمن خیل مسید یو توپ جوړ کړی وو غاز یانو په جنګ کښې هغه استعمال کړ لیکن داولنی ځز سره و چاو ده او په هغې کښې دوه غاز یان هم شهیدان شول .
د انګریزا نو د پولیټکل ایجنټ د (برم نی) نوم وو هغه خوار لس هوائی جها زو نــه را وغو ښتل . بمباری ئی شروع کړه او دوه دیرش غاز یان پکښې شهیدان شول . اوددغی نه علاوه دغاز یانو اته سوه کورونه په بمبونو وران شول اووسوزیدل . او په خصو صیت سره دشمن خیلو اوبهلول زومسیدو دیرخاد وی هم پکښې هلاك شول .

## ددته خیلو غزا

په کال سنه ۱۳۵۰ ه مطابق سنه ۱۹۳۱ ع کښې دلوی اختر په ورځ وزیری قام ډیر خلك د پیر ماما په زیارت را تولی شوی وو په دغه موقع عالما نو دغزا او جهاد په باب کښې ډیر اثر ناك تقریرو نه وکړل په خلقو کښې جوش او جذبه پیدا شوله په هم هغه ځای جرګه وشوله تړ ه ئی و کړه او چت شول او دد تـه خیلو په کیمپ ئی حمله وکړله .
د دته خیلو دقلانه چار چا پیره خار دار تارو نه تاو وو ور ختل پری ګران وو بیا هم پښتنو ځلمو پری سترګی پټی کړی او دوه سوه شاه ځلمی غازیان پری ور وختل د قلادروازی ته ورسیدل .
بل خواته د پرنگی پوځو نوغاز یانو له د هو که ور کړه او هغه داسې چه یو خواته ئی میران شاه ته تلګراف ور کړ چه د انګر یزی پوځو نو د امداد دپاره هوائی بمبا ردجها زونه را ولیږی او بل خوائی پښتنو غاز یانو ته خوله پسته کړه چه مونږ درته قلاخوشی کوو هر څه

تاسو تەحواله کوو . فقطچه دسراماڼموږتەراکړی شی پەدیهفه دغه او لم لیټ ئی وخت واړه ولو . پښتنا نەغاز یاڼ د اعتبار نامی په لیکلو لګیا شول د قلاد دروازی نه وړاندی شولچه په دغه منځ کی هوا ئی جها زونه را ورسیدل او په غاز یانو ئی بمباریشروع کړله حالت دا شه چه دیو خوانه د هوائی جهازو نو دبمبو نوباران وواو دبل طرف نەدچاوڼی پو خیانو پری د ټوپکو او مشین ګڼونوباټونه چلول شروع کړل تر مابنام پوری دغه شان خونړی جګړەروانه وه چه په پښتنو غاز یانو ئی ځمکه او آسمان یو کړی وو په دیجګړه کښی فقط پنځه کسان دانګریز د پوځ نه قتل شوی وو او دمسلمانانود طرف نه دیرش تنه غاز یا ن شهیدان شوی وو .

په دغه ورځ که د غاز یانو یو یمضبو طی ډلی ددته خیل قلاته مخامخ په یو اوچت سر بانډی مورچه نەوىنیولی او دفرنګی قلائی سخته ډزولی نه وی نو پښتنا نه غاز یان به دو مرەشهیدان شوی وی چه یو به هم ژوندی نه وو پاتی .

په دی سخته جګړه کښی غاز یملك ار سلا خان چه کومه بها در ی کړی وەهغه دیاد ولو وړده ،دیتنګیالی غازی دولس شلی ګنتی کارتوس پەغازیانو وویشلی اود هغی په امداد د غاز یا نو متی مضبو طی شوی وی او غاز یانو خپلەمورچه ټینګه کړی وه . بل خوا ته دانګریزا نو څوار لس جهازو نەلګیا وو بمباری کوله دپاره ددی چه قلا بندی ماته کړی لیکن کامیاب شوینه وو آخر چه انګریزا نو شپاړ س مینو باندی بمباری شروع کړله چەهوایی جهازو نه را وغو ښتل او هغو دغاز یانو په ګورو نوا وزر ګونو څاروی ئی مړه کړل او اوه دیرش بی ګنا مسلما نانئی هم پکښیشهیدان کړل . په دی خبره پښتانه غاز یان مجبوره شول چه قلا بندیماته کړی ځکه چه د هر سړی سره دخپل بال بچ د خلاصوڼ غم ملګریوو

## دبو یه غزا

د دته خیلو د جنګ دغه حال ووچه بیان شه لیکن اتفاق ته ګوره چه یو سړی د داوړو قوم د محمد خیلوپەمنڼه منڼه وګرځیده اوازه ئی خوره کړه چه مده خیل وزیر فتححاصله کړه ، ددتەخیلو قلائی ووهله



ACKU

د پرنگی وسله او مال هر څه ئی لوټاو تالا کړل ددی اواز په او رید لو د
وړ هم په سیالی را پور ته شول دبرشی په چاو نی ئی حمله وکړه
ترینه تاو شول په لږ ساعت کښی‌خونړی جنګ وشو اوه‌کسان شاه
خلمی غاز یان پکښی شهیدان شول .

## دشاه‌ولی زیارت‌غزا

دا واقعه داسی پیښه شوی وه چه‌انګریزا نو په سنه ۱۳۳۲ ه مطابق
سنه ۱۹۲۳ ع‌کښی په‌زرمك قبضــه‌لګولو کښی کامیاب شوی وو . ددی
قبضی د پخو لو او بر قراره ساتلودپاره به د انګریزا نو پوځی دستی .
د رزمك کیمپ نه با هر په ګشت‌وتلی او د خپل طاقت مظاهره به ئی
کوله . چنانچه پــه سنه ۱۳۵۲ همطابق ــسنه ۱۹۳۲ ع‌کښی دخپل
دستور مطابق د انګریزا نو د پـوځ‌یوه د ستـه دګشت دپاره وتلی وه او
دژرمك کمپ نه‌لس میله لری لمـرخاته طرف ته د شاه ولی زیارت مقام
ته رسیدلی وه په دغه ځـای کښــی‌پښتنو غازیانو پری حمـله وکړه د
فرنګی پوځ تیښته وکړه دغره پــه‌لوړو ژورو کښی ئی ځان ځنګ او
پټ کړ البته په لومړو ډزو باندی‌یو فرنګی افسر او یو څو پو ځیان
قتل شوی وو او غاز یان بر یالــی‌شوی وو .

# دريمه برخه :

## الحاج ميرزاعليخان :



د الحاج ميرزا علي خان فقير ايپي‌هر حوم شهرت . او دهغي دپرنگيانو سره د دين او وطن د آزادي په لاره‌کښي دجهاد کار نامي :

الحاج ميرزا علي خان د ار سلمخان زوی او د محمد اياز خان لمسی په فام توری خيل اتمان زای وزير شاخ‌مدی خيل‌وړوکی‌شاخ‌بنگال خيل‌او

د هغې د قبیلې نوم ختک خیل دی . حاجي صاحب دخپل تحصیل دوره په عیدر خیل دوړ ،بنو ،کوهاټ ،پیښور ، خوست او گیان خیل کښې پایه تکمیل ته ور سوله .

مرحوم فقیر صا حب ایپی د فقه دینی علوم نه علاوه په دری ، په پښتو ، اردو کې پوره مهارت درلود.حاجي صاحب د تعلیمي دورې نه پس د خپل کلي مدی خیل څخه چه دکجوری قلعه سره په یو کیلو متر کښې وو د هغې نه دایپی د وړ کلي ته چه د کجوری او میر علي تر منځ واقع دی راغی او یو کور او جومات ئې جوړ کړ او په دغه کلي کښې ئې استو گنه اختیار کړه .

حاجي صاحب میرزا علي خان دوړو کوالی نه متقي ، رحمدل ، او متفکر وضعیت در لود د ځوا نی په عمر کښې ئې دالله تعالی عبادت او دخلکو دخدمت طریقه جاري ساتله .هغه د بیمارانو ، غریبانو ، مسافرانو اوغمجنو خلکو سره همیشه همدردی او مرستې کولې . او د اسلام دپاکو اخلاقو پیروی ئې کوله .

حاجي صاحب د ټل د لارې دوړکزائي او اپریدو له لارې جلال آباد ته راغی او د مرحوم نقیب صاحب څخه ئې لاس نیوی وکړ . هر کله چه حاجي صاحب واپس وزیر ستان ته راغی نو په هغه وخت افغانستان کې دپرنگیا نو په تحریك انقلاب را ولاړشو

حاجي صاحب او لنی شخصیت وڅه په وزیر ستان کی ئې دفرنگیانو او په افغا نستان کښې د انقلاب په ضد تبلیغ شروع کړ . او د وزیرستان د لښکر و سره دپکتیاولایت اریوب پوری راغی چه دفرنگیانو ددغه سازش لار ووهی . او دافغا نستان ورور ملت لپاره یو تاریخي خدمت وکړی مگر له بده مرغه چه حاجي صاحب په اریوب کی سخت مریض شواو واپس وزیرستان ته را غی

هر کله چه په افغا نستان کښې شورش خاتمه وموند له او پدی وخت کښې فرنگیانو د باجوړ ، مومندو ،افریدو ، او د وزیر ستان په خاوره نیری او د قبضه کولو کوششو نه او ظلمو نه شروع کړل نو حاجي صاحب د کربوغی حاجي صاحب تهور غی او د فرنگیانو خلاف ئې دجهاد په متعلق صلاح او مشوره وکړه . اودکر بوغی حاجي صاحب دموا فقی نه پس د شوی فقیر صاحب شوه ته راغی او د جهاد په متعلق ئې ورسره صلاح وکړه . بیا د لنډه رو پیرصاحب نسیم شاه چه دمقتداء صاحب

پلار دی حاجی صاحب ور سره د جهاد په متعلق مشوره وکړه د دغه دری واړو بزرګانو موافقی نه پس ئې د وزیرستان دعلماء او مشرانو سره په ایپی ګلی کښی حصو صی جرګی او د جهاد لپاره کوښښونه جاری وساتل .

محترم لوستونکیو ته پته ده چه لا دی نه پخوا ځرنګه فرنګیا نو په بنو اوډیره اسمعیل خان دپښتنو دسختو جنګو نو او مبارزو نه پس قبضه وکړه . اوفرنګیانو دوزیرستان په خاوره د قبضی کوښښونه جاری کړل نو دوزیرستان علماء ،مشرانواو ننګیا نو ځوا نانو د بادی شیر محمود خان اتمان زائی وزیر او مولانا ګلاب الدین ، مشهور په وزیرو ملا صاحب ، احمد زائی وزیر ، اومولانا محی الدین ، مشهور په پیونده ملا صاحب ،شابی خیل مسعود . اومولانا حمز الله خان احمد زائی وزیر . او قاضی حاجی محمد احمد زائی وزیراوکاکا صاحب اتمان زائی وزیر تر قیادت لاندی د انګریزانو سره داسی غزا ګانی او خونړی جنګو نه کړی وو . چه په زر ګونه د انګر یزا نو پوځ نه ختم شوی وو . او په زر ګو نه د وزیر ستان ننګیا لــی ځوا نان په شهادت رسیدلی وو . او وروسته فرنګیا نو په وزیر ستان د وزیر مالی او چائی تلفاتو خـخـه کښی په توچی ، میرام شاه دته خیل رزمك ، وانه ، جنډو له ، قبضه کړه اوله دی نـه پس انګر یزا نو دوزیر ستان خلکو ته وعده ور کړه چه انګر یزان به د وزیر ستان نوروسیمو ته پیش قدمی نکوی . او د وزیر ستان خلك هم د وخت دمصلحت او آینده تنظیم لپاره ځه موده قرار شول .

ځرنګه چه فقیر صاحب ایپی او دوزیرستان عالمانو ، مشرانو ، غاز یانو د فرنګیا نو عام طور پــه مسلما نانو او خاص طور د پښتنو په خاوره او مذهب تیری خار لو او دی نه پخوا هم انګر یزانو د وزیرستان په زرګونه ننګیالی ځوا نان په شهادت رسولی وو . دفقیر صاحب ایپی او عام طور وزیر ستان دخلکو هغه درداو غصه پټ په زړو نو کښی موجوده وه چه ناڅاپه په بنو کښی یوه هنـدوه مسلمانه شوه چه دهغی نــو م (لاپی) وو دغه هند وه د محرم پــه پنځم تاریخ ۱۳۵۵ ق . او دمارچ ۲۹ تاریخ ۱۹۳٦ ع کښی مسلمانه شوه او نوی نوم ئې شیخه (اسلام بی بی ) کیښو دلی شو نو په دغــه وخت کښی بنوځی ، مروت ، خټك ، بیټنی ، مسعود ،دوړ او وزیر پــه بــنو کښی را جمع شول او شیخه اسلام بی بی

ئی یو سید میر نور نومی بنوڅی ته‌په شرعی نکاح حواله کړه څرنګه چه د فرنګیا نو همیشه دا پا لیسی وه‌چه دوه قومو نه په څه دسیسه سره په جنګ او جګړه بوخت کړی ا وخپل ناجا یز سیاسی اغراض لاس‌ته را وړی نو د فرنګیانو دا پالیسی وه‌چه د هند وانو او مسلما نانو تر منځ اختلاف ،و جنګ را پیدا شی اوانګریزا نو لپاره به ګټه وی .

نو فرنګیا نو شیخه اسلام بی‌بی‌دسید میر نور بنوڅی څخه په زور هند وانو ته حواله کړه . نوپه همدغه‌وجه د بنوڅو ، مروتو ، خټکو ، بیټنو ، دوړو ، مسعودو ، او وزیروپه بنو کښی یوه لویه غونډه وکړه چه فرنګیا نو د مسلما نانو او پښتنوسره د دښمنی په بنیاد زمونږ په مذهب اوخاوره تیری کوی او دغی‌جرګی دا قرار داد منظور کړو چه مونږ دغه قومو نه به په متفقه طورانګریزا نو سره د جهاد لپاره په سر او مال تیاری کوو او د جهاد له‌پاره به خپل مشر ټاکو .

نو هغه وو چه دبنو او وزیرستان‌علماء توچی کښی دالحاج میرزا علی خان فقیر ایپی کلی ته را غلل او دفقیر ایپی سره د جهاد او مجاهدینو دتنظیم په حقله صلاح او مشوره‌وکړه . په نتیجه کښی فقیر صاحب ایپی د جهاد او مجا هدینو مشر مقررکړی شو .

او دبنو او وزیر ستان علماء فقیرصاحب ته د هر قسم مالی او جانی مرستی وعده ور کړه .

نو هغه وو چه الحاج میرزا علی‌خان ففیو ایپی د صفری دمیاشتی په ۲۹ نیټه سنه ۱۳۵۵ ق کښی دتوچی‌ایپی کلی نه د خیسور خواته هجرت وکړ . هر کله چه انګریزان د فقیرایپی په هجرت خبر شول نوپرنګیانو ته‌سخته غصه‌ورغله اوفوراً ئی دوړاو اتما نزائی وزیر میرام شاه ته وغوښتل او ورته ئی واضح وویل چه‌که تاسو فقیر ایپی له خپلی دغه ارادی څخه وا پس ایپی کلی ته را نه‌وستلو نو حکومت مجبور دی چه د وزیرستان په‌خاوره عام پوځ کشی‌او بمباری وکړی .

نو هغه وه چه دوړو او اتمانزائی‌وزیرو ، یوه جرګه د خیسور په‌طرف لاړه او د درو زنده په مقام ئی دفقیرایپی سره جرګه وکړه چه پرنګیا ن په وزیر ستان دعام لام بندی او‌بمباری په تکل کښی دی نو آیا د وزیرستان خلك به دانګریزا نو لوی‌طاقت سره مقابله وکړی شی ؟

نومونږ تاسوڅخه خواهش کوو چه‌تاسو د روغی او جوړی لپاره تیارشی او خپل کلی ته وا پس شی .

نو الحاج میرزا علی خان جرګی ته په ځواب کښی وویل چه انګریزانو عام طور د مسلمانانو په مذهب او د پښتنو او وزیرستان په خاوره تیری کوی او په پښتنو ئی د مظالمو سلسله شروع کړیده نو نه صرف زه بلکه هر مسلمان او تاسو هم شرعاً او سیاستاً مجبور او مکلف یاستی چه د خپل مذهب او خاورې د ساتنې له پاره د پرنګیانو خلاف جهاد ته تیار شی.

دویمه دا چه ما د بنو ځو، مروتو ختکو، بیټنو، دوړو، مسعودو او وزیرو علماء او مشرانو په صلاح له نوچی ځخه خیسور ته هجرت کړی چه د انګریزانو خلاف په جهاد لاس پوری کړم. هرڅه چه کیږی زه به د پرنګیانو سره تر هغه برسرپیکار یم چه ځو خپل مذهب او خاوره د انګریزانو ځخه آزاده یا په شهادت ورسیږم.

دغه جرګه دفقیر ایپی د کلک عزم او پر جوش تقریر ځخه ډیره سخت متاثر شول چه په ځای د دی چه فقیرایپی خپل کلی ته واپس بوځی دوی هم دفقیر ایپی سره د پرنګیانو خلاف وعده وکړه چه موږ هم په دغه ملی او مذهبی مبارزه کښی په سر او مال د تاسو ملګری یو. نو هر کله چه دغه جرګه واپس د میران شاه پرنګی پولیټیکل ایجنټ ته راغله او د فقیر ایپی سوال او ځواب ئی ورته ورسولو نو د انګریزانو غصه د اور د لمبی په شان په غړ غنډو شوه. چونکه په دغه وخت یعنی سنه ۱۳۵۵ ق، کښی کننګهم پرنګی د مرکزی پښتونستان پښتونو صوبه کی ګورنر وو او نینګو پرنګی د هند وایسرا وو نو د میرا مشاه پولیټیکل دوی دواړه دالحاج میرزا علی خان اودوزیرستان د حلکو د دغه کلک عزم ځخه خبر کړل او بل طرف ته حاجی صاحب د خیسور. شکتوی. شام، شامولی او رزمك په علاقو کښی د مسید ووزیرو، دوړو او بټنو اقوامو سره دانګریزانو په خلاف د جهاد په متعلق جرګی او مرکی شروع کړی چه په نتیجه کښی د وزیرستان ټومو ړیو اقوامو وار په وار فقیر صاحب ایپی ته وعده ورکړه چه موږ او ښځی د انګریزانو په خلاف د ملی او مذهبی جهاد لپاره په سر اومال تاسی سره تیار یو، په دغه وخت کښی به حاجی صاحب اکثر استوګنه په کرکنړی، شام اوګړیوم کښی د نور یخیل په کلیو کی کوله.

نو د همدغه کش او ګیر ځخه شپږ میاشتی وروسته بیا د میران شاه پرنګی پولیټیکل د اتما نزو او دوړو د ملکانو یوه دوه سوه کسیزه

[redacted]

جرگه میران شاه ته وغوښتله او دغه‌الفاظ ئې ورته وویل چه زه خبر یږم چه فقیر ایپی په وزیرستانی اقوام‌کښې دوری په دې غرض کوی چه خلك د حکومت خلاف مبارزې ته‌تشویق او تیار کړی . او په دې هم خبر یم چه وزیر ستانی اقوام ورسره‌دجهاد لپاره‌وعدې اوتیاری خرګندوی نو په دې لحاظ حکومت د ډیر صبر،و حوصلې نه پس تاسې ته اوتاسې په واسطه فقیر ایپی ته دا خبر داری‌در کوی . چه که تاسې فقیر ایپی او د هغې ډله له دغه حر کا تو څخه‌منع نکړی شول نو حکومت مجبور دی چه د وزیرستان په خلکو داسې‌بوخ کښې اوبمباری وکړی چه په هغه کښې به دوزیرستان ټراو ښځې‌و،په او توی معاف نکړی شی . نو تاسې یوه جرگه بیا هم فقیر ایپی ته‌ورشی او ښه ئې پوه کړی چه که انگریزا نو له یوی خوا په وزیرستان‌اور و لگول شی نو ذمه وار به ئې فقط فقیر ایپی او د وزیر ستان خلك‌وی

نو ددغه ملکانو یوه جرگه په‌خیسور کښې د (ډگی) خونه ته را غله او د حاجی صاحب سره مرکه او دپرنگی‌پولیټیکل هغه‌دېکرئې ورته و،ورو لی په مقابل کښې حاجی صاحب ور ته‌وویل چه چو نکه اسلام دکفر دپکو ته سر ټیټولی نشی نو د وزیر ستـــان‌پښتانه مسلما نان دپرنگی دغه‌تهدید هیڅ کله هیر ولی او له خپلی ارادوڅخه اړ ولـی نشــی . نـن ورځ د وزیر ستان غیور اقوام د خپل خدای‌په امر او د ملی افتخار اتو په اجازه د انگر یزانو د تهدید ولو په مقابل‌کښې دیو فولا دی غر په شان ولاړ دی . د وزیر ستان نر او ښځی واړه‌او لوی انگریزا نو څخه دخپل مذهب او وطن د دفاع او حفاظت په لار کښې‌هیڅکله هم معافی نه غواړی . اوتاسی هم اگر چه د حکــومت ملکــان او دهغی د جرگی په حیث را غلی یو ، خو بالا خره مسلما نـــان او زمونـــږوروڼه وزیر ستا نیان یاستی نوراځی مونږ سره داسی وعده او قول وکړی‌چه مونږ او تاسی به د خپل اسلام او وطن د آزادی لپاره په سر او مال دانگریزی ظالم او متجاوز حکومت سره تر آخری سلگی داسی جنگیږوچه یا خو مونږ اوتاسی ټول شهیدان او یا انگریزی استعمار او تسلط دوزیرستان او عموماً مسلمان ملت له سر څخه ټول کړی شی . نو هغه‌وه چه د وزیر ستان دملکانو دغـــه عیور جرگی هم ور سره وعده وکړه‌چه مونږ تاسی سره د همدغه ملی جهاد او عمومی قیام لپاره په سر اومال تیار یو

نو هر کله چه دغه جرگه له فقیرصاحب له خوا رخصت او د میرا ن



ACKU

شاه پولیټیکل ته ور غلل نو بی لەدی چه جرګه اول څه ووائی میران شاه پولیټیکل ورته وویل چه ز ەستاسو له اجرا آتو څخه پخوا د دی چه تاسی څه ووایی خبر یم .
او تاسی او ستاسی څخه پخوا دیوی بلی جرګی هم فقیر ایپی سره وعده اوقول کړی دیچه موږهم‌تاسی‌سره‌په‌دغه مبارزه‌کی په‌سراو مال‌تیار یو
اوس د دی په مقابل کښی حکومت‌هم دا فیصله وکړه چه انګریزا ن به دخیل طاقت یوه داسی نمونه تاسی‌ته ښائی چه دتوړ یخیل قام جونګیء انګریزی پوځیان سره راولی چه‌فقیرایپی او وزیرستان څخه د شیخی اسلام بی‌بی او د وطن د حفاظت ا ، مذهبی جهاد نوم هیرشی.
نو دمیران شاه پو لیټیکل ته دتوریخیل قام یو مشر ملك شاه زر خان ‌صرف په دغه مختصر الفاظوکښی داسی ووایه .
چه نواوس دی‌نه پس به همدغه دخدای رضا او زمونږ او تاسی قضاوی جرګه رخصت شوه .
اوس د میران شاه پولیټیکل دګنګهم ګور نر په اجازه د میر علی د دوو لسو زرو پوځ جر نیل او دډمډول د پوځ جرنیل ته داسی امر ور کړو چه د میر علی فوځ دنیتاسی‌او جلیرو له لاری او د ډمډول فو ځ داتی بابا او تنګړی له لاری په خیسورداسی حمله وکړی چه په دوو لس ساعته کښی دواړه فوځو نه‌په خیسورکښی دمرغی په مقام سره یو ځای شی .
بل خوا فقیر ایپی دپرنګی د دی‌حملی له پروګرام څخه لږ پخوا خبر وو نو په دغه نسبت ئی وزیر ستانی‌اقوام ته خبرو نه لیږلی وو چه انګریزان د فوج کشی پروګرام ئی‌فوراً عملی کول غواړی . سر تیر عازیان دی په خیسور کښی د(زرړ ینی) توری خیل کلی ته ځانونه را ور سوی په دغه وخت کښی حاجی‌صاحب د (زرړ ینی) په کلی کښی او سیدو . نو په بله ورځ د خیسورمحاذ ته د وزیرستان دننګیا لو غاز یانو لښکری را توی شوی . دغلته فقیر ایپی د غاز یانو لښکر په دوو حصو تقسیم کړو یوه حصه دډمډول د فوځ د مخنیوی له پاره د د نیتاسی او جلیرو په مقام .
د ډمډول او میر علی فوځو نو دشپی په‌دری بجی په‌خپلو لارو خیسور حواته پیش قدمی شروع کړه .

دلمر خاته نه‌لـړ پـخوا دډمـډو لفوځ اتی بابا زیارت ته او د میر علی فوځ د نیتاسی مقام ته د رسیدو سره‌سره وزیر ستانی سرتیرو پری‌حملی شروع کړی .

ددی جنګ صحنه دبشریت د زړه‌یوه ازوونکی ننداره‌وه . ځکه چه له یوی خوا جنګ صرف دډو پکو .توړواو پیش قبضو په‌خلووو . اوانګریزی فوځیانو له خوا د طیارو . بمونو .توپو نو ، مشینډا رو او ټوپکو د اور په لمبو اجرا کیدو . دستر ګـو دهرپ سره به‌سره اوتور ګوره پـه ځمکه را غور زیدل . او ساعت پـه‌ساعت به د وزیر ستانی شهیدا نو او زخمیانو جنازی له میدان ځخـه‌د پخوا را ایستی شوی . په دغـه وخت کښی د الله اکبر ژوندی دی‌وی وزیرستا نی ځوانان ، مړ دی وی انګریزی استعمار نعری چه دغاز یانودټوپکو د اوازو نو سره ملګری کیدی نو د آسمان ملائکو به ئی تما شی ته‌رقصو نه کول . غرض دا چـه د وزیر ستانی غاز یـانـو او پرنګی‌فوځیانو تر منځ ټوله ورځ جنګ وشو خو پـه دغـه ورځ کښی به دواړه‌فو ځو نو نه دمرغی په کیمپ کښی سره یوځای کیږی بلکه داسی وشول‌چه د میر علی فوځ فقط دجلیری وادی ته را ورسیدو . او دډمډول فوځ داتی بابا د زیارت په خوا او شا کښی ایسار شو .


ددغی ورځی د جـنګ شـور ا وآوازی نه صرف د وزیرستا ن دلرو لرو خلکو غوږونو ته ورسید و بلکه‌دافغانستان اومحکوم پـښتو نستا ن هر قام او قبیلی ته هم ورسیدو نوپه‌دغه وجه چه بله‌دوزیرو.مسیدو.بیټنو دوړو دغازیانو نـه عـلاوه د پکتیا دقا موونو یعنی تنی . ځدران‌خوستوال صبری ، منګل او د محکوم‌پښتونستان‌د خلکو لکه دکرم بنګښـ ختـک ، بنوځی او مروتو لښکری هم د جنګ‌میدان ته راورسیدی .

جنګ خوپه اصل کی پـه‌دواړومحاذونو د شپی او ورځی بلاوقفـه جاری وو خو په دریمه ورځ چه‌پراتی‌بابا زیارت ایسار پوځ بیا د حیسور خواته حرکت وکړ او د امداد لپاره‌جلیرو فوځ هم د خیسور طرف ته پیش قدمی وکړه نوپه دغه ورځ‌جنګ‌دومره سخت وو چه د خیسوره فضا دغاز یانو او انګریزا نو فوځ دتوپونوماشین ګنو ټوپکو . هوائی جهازونو او ټانکو نو ، تکه توره شپه وه .

په‌دغه ورځ ګرچه دواړه پوځو نه‌دخیسور مرغی مقام ته ورسیدل خو د غاز یانو د لښکر و د ډیر والی اوګنو حملو په‌وجه دغه دواړه پوځو نه



مر حوم رمضان خان مسعود .



مولوی ظاهر شاه وزیری



ښاغلی ظهرالدین خان رمضانی مسعود .



ښاغلی علی محمد خان بیټنی



تورن جنرال بجان خانوزیر ی،



نائیب سالار عبدا لهخا نوزیری،



برید جنرال شهبرام خان مسعود،



برید جنرال میران خان وزیر ی.

دمرغې په کیمپ کښې محا صره شول.نتیجه دا شوه چه اوس دغه دواړه فوځو نه نه مخکښې پیش قدمی کولای‌شوه او نه وا پس میر علی او دم ډول ته رسیدی شی ځکه چه هغه دواړه‌لاری کوم چه انګریزی فو ځو نـه مرغه ته په ډیر تکلیف او زیار رارسیدلـی وو . دغـه دواړه لاری د غازیا نو مورچی او سنګرو نه شول.نو په دی موقع دمیرام شاه فرنګی پولیټیکل د وزیرو ملکان د جرګی له‌پاره وغوښتل . چه تاسو فقیر ایپی نه لاړ شی او دا خبره ورته وکړی‌چه مونږ به ددوی خلاف نور خدمت نه کوو او تاسی کوښښ وکړی چه‌انګریزی فوځو نه په حفاظت واپس شی . ملکا نو په ځواب کښې وویل‌چه مونږ دا نشو کولی چه په دغـه جاری جنګ کښې دفقیر ایپی سر ه‌جرګه وکړو .

انګریزی پولیټیکل د ملکانو په‌دی‌خواب سخت خفه او غصه شو . او ملکا نوته ئی وویل چه اوس به زه‌ددی علاج په خپله وکړم . فرنګیانو د توری خیلو په لاندی علاقو د هوائی‌جها زونو بمباری شروع کره . د خیسور علاقه ، شکتوئی علاقه ا وسپین وام ، او د وزیرستان خلکو باندی ئی د خوراکی او نورو شیانوبند یزو لګولو او په زر ګونو خلك ئی ګرفتار کړل . او یو سل او پنځه‌لس کلی ئی وران کړل .

او انګر یزی فو ځو نه د مرغـی‌څخه د شکست په صورت کښی د میر علی خواته حرکت وکړ او په لارکښی د سخت جنګ نه پس بیا د جلیرو اومیتاسی په‌لارمیـر علی تـه‌را ورسید .

په دغه اوه ورځنی جنګ کښی‌له مالی تلفاتو څخه علاوه یوزروپنځه سوه انګریزی فوځیان مړه شول اودری شپیته انګریزان افسران مر ه شول . او یوسل دوو لس غاز یان‌دلاندی قومو نو ، دوړ ، مسعود ، احمد زائی ، وزیر ، اتمان زی ، وزیرپه شهادت ورسیدل .

د فرنګیا نو د فوځ نه د غاز یانوپلاس دوه سوه ټوپك او اته مشین‌دار د غنیمت پـه طور ور غـلل او دری‌پنځوس او ښان او کجوی ئی هم ور څخه ونیولی . ددی جنګ نه پس‌فقیر ایپی د مسعودو علاقی ته لاړ او دی څه مودی نه پس د شکتوئی په‌علاقه کښی دارسل توری خیل چه په ارسل کوټ مشهور دی په کلی‌کښی خپل مرکز وټاکه او په مځکه کښی ئی سمڅی جوړی کړی . ددغه‌خونړی جنګ په وجه د وزیر ستان خلکو پـه ځای ددی چـه سست اوبزدل شی حوصله او جرئت ئی لاهم پسی قوی او آینده جنګ لپاره ئی‌په تر تیباتو شروع وکـره فرنګـی

حکومت ددی جنګ نه پس د خیسوراو شکتوئی په علاقه شپږ میاشتی مسلسله بمباری جاری وساتله . اوبل طرف ته به ئی د وزیرستان خلك روزانه په سوونو بند یانْ کول بـل‌طرف د وزیر ستان خلکو په‌هر محاذ د ګوریلا جنګ په شان حملی کولی .په‌وانه ، جنډو له ، ټانګ ، سرویکی لده ، شېراونګی ، مکین ، رزمك ،د وسلی ، ډمډول ، دته خیل ، میرام شاه ، میر علی ، کجوری ، سپین‌وام‌شـوه، بنـو ،کـوهـاټ او ډ یـر ه اسمعیل په علاقه کښی د فرنګیا نوخلاف خفیه غاز یانو داړی او نا څاپی حملی شروع کړی ، ډیر ځه وشول .خو د فقیر ایپی او د وزیرستان د خلکو قهر او حملی ورځ پـه ورځ‌زیاتی دی .
دانګریزانو څخه دد وست اودښمـن‌فرق ورك شو .

اوس فقیر ایپی د غاز یانو لښکری‌په وړو وړو ډلو چه غدی ورته وائی تعینات کړی . او د شپی او ورځـی‌په‌انګریز ی کمپـو نو نا څا پـی حملی کولی یو طرف انګر یزانو دوزیرستان په کلیو بمباری کولی . خوبل طرف په د وزیرستان غاز یانوپه عسکری کمپو نو حملی کولی چه دی نه فرنګی فو ځو نه یو وخت هم‌په امن او آرام نه وو . په دغه وخت کښی داسی حالات را پیدا شول چه‌د فرنګیا نوځخه هر قسم حکمت‌عملی ورك شو نو کنګهم پیښور ګور نروایسرائی هند ته داسی ولیکل چه اوس په وزیرستان کښی حالات ډیرخراب او سنګین مرحلی ته ورسیدل په وزیرستان کښی مقیم انګریزی‌فو ځو نه د وزیرستان د غاز یانـو مقابله او مقاومت نشی کولای . نـوښه به داوی چه د هند نه تا ز ه دم فو ځو نه او جنګی ساز او سا مان په‌لویه پیمانه وزیر ستان ته را ولیږی نو د ګنګهم ګور نر د خوا هش په‌اثر د هند وایسراء دجنوبی‌وزیرستان جنډوله وانه ،سرویکی ،ساړه روغه‌لده ، مکین ، ته ، اوشمالی وزیرستان رزمك ، ګردی روغه ، دوسلی ، ډم‌ډول ، دته خیل ، میرام شاه ، میر علی ، کجوری ، سیدګی ، سپین‌وام‌او ټل ته ثقیل ټانکو نه جهازو نه او هر قسم جنګی ساز او سامان نـه‌علاوه څلور ویشت زره فوځ راولیږه چه د وزیر ستان سمه او غرونه ئی‌ولړ زول .

څلورمیاشتی نه پس ددویم جنګ‌له پاره چه تازه‌دم فوځونه راورسیدل او په دغه وخت کښی د فقیر ایپی‌مرکز د ارسل کوټ په مقام پـه شکتوئی کښی وو ، نوانګریزا نو په‌خیسور او شکتو ئی دیرغل او جنګ داسی نقشه جوړه کړه .

دوانړه او جنډو له فو ځو نه مکین‌او رزمك ته‌راورسیدل .او انګریزانو فوځ په څلور لاری د خیسور اوشکتوئی په‌طرف پیش‌قدمی شروع کړه رزمك کیمپ نه د شاه ولی په لار . دګردی روغه او ډمډول فو ځو نه د وسلی او ابلنکی . او شام په لار .دمیرام شاه او میر علی نه دمیتا سی او جلیرو په لار . او د بنو اوسیدګی‌فو ځو نه تنګی په لار ر وا ن شول .

په‌دغه دوم جنګ کښی دوزیرستان‌د خلکو نه علاوه ځدران . منګل ، تنی ، ځاځی ، صبری ، خوست وال‌علجوئی ، او د افریدو ، ورکزو ، بنګښو ، ختکو ، بنوځو ، مروتو ،لښکری هم را رسیدلی وی . اوفقیر صاحب ایپی د پښتنو دغه لښکری‌هم په دغه څلور لارو کښی تقسیم چه دا څلور جنګی محا ذو نه دوزیرستان تخمیناً دوه‌سوه میله مربع سیمه ده .

نو هر کله چه انګر یزی فوځو نه‌له‌خپلو کمپو نو څخه حرکت شروع کړو نو غازیا نو هم ور سره حملی‌شروع کړی د زرمك فوځ چه دشاولی علاقی ته را ورسیده نو په هم دی‌ځای کښی ډیری ورځی د غاز یانو دسختو حملو او د باؤ له کبله پاتی‌شوه ، دډمډول ، ګردی روغه او د وسلی فو ځو نه د ابلنکی په مقام کی‌ډیری ورځی ایسار شو ۰ ا و دا بلنکی په غونډی کښی د فوځ یوجرنیل قتل کړی شو .

دمیرام شاه او میر علی او کجوری‌فو ځو نه په لس میله کښی دمیاشتی په مقام محا صره شو . البته بنو اوسیدګی فوځ چه د سپین په تنګـه راتلو هغه د سخت جنګ او تلفا توپس په همدغه ورځ خیسور ته را ورسیده . دپښتنو د ننګیا لـو دځوا نانو او فرنګی فوځ تر منځ ددغه جنګ مثال په الجزایر او ویتنـام‌کښی نشی پیدا کیدی خلاصه دا چه ددغه څلورو لارو فو ځو نه د سخت‌جنګو نو او مشکـلا تو با وجود د څلو ینښتو ورځو نه پس ارسل کوټـه را ورسیـدل او دخیسور ا و شکتوئی، زیا نـدی ، مـحا ذو نو ـبانـدی ئی قبضه وکـړه ، او دوه میاشتو نه پس دغه فوځو نه وا پس‌بنو ، میر علی ، میرام شاه ، ډمډول ګردی روغه ، رزمك ، وانړه ، جنډوله‌ته لاړل .

په دغـه جنګ کښی اتـه سـوه‌فوځیان مـړه شـول او دری سوه پنځوس ټوپك او مشین دار د غازیانوپه لاس ور غلل او په دغه جنګ کښی دوه جهازونه غازیانـو په ټو پکو راوغور زول . او دوه پیلو ټان ئی هم

بند یانۍ کړل . او دری میاشتی پهدوران کښی د مختلفو قو مونو د لښکرو څخه نه خلو يښت کسان پهشهادت ورسیدل .

ددوی میاشتو جانی او مالی تلفاتواو څو نړی جنګو نو نه پس کله چې انګریزی قو څو نه دخیسور شکتوئیڅیادی . او ارسل نوټ په بیونو نی کامیاب شول نو حاجی صاحب میرزاعلی خان بیا د مسعودو علاقه (شو) ته لاړ فرنګیانو بیا د شو بی خیل مسعود و پـه ټلیو بمباری شروع کړی . دیوی میاشتی نه پس فقیرایپی د شا ولی په لار د شهـزاده فضل الدین ځای لښکه ته راغی دیدوړه مشرانو د فرنګیانو خلاف د جنګ پهمتعلق صلاح او مشوره وکړهاو بیا شهزا ده فضل الدین فقیر ایپی ته د مجاهد ینـو لپـاره دوهماشین دار خلویښت بوټ څلور لکه افغانی ورکړیاوشهزاده فضل الدیند سر کرمی په وجه په لښکه شپږ میاشتی مسلسل بمباری وکړه چـهڅلور اتیا کورو نه ئی کلی خرابشول فقیر ایپی په لښکه کښی د څو ور ځوپس په مکین کښی د موسی خـان نائب سالار کلی ته راغـی د نائبسالار موسی خان فرقه مشر شهبرام خان ظهر الدین خان او مسعود ومشرا نو سره ئی د آینده جنګ په متعلق صلاح او مشوره وکړه . پدیوخت کښی فرنګیا نـو بیا دمکـیـن منديچ دره باندی دوی میاشتی سختیبمباری وکړی چه د هغی په اثر د مسعودو یو سل کلی له منځه لاړل . د څو ورځو نه پس الحاج میرزا علی خان د سپین کمر د لاری دشوالپه شمالی دړه کښی د غمبکی مقام دمدا خیلو علاقی ته راغی . او په دغهځای کښی ئی د مجاهدینو لپاره مرکز وټاکه .

محترم لوستو نکو ته به معلو مهوی چه فقیر صاحب ایپی چه په هر ځای کښی به وو ، که په دوره وو یاپټ څو په وزیرستان ، بنو ، کوهاټ کرم ، ډیره اسمعیل خان کښی دانګریزی قو څو نو او غاز یانو تر منځ په هر محاذ دشپی او ورځـی ناڅاپی حملی او سختی جګړی روانی وی تر دی چه ملکانو او خاصه داروبه هم دشپی ور باندی حملی کولی . هر کله چه حاجی صاحب میرزا علیخان غمبکی کښی د مجا هدینو مرکز وټاکه نو فقیر ایپی او د هغه ملګریومولا نا محمد ظاهر شاه محمود خیل وزیر مولا نا محمد وارث شاه منظرخیل ، مولانا عبد الر حمن دوړ ، مولانا پیر حسین ایپی ، ملك ګلابخان توری خیل ، مولانا ګلین مسعود جنګی ملا شیر علی خان ، مولاناغازیمرجان توری خیل ، دا فیصله وکړه

چه باید مونږ یودویم مرکز په شمالیډډه کښی هم جوړ کړو چه دفرنګیانو طاقت په دوو حصو تقسیم شی ، نوهغه وه چه فقیرایپی خیل نائب‌خلیفه غازی میر جان مقرر کړ وتو د محمودخیلو اوتوری خیلو دوړو ،مجا هدین هم ور سره وو او په موسی تربل‌کښی ئی دویم مرکز وټاکه او د پرنګیانو خلاف ئی په توچی دوړ ،سپین وام او بنو علاقو کښی ګوریله یعنی ناخاپی حملی شروع کړی ، اومولوی محمد ظاهر شاه ملك ګلا خان خلیفه ګل نواز خان بنوخی . خلیفه‌میر دل خان ختك ، او خلیفه شیر علی خان مروت . خلیفه مشك عالم‌خان د مانی کاګنا ئمسی د بنو احمد زائی وزیر دغه مشران هم د خلیفه‌غازی مرجان سره په موسی تربل کی دفرنګیانو سره په جنګ بوخت ووهر ګله چه فقیر ایپی غمبکی کښی د مجا هدینو مرکز وړا که خرنګه چه‌دغه ځای د مدا خیلو وو . نو انګریزا نو نائب سالار عبد الله خان‌ملك جاندان خان ملك ډنډی خان ، ملك ارسله خان او د مدا خیلو ټول‌قام ته داسی اخطار ور کړ و چه که تاسی فقیر صاحب ایپی د خپلی‌علاقی څخه ونه باسی نو حکومت به دتاسو په ټوله علاقه بمباری وکړی

دوی په ځواب کښی فرنګیا نو ته‌داسی وویل چه د وزیرستان غرونه مشترك دی او فقیر ایپی دو زیرستان‌یو فرد دی . او بل خپل ملی او اسلامی غیرت اجازه نه را کوی چه‌حاجی صاحب له خپلی خاوری په‌زور وشړو . د انګریزانو اختیار دی چه‌هر څه کوی . نو هغه وه چه د میرام شاه فرنګی پولیټیکل د شیرنی میزر،کبزه، مداخیل اوتنګی اولټکی مچه د قومو نو لپاره ئی اته لس هوائی‌جهازو نه مقرر کړل او څلور میاشتی پرله پسی بمباری ئی وکړه ، اونتیجه دا شوه چه د مدا خیل قام اته سوه کورونه اوکوټونه ئی دځمکی‌سره برابر کړل او ددی نه علاوه د مداخیل قام د رویشت کسان اوواړه‌ماشو مان او ښځی د بمباری په‌دوران کښی شهیدان شول .

بل خوا په همدغه دوران کښی په‌جنوبی او شمالی وزیر ستان بنو او ډیره اسمعیل خان کښی د مجاهدینوګوریله جنګ ډیر په شدت روان او جاری وو او هره شپه او ورځ بـه‌مرګ وژوبله کیده .

دری میاشتو نه‌پس حاجی صاحب‌میرزا علی خان د غومبکی نه شوال ته راغی او د شوی فقیر صاحب په‌ځای د مسعودو د وړو ، وزیرو ، بیټنو اقوامو ،یوه لویه‌جرګه راغونډه‌شوه چه د فرنګیا نو خلاف نوی‌تنظیم

ACKU

جوړ کړی او د وزیرستان په قو مونوکښی دوری وکړی د وزیرستان دغی جرګی فیصله وکړه چه مونږ به دیفرنګیانو خلاف نوی تنظیم جوړ کړی او د وزیر ستان په قومو نو کښیدوری وکړی د وزیرستان دغی جرګی فیصله وکړه چه مونږبه دی فرنګیانوخلاف تر هغه وخته خپل جهاد تــه دوام ورکړو تر څو چه فرنګیا ن دپښتنو خاوری څخه وباسو په دغه جرګه کښی دغه مشران موجود وودشـوی فقیـر صاحب ، شهزا ده فضل الدین مسعود ، نائب سالارعبد الله خان وزیر مداخیل ، ملك ډنډی خان وزیر مداخیل . نائبسالارموسی خان مسعود ، مولوی محمد ظاهر شاه محمود خیل ، مولا نا غازیمرجان توری خیل ، ملك ګلا جان توری خیل ، مولانا محمد وارث خانمنظر خیل وزیر ، مولانا عبد الرحمن عیدك دوړ ، او دکربوغی صاحبزویاخوند زاده عصام الدین ، مولا نـا محمد ګلین مسعود ، قاضی مولا ناشیرزاد خان بنوڅی د موسکی فقیر محمد خون دوړ فقیر میر قلم خان دبادی فقیر لمسی محمود خیل ، فقیر دین محمد خان بیټی . او د وزیرستاننور علماء او مشران هم پکښی شامل وو .

دی نه پس حاجی صاحب میرزاعلیخان د علماء او مشرانو په ملګر تیا دموسی نیکه احمد زائی وزیر تـهراغی او د احمد زائی د مشرانو سره ئی د موسی نیکه په مقام یوه عمومیجرګه وکړه او بیا د موسی نیکـه او وانه د علاقی احمد زائی وزیر دجرګی او مرکی له پاره د موسی نیکه زیارت کښی د یوی میاشتی پوریوا تلل .

او د فرنګیانو خلاف ئی په وا نهکښی داسی ناڅاپیحملی شروعکړی خو هغه وهچه دوانه فرنګی پولیټیکلاحمد زائی وزیرو تـه خبـر داری ور کړه چه تاسی فقیر ایپی د موسینیکه څخه ونه باسی نو حکومت به دی احمد زیو په ټوله علاقه بمباریوکړی . د وانه څخه د وانه د احمد زایو د ملکا نو یوه جرګه موسینیکهته را غله چه د ففیر ایپی سره جرګه وکړی . او د موسی نیکه څخه لاړشیفقیر ایپی ته د موسی نیکه ، شکی مشرانو وویل چه تاسو به جرګی تهراځی مونږ به په خپله دوی ته ځواب ور کوو د وانه د ملکانو سره لاندیمشرانو جرګه وکړه .

غازی عبد الله خان فرقه مشـرشیر محمد خان ، فرقه مشر انګور خـان ، فرقـه مشر دلبـاز خان ،فرمان الله خان ، قام زلی خیل .

ملك غلام خان، حاجی زربت خانملك ګټ خان قامتاجی خیل ، حاجی

بهرام خان ملك میته‌خان ملك ابوخان‌ملك راجی خان ،ملك محمد جمین‌خان قام گنگی خیل ، ملك علی باز خان ،ملك مو تل خان . ملك شیر جان قام خو جل خیل .

جرنیل گلا خان ، غند مشر اصیل‌خان غلام قدیم د مو لا نا همزاله‌خان زوی ، کلام الدین ، فقیر محمد سلیم‌د قاضی حاجی محمد زوی ، نجیم‌خان دشکی دغو مشرانو په ځواب کښی‌ورته وویل چه موسی نیکه د ټو ل وزیر ستان شریك نیکه دی فقیرایپی‌هم د هغه لمسی دی نو څوك د خپل نیکه د زیارت څخه منع کولی نشی .او بل مونږ ته خپل ملی او اسلا می غیرت اجازه نه را کوی چه فقیرایپی‌دموسی نیکه څخه وباسو . نـو د فرنگیانو چه څه خو بنه وی هغه دوکړی .

کله چه جرگه وا پس وانه تـــه‌ورسیده او د احمد زایو ځواب ئـی ور کړو . نو په بله ورځ د وانـــه‌فرنگی پولیټکل (٢٤) طیاری مقرری کړی او احمد زایو په علاقهٔ ئی تـردیری مودی پوری داسی بمبا ر ی وکړی چه ددغه بمباری په دو را نکښی ئی د احـ بزایو (٨٠) کورو نه د ځمکی سره سم کــړل او نوروجایدا دو نو ته ئی سخت تاوا نو نه ورسول . او په سوونو خلك نر ،ښځی نه علاوه ما شو مان شهیدان شول . او بل داچه د موسی نیکه په‌مزارئی بمباری وکړه اودری بمو نه ور باندی ولگیدل او دموسی نیکـه‌مزار ئی شهید کړه ، پدی وخت کښی د احمد زیو په اتفاق دوانه په محاذفرمان الله خان فقیر ایپی خپل خلیفه مقرر کړو هر کله چه فرنگیا نو په‌ډیره بی رحمی سره د موسی نیکه زیارت شهید کړو نو دغه زړه دردوونکی واقعی دوزیر ستان نراوښځی جذبات داسی راوپاول چه دوزیرستان‌ټول غمونه او در دو نه یو خوا او د موسی نیکه دزیارت شهادت بل خواسره برابر شول .

خو خیر یوه مفیده نتیجه دا شوه‌چه د وزیر ستان په کور کور کښی دانگریزا نو خلاف داسی جوش ا وجذبات را ولاړ شول چه نر او ښځی دشهادت مرگ ته تیار شول . نونتیجه دا شوه چه د وزیـر ستا ن غازیان راپاخیدل په وانه، ټانگ بنو، ټـل ،مـیرام شاه او نـورو عـلاقو کښی ئی دهغو انگریزی منصب‌دارانوقبرو نه او هدیری په‌بمونو والوزولی کوم چه په دغه جنگ کښی او یاددی‌نه پخوا مړه شوی وه ، یعنی یو زر سل او دیرش نفرو قبرو نه خراب‌شول .


هر کله چه فقر ایپی د یـــوی‌میاشتی نه پس راغی نو فرنگیانو په

غومبکی بمباری شروع کړه او فقیرایپی د غومبکی څخه میزر مدا خیلوته راغی او دا مر جان ، خونائی حاجی‌شهزان خان او صالح گی په کلی کی پټ شو خو آخر فرنگیان ورباندی‌خبر شول او په میزر مدا خیلو ئی بمباری شروع کړه اوتر دوو میاشتوپوری ئی دوام ورکړ بیا فرنگیا نو داسی نقشه جوړه کړه چه د میر علی‌میرام شاه فوځو نه د دته خیل په لار او د رزمك او دمهول او کـر دی‌روغه فو ځو نه د منظر خیل د دری په لار دته خیل ته را ورسی نو بیاپه شیرانی او میزر حمله وکړی ،چه فقیر ایپی او د وزیر ستان د غازیانودتم ځای ورکشی هغه وه‌چه دمیرعلی او میرام شاه فو ځو نـه د سخت‌جنگ نه‌پس دته خیل ته‌را ورسیدل او د رزمك ، دمهول ، گړدی روغه‌فو ځو نه کله چه د منظر خیل دره ته را ورسیـدل نـو د وزیرستان دغاز یانو پرله پسی حملی په اثر دوی میاشتی پس فقطلواړگی ته‌راورسیده دمسعودو ،وزیرو ، دوړو ،لنبکری په‌دوو حصو تقسیم شوی چه دته‌خیل‌او لواړ گی فو ځو نه مقابله وکړی لنډه دا چه د شپږو میاشتو نه پس‌د فرنگیانو فو ځو نه واپس ولاړل په دغه جنگ کښی د فرنگیا نو دوه‌سوه پوځیان او پنځه انگریزان مړه شول . او د وزیرستان د مخـتلفوقبیلو دری څلویښت کسان شهیدان شول ، دغه د فرنگیا نو دریم لـوی‌جنگ وو .


هر کله چه په میزر بمباری شروع‌شوه نو پدی وخت کښی فقیر ایپی د گل مات شاه کلی مچه ته لاړشو اودوی میاشتی پدغه ځای کښی پټ ؤ هر کله چه انگر یزان خبر شول نوبیائی د گل مات شاه په کوټ بمباری شروع کړه او څلویښت ورځی دوام‌ئی وکړه نو بیا د فقیر ایپی مشر ورور مولا نا شیر زمان خان او قاضی‌شیر زاد خان بنوځی چه د فقیر ایپی خسر دی د خپلو کډو سره دگرو یك‌غرو نو ته لاړل او فقیر ایپی دمزدك غر چه دمدا خیلو علاقه ده او دخوست‌دټنی د سر حد سره واقع دی لا ړ شو او د مجا هد ینو مرکز ئی وټاکه.

## دخړی اومزدك څلورم جنگ

هر کله چه حاجی میرزا علیخان‌په مزدك کښی مرکز جوړ کړو نـو فقیر ایپی دپکتیا ولایت قومو نو سره‌د فرنگیانو دجهاد په متعلق صلاح او مشوره وکړه د پکتیا خلکو اطمینان‌ور کړو چه څرنگه همیشه دوزیرستان




برید جنرال دلباز خان وزیری .



مولوی شیر علی خان مسعود .



اصل خان وزیری .




ښاغلی حبیب اله خان وزیری .

ACKU



ښاغلی خیر محمد خان مسعود .



ښاغلی حاجی عبدا لعز یز خان وزیری.



حاجی گلام خان وزیری .



ښاغلی محمد اکبر خان وزیری

ACKU

او پکتیا خلك د سر دبسمن په مقابل‌په شریکه جنګیدلی دی نو بیا تیار دی چه د فرنګیانو خلاف دوزیرستان‌دخلکو سره په جنګ کښی شریك شو نو پدی وخت کښی فقیر ایپی‌د وزیر ستان او پکتیا دخلکو دلبنکرو په تنظیم بوخت وو .

چه فرنګیا نو بیا د لام بندی لپاره‌خپل فو ځو ته حکم ور کړو چه د محمد خیل دوړاو خړ کمر دلاری ،اوږګی ، او جنګوټی ته ځان ورسوی او بیا په مزدك کښی دفقیر ایپی اووزیرستان دغاز یانو پمرکـز حملـه وکړی نو هغه وه چه د انګریزا نـوځلور ویشت زره پوځ په ډیره چټکی سره د محمد خیل او خړ کمر مقام‌ته را ورسیده . بل خوا د وزیرستان او پکتیا غیورو اقوا مو یو درو ندلښکر پری را مات شو چه انګریزی فوځ ئی تر پنځه شپو پوری دخړکمراو شپا نه خیسا ری په مقام ایسا ر کړو ، پنځو ورځو نه پس چه درزمك‌ډمهول ، ګردی روغه فو ځو نه را ورسیدل . او ۳٦ طیاری د کوهاټ‌څخه میرا مشاه ته را ورسیدی نو فوځ دمز دك په طرف پیش قد می‌شروع کړه . هر کله چه انګریزی فوځ دمزدك په طرف پیش قد مــی‌د لسو میلو په فاصله اوږ ګی ا و جنګو ټی ته ورسیدو ، نو د غاز یانود سختو حملو په وجه ایسار شو .

د دوی ورځی نه پس چه دغاز یانوله‌خوا اتیاکسان په‌شهادت ورسیدل او شپیته نفر زخمیان شول اوغازیانوخپل مړی او زخمیان باندی مصروف شول او بل طرف کار طوس پــه‌ختمیدو شول . نو انګریزی فو ځونه کامیاب شول او مزدك ته ورسیده اودفقیر ایپی هغه‌سمځی چه‌دمجاهدینو ا، پاره ئی جوړی کړی وی په بمونوخراب کړی او په دویمه انګریز ی فو ځو نه وا پس شول .

په دغه څلورم جنـګ کښی دفرنګیا نو پنځـه سوه شـل کسان فوځیان او پنځه لس کسان انګریزی‌منصبدار مړه شول او دری جها زونه غاز یانو په ټوپکو را وغور ځول .

یوسل او څلو یشت ټوپك اوپنځه‌ماشیندار د غاز یانو په لاس ور غلل او یو سل دیرش بکسو نه غاز یا نوومو ندل ددغه څلورم جنګ څخـه وروسته د وزیر ستان په خلکو کښی‌داسی شدید جذ بات او جوش‌پیدا شو چه دوزیر ستان ټوله سیمه په‌محاذ جنګ تبدیل شوه پدی وخت کښی احمد زایو په وانه ، تنائی ،تیارزه ، ژیوب باندی سختی حملی شروع کړی او مسعود و په کوټکـی‌سرویکی ، شرا ونګی ، لده اوچغملی

باندی یر غلو نه شروع کړل . اوبیتهنو په سیمه کښی په جنګو لـه ټانګ پیزو او مستی خیل باندی دبیتهنی قوم غاز یانو حملی وکړی او اتما نزو او دوړو په دته خیل بو یه‌میراه‌شاء ، میرعلـی ، کجـوری ، سپین وام ، شوه ، اوټل ډمډول ،دوسلی ، ګړدی روغه او رزمك او بنو باندی جنګو نه شروع کړل نود وزیرستان دغاز یانو دغه ګور یله او ناڅا په حملی تر پنځه میاشتـوپوری دوام وکړ .

هرکله چه فقیر ایپی په مزدك کښی‌هم دفر نګیا نو څخه په امن پاتی نشو نو آخر دګر ویك غرو نو ته را غی‌اودسمځی او عا رو نو په جو ړ ولوئی شروع وکړه .

هر کله چه انګر یزان خبر شول‌چه فقیر ایپی په ګرویك کښی خپل مرکز جوړ وی بیا ئی د ابراهیم خیلومشران میرا مشاه ته وغوښتل چه تاسو لاړ شی دفقیر ایپی سره جرګه‌وکړی او دوی پدی اماده کړی چه د انګریزانو سره روغه وکړی ممکن چه‌فقیر ایپی پدی پوه شوی وی چه د انګریزا نو سره جنګ نا ممکن دی .که غواړی انګریزان به ور سره با ...زت طریقه روغه وکړی. او که‌نه‌وی‌تا سو ئی د خپلی علاقی څخه خارج کړی .

هغه وه چه دجرګی له پاره لاندی‌مشران ګرویك ته راغلل . نائب‌سالار عبد الله خان ، ملك خاندان خان ،ملك ډنډی خان ، ملك ارسله خان ، ملك شهزار خان ، ملك دریم خان ،او نور اتیا مشران دغو مشرا نـــو فقیر ایپی ته د اصلاح ور کړه چه‌تاسو به دګرو یك نه بل خوانه وځی او مونږ به د تاسو هر قسم مالی اوجانی امداد کوو . اګر چه انګریزانو مونږ ته ویلی دی چه ، فقیر ایپی‌اول په روغه آماده کړی یائی د خپلی علاقی څخه وباسی .

هر کله چه دغه مشران وا پس‌شول . نو انګریزا نو ته ئی داسی ځواب ور کړو . چه فقیر ایپی نـه‌روغه کوی . او د ګرویك د تلو څخه ...ی‌صاف انکار وکړواوس‌دانګریزانوخو ښه ده چه څه کوی پدی وخت کښی فرنګیا نو په ګرویك بمباری‌شروع کړه چه شپږ میاشتی دوام ئی وکړ . مګر فقیر ایپی اودهغه غازیانوته ئی کوم تاوان ونه رسو لو .

هر کله چه فقیر ایپی خپل دایمی‌مرکز ګرویك د خلورو کالو سخت جنګو نو پس قایم کړو . نو بیا فقیرایپی او د وزیر ستا ن مشرا نـو صلاح وکړه چه اوس باید مونږ دفرنګیانو په مقابل کښی د رنده وسله

يعنې توپو نه . او ثقيل مشين دار .او بمو نه تيار کړو . هغه وه چه په ډير مصرف او مشکلا تو ئې د ملتان‌او لاهور څخه ماشينو نه او اوسپنې را پيدا کړې ، او په ګرويك کښې‌ئې دوی کار خانې جوړې کړې . او دتوپو د جوړ ولو لپاره ئې دادم خيل‌احور دره څخه اته کسان افر يدی مستريان په خصو صی طور ګرويك‌ته را وستل او دغو مستر يانـو د څلور توئې توپو نه ، او دری طياره‌شکن ثقيل مشين دار جوړ کړل او ګل بات مدا خيل ، او ګل شاه منظرخيل ور سره ملګری وو ، پدی وخت کښې فرنګيا نو ته دا فکر پيدا شوچه يو طرف په وزير ستان کښې شور شو نه او جنګ ورځ په ورځ‌زيا تيږی . او بل طرف په ګرويك کښې توپو نه ، مشين دار او بمونه‌جوړ يږی تر څو چه د ګرويك مرکز له منځه لاړ نشی دغه شور شو نه‌او جنګ به دوام وکړی نو انګريزانو

د رزمك ، ګړدی روغه ، او ډمډول‌فو ځو نه دمنظر خيل کانی روغه په لار . او د بنو ميرعلی . او ميرام‌شاه‌فوځو نه دتوچی بويه په لار ددته‌خيل په طرف روان شول . چه د شيرنی‌او ميزر په لار ګرويك ته ور شی .

نو په دغه وخت کښې فقير ايپی‌دهری خوانه قو مو نه را وغو ښتل . او غاز يانو په دوو حصو کښې خپل‌سنګرو نه او مورچی جوړې کړې . چه يو ښکر دمامی روغه منظر خيل‌دلواړ ګی په مقام . او بل لښکر د خړ کمر او دته خيل په مقام مور چی‌ونيوی او سړکو نه ئې بند کړل .

دانګريزی فوځ او غاز يانو ترمنځ‌پنځه ورځی سخت خونړی جنګ وشو او فوځ ځای په ځای ايسارشو . ددی‌فوځ دکمك لپاره د پيښور او کوهاټ نه تازه دم فو ځو نه هم را ورسيدل‌او اته څلويښت جها زو نه او ټينکو نه هم را ورسيدل نو په شپږمه ورځ‌فوځ دته خيل طرف ته حرکت وکړو دغه فوځ د سيلاب په شان روان ووجنګ شروع شو ، بمونه او توپو نه دباران په شان وريدل او په غرو نواو کليو ئې داسی اور بل کړ و چه ددغی علاقی خلك ټولو په غرو نو کی‌پنا وا خيستله . انګريزی فوځ په لار کښې دری ورځی ايسار پاتی شواو آخر دته خيل ته را ورسيده .

پدی وخت کښې دغاز يانو تازه‌دم‌لښکر هم را ورسيد او بل طرف په اول ځل دګرويك څخه څلور توپی اومشيندار د دته خيلو جنګ تـه را ورسيدی .

پدی وخت کښې غاز يان د فوځ‌دمخا صری لپاره په پنځه محاذو نو




ACKU

کښې مورچې او سنګرو نه پدی ډول جوړ کړل ، چه دی پکتیا قو مو نو لښکر د خلیفه ګلات شاه ځد راڼ په مشری په شمال مغرب کښې ، او احمد زائی وزیر په مغرب کښې ا ومسعود په مشرق کښې د خلیفه شیر علی خان په مشری اتمان زائی وزیرپه جنوب کښې د خلیفه شیر زمان داخیل په مشری او د وړپه شمال کښې دخلیفه مدراز خان او دلت خان په مشری جنګیدل ، د دغه پنځم جنګ دری میاشتی دوام وکړ . هر کله چه فرنګیانو د ځان سره حساب وکړو چه په دغه دری میاشتی کښې اته سوه فوځیان او ۱۹ انګر یزان مړه شوی وو . او زیات مالی تا وان رسیدلی وو . او د پښتنو لښکری ورځ په ورځ زیاتی کیږی او جنګ په شدت روان وو . پدی وخت کښې فر نګی حکومت د ګرویك د نیولـو پرو ګرام منسوخ کړو او د سخـتشر مناك شکست نه پس فو ځو نه رزمك ، بنو ، میرام شاه ، کوهاټ اوپیښور ته وا پس شول .

په دغه پنځم جنګ کښې دغازیانوڅخه پنځه شپیته کسان په شهادت ورسیدل . او اتیـا کسان ز خمیان شول سل ټوپك اونوردجنګ سامان دغاز یانو په لاس ور غلل .

## دسپین وام شپږم جنګ

څرنګه چه مونږ مخکښې لیکلی دی چه هر کله فقیر ایپی دغو مبکی په مقام یو بل مرکز په موسی تر بل کښې تعین کړو او ددغه مـرکز د تنظیم امور ئې خلیفه غاز یمر خان توری خیل ته ورو سپارل . اومولوی محمد ظاهر شاه ممیت خیل . ملك ګلاجان توری خیل ، خلیفه مشك عالم خان احمد زائی وزیر ، خلیفه ګلنوازخان بنوڅی ، خلیفه مهر دل خـان ختټك ، خلیفه شیر علی خان مروت ئی د جنګ او لښکرو د تنظیم لپاره تعین کړل . او ددته خیل د جنګ نه پس فقیر ایپی موسی تربل ته دوی توپی اویو طیاره شکن مشین دارولیږل چه د سپین وام په چوڼی حمله وشی چه دفرنګیانو خیا لات دګرویك دنیو لو څخه بدل شی . نو هغه وه چه پاس ذکر شو ی مشران د یـودروند لښکر سره دسپین وام پـه چوڼی ئې د توپو حملی شروع کړی او سپین وام چوڼی اته ورځی محاصره شوه . او د سپین وام او ټل تر منځ او میر علی سپین وام تر منځ پنځلس پلو نه او سړك په بمو نو خراب کړی شو او د ټلیفو ن مزی یوووړی شو .




ښاغلی خو جانوزیر اوزوی کمال خان .



ښاغلی غلام محی الدین - حاجی عبدالهادی او حاجی عبدالعزیز خان وزیری .




ښاغلی ملك ډنده خان ، غلام محی الدین خان، تارین خان، محمد جانوزیری




ښاغلی حاجی میرزا خا ن .



ښاغلی حبیب الرحمن دوړ.



الحاج رسول خان وزیر ی .



ښاغلی علی مرجان خان وزیر .

نو بیا فرنگیا نو د سپین وام دفشلۍ د خلا صولو لپاره د رزمك بنو او میرامشاه فوځو نه د میر علی پهلاره اودکوهاټ اوټل فو ځو نو د ګرم شوی په لار پیش قدمی شروع کړه پدی وخت کښی د پکتیا خلك دغلجو ، منگلو ، صبریو ، ځدرا ټواو تنیو لښکری هم سپین وام ته ر: ورسیدی . بیا د جنګ نقشه بدله‌شوه غاز یانو په دری‌محاذ و نو جنګ شروع کړو چه‌یو محاذ ئی دشیراتله‌تابی . او بل محاذ ئی کرم او د شوی علاقه وه او دریم د سپین وام په‌چوڼی‌دتوپی حملی وی چه دتوپو دګولی په اثر چوڼی ته سخت تاوان ورسیده .

انگریزی حکومت خپل فوځو نوته امر ور کړ و چه په هر صورت وی دسپین وام او سړك د خلا صون‌لپاره فوری پیش قدمی وکړی . د سخت جنګ نه پس فو ځو نه سپین‌وام ته راورسیدل جنګ اتلس ورځی دوام وکړ او د سپین وام محاصره‌ئی ماته کړه پدی جنګ کښی دوه‌سوه پنځلس ټوپك او مشین دار دغازیانوپه لاس ور غلل . او د فرنگیا نو دوه سوه څلویښت فو ځیان او یو لس‌کسان انگریزان مړه شول او شپږ څلویښت کسان غاز یان په شهادت‌ورسیدل .

## دبنو او ګمبتی اوم جنګ

هر کله چه د سپین وام جنګ‌خاتمه ومونده نوبیا دری زره غازیانو د خلیفه مشك عالم‌خان خلیفه مهردل‌خان ، خلیفه گلنواز خان او خلیفه شیرعلی‌خان پمشری‌دبنوپه ښاردسهارپه وخت کی حمله وکړه دانگریزانو پوځو نه را ور سیدل او د غاز یانواو پوځ تر منځ دبنو په شهر کښی د سهار شپږو بجو نه تر ما ښا مپوری داسی خونړی جنګ وشو چه د دوست او دښمن پته نه لگیده د ټینکونو او مشینګنو او ټوپکو او بر چو لاس په لاس جنګ وو . دبنو بازار لوټ شو او شپاړس پوځی ټاپو گان وسوز ولی شول . او دفرنگیانو دوه سوه پنځوس پوځیان مړه شول او سخت مالی تلفا ت‌ورسیدل . او د غاز یانو دری اویا کسان په شهادت ورسید ل او دشپی‌غاز یان د بنو شهر څخه گمبتی مقام ته ورسیدل او په گمبتی کښی ئی‌خپل مرکزیت قایم کړو . گمبتی د هغه غره نوم دی چه په لس میله کښی‌دبنو شمال مغربی اړخ ته واقع دی . او د احمد زائی وزیرو ملکیت دی .

ACKU

دگمبتي څخه به غاز يانو دبنو اوکوهاټ په علاقي نا ځاپي حملي کولي دپنځلس ورځوپس‌فرنګيانو په‌گمبتي‌باندی دبنوفوځ دکرم احمد زايو په لار گمبتي باندی په‌ځلورو لارو پوځ‌کشي‌وکړه. دکوهاټ فوځ دختکو په لار د ټل فوځ د څپري احمد زايو په‌لار او د ميرام شاه او ميـر علي او سپين وام فو ځو نه دگوسي پـه لارپه گمبتي حمله وکـړه دري ورځـی غاز يان محا صره وو .

هر کله چه د وزير ستان او بنوخلکو ته خبر ورسيده چه غازيان په گمبتي کي محا صره دی نو د ختکومروتو ، بنو ځو او احمد زائی وزيرو لښکری راغلی او د مشرق طرف ته‌ئی د شا طرف نه حملي شروع کړی او د وزير ستان او کرم لښکری دمغرب له طرف نه حملي شروع کړی نتيجه دا شوه چه دری ورځی سخت‌جنګ نه پس د غاز يانو د گمبتي محاصره ماته شوه او د فر نګيانودوه سوه اتياه پو ځيان مړه شول . او دری ديرش غاز يان هم په شهادت‌ورسيدل .يوسل ټوپك دوه‌ماشين‌دار دغاز يانو په لاس ور غلل .

هر کله چه غاز يان د گمبتي نه دموسی تر بل دتلو په اراده شول نو دری سوه غاز يان د جرنيل سر دارخان مهمند خيل وزير . او جرنيل ايوب نواز خان بنوځی .اوجر نيل‌بوبرائی گنګـی خيـل او جـر نيـل رب نواز خان بنوځی په مشری دکرم گړی په مقام د فرنګيانو په فوځ په يو ټاپو حمله وکړه چه اتيا کسان‌فوځيان مړه او دوه ديرش کسا ن فوځيان ئی بند يان کړل . او يو سل‌شل ټوپك ئی ور څخه يوړل ، او د غاز يانو څخه جرنيل دين بوبرای‌گنګی خيل او ديار لس کسان پـه شهادت ورسيدل غازيان دجر نيل دين‌بوبری په‌مرګ‌سخت‌غمګين‌شول نو بله ورځ غاز يانو د جرنيل سردارخان او جرنيل رب نواز خان په‌مشری دبنو دکيمپ سره نژدی د سړك په‌دواړو غاړو مورچي ونيولی چه ددين بوبری بدل واخلی هغه وه چه دبنوڅخه د مير علي په طرف د انګريزانو ځلور موټری روانی وی او غاز يانوور باندی حمله وکړه او په نتيجه کی ديارلس‌انګريزان افسران‌اودری‌پنځوس‌فوځيان مړه شول . او دری کسان غاز يان په شهادت ورسيدل .

او د غاز يانو لښکری موسی تربل ته وا پس را ورسيدی .

## د بیټنو اتم جنګ:

څرنګه چه مونږ پخوا لیکلی دی چه کله انګریزان له څلورو لارو نه د شکټو او او خیسور په نیولو بریالی او فقیر ایپی د مسعود علاقه (شو) او د (سمل) غرو نو ته لاړ شو . نو په دغه ضمن کښی فقیر صاحب ایپی د سمل په غره کښی دفقیر دین محمد خان او د بیټنو د علماء او مشرانو سره په دی غرض جرګه وکړه چه بیټنی قام دفقیر دین محمد خان د مشری لاندی د بیټنو د علماء په علاقه او خوا و شا کښی دانګریزانو خلاف جنګ شروع کړی نو ددی موافقی له مخه فقیر دین محمد خان او د بیټنو نور علماء او مشرانو په بیټنی قام کښی د انګریزانو خلاف د جنګ اعلان وکړو . نو هغه وه چه د بیټنو غیور قام لښکری جوړی شوی د ټانك ، جنډو له ، اپوزی او تاجوړی په عسکری قشله او کیمپو نو ئی داسی حملی شروع کړی چه فرنګیان مجبور شول چه د دری بیټنو په ټوله سیمه بمباری وکړی نو هغه چه انګریزانو دری بیټنی یعنی ټول بیټنی قام ته خبر ور کړ و چه که تاسی په څلور ویشتو ګنټو کښی د فقیر ایپی له تحریك څخه لاس وانه خیست او فقیر دین محمد خان او نور مشران مو حکموت ته تسلیم نکړل نو د حکومت فوځو نه به دیو لړ سختی بمباری نه پس ستا سو په علاقه پیش قدمی وکړی . فقیر دین محمد خان او د بیټنی غمو می قام د فرنګی له دی خبری د منلو نه انکار وکړو . نو انګریزانو د دوی د ټولی علاقی دبمبار کو لو لپاره شپاړس جنګی طیاری مقرر کړی او د بیټنی په کلیو بمباری شروع کړه دبیټنی قام ټو لو کلیو د مسعود و .سمل او سیو په غرونو کښی پناه واخستله ، دا بمباری څلور میاشتی متواترو شوه دبیټنی قام ټول کلی ، کورو نه ، کوټو نه او فصلو نه ئی تباه کړل ، او د بمباری په اثر څلور ښځی او اته ماشو مان هم شهیدان شول .

دخلورو میاشتو سختی بمباری نه پس له بنو نه دوولس زره فوځ او جنډولی نه شپږ زره فوځ په دوی لاری د ګبر مومند او نورو سیمو د نیولو له پاره روان شو د بنو فوځ د تا جوړی او تنګ له لاری ، او د جنډولی فوځ د سپین لندی له لار ی را روان شول . بل فقیر صاحب ایپی د بیټنی قام د کمك لپاره د مسعو دواو وزیرو لښکری هم د جنګ محاذ ته ور و لیږلی دواړو فو ځو نو او دغازیا نو تر منځ داسی خون ر یز

جنګ شروع شو چه ساری ئی نه ؤدپنځو ورځو لهجنګ څخهپس دواړه فو ځو نه د ګبر په مقام سره یو ځای‌شول او د کوټ په مقام فرنګیانو یو عسکری کیمپ او یوه قشله جوړه‌کړه دی فرنګی فو ځو نو بنو لیخوا دتا جوړی او تنګی له لاری ګبر ته‌سړك را جوړ کړ . په ګبر کنبی چه د بیټنی قام مرکـزی حیثیت لـری‌انګریزی فو ځو نو د غلته شپـږ میاشتی تیری کړی نو بیا انګریزی‌فوځو نه د بیټنو او وزیـر ستان لښکرو د شپو ورځو له حملو څخـه‌تنګ شو نو فو ځونه بنو او جنډولی خواته ولیږ دول ، بیا دغـاز یانـولښکری را غلی په ګبر کنبی د کوټ دمقام کیمپ اوقشله په‌اور وسوزاول‌او انګریزی فو ځـو نـه د شکست فاحش سره دبیټنو علاقه خالی کړه.

پدی جنګ کنبی دوزبـرو مسعودوبیټنو ، اتیا کسان غاز یان په شهادت ور سیـــدل او انـــګـر یـــز ی فو ځو نو څخه دری سوه لس فو ځیان مړه شول او دغاز یانو په‌لاس زیات مال اوټوپك ورغلل .

## دډمه ډولی جنګ :

د ډمډول جنګ هغه وخت جوړشو چه فقیر ایپی د ما میت خیل قام د مشرانو . ښا غلی خلیفه زاریم‌خان ملا ظاهر شاه ، ګوړی خان .خلیفه سلطان جان . امان ګل . لیوانك خان‌جمعه‌دار خا ن. شوبړ خان ، دورخان ولی محمد خان ، میادیـن خـان، دغزلی خان ، دادك خان ، اسیپ خان مشری یو د روند لښکر د زرمك اومیرام‌شاه، تر منځ‌دعمومی سـړك د خراب کولو او ډمډول او ګړدی روغه‌دکمپو نو د محا صرو له پاره ولیږل.

هغه ؤ چه د مامیت خیلو لښکر دډمډول د وسلی او ګړدی رو غـــه کمپو نه محا صره کړل او اته لس‌لوی پلو نه ئی په بمونو والوزول او سـړك دری ورځـی بنـد شو . نوانګریزی فوځ دوی ورځی پرله پسی جنګ اوکوشش وکړ چه‌سړك خلاص‌کړی مګر انګریزی فوځ ناکام شوبله ورځ د بنو ، ټل او میرام‌شاه فوځونه‌ډمډول ته اودرزمك‌فوځ کړی‌دی‌روغه ته را ورسیدل .

په دغه ورځ د مسعودو یو لوی‌لښکر د راجی ګل ، خونی ، ولګی خان او منګی خان پـه مشری او دتوری خیلو یو لښکر د عید حسن ، میرخان ګل،بخته‌جان، جی‌خان لمبی‌خیل ، لاهـور خـان ، متـی خـان ګاګو خان ، جنت میر خان او ازلمیرخان په مشری دمامیت خیلو دلښکر



ACKU



ښاغلی محمود روشان بنو خی .




ښاغلی گل محمدخان سپین‌وامی.




ښاغلی محمد اعظم‌خان




ښاغلی میر محمد بلال .



ښاغلی مولوی غلام حیدر خا ن نوشکوی بلو څ.



ښاغلی عبدالباقی اڅکزی



ښاغلی حاجی فیض محمد خان.



ښاغلی ملك وصلی خان‌اتمانخیل.

د کمك لپاره د دم ډول مقام کښې جمع شول .

او بل طرف د مدا خیلو او منظرخیلو یو لوی لښکر د مولوی وارث شاه خلیفه فاتح خان ، ملك زر قدمخان او ملك پلنډی خان په مشری دگردی روغه مقام ته را ورسیدل .

سهار له څلورو بجو څخه جنګ په ډیر شدت شروع شو دا جنګ د دم ډول نه تر رزمك پوری دشلومیلوطول او فاصله کښی روان وو . انگریزی فو ځو نو سره څلویشت هوائی جها زونه او شپیته ثقیله ټانکو نو کمك هم ملګری وو . دغه داسی جنګ وو چه انگریزی طیارو او توپ چیا نو په سو نه خپل فوځیان مړه کړل . ځکه چه غازیان دګورګانو په صفو نو کښی ور ننو تلی وو . اودا جنګ په غرو نو او غونډ یو کښی نه وو بلکه د کیمپو نو په در واز واو پاخه سړك په غاړو غاړو کښی لاس په لاس جنګ وو . ډیر غاز یان دټینګونو دټیرو نولانـدی شهیدا ن شول .غازیانو ددری انګریزی افسرانواو یولس ګور کانو سرو نه په چاړو پری کړل او د ځان سره ئی یووړل ځکه چه انګریزا نو د دوسلی قشلی نه لاندی په یو پل کښی ۱۹ کسان غازیان ژوندی په اور سو زولی وو حاصل دا چه جنګ تر نما زدیګـرپوری جاری وو . با لا خره غاز یانو د خپلو زخمیانو او شهیدا نو دجنازوپه وړلو بو خت شول او جنګ ختم شو .

پدی جنګ کښی شپږ دیـرش انګریزی افسران او یو زرو څلورسوه پنځه اویا فو ځیان مړه شول . دوه اتیا غاز یا نشهید او دری پنځوس کسان زخمیان شول .

دوه سوه څلویښت ټـو پك اتـه مشیندار او دری سوه کار تو سو بکسـو نـه او دری ســوه پنځوس قچری او او ښان د غاز یانو په لاس ور غلل .

## دمسعودو دسره روغه او مکین جنګ :

دبیټنی قام په علاقه کښی ددروندجنګ له خاتمی نه پس د مسعود قام دعلماء مشرانو او غاز یانو دمصلحت په اثر دوه سر تیر یو مشرانو یعنی ملك حیات خـان او ملـك والیخان مسعود فقیر ایپی څخه دوه تو پونه د دوړو ، اتما نزائی ، احمد زائی او بیټنو اقوامو دیو درونـد لـښکـر سره دلدی اوه ومیزی عسکری قشلود محاصری او حملی لپاره را غلل . وزیر ستانی غازیانو دغه دواړه قشلی داسی محا صره کړی .

مګمل یوه میاشت دډیره اسمعیل خان .وانه او رزمك له خوا ورتـه موسی نیکه زیارت هم بمباری کړ و.ددی بمباری پهدوران کی په مو سی

هیڅ‌قسم کومك‌نه‌رسیده اوپه‌غازیانو به‌له دغه‌دوه‌قشلودتوپونو اوټینکونو به‌ذریعه مسلسل حملی‌جاری ساتلی اودغازیانو په سنگر ونو اودمسعو د قام په عمو می علاقو او کلیو داتلسوجنگی طیار وپه ذریعه داسی‌بمباری شروع وه‌چه د مسعود قام عمو مـاءکلی په غرونو کی پناه ا خیستی وه چه تقریبا ددی بمباری په اثردمسعودد قام یوسل څلویښت کلی. کورونه او کوټونه پناه‌کړل شول.خوبالاخره‌ددی دواړو قشلو عسکرو دوا نهـه ورځو کی د ننه کمك راونه رسی‌نوموړی به‌دوه خبرونه یوی ته ضرور مجبور شوچه یاقشلی خوشی‌کـړ واو یا پخپله مخه هر خوا چـه وی وتښتو او یا وزیرستانی غا زیا ن‌ته‌سلامی شو .
نو هغه وه چه ددی خبر په اثرددی‌قشلو د خلاصولو لپاره د مسعو د قا مخوا ته پـه دری لارو فـرنگـی‌فوځونه را ما رش شول دوا نه‌له‌خوا د ټانگ اوجنګولی لخوا او د رز مك‌لخوا همدغه شان وزیرستا نی‌لښکری هرپه‌دری حصو تقسیم‌شوی وی‌یو یدلی‌دوانه دفوځ پـه‌شراونگـی لا ر ونیوله او بله حصه د کوټکی جنګوله‌بمقام سرك ونیولو . دریمه حصـه لښکر په توده چینه او سورو غه کی‌د رزمك د فوځ لاری بند کړی .پدغه دری محاذونو دوزیر ستانی لښکرواوانگریزی فوځونو تر مینځ داسـی خونړی‌جنـگو نـه‌وشول چه هیـڅ‌ساری اومثال ئی‌نه‌پیدا کیږی بالاخر صـرف پـه لسمـه ورځ ددری لاروفوځونه. لدی اوموميږی قشلو ته را ورسیدل او دغا زیانو محاصره ئـی‌ماته کړه په دغه جنگ کی‌یوسل‌دری پنځوس دفرنگیانو عسکری سپاهیان‌مړه او یـولس کسـان انگـریـزی منصبداران قتل کړی شول.
دری اتیا توپك شپږمیشنداردغازیانولاس ته ورغلل‌او دری‌طیاری‌دغازیانو لخوا په زمکه راپریوتی او غا زیانوڅخه دولس کسان شهیدان شول.

## دوانه جنگ!

څرنگه چه مونږ پخوا لیکلی د ی‌چه حاجی صاحب له غومبکی نـه د شوال‌په لار موسی نیکه ته راغی اواحمد زائی یوه لویه او تاریخی جرگه وکړه نو په هغه وخت کی‌احمد زائی‌وزیرو له فقیر ا یپی څخه‌وغوښتل چه زموږ د قام لښکرو د نظم ونسق‌ودوانه په‌علاقو کی‌دفر نگیانو پـه فوځونو د حملی د رهنمائی لپا ره‌زموږ په قام کی فرمان ا لله خا ن خلیفه وټاکی نو هغه وه چه فقیـرصاحب ایپی نوموړی ځوانډ قام په خوښه له خپلی خوا خلیفه وټاکه .

ACKU

بیرغونه وسپارل او د مرکزونو دجوړولو ا مرتی ورکړو. او بیا د مسعود وننگیالو قومونو خپل مرکزونه په لاندی ډول جوړ اودپښتونستان سره بیراغونه ئی پر ی وړپول.

د بهلولزائی قام مرکز په(مکین دره )کی .

د شمن خیل قام مرکز په(سلطانه میدان)کی .

د منزائی قام مرکز په (اس پاس)کی چه د ښاغلی شابهرام خان فرقه مشر دقبیلی ملکیت دی.

دشوبی خیل قام مرکز په(شو) کی .

او همدغه رنگه الحاج میراعلیخان ا تمانزائی وزیرو ته د مرکزونو ا و بیرغونو ا مرورکړو چه په لاندی ډول مرکزونه جوړ او بیر غونه ئی پری ورپول .

١ـ د کابل خیل قام مرکزپه کرم میدانی کی)

٢ ـد محمود خیل قام مرکز په(شنکی غوږو شتی )کی.

٣ـ د توری خیل قام مرکز په(کړه خیسور )کی .

٤ـ دمداخیل قام مرکز په(مزد ك کی ).

٥ـ د منظر خیل قام مرکز په(لواړگی )کی .

٦ـ ددوړ قام مرکز په (کنجه)کی

٧ـاوبیټنی قام مرکز په (مرمند)کښی .

٨ـاو د کرم توری او بنگښ قامونو مرکز په (شوبك)کښی .

هر کله چه د وزیرستان په هرقام کی ٢ تلس مرکزونه جوړ شول او دپښتونستان بیرغونه پری ورپیدل او د پښتونستان د آزا دی تحریک شروع شو. نو ددغه منظم تحریك اودوزیرستان د خلکو ملی ا ت حا دیه په وجه دپاکستان حکومت احمد زومسعود، اتمانزو دوړواو بیټنوقومونو نه دا ا خطار ورکړو چه که تاسی له خپلو علاقو څخه دغه مرکزونه او دپښتونستان بیرغونه په اته ځلویښت ساعتو کی ختم اولری نکړی نو بیا به پاکستان حکومت دتاسوپه کلیو داسی بمبا ری وکړی چه پښتونستان درڅخه هیر شی .

خو د وزیرستان غیور او باتوراقو ا مو په یوه خوله داسی ځوا ب ورکړ.چه مونږ په ترهغه مبارزه کو وترڅو چه خپل ملی مرام ته ورسو.

نو هغه وه چه د پاکستان حکومت دا حمدزو او مسعودو په مرکزونو او کلیو داسی ناترسه بمباری وکړ ی چه ډیر کلی او فصلونه اوجایدادونه ئی تباه کړل او خلکو دری میاشتی غرونوته پناه یوړه پاکستانی طیارود

نیکه اومګین دره کی داحمد زایـــو او مسعودو د یارلس کسان‌هاشومان او ښځی په شهادت ورسیدل بل‌خواداحمد زائی او مسعود قام لښکری‌د وانه .جنډوله ټانګ ډیره اسمعیل‌خان باندی متقابله حملی شرو ع کړی سړکونه ،پلونه خراب شو ل‌ټیلفون مزی له منځه‌یووړل اوناڅاپی حملی ترډری کالو پوری دوام‌وکړو.

بل خوا د پاکستان حکومت‌همدغه‌رنګ په شمالی وزیرستان کـی د اتمانزائی او دوړو او بیټنو پـــه‌مرکزونو بمباری اوپوځ کشی شروع کړی او په مقابل کی مجا هدینو په‌میران شاه په‌کمپونـــو او عسکر ی تاسیساتو توره شپه راوسته . چه‌په‌هغه کی د ملك اشتر زیارت‌خونـړی واقعه قابل ذکـر ده چـه مسعودو.وزیرو، دوړو ،بیټنو، بنو څو،مروتو خټکو یوعظیم الشان جرګه راغونډه‌شوی وه او د پاکستان حکومت‌څخه ئی دپښتونستا ن دآزا دی او خپلوحقوقو مطالبه کوله چه نا څاپـه د پاکستان حکومت پری داسی‌بمبا ری‌وکړه چه په هغی کی پنځه دیرشـ کسان په شها دت ورسیدل او دروپیښت کسان زخمیان شول. اوبل طرف د مجا هد ینولښکری د میرام‌شاه سپین وام، میرعلی ،کجو ر ی ټل اوبنو په‌عسکـر ی کـیمپو نـوداسی حملی وکړی چه په سوونـه پاکستانی عسکر مړه او زیات مالی‌تلفات ورسیده .

نوپه عمو ماء وزیرستان کی داسی‌غمجن حالات راپیده‌شول چه‌انګریزی فوځونو او وزیرستان غازیانو ترمنځ‌خونړی یا د پاکستـــان استعـماری حکومت بیا تازه کړو.

بل خوا د یولس کالو پس پــه‌وزیرستان کی د غم یوه توره شـپه جوړه‌شوه ، چه مجا هد اعظم الحاج‌میرزا علیخان فقیر ایپی وفا تشو . دا غم عمو ماء وزیرستان لپاره‌دومره‌دروند ؤ چه د فرنګیانو او پاکستان له‌لاسه څخه دوزیـرستان لس زروشهید انو غم یو طرف او د فقیرایپی وفات بل طرف سره یو ځای‌شول.

خو د وزیرستان خلکو د همت اوملی وحدت توره له لاسه‌ورنکړ ه د وزیرستان عموم اقوام بنوځی‌مروت، خټك بنګښ، د مرحوم فقیر ایپی په جنازه را جمع شول.او د مرحـو م‌فقیر صاحب‌ایپی‌ځـوان عمـرو راره ښاغلی نیاز علی خان د هغی جانشین‌او خپل مرکز ئی ګرویـك وټاکـه. ښاغلی نیازعلی خان دوزیرستان دخلکوپه‌مرسته دقومونو اصلاحات او تنظیم‌او پښتونستان دآزادی پلارګښی نه‌هیریدونکی خدمتونه وکړل او بوخت دی کوی‌ئی.

(پای)

---

په‌تاریخی برخه‌کی‌دپیښور چاپ زموږ مجاهدین دقاضی عبدالحلیم افغانی دکتاب څخه‌هم استفاده‌شوی‌ده.



PROPERTY OF ACKU 48412

دولتی مطبعه

ACKU